عبدالغفور لېوال

# هوسی

# بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: هوسۍ (۱ ــ ۲)،

شاعر: عبدالغفور لېوال،

د خپرېدو نېټه: د ۲۰۲۴ ام عیسوي کال اکتوبر میاشت،

د خپریدو ځای: افغان جرمن ا نلاین پورتال.

# دهوسۍ د ډرامې په باب

رمـزنګاري (SYMBOLISM) دليــکوالۍ يــو اسلــوب دی ، دلويديز والو په وينا دغـه اسلوب د نولسمې عيسوي سدۍ په پای کې لومـړی ځل په فـرانسـه کې منځ تـه راغلی دی ، خـوزه وايم رمـزنګاري دمحـاکات ترسرليك لاندې په ختيز کې تقريباً تر دوو زرو کالو پخوا باب و ، په سنسکريت ژبه کې دهندوستاني فيلسوف «بيدپا» تأليف «کرينکا دمنکا» چې موږ يې اوس « کليله دمنه » بولو ددې ادعا شاهد دی ، دغه کتاب دساسانيانو د نامتو پاچا نوشيروان (٥٣١-٥٧٩ع) په وختو کې په ساساني پهلوي ژباړل شوی دی .(١)

زموږ دځوان رمزنګار (SYMBOLIST) شاعر (عبدالغفور ليوال) دهوسۍ ډرامه په پښتو ادب کې دخپل اسلوب له مخې درمزنګارۍ يوه ښه نمونه ده ، په دغه ډرامه کې **هوسۍ** دخپلواکۍ رمزدی ، او **دلوړو غـرونو کـلي** دګران افغـانسـتـان سـمبـول يوسل و څلور شپـيتـه کاله (١٢٥٥-١٤١٩هـ ق) کـيـزې دلوړو وغـرونو دکلي دنازولي اوښايستې هوسۍ دخپلولو له پاره لاس ديو ( لويديز استعمار) او بيا اورديو ( ختيز استعمار) ناپاکې ليځې راغښتې دي (٢)، ددوی دخونريزو او مهاجمو لښکرو د وحشيانه بريد له کبله چې نازولي او ښايستې هوسۍ ته کوم مصيبتونه او شوا خونونه ورپېښ دي **دهوسۍ ډرامه** دهغو دردناکو او زړه ربېلونکو حـادثو يو مـرمـوز حـماسي رويداد دی زړه لاټ بوډۍ

(دانـګلسـتـان ملکه) چې کـوه نوريې په تاج کې ځليـږي ټپي لات ديـو ته سـلاور کـوي « دهوسۍ کلي ته توره په لاس مـه ورځـه ، لمن له زرو ډکـه ورسه ، داد هوسۍ دلاس ته راوستلو رازدی . »

دلتـه مـوږ وينو چې زمـوږ ځـوان رمـزنګار پهځـومـره مـهـارت د وطن پلورونکو او پر دي پالو له مخه څخه دچل او دروهي نقاب هيسته کړی دی.

څـوک چې دهوسۍ ډرامـه ولولي يابې واوري زه بـاور لرم دا به ومني چې په دې ډرامه کې دپيښو ترکيب او تسلسل (PLOT) څومره ابتکار لري ، ما فـوق الطبيعت کردارو ته پکښې نستـه ، تشبيهات او استعارې يې په زړه پورې دي تخـيـيـل يې عـالي دی ، دبيـان ژبه يې اغـيـزناکـه ، سليـسـه او مـحاورې تـه نژدې ده - مکالمې (dialogue) يې له حـال او مـحل سـره برابرې دي ، ابتـذال نـه لري ځـيـني مکالمې يې ددښـمنانو په مقابل کې خـسـمونه او نفرتونه پاروي ، ځـيني مکالمې يې دوياړونو دبيا ژوندانه هڅې او د غـرور غريزې له خوبه پاڅوي .

دخوشـالۍ خبـره ده چې زمـوږ ځـوان شـاعـر توانيـدلی دی د ډرامې د لوسـتـونکو يا اوريدونکو په زړونو او ذهنونو کې دوطن سر شاره مينه او دويښـتـا بـه بـنـاغـلي هـڅې دافـتـخاراتو د راسـتـنـولو له تودې جذبې سره وخوځوي.

* * *

دهوسۍ ډرامـه دشکل له مــخې آزاد شــعــر دی چې په عــربي يې «شـعـرالحـر» په انګريزي يې Free verse - په فـرانسـوي ژبـه يې Vers Libre - او پـه روسي ژبـه کې Svabodnoystix بـولـي ،

آزاد شعر له کلاسیکي شعر (نظم) سره دوه توپیره لري :

۱- په آزاد شعر کې دقافیې او ردیف ساتل لازم نه دي .

۲- د آزاد شـعـر مـصـرعـي (نیم بیـتـي) پـه اوږدوالي اولنډوالي کې مـتناوبه برابري نه لري . یعنې په مـصـرعـو کې یې دکـمـیت له مـخې متناوب تکرار نسته (۳) .

د آزاد شعر ځیني پلویان په آزادۍ کې افراط کوي او د وزن مراعات هم دقافیې په څیر پریږدي خو په ایران کې د آزاد شعر بنسټ ایښوونکي نیمایو شیج ویلي دي :

« زه بې وزنه شعر نه خوښوم د شعر له پاره وزن هغومره لازم دی لکه د تن له پاره جامه . » (٤)

زه وایم : دآزاد شعر په هره مصرع کې دیوه عروضي رکن (Foot) مراعات (که سالم وي که مزاحف) لازم دی خو دا لازمه نه ده چې دشعر په ټولو مـصـرعـو کې دې هغـه رکن دشـیـمـر له مـخې په مـتناوب ډول مساوي راغلی وي ، التبه په آزاد شعر کې د مصرعو نامتناوبه برابري باب ده ددغـه نظر له مـخې ما د هوسۍ د ډرامې مصرعي کچ کړلي ، په ټولو مصرعو کې (که لنډې وي که اوږدې) ما یو عروضي رکن ومونډ چې ســالم یې څلور څـپـې ( هجـاوې ) لري - درې لومـړۍ څـپې یې خج (فشار) نه لري او پر څلورمه څپه یې خج دی ددغـه سالم عروضي رکن بڼه داسې ده :

← | ∪ ∪ ∪ - |

دغې عروضي بڼې ته په میټریک سیستم کې څلورم Paeon وایي خو زه یې « فاعلاتن » نومم خج یې پر « تن » دی .

دهوسې د ډرامې دمصرعو په پايونوکې ددغه رکن محذوف مزاحفه فرعه راغلې ده چې عروضي بڼه يې داسې ده :

← |ں ں -|

او زه يې «فعلن» نومم .

دادې ددغې ډرامې د دوو نابرابرو مــصــرعــو عــروضي سکښت (تقطيع) وړاندې کوم:

| | فاعلاتن | فاعلاتن | فاعلاتن | فعلن |
|---|---|---|---|---|
| ترتولــو اوږد | ں ں ں - | ں ں ں - | ں ں ں - | ں ں - |
| ۷ رکنه مصرع | زموږ هوسې | به ورته خا | نــدي سره بوډ | ي |
| | به دتاريخ | ډيران کې ښـــــ | ـخه شي او خــــا | ري به شي |

| | فاعلاتن | فعلن |
|---|---|---|
| ترتولوکـــــوچنی | | |
| ۲ رکنه مصرع | ں ں ں - | ں ں - |
| | وکنـــــگلو | نو هيواد |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ رکنه مصرع : | نوزه دلر | دراختو | مسيمې ته |
| | او ددې هســـــ | ـــکو دنگو غرو | کلي ته |

په پښتو ادب کې زياتره چار بيتي د فعلاتن ( يا-فاعلاتن) رکن له مــــتناوب تکراره څـــــخـــــه جــــوړې دي . ( وگ . دخلکو سندرې ۲۲۶-۲۲۹-۲۳۱-۲۳۳-۲۳۹- اولسـي سندرې لـومــــــــړی ټـوک

٦١-٧٢-١١٠ دوهم ټوك ١٧-٩٤-او نور...)

دهوسۍ په ډرامه کې دوزن له مخې ځينې داسې مصرعې هم شته :

فاعلاتن | فع لن || فاعلاتن | فع ||
ويشتل يې هــــــ | ــــــسي و وژل يې هـــــ | ــــــسي

په دغـه ډرامـه کې د آزاد شـعـر له غـوښـتنې سـره سم قـافـيـوي هم-آهنګي لازمـه نه ده ، خـو کله کله ګـاونډي نيم بيـتي په قـافـيـوي هم-آهنګي کې برابر هم راغلي دي ، لکه :

له سپينو ستو | روله الما | سوله مرمـــــــــ | ـــــــروجوره
فضا يې تــــ | ــــوله وه دميـــ | ــــــني له سند | روجوره

او زما پرشونـــــ | ـــــډو يې د شونـــــ | ـــــډو باران و | او راوه
دتودې غيـــــ | ـــــږې دسکرو | ټو کان يې | واوراوه. (٥)

دهوسۍ په ډرامه کې کله پر ذوالقافيتين هم پيښيږو ، لکه :

دهغو دنـــــ | ـــــګو شاه ځلمـــــ | ـــــيو ژنيو مرګ وم چې شپيلۍ ږغوي
چې چيرته ناست | وي په کږدۍ | کې او سـپوږمۍ نڅوي

* * *

ماد هوسۍ ډرامه په ډير غور ولوستله او په ډير شوق مې وارويدله

هـــوسه و ســريــزه

زه ځوان شاعر (عبدالغفور ليوال) ته ددې ابتکاري تخليق مبـارکي وايم دده استعداد زما په زړه کې داهيله پيدا کړيده چې دی به د پښتو ادب له پاره دتخليق په برخه کې ډير بريالي وی.

– زه دده د بري دعا کوم .

اکاډيمسين پوهاند رشاد

(۱) وګ دکليلةود منه مقدمه دبيروت چاپ .

(۲) لاټ (Lord) په انګلستان کې د اشرافو لقب و.

(۳) په عربي کې دموشح ، زجل ، په پارسي کې دمستزاد ، په پښتو کې د نابرابر نيم بيتي متناوب تکراريږي.

(٤) وګ . پيام نوين مجله دشپږم کال دوهمه ګڼه ٦٣ مخ .

(٥) په دغو دواړو بيتونو کې نيم بيتي دکميت له مخې برابر راغلي دي.

زه به تـن غرض وګـاونډه پرې نه‌ږدم
کـه دګاونډه ژونـدون سږی ضمان شي

آزادي تــر بــادشــاهیــــــه لاتېــری کا
چې دبل تر حکم لاندې شي زندان شي
(خوشحال ختېک)

## د هوسی ترا ژیدي

انسان یوازې د ژوند لپاره هڅه نه کوي، بلکې غواړی د آزادي په مرسته ځان زبات کړی . ځان قربانوي چې آزادی ته ورسیږي، د قربانی په مرسته آزادي ته رسېدل پخپله وګړی (فرد) له منځه وړي او د دغه نه حل کېدونکی پراډُکس Paradox د تراژیدی استمرار دی.

دشملې پیړی وجودی فلسفه آزادی دانسان طرحه، پیژندنه او ماهیت ګڼي. دا په آزادی محکوم انسان د تاکنې په لایتناهي دګرکې د خپلو کړنو مسئول دی اوله مسئولیت څخه تېښته له آزادی څخه سترګې پټول دي.

له بلې خوا په شلمې پیړی کې اروا پوهنه رامنځته شوه، چې د (خودي) او (ناویینتیا) د (یونګ) په ژبه جمعي یا قومي ناخوداګاه د سېمبولونو او تصویرونو آره زېرمه په افسانو، فولکلور اولرغوني هنر کې ریښې لري. سېمبول اوتمثیل په اروپایي شعر کې دعاطفي

هیجان په بڼه د (رېمبو) (ولرن) او (بودلر) په اشعارو کې ځان څرګند کړ اودلته شعر دافساني سېمبولیکه ژبه ده اوښایي ووایو چې دغه سېمبولیزم به له ختیزو(شرقی) سېمبولونو څخه اغېزمن وي، که دلته سنایی دنوراني پیر په مرسته په روحاني سفر پیل وکړ ، نودېره موده وروسته (دانته) هتله لومړی د ویرژل، چې دعقل سېمبول دی اوبیا د( بیناتریسه) چې دمینې سېمبول ده په مرسته، خپل مانیزسفرپرمخ بوته. په یو اټکل داشرقي افساني دي، چې لومړی دمصر او بین النهرین له لارې لرغوني یونان او بیا ټول لویدیځ ته ورسیدي.

دیونګ دزړې نبنې (کهن الکو) له مخې مولانا په مثنوي کې د ویښتیا ( خود آګاه ) او نیمه ویښتیا (نیمه آګاه) په منځ کې شعر وایي. خود شمس په دیوان کې ته به وایې د ناویښتیا (ناخودآګاه) له پوړ څخه تیریږي او ټولیز(جمعي ) نا ویښتیا (ناخودآګاه) له ژوروڅخه یې شعري سېمبولونه پر ژبه جاري کیږي. همدا رنګه دګویته د (فاوست) په لومړی برخه کې موږپوهیږو، چې ولې دمارګریټ مینه په ناورین بدلیږي، خو ددوهمې برخې دشننې لپاره موږاړ یو چې پوه شو؛ لرغوني سېمبولونه څه ډول دهېلن په وجود کې بیا دهنراو شعرډګر ته راوځي.ددې سېمبولونو ریښه ښا یې دبشري تاریخ څخه ور ها خوا غځیدلې وي.

دلېوال دهوسی منظومه یوه داسې نوې هڅه ده چې دخپل زړه خبرې دافسانوي سېمبولونوپه مرسته کوي. دښکلا سېمبول (دتوروسترګومېرمن) د شپېلۍ په اسرار امېزه غږ زړه بایلي (مغروره پیغله) چې دتوروسترګوله مېرمنې سره ورته والی لري دشاعرانه تخییل په ځواک او دشپېلۍ په کوډودرې ځله بیابیا ځان را څرګندوي. لکه هېلن چې څوپېړی وروسته د ګویټه دشاعرانه تخییل په ځواک بیا څرګندیږي.

هوسۍ دخپلواکۍ نښه، دقربانۍ په مرسته د ژوند امکان مومي، هغه زخمي کیږي او پر هغې مېين کليوال خپلې سترګې، وينې او هيلې هغې ته وربښي او بيا دا پوښتنه رامنځ ته کيږي چې دآزادۍ مظهر(هوسۍ) په دومره قربانيوارزي؟

زخمي هوسۍ غواړي دشپونکي اود هغه دليونۍ مينې په مرسته غنم وکري، خو ددغې منظومې زړه بوږنونکې غميزه (تراژيدي ) په دې کې ده، چې دهوسۍ دمينې سپيڅلتيا او حقيقت په لرلو سره له ماتې او شکست سره مخامخ کيږي ،چې دهوسۍ دغه د(ناممکن) په لوري هڅه ديوې شاعرانه سيمبوليکې تراژيدۍ استمرارده.

دهر مان هسه ( دبيديا ليوه) داسې سېمبوليکه افسانوي بېلګه ده، چې ليکوال يې د(عقل) او (هنر) پلويانو ته وايي : چې له انتزاعي منطق څخه ځان وژغوري ، خندا اوژوند زده کړي (هرمينه) د ناخودآګاه هغه څېره ده، چې غواړي د(هالر) له دروغجن شخصيت څخه دى طبيعي پېر (حالت) ته راوګرځوي. هرمينه دافساني او نا خود آګاه نښه ده، چې د(پا بلو ) په خوله خبرې کوي او (ماريا) د دوى تر منځ نيمه وېښتيا ( نيمه خود آګاه) دنده لري. دغه ټول سيمبولونه دانسان په لرغوني (جمعي او قومي ) روان کې رېښه لري.  ته به وايي چې په دې ډول دهوسۍ (آزادۍ) مينه وال او دهغې لپاره  هڅې هم زموږ په لرغوني ژوند کې ژورې رېښې لري.

په پايله کې ښا يې ووايو: دا انسان  دی ، چې دآزادۍ په هکله فکر کوي او دهغې په باب پوښتنه طرحه کوي. آزادي دانسان قلمرو ده،

خودا چې ددې يا دهغې ځان ښوونې دتاکنې (انتخاب )په پايله نه پوهيږي ددې لپاره  اړتيا ده، چې دياسپرس په قول له ځانه تېر شو( دل به دريا بايد زد!)ځکه چې موږ د راتلونکي په هکله نه پوهيږو.

له همدې املې ویره او اضطراب لرو، د« پو پر » په خبره دانسان راتلونکې نا معلومه ده او دپېشبیني (اتکل ) وړ نه ده. دې ته ورته رواني ویره دراتلونکي په باب د«هوسۍ» په منظومه کې هم ځان تکراروي، وبه یې لولو:

کله چې لاس یو دبل غاړه کې سپېدو څخه پو ښتنه کوو:
سبا به څه کیږي
یوکال وروسته به څه پېښیږي؟

دریښتنې او انتزاعي آزادي په هکله ټاکنه (انتخاب ) به دلپوال په راتلونکیو لیکنوکې وګورو، ځکه دسارتر پراندانسان آزاد دی، خو آزادکړای شوی نه دی. موږ به وګورو،چې هوسۍ به دراتلونکي په لور دخوځښت وس ولري که نه؟

پوهندوي اسد اسمایي
کابل پوهنتون
۱۳۷۸/۱/۲۲
د لیکلو کال ۱۳۷۷ لمریز

# د عبدالغفور لېوال دويمه هوسۍ

# د پښتو شعر پر ډېواله باندې يوه نوې زرينه خښته

څه موده مخکې زما ګران دوست څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال د خپلو دايمي مهربانيو له مخې، د خپلې وروستۍ منظومې (دويمه هوسۍ) لوستل راباندې ولورول. ما هم په ډېره مينه او دقت سره يووار نه، بلکې دوه ځلې ولوستله او د خپلو تجاربو په رڼا کې مې وسپړله. دا دې د خپلې سپړنې رپوټ له تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم.

**تر هرڅه مخکې د ليوال د منظومو يو لنډ جاج:**

ما پخوا هم د لېوال او د ده د منظومو په باب مقالې ليکلې او خپرې کړې دي. د خپلو تېرو څېړنو په ترڅ کې چې د لېوال د منظومو په باب څه راته معلوم شوي دي، د هغو لنډ معلومات به دلته راواخلم:

د لېوال د «سلطان» منظومې د راتګ په پار (د «سلطان» د پېښې غبرګ) ترسرليک لاندې مې يوه مقاله ليکلې وه. د هغې مقالې په پيل کې ما د لېوال د منظومو په باب داسې ليکلي وو:

«له «سلطان» نه مخکې ليوال له ټولو شخصي، رسمي او سياسي بوختتياوو سره ـ سره؛ د ګڼو شعرونو په څنګ کې، نورې منظومې هم پنځولې دي چې نومونه يې دا دي:

۱ ـ لومړۍ منظومه «هوسۍ» (لومړۍ هوسۍ) وه، چې غالباً په ۱۳۷۷ کې بشپړه او په ۱۳۷۸ کې لومړی ځل چاپ شوه،

۲ ـ دویمه منظومه «ارشاک او اوشاس»، چې په ۱۳۷۹ کې بشپړه او په ۱۳۸۰ کې چاپ شوه،

۳ ـ دریيمه منظومه «لام او ایلینو»، چې په ۱۳۸۷ کې چاپ شوې ده،

۴ ـ څلورمه «کک او زرینه» ده، چې په ۱۳۹۶ کال کې خپره شوه،

۵ ـ ځنګل (لنډکۍ منظومه) ۱۳۷۵ کې لیکل شوې او «ته زما تړوله شاعري یې» شعري ټولګه کې چاپ شوې ده،

۶ ـ سفر (لنډکۍ منظومه)، عرفاني منظومه ده، په کال ۱۳۸۴ کې لیکل شوې ده او «ته زما تړوله شاعري یې» شعري ټولګه کې چاپ شوې ده،

هیله ده چې «سلطان» هم ډېر ژر بشپړه او چاپ کړای شي.»

وروسته یې بیا په ۱۳۹۷ ـ لمریز، ۲۰۱۸ میلادي کال کې خپلې پنځه منظومې په یوه ټولګه کې د «پینځه منظومې» تر سرلیک لاندې چاپ او خپرې کړې چې دا لاندې منظومې په کې راوړل شوې دي:

ـ هوسۍ،

ـ ارشاک او اوشاس،

ـ لام او ایلینو،

ـ کک او زرینه،

ــ سلطان.




په لنډه يې که ووايم نو داسې به وي:

ــ لومړۍ هوسۍ د جګړو کيسې کوي، تخليقګر يې وايي چې: لومړۍ هوسۍ د افغانستان د جګړو يو سيمبوليک روايت دی، چې درې بنسټي پوښتنې زموږ مخې ته ږدي:

ــ زموږ جګړې څنګه، له چا سره او د څه لپاره دي؟

ـ ایا مورن د خپلواکی مفهوم پیژندلی دی؟

ـ له دې جګړو څخه د راوتلو لارې چارې څه دي؟

(لېوال عبدالغفور، پنځه منظومې، د خپرېدوځای: کابل- بهیر مطبعه، د خپرېدوکال: ۱۳۹۷- لمریز، ۲۰۱۸ میلادي، د مقدمې ۹ ــ ۱۰ مخونه)

ـ د ارشاک او اوشاس په باب لېوال ویلي دي چې: « ارشاک او اوشاس د کوشاني دوران د عظمت نښه ده، چې د باګرامي ښکلا (اوشاس) او د پکتاني سرتیري (ارشاک) د مینې شور، د نیلاب له څپو سره یوځای، اباسین ته سپاري. په دې منظومه کې عشق، حماسه، هېوادپالنه او تاریخ یوداسې د بودۍ رنګین تال جوړوي، چې زمونږ لرغونی عظمت زمونږ په زړونو کې وزنګولای شي.

(لېوال عبدالغفور، پنځه منظومې، د خپرېدوځای: کابل- بهیر مطبعه، د خپرېدوکال: ۱۳۹۷- لمریز، ۲۰۱۸ میلادي، د مقدمې ۱۰ مخ)

ـ لام او ایلینو د پخواني نورستان (بلورستان) د مدنیت، اساطیرو او لرغوني تاریخ و هنر تلپاتې یادګار دی. په لام او ایلینو کې د لېوال کمال تر دې حده پورې دی چې د بلورستان تیرو ته سا ورکوي او په خبرو یې راولي.

ـ په کک او زرینه کې د زارې ه سیستان او د ساکانو د تولواکمنی عظمت ګورو، هلته لېدل کېږي چې ښځګه یوه مېرمن خپل خلک د خپلي شتمنی (د هلمند د سین اوبه) په خپل تدبیر سره له حریص دوښمن څخه ساتي او دا لوی درس په یادګار پرېږدي چې ښځګه زمونږ نیکونو د خپلو ملي ارزښتونو او شتمنیو ساتنه کوله.

ـ د لیوال د سلطان منظومې کیسه بیا د عرفاني اسطورې بڼه لري.

تر دویمې هوسی لنډه موده مخکې لېوال د «پاچا» منظومه خپره کړه.






د لېوال د «پاچا» منظومې لەپاره هم ما یوه مقاله (د غفور لېوال د نورو منظومو په سیوري کې د «پاچا» مطالعه) خپره کړه، د هغې مقالې په یوه برخه کې ما لیکلي وو چې:

«لېوال هغه نوښتونه چې په خپلو تېرو تخلیقاتو کې کړي وو، د پاچا په منظومه کې یې په ساده کلیوالي ډول پسې تعقیب کړي دي، د همدې په وجه کولای شم ووایم چې عبدالغفور لیوال په اوسني پښتو ادب کې د مبتکرو شاعرانو په ډله کې د نوښت بنه استازولې په بریالي ډول کړې ده.»

د لېوال د پاچا منظومې په پار مې چې کومه مقاله لیکلې وه، د هغې مقالې په لړ کې مې یوه دوعا هم کړې وه، متن یې دا دی:

«نور دې خدای د سیاست او اداري له دایرې نه لرې وساته، ځو د دغسې اثارو د تخلیق او پنځونې لپاره وخت ولرې.»

زما دوعا خدای قبوله کړه. کله چې پر افغانستان باندې تر سرو، شنو بادونو وروسته؛ سپین بادونه راوالوتل، لېوال صاحب له ټولو رسمي ـ سیاسي اداري جنجالونو راخلاص شو. اوس یې د ورځني ژوند ډېره برخه فرهنګي او علمي مسایلو ته بېله کړې ده او زما د کړې دوعا له مخې یې د خپلو تخلیقاتو لمن غوړولې او د ګڼو شعرونو او مقالو ترڅنګه یې د مهاجرت په چاپېريال کې لومړی «پاچا» (د ۲۰۲۳ ام کال جنوري) او بیا «دویمه هوسۍ» (د ۲۰۲۴ ام کال فبروري) تخلیق او خپلو مخاطبینو او پښتو ادب باندې ولوروله.

لېوال د هنر په ژبه تاریخي ناسپړلو غوټو د سپړلو لهپاره، زاړه یادګارونه مطالعه کوي، جوړو او ړنګو کلاګانو ته ورځي او ګوري یې، په تېرو هېرو قبرونو پسې دښتې، تپې، غرونه او هدیرې لټوي، په ساعتونو ساعتونو کیني او په کتابتونو کې تاریخی اسناد لټوي، سره پرتله کوي یې؛ څو داسې نښې او حقایق ترلاسه
کړي چې د هغو په رڼا کې، د تاریخي ناسپړلو غوټو په سپړلو کې مرسته ورسره وکړي؛ هوایي خبرې نه، بلکې له حقیقت سره اړخ ولګوي، موضوع ښه مستنده کړي، بیا یې د خپل هنر په خُم کې ورنګوي او بیا یې خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړي.

ښه بېلګه یې همدا دویمه هوسۍ ده. عبدالغفور لېوال د دویمې هوسۍ د لیکلو له پاره د کابل په شېردروازه کې، ښامار ته ورته پروت دېوال د لیدلو لهپاره پر همدغه غره ورختلی او د غره پر سر تر هغومره وړاندې تللی دی چې څومره دا دېوال غځېدلی دی. د دېوال په اوږدو کې یې ټول برجونه او هلته شته قبرونه لیدلي او د هغو په باب یې پوښتنې او پلټنې کړې دي.

په دې ډول لېوال د هرې منظومې ترلیکلو مخکې تر خپلې وسې او د امکاناتو په چوکاټ کې ځان پوه کوي، بیا کېني خپل قلم ته د هنر

رنگ وراچوي او په خپل فکر کې د موضوع په باب راټول معلومات د هنر په ژبه انځوروي. دويمه هوسۍ يې ښه مثال دی.

د لومړۍ هوسۍ په تخليق سره لېوال د خپلو منظومو د تخليق لړۍ پيل کړه. لېوال په تانده ځوانۍ کې دا جُرأت درلود چې لومړۍ هوسۍ يې حتی علامه رشاد ته هم ورښودلې او ورته اورولې وه. په هماغه وخت کې رشاد صاحب داسې دوعا ورته کړې وه:

«ما دهوسۍ ډرامه په ډېر غور ولوستله او په ډېر شوق مې واورويدله.

زه ځوان شاعر(عبدالغفور لېوال) ته د دې ابتکاري تخليق مبارکي وايم، د ده استعداد زما په زړه کې دا هيله پيدا کړې ده چې دی به د پښتو ادب لپاره د تخليق په برخه کې ډېر بريالی وی.

زه د ده د بري دعا کوم

اکاديمسين پوهاند رشاد»

(لېوال عبدالغفور، پنځه منظومې، د خپرېدوځای: کابل- بهير مطبعه، د خپرېدوکال: ۱۳۹۷- لمريز، ۲۰۱۸ ميلادي، دهوسۍ د ډرامې په باب [د رشاد صاحب مقدمه] ۲۱ مخ)

او دا دی د علامه بابا دوعا قبوله شوه، لېوال په دې ازموينه کې داسې بريالی شو چې اوس د منظومو په ډګر کې يکه‌تازه او بې جوړې دی. زه يې په پښتو ادب کې د منظومه ليکنې قهرمان ګڼم.

په دويمه هوسۍ کې لېوال هماغه تجربه د «پاچا» تر منظومې نوره هم قوي او ښه تکرار کړې ده.
لېوال خپله «پاچا» منظومه د ۲۰۲۳ ام کال د جنورۍ په ۲۳مه خپره کړه او اوس دا دی دويمه هوسۍ يې د يوه لوړ پيام په ملتيا، له خپلو

ځانګړو انځورونو او ښکلاوو سره بشپـړه شوې ده او درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

د ۲۰۲۳ کال د دسمبر ۳۰مه وه  چې لېوال د دویمې هوسۍ د زېږېدو او راتګ زیری وکړ، زېری یې د خپل مخکتاب پر مخ خپور کړ او په هماغه سبا (۲۰۲۴/۱۲/۳۱) په افغان جرمن پورټال کې هم دا مطلب رابښکاره شو:«

## پینځهویشت کاله روسته

هوسۍ -۲ -

زه پینځه ویشت کلن وم، چې د وطن بدو حالاتو د «هوسۍ» منظومې الهام رابانديې ولوراوه.

زما اروابښاد استاد اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد، چې هوسۍ ولوستله، ورویې غوښتلم، په سترګو کې یې یو څاڅکی لا ډنډ ولاړ و، درانه غږ یې له غریو سره نور ابهت هم موندلی و. راته یې وویل:

د هوسۍ په اړه مې خپل تأثر کښلی دی، که چاپوله دې، بیا یې ورسره خپور کړه. او له دې سره یې په خپل ښکلي خط لیکلي سریزه «د هوسۍ د ډرامې په باب» راوسپارله.

تر دې ورهاخوا د استاد یوې بلې خبرې پرهغه مهال حیران کړم، استاد وویل:

«هوسۍ په داسې ځای پای ته رسېدلې، چې له دې ځایه ببرته هم پیلېدلای سي. خدای ج دې پر وطن ورحمیږي...»

د اروابښاد استاد له کراماتو ډکې وړاندوینې ته هغه مهال ځیر شوم، چې د هوسۍ د دویمې برخې د لیکلو تلوسه راپیښه شوه.

دا دی پوره پينځه ويشت کاله روسته، داسې مهال، چې زه د خپل ژوند پر پنځوسم درشل ګام ږدم، د هوسۍ دويمه برخه‌کښل پيلوم، بلکې دوه فصله مې کښلې ده.

زه هوسۍ نه ليکم. هوسۍ بيا، د هماغه لومړي ځل په څېر، ځان پخپله راباندې ليکي. د هېڅ پېښې په اړه مې وړاندې فکر کړی نه دی، هوسۍ لکه الهام راباندې اوري.

هره پېښه، هره صحنه، هر داستاني شخصيت يې په مخه راځي او ځان راپېژني.

دا څو شپې مې خوب ګډوډ دی، د هوسۍ بېلابېلې صحنې په خوب وينم. ناارام يم، ستومانه يم، خپه او غمجن يم.

هوسۍ د وطن د غميزې داستان دی، کاشکې مو د وطن د خوښيو کيسې ليکلای. کاشکې مو د مينې او عشق داستانونه کښلی...

هوسۍ زخمي ده، د خپلواکۍ هوسۍ لاهم په سپېڅلې زمکه او پاکو اوبو د غنمو کرل غواړي، چې وطن له ربړو خلاص شي...

خدای دې نه کوي، چې - که ژوندی وپايېدم - په پينځه‌اويا کلنۍ کې د هوسۍ درېيمې برخې ليکلو ته اړ شم.

کاشکې هوسۍ خپل ارمان ته ورسيږي او زه خپله بله منظومه په يوه عاشقانه و عارفانه کيسه راوڅرخولای شم.

دعا کوئ،

هوسۍ به ژر ستاسو د سترګو ترمخ راڅرګنده شي.

ان شاءالله»

ما (آصف بهاند) په کامنټ کې داسې ورته ولیکل:

«مبارک دې وي، 🥰

زما دې بیا تلوسه کړه چې دویمې هوسۍ ښکلاوې او انځورونه ته لارې وڅارم.

«په کاته ـ کاته مې سترګې په واته شي
چې خبر دې د راتله راباندې وشي»

## د منظومې قهرمانان او کرکترونه:

د دویمې هوسۍ د سپړنې په پیل کې غواړم لومړۍ د منظومې قهرمانان او کرکترونه معرفي کړم، خو مخکې له دې د یادونې وړ بولم چې د ۲۰۱۹ کال د جولای په دیارلسمه نېټه په تاند ویبپاڼه کې د ښاغلي پوهنیار محب‌الله ترابي په قلم د «هوسۍ، د افغان انسان هیله» تر سرلیک لاندې، د لېوال او د هوسۍ (لومړۍ هوسۍ) په باب یوه مقاله خپره شوې چې د یادې مقالې په متن کې د علامه رشاد په حواله، د لومړۍ هوسۍ پر سیمبولونو رڼا اچول شوې ده.

## ـ کلیوال شپون او مینه یې د توروسترګو ښکلې نجلۍ:

«او دلته دوه میینان،

یو یې شپونکی، چې په شپېلیو باندې کوډې کوي

بله ملنګه نجلۍ

هغه چې تورې تورې سترګې لري

غاړه په غاړه ځو یو لرې ځای ته

پاکو اوبو سپېڅلې خاورې پسې

غواړو غنم و کرو

او کلیوالو ته مو ژوند وبښو

ما او د تورو تورو سترګو ښکلې...»

شپونکی په خپلې جادوګری شپلی سره باید خلک د جهالت له درانه خوبه راویښ کړي، غنم وکري او د خپل کلي (وطن) سمسورتیا، ابادي، ازادي او خوشحالي ورپه زړه کړي. له هوسی نه درې پور اخیستي غنم چې د تورسترګې د غاړې په زرین تاویز کې يې ايښي دي، دا به د احمدشاهبابا پر سر باندې د غنمو د هغو تومبلو د وړو داني وي چې د شیرسرخ په جرګه کې د ده پر دستار باندې تومبل شوي وو. او اوس دوی غواړي چې چېرته سپېڅلې خاوره او له وینو څخه پاکې اوبه وموميې څو دا غنم بیا وکري:

«غواړو غنم وکرو

او کلیوالو ته مو ژوند وبښو

زخمي هوسی او کلیوال

وږي نهار راته په تمه ناست دي» ۳ ام مخ

«خدایزده چې چېرته به سپېڅلې خاوره

پاکې اوبه ومومو؟

چې هلته وکرو غنم د هوسی

ها چې زمونږ د خپلواکی نښه ده.» ۶ ام مخ

## ـ پرتمینه او اسه:

پرتمینه او اسه لرغوني قهرمانان دی چې په دې منظومه کې د وطن د دفاع په خاطر، د یرغلګر لښکر په مقابل کې جنګېږي. ځنګه چې په دواړو هوسیو کې د کرکټرونو تداخل شته، ځکه هماغه تورسترګې دلته د پرتمینې په نامه راځرګنده شوې ده. همدا تورسترګې ده چې په بېلابېلو کرکټرونو کې راځرګندېږي لکه: ملالۍ، ناهید، نازو، فرخنده او...

«زه «پرتمینه» یم او زما جانان «اسه» نومیږي

مورږ دوه میین یو او د غره په دیواله کې خښ وو

«د غبرګو تورو د پاچا» له زمانې څخه تر نن

او تر همدې تېرې شپې پورې په خوب ویده وو

چې ستا شپېلۍ راویښ کړو»

کومه کیسه چې پرتمینه کوي، د پېښې سیمه یې د کابل شیردروازه ده او له دیوال نه موخه د زنبورکشاه او زنبیلکشاه دیوال دی چې د یوه تېري کونکي لښکر د مخنیوي لپاره جوړیږي:

«زما اسه،

زما دغه خوږ جانان هم راغی د دیوال بیګار ته

چې لمرلوېدو نه د بیدیا د لښکر

د څرمښکیو او کربوړو له صحرا نه راروان یرغلګر

زموږ تر کلي پورې

په اسانۍ رانهشي

او د دې دنګ غره د لمنې خلک

د غبرګو تورو د پاچا له خونړۍ لښکره

ځان او وطن وساتي...»

**ـ د غبرګو تورو شاه، د یرغلګر لښکر مشر:**

په پخوانیو زمانو کې د یرغلګرو لښکرو مشر:

«... او د دې دنګ غره د لمنې خلک

د غبرګو تورو د پاچا له خونړۍ لښکره

ځان او وطن وساتي»

«د غبرګو تورو شاه لګیا و، زموږ له خلکو یې سرونه رېبل»

**ـ ملنګ بابا:**

د افغانستان د خلکو جمعي خرد دی.

«چې یو ناڅاپه د ملنګ بابا ښکالو راغله

هغه ملنګ چې د دوه سترګو په ځلا کې یې دونیا ښکارېدې

هغه چې زړه کې یې د دې کلي کیسې ژوندۍ دي...»

**ـ د غبرګ تورې شاه پیرو او د ژبړو پاڼو د لوګیو کوډګر:**

د غبرګتوري شاه لارويان او لښکريان د تولنې ارتجاعي قشرونه يا د شنو، سپينو او تورو جنډو رپونکي خلک.

«دا کوډګر هم ها د خپلو تېرو ـ تېرو پلار نيکونو

په شان کوډې کړي د ژېړو ـ ژېړو پاڼو

دوی د ژېړو کاغذونو

په لوګي خلک ويده کړي

او بيا خلک په لوګيو شي طلسم

بس ړانده شي، يا کاڼه شي

يا يې ژبې و خولې ګونګۍ شي

يا له ويرې يې زوبۍ شي...»

**ـ اورديو:**

روسان شوروي يرغل:

«د کنګلونو له هېواده

او

د ييـرو له ځنګلونو څخه

«اورديو» له خپلو سرو پيريانو سره راغی زمونږ د کلي چم ته»

**ـ لاتديو:**

انګریزي یرغلګر، امریکایي تیريکونکي:

«لاتدیو» چې زړه یې موړ د خلکو له کینې نه ډک و»

**ـ د کوډګرانو لښکر:**

طالبان اوله دوره:

«د کوډګرانو د زامنو او لمسیو لښکر

هغه چې ژېړ ـ ژېړ کاغذونه یې وو ډک له لړمانو، له مارانو، ښامارانو څخه

له ژېړ زمري نه یې زده کړې وې لا نورې کوډې»

**ـ هوسۍ:**

د ازادۍ سمبول:

«او د هوسۍ په ننګ وتلي کلیوال یې سره وویشل په ډلو ـ ډلو»

«هغه کلونه، چې زموږ د خپلواکۍ ملکه

ښکلي هوسي د هسکو غرونو لوړو ترو کې زخمي پرته وه»

**ـ تور ابلیس:**

پنجابي واکمنان چې تل یې زموږ پروطن او خلکو باند لوبې کړې دي:

«یو لوی کوډګر د خرمښکیو او کربوړو له بیدیا څخه د تور ابلیس بیدیا ته راوست»

## ـ ژېړ زمری:

اوسامه بن لادن:

اوسامه په عربي کې زمري ته وايي، لادن زېړګل ته وايي:

«د غبرګو تورو د شاه دغه لمسی

- چې يادېده «ژېـړ زمری» -

په ژېـړو، ژېړو کاغذونو کې د تورو ښامارانو د لوګيو يو بډای کوډګر و

چې د سرو زرو څو ځولـۍ يې په اوښانو بار وې...»

## ـ بوډا چوپړګر:

د اورديو يا د شوروي لښکر پر ټانک باندې سپور چل‌باز تورمدير:

«تر هغه روسته، چې اورديو مات شو

تر هغه روسته، چې د يـېـرو ځنګل اور واخيسته

تر هغه روسته، چې بوډا چوپړګر ورک شو د زمان د ګردلو لړو کې»

## ـ د هوسۍ سپاهي:

د پاکستاني مليشوو او تنظيمونو په مقابل کې له وطن څخه د دفاع سپاهيان چې لاربښوونه يې ډاکټر نجيب کوله:

«په لومړی ورځ يې د هوسۍ يو سپاهي وواژه

ها چې لاتدیو یې د ابلیس له دښتې

د مرګ فرمان و کښلی»

ـ پنځوس یوسترګي دیوان:

د امریکا په مشرۍ د ناتو ایتلاف:

«پنځوس یوسترګي دیوان، چې راسپاره دي د پولادو په لیوانو باندې

او پاس اسمان کې پرې تاویږي د پولادو کارغان

دیوان دربیږي او د دنګو ـ دنګو غرونو کلی

بیا په لمبو کې سوزي»

ـ د کوډګرو لښکر:

دا هم تنظیمیان دي او هم د طالبانو دویم ځل راتګ:

«هغه شپېې، چې د کوډګرو د لښکر متروکو

د هوا ډېو کې د شرېک زخمونه ونخول

هغوی، چې ژېړو کاغذونو نه ماران او ښاماران کړی کړی سوزوي

چې راروان وو د زړې کلا درشل ته د لوګیو ترمنځ

د غبرګو تورو د پاچا جنده یې هسکه په لښکر رپیده»

هغوی، چې ډېر د پېغلو نجونو او د ښځو د دوه سترګو له لیدو وېربدل

او د سرېیو له ویښتیا خځه یې کرکه راتله

د ژېړ زمري په فرمان راغلل او د ټولو ښځو سترګې یې پرې وتړلې»

## ـ دویمه پرتمینه:

دا د جهالت د لښکرو په اور کې لولپه شوې فرخنده ده چې په دویم قیامت کې انځور شوې ده:

«په هغه ورځ چې اسه

او پر هغه مینه ښکلې پرتمینه پېغله

ولاړل له سیند ځخه لویدیز لوري ته

غوښتل یې هلته پټه شوې څه سپېڅلې خاوره بیا ومومي

د پرتمینې په زړو او هېرو شویو خاطرو کې لکه خوب چې وینې

د یو ختین منګې کیسه ګرځېده

چې پهکې پاکه او سپېڅلې خاوره

د پرتمینې مور ساتلې وه، د دې لپاره...»

د دویمې هوسۍ په دویم قیامت کې چې دویمه پرتمینه راځي او دا هځه کوي چې ناپوه او ویده نارینه راویښ کړي او خلک د دوه توري پاچا د لارویانو پر جادو باندې پوه کړي، د کوډګرو له خوا

لومړی په تېرو ویشتل کېږي او تر ډېر زجر وروسته سوځول کېږي، دا قهرمانه معاصره فرخنده ده چې په رڼا ورځ د تیارو د لارویانو له خوا وسوځول شوه.

## د منظومې نوي انځورونه او نوي شعري ترکیبونه:

په دویمه هوسۍ کې د لېوال د پنځو منظومو د شعري انځورونو او شعري ترکیبونو تجربې په نوې بنه ځلېدلې دي. په دویمه هوسۍ کې نوي انځورونه ځکه قوی او زړه وړونکي دي چې د ټولو تېرو منظومو د شعري انځورونو تجربې سره یوځای شوې دي او د هغو په قالب کې مفاهیم ادا شوي دي.

د دویمې هوسۍ د لوستلو په ترڅ کې ما ته ډېر نوي شعري ترکیبونه او شعري انځورونه په مخه راغلي دي، دا یې ځوبیلګې دي:

ـ خو ژړندې اوبه:

«داسې یو سیند، چې په کې خو ژړندې اوبه بهېږي»

ـ ځګېروېدلي غږ:

«په ځګېروېدلي مهربانه غږ غوښتنه کوي...»

ـ ژوندون اوړدول:

«ګرانه شپونکیه! زه خو ستا د دې خوږې شپېلۍ په تمه لا ژوندون اوږدوم»

ـ د غرونو له دیوالونو څخه د رازونو دوړې څنډل:

«شپیلۍ راواخله او د تېرې زمانې کیسه نغمه نغمه کړه
د دغو غرونو دیوالونو له رازونو دوړې بیا وڅنډه
د دې نیمزالي سیند په راز مې پوه کړه
ما ته شپیلۍ ووهه!»

ـ د ښامار غځوونې:

«لکه له خوبه راویښ شوی ښامار چې غځوونې وکړي»

ـ مړاوي اننګي:

«په مړاوو مړاوو اننګو یې راروانه وه د اوښکو مرغلره رنه»

ـ د غبرګو تورو پاچا:

«د غبرګو تورو د پاچا له زمانې څخه راغلي خلک»

ـ ړول غربېدل:

«د لوی دیوال د جوړېدلو اشر ته ړول وغربېد»

ـ له تورو وریځو نه څرمن ایستل:

«لکه برېښنا چې په اسمان کې په یو ګړز له تورو وریځو نه څرمن وباسي»

ـ د باد وربېنمینې څنې:

«غړ یې دره کې د پاسته باد په وربېنمینو څنو غوټه،

داسې بنه لګېده»

ــ د جګړې طلسم:

«... او د جګړو طلسم مات کړو،

خپلواکي او سوله بیا راولو»

ــ نیمه‌خوا سیند:

«سیند نیمه‌خوا بهیږي»

ــ باد په اتڼ سر دی:

«... او باد د غره د دیواله په ویجاړ برج کې په اتڼ سر دی.»

ــ د سیند نیمزاله مزل:

«د سیند نیمزاله مزل موږ سره ترخنګ بهیږي»

ــ پولادي لیوان:

«کلا د ډېرو زمانو د پولادي لیوانو داړو ده کپ کپ خوړلې»

ــ د ژیړو کاغذونو لوګي:

« دوی د ژیړو کاغذونو

په لوګي خلک ویده کړي»

ــ ختین بنامار:

«د غځېدلي اوږد ختین بنامار له لیکې سره»

ــ د زمان خوب:

«هغوی زما شپېلۍ راوبېن کړل د زمان له خوبه»

ــ په سترګو کې برېښنا تاوېدل:

«او ما لیدل، چې د ملنګ په ځلېدلو زرځو سترګو کې برېښنا تاوېده»

ــ د جګړو سور دوزخ:

«د ډلو ډلو د جګړو په سره دوزخ کې سوزېد»

ــ د ماشوم وینه:

«هغه کلونه، چې د ډلو تورې سرې وې د ماشوم په وینو»

ــ د پولادو کارغان:

«او

ژېړزمري د تورو وسپنو پولادو د کارغانو په زور

هلته تر اوو سمندرونو هاخوا

د لاتدیو لوړې هسکې دنګې مانۍ...»

ــ د سرو لمبو درمند:

«د سرو لمبو په درمندو کې او د اور په ژرنده

داسې ایرې ایرې کړې

«لکه چې هېڅ رادنګې شوې نه وې»

ـ د باد نڅا:

«باد یو ځل بیا د زاړه برج په منځ کې ونڅېده»

ـ د موسکا ګلونه:

«پیغلو ځوانانو په مورړ وشیندل ګلونه د خوږو موسکاوو»

ـ بې زوره سلګۍ:

«بابا ملنګ هلته ولاړ و او ژړل یې په بې زوره سلګو»

ـ د ونو په شنو څانګو کې د باد پټېدل:

«مرغی لا غوږ وې او باد پټ و د ځنګله د ونو شنو څانګو کې»

ـ له لمبو او له سکروټو رغېدلې نغمه:

« یوه له درده،
له لمبو
او له سکروټو رغېدلې نغمه»

ـ د لمر چوپتیا:

«لمر به په چوپه خوله راوخوت او ځنګله نه به خاموش واوښته»

ـ د تللو زمانو ایینه:

«لکه د تللو زمانو په ایینه کې چې سبا ته ګوري»

ـ د شپیلۍ مرۍ:

«زما له ستوني نه روستۍ سکروټه لاړه د شپیلۍ مرۍ ته»

ـ جلوهلې تورې:

«د غبرګو تورو د پاچا دوه جلوهلې تورې»

ـ د سیند ژړا:

«سیند خپلې لور ته ژاړي

د پرتمینې ایرې لیکه لیکه

د سیند اوبو سره راوني دي ختیځ لوري ته...» ۶۵ ام

د پرتمینې ایرې

د اوبو ذهن مینځې

سیند لاروان دی...»

ـ د اوبو ذهن:

«د پرتمینې ایرې

د اوبو ذهن مینځې

سیند لا روان دی...»

ـ د رڼو اوبشکو فرش:

«ختیځ د خپلې ښکلې لور راتلو ته فرش د رڼو اوښکو غوړولی په لار...»

ـ په ایرو سره د اوبو مینځل:

«په هغه تور ماښام، چې سیند خپلې اوبه د پرتمیني په سپېڅلو ایرو ومینځلې»

ـ د اروا نخښېدل:

«په هغه شپه، چې د ستي پېغلې اروا د غره په لوړ دېواله ونخښېده»

ـ د باد انګولا:

«او غره د باد له انګولا سره په کوکو ژړل»

ـ د لمر زرین جام:

«لا سباوون د لمر زرین جام ته شپېبې شمارلې»

زما له نظره د دویمې هوسۍ انځوریزه ننداره، د نووترکیبونو یوبل حیرانونکی کاروان دی چې لېوال په دویمه هوسۍ کې روان کړی دی. د دویمې هوسۍ په لومړي پړاو کې شپونکی له خپلې مینې سره بنه مست راون دی چې پاکې اوبه او له وینو پاکه مځکه پیدا کړي، ځو وږو او نهرو ته غنم وکري، په خپله شاعرانه دونیا کې یې بېلتون هم چېرې لرې د د تورو سرو او خونړیو دیوانو په ساړه

زندان کې بندي کړی دی او خپله مست روان دی. دا یې د لېوال په هنرمندانه  قلم د خولې ځو خبرې دي:

«بېلتون بندي دی، خدایزده چېرته لرې

زه د دې کلي مساپر شپونکی روان یمه لا

لکه زما د خپل زړګي درزا په بل ګوګل کې

زخمي هوسۍ او کلیوال

وړي نهار راته په تمه ناست دي...»

په دویمه هوسۍ کې د شعر د نورو ښکلاوو په څنګ کې، د منظومې متن عجبه رواني لري چې له پیل نه ترپای پورې هېڅ ډول سکتګي نه په کې حس کېږي. د داستان په پیل کې شاعر په نستالژیک ډول د جګړې په اور ناسوځېدلی زمان او شین کلی یادوي. دا یې ښو بېلګې دي:

«ها ورکې شوې زمانې ته ګوندې بیا ورسو

چې زموږ کلي کې لا فصل د غنمو شین و

او کلیوال مو په یو بل مېین وو

هغه د مینې او ښکلا زمانه

چې کلیوالو مو غنم کرل او مستې چینې

له پاکو سپینو اوبو ډکې بهېدلې په ویالو او ان تر سینده پورې

مستې هوسۍ،

د خپلواکۍ ملکې

لا زموږ د کلي په خوښیو پاچاهي کوله

چې لا په کلي کې د تورو سرو دیوانو لاره تېره نه وه...»

شاعر له جګړې نه مخامخ شکایت نه کوي، خو کله چې د غنمو کرلو مسؤلیت باندې خبرې کوي او په پاکې خاورې او سیېڅلو اوبو پسې ګرځي، تولې مځکې او چینې د انسان په وینو لړلې ښیي. دا یې ښو بېلګې دي:«

ـ لا لټوو سپېڅلې خاوره او له وینو څخه پاکې اوبه

غواړو غنم وکرو

او کلیوالو ته مو ژوند وبښو...

ـ د داسې خاورې څرک لا هم نه‌ښکاري

چې د انسان وینه پرې بل انسان شیندلې نه وي

هغه چینه ورکه ده،

چې په کې وینه بهېدلې نه وي...

ـ خدایزده چې چېرته به سپېڅلې خاوره
پاکې اوبه ومومو؟
چې هلته وکرو غنم د هوسۍ
ها چې زموږ د خپلواکۍ نښه ده

ـ د لوړو لوړو غرونو اوښکې راروانې دي، خو رنګ په کې د وینو ګډ دی»

**د دویمې هوسۍ پیام:**

په هوسۍ منظومه کې یو ځانګړنه دا ده چې تورسترګې ښکلې پیغله په بېلابېلو کرکټرونو کې راڅرګندېږي. پرتمینه، ملالۍ، ناهید، نازو، فرخنده دا ټولې همدا تورسترګې ښکلې پیغله ده.

د دویمې هوسۍ په منظومه کې کله چې تورسترګې د پرتمینې په نامه د فرخندې په رول کې راڅرګندېږي، په هماغه ځای کې د جهالت او افراطیت قرباني کېږي، چې اسه له دوه توري پاچا نه

غاړه غوټه کړي وه او د دويمي هوسۍ د پيام اصلي خبرې دويمې پرتمينې يا فرخندې له خولې اورېدل کېږي، فرخنده په لوړغږ سره وايي چې:

زه هرڅه وينم او په هرڅه پوهېږم، تاسو ولې غواړئ چې زما سترګې وتړل شي، تاسو ولې «د ښکليو پېغلو او ښځمنو له ليدلو نه ويرېږئ داسې؟ چا څه ډول جادو دربانډې کړی دی؟

«زه پاڅېدلې يم، چې دغه تور طلسم مات کړم

زه به د نورو ښځو سترګې هم رڼې پرانيزم

زه به د ښکلو نجونو سترګو نه پردې لرې کړم

زه به دا ستاسو کوډې ونه‌منم

د دې مارانو، لړمانو، ښامارانو تور لوګي به د دې غرونو شنه اسمان څخه جارو کړم، جارو!»

پرتمينې د فرخندې په رول کې چيغې وهلې او خلکو ته يې ويل: په تاسو کوډې شوي، ويښ شئ او ځانونه پوه کړئ، زه راغلې يم چې ښځو ته د رڼا او نارينه‌وو ته د ويښتيا مفاهيم بيان کړم او...

دا څو کرښې د دويمې هوسۍ له هغې برخې رااخيستل شوي دي چې د دې منظومې د پيام يوه‌برخه په کې نغښتې دی:

«... هغې ناري وهلې:

هاى زما خلکو!

اې د سيند د دواړو غاړو خلکو!

اې غیرتي نرانو!

په تاسو کوډې شوي

تاسو په بنو او بدو نه پوهېږئ

د يو کوډګر په چيغه

خپله ببوزلې خوړ په کاڼو ولئ

دغه کوډګر ستاسو د هرڅه دوښمنان دي،
ولې نه وينېږئ؟

لږ څه راويښ شئ، ګورئ دا څه کوئ؟

زه يم راغلې، چې طلسم مات کړم

زه يم راغلې، چې دې ښځو ته رڼا راولم

او نارينه وو ته وينښتيا راولم

دغو تيارو ته روښانتيا راولم»

په لنډه توګه ويلی شم: د دويمې هوسۍ پيام دا دی چې په جهالت کې راګير خلک له دوبېدو وژغوري او د لوی‌کوډګر په دود (لوګي) ويده شوي خلک له درانه خوبه راويښ کړي. هغه څه چې بهرنيانو د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره پر موږ باندې کړي؛ د هغو پر ضد مبارزه وشي او ستونزو ته حلارې پيدا شي.

په دويمه هوسۍ کې دا پيام هم وړاندې شوی دی چې د دين په نامه تل خلک غولول شوي دي، موږ بايد راببدار شو او په حقايقو ځان پوه کړو، د مذهبي استعمار هغه کړی بايد ماتې شي چې له سل‌ګونو کلونو راپه‌دېخوا د خلکو پر ذهنونو حاکمې دي. د کوډګرو له مخې

نه مذهبي نقابونه لرې کړای شي او اصلي څېرې يې خلکو ته وروښودل شي.

دا منظومه (دويمه هوسۍ) د ښامار سبک په پيروۍ تخليق شوې ده، توپير يې دا دی چې په ځانځاني ښامار کې خج پر جفتو څپو باندې راځي او په دويمه هوسۍ کې پر طاق څپو باندې.

## ټايپي تېروتنې:

ما ته په رالېږل شوي متن کې ځينې ټايپي تېروتنې هم ترسترګو شوې، ما د چاپېدونکي او يا پرليکه کېدونکي متن د تصحيح په غرض په نښنه کړې او بېرته مې لېوال صاحب ته ورولېږلې، هغه هم په ورين تندي د متن ټايپي تېروتنې اصلاح کړې.

زه د دويمې هوسۍ تخليق د پښتو شعر پر دېواله باندې د يوې نوې او زرينې خښتې اضافه کېدل ګڼم، د جهالت په خوب ويدو خلکو ته يې د وېښولو يوه چيغه بولم. د دې غنيمت اثر د تخليق په پار لومړی ښاغلي لېوال ته او بيا د پښتو شعر ټولو مينه‌والو ته مبارکي وايم.

**د غفور لېوال د شعر چينه دې رڼه او بهانده وي!**

پوهندوی آصف بهاند

هيدرسليف، ډنمارک

د ۲۰۲۴ ام کال د سپتمبر پنځلسمه

# لومړی هوسی

## لومړی برخه

### زموږ کلی زموږ مېنه

د لوړو څوکو هسکو دنګو غرونو
د سردرو د شنو لمنو خوا کې
هلته یو کلی و د مینې کلی
زه ددې کلي شپونکی
لا ډېر زلمی وم چې په مینه پوه شوم
هو!
زه مین شوم او یو چا را سره مینه پیل کړه
یوه د تورو تورو سترګو میرمن
او د ګودر د نازولو میره
د کلیوالو ښایستونو د جرګې ګلوله
اول زه نه وم خبر
چې د ښایست او مینې دغه جرګه
هر مازیګر زما د شنې شپیلۍ نغمو ته د ګودر په غاړه
په تلوسه او تنده تمه کوي
خو یوه ورځ چې د ځنګلونو ترخوا
پرښو د سیند نغمو ته غوږ ایښی و
او ځروبي په خپلو سپینو ګوتو

لا ترنګوله د سپرلي سندره

اوچېرې لرې کټهار دزرکو
د ځو تنزرو د نغمو خواب ته غاړې ایستې
ماهم شپیلۍ په شونډو کېښودله
موږ سره ټولو کړې په ګډه پیل
د یو زیږي مازیګر
مستو شیبو کې د ځنګله زمزمې
اولا د شنه ځنګله په سترګو کې موخوب زنګاوه
چې زموږ د کلي د ښکلا قافله
ها د ګودر د نازولو جرګه
د شنو ځېږیو او زیتونو منځ نه
زما په لوري راغله
پیغلې په مینه او شور
له ما نه تاوې او راتاوې شولې
لکه رنګینې ځو ګیډۍ د ګلو
او د ښکلا د قافلې سرکښې
چې وه د تورو تورو سترګو میرمن
داسې په ناز وویل :
ای د رنګینو سردرو شپونکیه!
شپیلۍ دې وغږوه
موږه د کوزې چینې
د یو ګودر همزولې
یو ستا د ښکلو ترانو میلمنې
او ما په ډېره مینه
د شرشرې له ترنم سره مل
بیا پوکی ورته کړلو شنې شپیلۍ ته
او له دې ورځې وروسته

هره ورځ زه وم، شنه شپيلۍ وه
او جرګه د ښکلو
هر مازيګر به مې د تګ په وخت کې
يوه لمن ګلونه وشيندل په ښکلو پيغلو
او هرې پيغلې به پر خپلو ګوتو
هغه وربل کې ټومبل
يوه ورځ داسې هم شوه
کله چې ما خو سارايي ګلونه
د خپلې مينې په وربل کې ټومبل
هغې په ډېر اضطراب
راته په تورو تورو سترګو کې کوم څه وويل
خدای (ج) خبر څه يې غوښتل؟
همزولې ولاړې خو هغه پاتې شوه . . .
او شيبه وروسته مې چې سر و د هغې پر زنګون
نو راته داسې يې په ناز وويل :
«نوره شپيلۍ مه وهه!»
او ما په ډېره حيرانتيا ورځنې وپوښتل، چې :
مګر جانان ولې؟!
شپيلۍ خو زما و ستا د عشق ريباره
ماخو ټول عمر کې همدغه رمه
همدغه غرونه او همدا ځنګلونه
او بس همدا يوه شپيلۍ درلوده
خو بيا مې ښکلي جانان
راته په ويره ويره داسې وويل :
بيګاه مې مور راته کيسه کوله
چې د شپيلۍ غږول
ځوانيمرګي راولي

نو ټوله شپه مې له ډېر غمه سترګې پټې نه شوې
زه يوې وېرې په سروا خيستمه
ستا دځوانۍ او ستا د مينې وېرې
نه چې خدای (ج) مکړه د ځوانيو د مرګ
توره واکمنه پر تا پېښه نه شي
آه _ ربه! خوله مې کړې له خاورو ډکه
هغه ساه مه کړې خدايه!
هغه ساه مه کړې خدايه!
خو ما پوښتنه وکړه:
دا د ځوانيو د مرګ
توره واکمنه څوک ده؟
ولې سندرو ښخه کړکه لري؟
او دښمني کوي شپيليو سره؟
- نو نازولې راته داسې وويل :
دا يو لوی راز دی يوه لويه کيسه
زموږ د کلي د ماضي داستان دی
نو ما د تورو تورو سترګو له ميرمنې ښخه هيله وکړه
چې راته وکړي کيسه
زموږ د کلي د ماضي داستان کې څه راغلي؟
نو مې اشنا راته کيسه پيل کړه
په مينه مينه يې پوښتنه وکړه :
تا هغه ښنې ساراپي کوترې
چې يې مښوکې ګلابي رنګ لري
سترګې يې تورې تورې
د سپينو بڼو يو امېل يې دی په غاړه کې
ليدلي چيرې؟

نو ما ځواب ورکړلو:

هو هو ليدلي مې دي
دلته يې هر سهار سيلونه راځي
او ددې شنو درو اسمان کې اتڼونه کوي
بيا نجلۍ داسې وويل :
مور مې هم داسې ويل :
چې زموږ په کلي کې د دوه مينو زوړ زيارت دی
ددې زيارت په سرو او شنو جنډو کې
د ښاپيريو پاچاهي جوړه ده
او دغه شنې کوترې
د ښاپيريو د پاچا لوڼې دي
د شهزادګيو يوه ډېره ښکلې
او نازولې پيغله
د شنو کوترو د کتار ميره ده
هغه (نازو) نوميږي
چې له سندرو او شپيليو سره مينه لري
او ټوله ورځ خپلو همزولو سره ګرځي د نغمو په هيله
چيرې چې واوري د شپيلۍ سندرې
هلته راټولې شي غومبر ووهي
په مينه تاوې شي را تاوې شي اتڼ وکړي
کله لا وژاړي
له تورو تورو سترګو څخه اوښکې تویې کړي
يوازې ښانګې د ځيريو يې د ساندو مات غږونه اوري
او نازو ځکه له شپيليو سره مينه لري
چې له هر غږ نه يې نارې د خپلې مور اوري
پر هغې ګرانه مورکۍ
چې يې په ژوند کې هېڅ ليدلې نه ده
يوازې غږ يې د شپيليو له نغمو سره مل

د هغې غوږ ته ورځي
او ما د تورو تورو سترګو له میرمنې څخه وپوښتل چې:
نو د هغې مور څوک ده؟
او د خپل کوم جرم سزا به ويني؟
چې غږ يې شته خو خپله نه ښکاري
او آن تردې چې خپلې لونې يې هم نه شي ليدی
نو پيغلې خپله کيسه بيا پيل کړه :
مور راته داسې وويل :
چې ډېر کلونه پخوا
کله چې زموږ کلي کې فصل د غنمو شين و
او دلته نه و لا زيارت ددغو دوه مينو
ځکه هغه وخت لا ژوندي وو
يو پر بل مين وو
او هره ورځ به يې همدلته
چې يې اوس زيارت دی
ددې چينې پرغاړه
د خپلې مينې ديدنونه کول
اود چينې پرغاړه
د ديدنونو پردې ښکلې محل
د ښاپيريو پاچاهي جوړه وه
دې پاچاهي کې يوه ښکلې ملکه وه چې « هوسۍ» نوميده
د خپلواکۍ تاج يې وايښی پر سر
د هسکو څوکو شنو ځنګلو واکداره
لکه يو بت د غرور
چې د ښايست سارې يې نه وچيرې
ښکلې هوسۍ به له همزولو سره ګرځېدله
آن له سهاره تر بيګاه پورې

د شنو درو ،ګڼو ځنګلونو منځ کې
کله به ناسته د چینې پر غاړه
او پرې همزولو به وربل جوړاوه
کله به ولاړه د ګودر لورې ته
د مستو مستو کلیوالو پیغلو
د شنو منګیو کتارونو د لیدو لپاره
خو یو ماښام چې د تیارو وزرونه
ورو ورو خوریدل پر ځنګله
او سندر بولې مرغۍ تلې د خپلو ځالو په لور
مسته هوسۍ هم را روانه وه همزولو سره
بې پروا ګرځېده خندل یې،ترانې یې ویلې
خپلې مانې ته ستنېدله د ځنګله له لورې
چې یو ناخاپه پرې «لات دیو» را پېښ شو
یو هیبتناکه په رنګ تور او ویرونکی د دیوانو پاچا
چې و راغلی د اوو غرونو، اووسیندونو له شا
هلته چې لمر پریوځي
د لمر خاته د کلیو ښکار یې کاوه
ځان یې نغاړلی د ماښام ښادر کې
چې هېڅ چانه شولیدی
هوسۍ هم ونه لیده
او په دې راز پوه نه شوه
چې د دیوانو پاچا
وربادنې زړه بایللی
خو د هوسۍ ښایست خپل کار کړي و
لات دیو له ځان سره دا پریکړه وکړه :
ځم دافق لورې ته

هلته چې لمر پریوزي
د ماښامونو ښار ته
د ښکرورو مغربي دیوانو
یو لوی لښکر جوړوم
بیا له پاچا د ښاپیریو سره جنګ ته راځم
کلي یې سوزم او ځنګلونو ته یې اور اچوم
د هسکو څوکو دنګوغرو غرور یې
د اور او وسپنو په قهر وژنم
او چې هوسۍ زما شوه
بیا به نو دلته پاچاهي جوړه کړم

## او د دیوانو پاچا جنګ ته راغی

نو یوه ورځ مازیګر
کله چې زموږ کلي کې فصل د غنمو شین و
هغلته لرې د افق په خنده
چیرې چې لمر پریوځي
یو د دیوانو لوی لښکر ښکاره شو
چې را روان و، زموږ د کلي په لور
ترشا یې کلي او ځنګلونه سوي
توري یې سرې په وینو
داوو سیندونو او اووغرونو له شا
د ماښامونو له تور ښار نه راتلل
او هلته لرې یې خیمې پلنې کړې
د لمر خاته لورې ته
پر هغې لویې دښتې
چې یې د سرو زور مرغۍ درلودې

له هغه وروسته د دیوانو لښکر
له دغې دښتې څخه
درې ځلې برید وکړ زموږ پر کلي
خو زموږ د کلي د زلمو لښکرو
د ښاپیریو له پاچا سره وه ملاتړلې
او د هوسې پر ننګه ولاړل د دیوانو جنګ ته
کله چې زمکه اور شوه
او په کې وځغاستل وحشي آسونه
کله چې تورو له یو بل څخه مچکې غلا کړې
او بیا په سرو وینو کې ولمبیدې
څه موده وروسته د لو خړو منځ کې
زموږ شاه زلمیو د دیوانو پوځ ته ماته ورکړه
خو چې په دنګو شملو بېرته ستنیدل کلي ته
نو د بریو له نارو سره یې
دوه جنازې د دوه مینو راوړې
دغه چې اوس یې هم زیارت شته

د چینې پرغاړه

او په اتڼ اتڼ یې
هغوی همدلته د هوسی په هیله
د ښاپیریو د پاچا ښکلې مانۍ کې خښ کړل
او مانۍ داسې په زیارت واوښته
خو د سرو زرو د مرغیو ډاګ کې
لات دیو یوازې او زخمي پاتې شو
لاس یې پرې شوی او پښه یې نه وه
د خپل کسات د اخیستلو یې غابنونه چیچل
خو یوه ورځ یې په دې دښته کې ابلیس وموندہ
او چې یې لاس وربشکل کړل

ورته زنګون یې کېښود
چې ورنه کوډې زده کړي . . .

## او بیا لات دیو راغی زموږ کلي ته

کلونه وروسته چې بیا زموږ کلي کې فصل د غنمو شین و
په یوه توره شپه کې
د لمر خاته له لوري
ځوک را روان و د لکړو په زور
نه یې یو لاس و، نه پښه وړپورې
سترګې یې سرې سرې وې د وینو کاسې
ویښتان یې آن په زنګنو لګیدل
دا هیبتناک او ویرووونکی کوډګر
مخامخ ولاړه د زیارت لوري ته
کلیوال ټول ویده وو
هېڅ ځوک پرې نه شول خبر
یوازې یو ځلې د تالندې یو پړک شو د زیارت تر پاسه
خو له سهار سره سم
کلي کې داسې انګازې شوې چې هوسۍ ورکه ده
کلونه وشول او کلونه کېږي
چې هوسۍ ورکه ده او مور مې ویل :
هغه لات دیو و، چې راغلی و زموږ کلي ته
دغه کوډګر د خپلو کوډو په زور
په هاغه توره شپه کې
ښایسته هوسۍ خدای (ج) خبر چیرې بوتله
او د هغې له ورکېدو سره سم
د ښاپیریو پاچاهي کې لوی ماتم جوړ شو

کليوال هم خپه وو
ښځو زيارت ته ځېرمه
د غړو (۱) نذر بار کړ
بيا يې د سرو او شنو جنډو ترپاسه
تورې جنډې هم د ماتم لپاره وتړلې
جومات کې ختم وشو
او ماشومانو لمر لويدو سره سم
په ويره ويره پرېښودلې لوبې
تولو به منډه کړه او پټ به شول د ميندو غېږ کې
او له دې وروسته زموږ د کلي هغه مستې

بې پروا پيغلې

نورې زيارت ته نه تلې
ځکه ملکه ښاپيرۍ ورکه وه
ښکلې هوسۍ ورکه وه

## يو پرديس د لرو لارو

مګر کلونه وروسته
يوه ورځ تکنده غرمه کې د بيديا له لورې
يو لاروۍ سترۍ ستومان ښکاره شو
خولې پرې ماتې رنګ يې تور اوښتی
په ول ول ځنو کې يې خاورې د مزلونو پرتې
يوازې اوږد کميس يې ځان کې تبرګۍ يې په لاس
کچکول يې غاړه کې پروت
او په روښانه برندو سترګو کې يې
يوه بريښنا د کوم پټ راز ځليده
نو چې زموږ کلي ته راورسيده

لږ څه موسکی شو بیا څه وبونګیده
او خپل ستومانه قدمونه یې اوچت کړل د زیارت په لوري
سم چې سبا شو نو د کلي خلک
د مینجور ملنګ په راز خبر شول :
هغه راغلی وله لرې ناآشنا وطنه
له اووسیندونو نه اوښتی
په اوو غروختلی
هغه لیدلي وو په خپلو سترګو
لوی لوی دیوان هم د ارواوو کلي
د ماښامانو محل
او د ښکلا ښارونه
ملنګ له هر څه نه خبرو په هر څه پوهېده
ښايي رازونه د دنیا یې ټول د سترګو په بریښنا کې پټ وو
چا ورنه حال د جادوګرو پوښته
چا ترې کیسي د هغو پیغلو غوښتې
چې د لویدیځ د ښارو
د مرمري مانیو
د لمر چینو کې لامبي
او په دی منځ کې یو چا حال ترې د هوسی وپوښته :
ملنګه!
تا چیري ونه لیدله؟
زموږ د کلي نازولې هوسی؟
ددې زیارت په سرو او شنو جنډو کې
د ښاپیریو یو د پاچا ملکه؟
هغه زموږ د خپلواکی خښتنه؟
نو د ملنګ سترګو کې بیا شوه درازونو بریښنا
یوه شیبه غلی و

او بیا یې داسې وویل :
ما هغه ولیدله
چې زنداني وه د لات دیو په فرمان
په یوه لرې ناآشنا وطن کې
د شنو جلګو ترڅنګه
د دنګو کړکو(١) په یو لوی ځنګل کې
او ددې لرې نیستان له سره
یوازې باد تېریده
زانې یې نه درلودې
هیلې هم نه وې په کې
یوه زړه دیو بوډۍ
چې یې په تاج کې ددې کلي (کوه نور) ځلیده
وه ملکه د ها وحشي نیستان
او ماته داسې دیو بوډۍ وویل :
ملنګه واوره کیسه :
دلته دهسکو هسکوغرونو او د شنو ځنګلونو
د ښاپیریو ملکه بندي ده
نوم یې هوسۍ ده او په کلي کې یې
نارینه زوکړې سره سم د تورې چل زده کوي
هغوی سرو باندې پګړۍ تړي شملې یې هسکې
دیوان ویریږي د هغوی جګړې ته نه شي ورتلای
لات دیو، چې زوی دی زما،
د هغوی جنګ کې شو بې لاس او پښو
ځو یې چې خپل کسات ته
ابلیس نه کوډې زده کړي

(١) کړکې : ناې ها، نلونه

او د ابلیس ورته وروستی وصیت همدا و، چې:
دې کلي ته د تګ

لپاره
توره تر ملامه تړه!
لمن کې زر یوسه!
لات دیو د کوډو په زور
هوسې د کړکو د ځنګلو بندي کړه
او ما (ملنګ) سره زاړه شراب وو
چې مې پرې مسته کړه زړه دیو بوډۍ
نومې ترې راز ددې طلسم وپوښت
چې هغې داسې وویل :
که څوک له دغه نیستان څخه کوم کړکی یوسي
ورنه شپیلۍ جوړه کړي
او بیا یې وغږوي
چې غږ یې لاړ شي آن د هسکوهسکو غرو کلي ته
د ښاپیریو ها ښایسته شهزادګۍ
پیغله نازو یې واوري
هغه چې دېره په هوسۍ ګرانه وه
نو به نازو ددې شپیلۍ له ستوني
د خپلې ګرانې مورکۍ غږ واوري
کله هوسۍ ،چې نازو پوه کړي په راز
نو به پاچا د ښاپیریو کړي دا کوډې ماتې
یا خوله کړکي څخه څوک چیرې قلم جوړ کړي
بیا یې د هسکو هسکو غرو د کلي
د خو زلمیو په سرو وینو کې غوټه کړي
او پرې لیک ولیکي
که دغه لیک نازو ته ورسیږي

بیا هم طلسم د تیارو ماتیږي
نو زه ملنګ، چې په دې راز خبر شوم
پټ په غلا ورغلم ځنګله نه مې یو کړکی مات کړ
هغه مې راوړ د ختیځ تر کلیو
خو یوه ورځ له ورځو
سم چې د لوړو غرونو کلی ته را ورسیدم
شپه مې د لوړو څوکو خواته یوه شنه دره کې
د کوم شپانه په شپول کې تېره کړله
سهار چې کلي ته راوخوځیدم
کړکی مې هېر شو هلته
او چې سبا را یاد شو
په بېړه ورغلم هماغه شپول ته
خو زما برخه دې په اور وسوزي
کړکی د ورکو ورک شو
ډېر پسې وګرځېدم
مګر پیدا مې نه کړ
خدای خبر چېرې و پیریانو وړی...؟

## او هغه کړکی ما شپونکي پیدا کړ

... او چې کیسه زما د بنکلې مینې
- چې وه میرمن د تورو تورو سترګو -
دلته راورسیده
نو را په یاد شو ماته
هاغو کلو نه پخوا
د پسرلي یوه ورځ
کله چې زه مې د نیکونو په لاس
هغه جوړ شوي شپول ته بیا ورغلم

چې هلته دمه وکړم
مګر د شپول ځنګ ته مې
په حیرانتیا ولیدل
څو ناآشنا پلونه
او یو د کړکو ډندر
یوداسې کړکۍ چې یو بند یې وله بل ځخه په لویشتو لرې
ما هم په خپلو لاسو
ورنه شپیلۍ جوړه کړه
چې اوس پرې هر مازیګر
دادی سندرې بولم
او چې زما دغه کیسه واوریده ښکلې پیغلې
نویې له ډېرې ویرې
له تورو سترګو ځخه اوښکې راغلې
او په ژاړ یې راته داسې وویل :
آه! خدایه دا څه اورم؟!
له تانه هیله کوم
نوره شپیلۍ مه وهه!
ځکه چې مور مې ویل :
په هاغه ورځ چې ها زړې دیو بوډۍ
ملنګ ته راز ددې طلسم وویل
نو چیرته پټ هغه ابلیس واوریده
او پرې خبر یې کړ دیوانو پاچا
لاڅ دیو د کرکې او یا ویرې اوغوسې له زوره
د کرکو نیم ځنګل ته اورونه کړ
او داسې هوډ یې وکړ :
له نن نه وروسته لمر خاته لورې ته
په تېره بیا دهسکو غروکلې کې

چې هر زلمي شپېلۍ ته شونډې وروړې
نو پرې حرام شه ژوندون!
او اې زما لورې!
اې واکمنې په ځوانۍ کې د مرګ!
ولاړه شه! والوځه!
د هسکو هسکو غرو کلي ته
هلته چې لمر راخيژي
او هر زلمي چې غړوله شپېلۍ
نو ځوانيمرګ يې کړه، ژوندون ترې واخله!»
دلته نو بيا زما د ښکلې مينې تورې سترګې
خدای (ج) خبرولې شوې له اوښکو ډکې
نو يې په ويره ويره
او ساه نيولې ژبه وويل چې :
مګر ته نه يې خبر؟
همدا پرون يې زموږه کوز کلي ته
د يوه زلموټي جنازه راوړه
چې لا هماغسې يې لاس کې وه شپېلۍ نيولې
خلک ونه پوهېدل
چې دا د چا له لاسه؟!
او ستا شپېلۍ خوده هماغه سحرګره شپېلۍ
چې د تيارو پاچا ترې ويره لري
ځکه نو هيله کوم :
نوره شپېلۍ مه وهه
نه چې خدای (ج) مه کړه دا ځوانيو د مرګ
توره واکمنه پر تا پېښنه نه شي . . .
هغه سات مه کړې ربه!
هغه سات مه کړې ربه!

# دويمه برخه

## د نازو د ښايسته مانۍ ميلمه شوم

څوک چې ريښتينى ژوندون نه پېژني
هغه ويرېږي د مرګي له غږه
آه! د ژوندون غلامۍ
څه ويروونکې يې ته :
او زه هم وويرېدم
نومې له دې ورځې نه وروسته د شپيلۍ غږول هم پرېښودل
چې مې د تورو تورو سترګو له ميرمنې سره
د مينې شور له ترانو نه تش کړ
نو راته څه پاتې شول؟
يوه خولګۍ، يوه موسکا او بيا په مينه کتل
بس هره ورځ زموږ د مينې د کورګي ميلمه وو
خو يوه ورځ له ورځو
چې باد په کريغو کريغو
او قهرجن آواز په زوره نڅولې ونې
مامې رمه پنډه کړه
او بيا مې وګنډلې سترګې د شينکې کلي په لارو پورې
ګوندې پرې راشي زما ښکلې مينه
چې يو ناڅاپه مې د سرله پاسه

د سارانیو شنو کوترو سیل راوځرخیده
او د ځنګله له زړه نه
د یوه آس د ځغاستې غږ راغی
باد لا په کریغو سرو
چې د شنو ونو ترشا
یو ځوک په سپین آس را ښکاره شولرې
باد یې د شنه ځادر لمنه رپوله شاته
مخ یې نقاب کې پټ و
په خپل کوډګر غږ یې نارې کړې داسې
آهای!
د هسکو هسکو غرو شپونیکه واوره
د ښاپیریو د پاچا ریباریم
زمونږ شهزداګی چې دې ژوندی وي مدام
یم رالیږلی دلته
او دا پیغام لرمه :
« ته د نازو میلمه یې!»
نو دغه آس به تا مانۍ ته بوځي
زه به دې ببرته تر راتګه پورې
دلته رمه وساتم
او زه حیران شوم حیران
چې خدایه دا به څه وي؟!
خوشیبه وروسته مې هر څه ومنل
لکه په ما ،چې ښاپیریو وي څه کوډې کړې
نو پر سپین آس باندې می یون پیل کړ
پر ناآشنا او ناڅرګندو لارو
د شنو ځنګلونو ترمنځ
لکه دنیا چې تولة ډکه وي له هسکو لویو شنوونو نه

هسي بې سده وم روان خدای خبر کوم لوري ته
په خپله ورک ومه له خپله ځانه
لکه يو ځاځکی اوښکه
د شنه ځنګله له سترګو وڅڅېدم
وبهېدم
او اضطراب مې په هر رګ کې لکه اور ځغلېده
زما په مخ کې يوه شنه دره وه
لکه په پيغله چې شين شال وي هوار
يا په شنو پاڼو باندې اوري آبشار
او شيبه وروسته ګردله شوه
لړې راغلې
او غبار پرېوتو
يوازې لرې نه د مستې شرشرې سندرې
لکه بهير د هستی غوږ ته راته
خو لږ چې وړاندې ولاړم
ګرد له والو ته او لمر راوخوت
او خدای (ج) خبر زه وم په کوم جنت کې؟!
يو پسرلی، يوه ښکلا او يوه مسته وږمه
چې شرشرې نه ورېدل د اوبو سپين غمي په شنې جلګې کې
او د جلګې تر شامې وليده د حورو مانۍ
زما په لار کې ښاپيری ولاړې
زلفې يې زما تر هر قدم لاندې فرش
او د مانۍ په دروازه کې مې نازو وليده
ها د ښکلا ملکه
خدای(ج) يې جوړ کړی هر اندام په قدرت
کټ مټ زما د ښکلې مينې په شان
سترګې يې توری توری

ما ویل هماغه به وي
هره خندا، هره ادا او هر یو ناز یې هسې
غږ یې هماغه او خوږې خوږې خبرې یې هم
او زه حیران وم حیران
چیرې نازو او چیرې زما د تورو سترګو مینه؟
مګر هغه کټ مټ هماغسې وه
زه لا حیران وم چې نازو له لاسه ونیولم
او په هماغه کوډګر غږ یې راته داسې وویل :
دا ستا قدم پر لیمو
اې زما د مینې پاچا
ستا د شپیلۍ له ستونې
ماته زما د مورکۍ غږ راته
مګر مودې وشوې چې ستا د شپیلۍ ستونی وچ دی
اخر دا ولې وایه
ته خو د مینې او ښکلا ریباروې
ته د سندرو پاچا
او ته د تږیو ښاپیریو د مراد چینه وې
وایه درځار شم وایه!
ولې شپیلۍ نه وهې؟
او لکه تېر وختونه
د شنه ځنګله له ځنګه
ستا د کوډګرو نغمو غږ نه راځي
چې زه د شنو کوترو سیل کې بیا دروالوځمه
او پټه پټه د ګلونو منځ کې
تا ته نږدې درشمه ډېره نږدې
او ستا د شنې شپیلیۍ له ستونې ښخه
د خپلې ورکې مورکۍ غږ واورمه

ته پرې خبر يې که نه؟
ستا د شپيلۍ سندرو
د ښاپيريو پاچاهي ويښه کړه
او مورې په هر څه پوه شو
ما خپله مور ومونده
او اوس زمونږ شهزاده
چې «آدم خان» نومېږي
توره تر ملا تړلې
بيا له لات ديو سره جګړې ته وتی
څو چې د کړکو له ځنګله څخه زمونږ د خپلواکۍ ملکه
ښايسته هوسۍ خلاصه کړي
او زمونږ د کلي غرور بيا وګټي
نو تانه ځار شم اې د هسکو هسکو غرو شپونکيه
شپيلۍ دې وغږوه
چې د ديوانوطلسمونه مات شي
نو راشه زمورږه د مانۍ ميلمه شه
زه به د خپلو تورو سترګو مينه تاته درکړم
تا به د غيرې تال کې وزنګوم
تا به د ناز چينه کې ولمبوم
تاته به درکړم د سرو شونډو څوکې
او تا به مورږ کړمه د زلفو په خوب
راشه زما ميلمه شه
او ماته وغږوه خپله شپيلۍ
او زه هم داسې شوم ميلمه د نازو
لکه له ماڅخه چې ځان هېر شو
بس د ټول ژوند همدا خوږې ورځې وې
د نازولو د مانۍ مېلمستيا

د ښایستونو باران
او د شرابو پیالې
د ځلبلونو اوښادیو شیبې
جامې وریښمینې او په زرو کې ډوب
را سره مل به وې ښایسته ښاپیرۍ
د نازو غېږه وه د مینې جنت
هرې خندا یې د زړه زنګ مینځلو
هرې موسکا یې د عشق نور اوراوه
شپه به یې بوتلم
راته تخت به یې کړه خپله سینه
زه لوبیدم لوبیدم
ترڅو به خوب راغی د زلفو ټال کې
نو ما د ښکلو ښاپیریو په دې شنه جنت کې
د ژوند نغمې بللې
او هره ورځ به مې شپیلۍ وهله
خو یادېده به مې تل خپله مینه
هغه زما د ژوندون ټوله موخه
هغه د تورو تورو سترګو میرمن
هغه ښایسته او هغه ټوله مینه
هغه ساده او کلیواله پیغله
کله به خوب ته راغله
څه پریشانه او خپه ښکارېده
چې به یې غرونو او ځنګلونو کې نارې وهلې:
«ای زما د ژوند ارمانه!
اې زما د مینې پاچا!
اې پرما ګران شپونکیه!
وایه په کومه ورک شوې؟!»

- او چې سهار به ویښ شوم
نو د نازو غېږ به لمده وه زما پر سپینو اوښکو
زه د نازو په مکیزو کې ګېروم
زه یې د زلفو په زنځیر تړلی
زه یې د مینې په زندان کې بندي
د هغې سترګې هم کوډګرې وې وژل یې کول
کټ مټ زما د ښکلې مینې په شان
تش په همدومره توپیر
چې زما مینه وه د کلي ساده
او دا په خوی ښاپیرۍ
هغه د کلي کوچۍ
دا د ماهیو حوره
نور یې ښایست هماغه
او تورې سترګې یې هماغسې له مینې ډکې
خو زما خپله مینه نه هېریده
لا یې یاد ونو پر زړه اور لګاوه
بس زه د مینو او یادونو په بستر کې پروت وم
د سوز او ساز پر پوله
د ښاپیریو میلمه
یاد نازو بندیوان
د خپل هنر قرباني
د خپلې شنې شپیلۍ د سحر اسیر

## آدم جګړې نه راغی

خو یوه ورځ له ورځو
د ښاپیریو په حرم کې یو لوی جشن جوړ شو

د خوشالیو قیامت
او د ښادیو محشر
د نڅاګانو، پایکوبیو او ګډاوو دروبڼ
د مستو مستو خنداګانو څپې
او چې خبر شوم نو آدم و له جګړې راغلی
ورسره لوی لښکر زموږ د کلیوالو ترشا
شمله اوچته، غاړه هسکه، یو سوبمن شهزاده
دهسکو غرونو د ګوربت په شانې
څومره مغرور څومره واکمن شهزاده
چې یې لات دیو یو ځلې بیا و په ګونډو راوستی
لکه فاتح ابدالي
یو بریمن شهزاده
هوسۍ هم وه ورسره
ها زموږ د کلي د غرور او خپلواکۍ واکمنه
چې د لویدیځ د تور څنګله بندي وه
له دې خبر سره حریم د ښاپیریو ته اختر راغی
ماخو ګومان کولو
ښایي اسمان د خپلې تولې خوشالۍ لمنه
نن پر همدوی شیندله
او زمکې ټول د خنداګانو ګلان
د دوی پر سیمه شنه کړل
ددې ښادیو منځ کې
نازو زما څنګ ته راغله
هغه په شنو جامو کې
د ګل په شانې ښایسته ښکارېده
زه یې په مینه مینه ښکل کړم بیا یې وویل راته :
اې زما د مینې او ژوندون سروره!

ته پرې خبر یې، چې دا ټوله خوشالۍ موږه ته تابښلې
د خپلواکۍ واکمنه
زموږ هوسۍ همدغه تاګټلې
ستا دا احسان د هیرولو نه دی
ځکه نو زموږ شهزاده غواړي خپل تاج تاته درکړي
خو ما نازو له لاسه ونیوه دربار ته ولاړم
د ښاپیریو د حرم دربار و ځومره ښکلی
هلته د تخت له پاسه ناست و زموږ غازي آدم خان
چې زه یې ولیدم را پاڅېد او راغاړې ووت
بیا یې خپل څنګ ته په تخت کېنولم
راته یې وکتل په مینه مینه
او زما شپیلۍ ته یې لاس ونیولو
سم چې ماورکړه نو یې ښکل کړه
بیا یې پورې کړه په سترګو سترګو
وروسته یې داسې وویل :
د لوړو غرو ،د سردرو اتله!
چې زموږ مات غرور دې وګټلو
غواړم د هسکو سردرو پاچاهي تاته درکړم
او خپله دغه نازولې خور «نازو» هم ستا کنیزه کړمه
ته یې منې او که نه؟
ما په خوله هیڅ ونه وېل
یوازې تاج مې له غلامه واخیست
چې د غازي آدم خان مخ مې ښکل کړ
نو بیا مې تاج ورته پر سرکېښوده :
«د ښاپیریو پاچاهي دې مبارک شه غازي!
ته توریالی یې د هوسۍ ګټونکی
ننګ خوستا تورې وکړ

زما د شپیلۍ نغمو یوازې تاته لاربنوولې
زما سندرې وې یوازې د ویښتیا انګازې
اوس چې هوسۍ ستنه شوه
زه به مې هم بېرته خپل شپول ته ولاړ شم
هلته یو ځوک لا ماته لارې څارې
او زما یادونو سره مینه کوي
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
زما په تمه ناسته
لا مې په لاره کې پلونه په لیمو ښکلوي
ته پرې پوهېږې غازي؟
هغې به ځومره وې سلګۍ وهلې
آه! چې شیندلې به یې وې ځومره اوښکې
زما په ورکو لارو
زه همدا نن ورګرځم
رمه مې پاتې ده او شپول مې ړنګ دی
مېږې مې هره ورځ په خوب کېویني
واړه سیرلي به مې بغارې وهي
او ښکاري آس به مې غوسه وي ځومره
تاته دې خپله پاچاهي مبارک
زه درنه ولاړم غازي!
زه درنه ولاړم غازي!
د غازي سترګې شوې له اوښکو ډکې
هک پک حیران چې راته څه ووایي
ښایي غوښتل یې ما په غېږ کې ټینګ کړي
یا مې لاسونه ښکل کړي
یا خو کوم څه ووایي
خو زه په بېړه ترې را پاڅېدم، چې ستون شم بېرته

او چې مانۍ نه راوتلم نو مې مخې ته نازو راشنه شوه
هغه حسينه نازو
هغه زړه وړونکې نازو
هغه د مينې چينه
ځومره ښايسته وه نازو
خو ما يې سترګو ته کتلی نه شول
ما يې ليمو کې د خپل جرم کيسه نه شوه لوستی
د يو نيمګړي عشق د ماتې جرم
د يوې لنډې نيمه خوا مينې د پای او هيرولو جرم
ما ګنهکار د مينې
لا څه ويلي نه وو
چې د سلګيو منځ کې
راته نازو وويل :
زه بې له تا څخه ژوندون نه غواړم
يا مې حلاله کړه په خپلو لاسو
يا خو چې هر چېرته ځې ما هم بوځه
زه شهزادګۍ د ښاپيريو د کول
زه نازولې د نازونو د کور
زه د مانيو ډيوه
هو!
زه مغروره ښاپيرۍ به شمه ستا کنيزه
مګر د خدای (ج) لپاره
چې ما يوازې د مرګي غېږې ته مه ورسپاره
نوما د دنګو دنګو غرونو شپونکې
چې د رګ وينې مې د لمر له پلوشو جوړې وې
د هغې اوښکو ته نور نه شو کتی
څکه مې لاس ورکړ او دواړه را روان شولو د غرو کلي ته

## تلو له زيارت ښخه تر کلي پورې

مورې لا روان وو تلو د غرو کلي ته
لار مو وه تولهٔ په ځنګلو پوښلي
يوازې لرې نه ليدلې مو د غرونو څوکې
چې په لمن کې يې زمورې د ميني کلی جوړو
چې هلته زما د تورو سترګو ښکلې هم اوسېده
مورې لا ځنګله کې د خيريو او زيتونو منځ کې لار وهله
چې يو ناڅاپه اسمان وريځو ډک کړ
څه تورې تورې وريځې
لکه شکوم د لات ديو
او لکه دود د دوزخ
لکه د تور ښامار له ژامو ښخه وتې لړې
راغلې اسمان يې پټ کړ
مورې د باران له ويرې
ديو زاړه او دنګ چنار ډډې ته ننوتو
ښکلې نازو ويرېده
او تولهٔ پټه وه زما په غيږ کې
زمورې سترګې وې اسمان ته پاتې
خو باران نه وريده
يوازې تالنده و برېښنا کيدله
مورې لا حيران وو
چې ناڅاپه له اسمانه ځنې تندر پريوت
هو!
تندر پريوت او زمورې پرچنار را پريوت
ها دنګ او زوړ چنار چې مورې يې په غيږ کې پټ وو
زمورې تر مخې ځانګې ځانګې شو او اور پرې بل شو

چنار لمبه لمبه شو
چنار ایرې ایرې شو
اور په ځنګله پورې شو
شنې پاڼې وسوځېدې
نازو له ما زه له نازو نه ورک شوم
هر خوا لوګې هر خوا لمبې تاوېدې
هره خوا ځانګې ماتېدې سوزېدې
ما په نازو پسې نارې وهلې
خو هغه چیرې خدایزده زه چیرې وم
یوازې اور را تاوېدلو هر خوا
خو څو شیبې وروسته مې ولیدله شنه کوتره
چې د لمبو له منځه ووتله والوتله
نو زما زړه صبر شو ومې ویل :
آه خدایه شکر چې نازو دې بچ کړه
او چې نازو والوته
زه لا د اور د ښامار خولې ته پروت وم
لار د وتلو له لمبو ورکه وه
ما ویل چې سوزم دادی اور اخلمه
چې یو ناڅاپه مې پر سر د کوم چا سیورۍ خور شو
خدایزده سیمرغ و که هما وه د ژوند
بس زه یې پورته کړم هوا ته د سره اور له منځه
د کوم جنت په لور یې بوتلمه د شور له منځه
لرې اوږېر لرې د شنو لویو ځنګلونو منځ ته
د چنارونو د خېریو د زیتونو منځ ته
هلته وه پته د پیریانو زړې ونې سره
یوه ماڼۍ ولاړه
د سپینو ستورو له الماسو، له مرمرو جوړه

فضايي تيوله وه د ميني له سندرو جوړه
د سپينو سپينو شرشرو د ترنم په منځ کې
يوه سرلوړې يوه دنګه ماڼۍ
هومره ښايسته وه لکه خيال د شاعر
څه ځلېده دغه ګلرنګه ماڼۍ
او زه يې مخ ته ولاړ
چې خدايه څه به کيږي
زما د ژوند دا سر ګردانه پاڼه
بيا د کوم باد پر لمن پريوتله
زه لا حيران وم حيران
چې چا مې لاس ونيوه
آه! څومره ښکلى لاس و
څه نازولى،
څومره سپين و
څومره پوست وخدايه!
او چې د لاس ميرمن مې وليدله
يو ځلې بيا له هوښه ووتلم
يوه د حسن پرښته مې وه ولاړه مخ ته
کټ مټ زما د هغې مينې په شان
کتل هماغه، ناز هماغه او ښکلا هماغه
مينه هماغه، شور هماغه او ځلا هماغه
ما ويل چې ومې مونده
ما ويل چې مينه مې ده
ما ويل قربان دې شمه ومې موندې . . .
مګر افسوس افسوس
چې زما مينه نه وه
زما د ښکلې سترګې تورې تورې

خو ددې ښکلې سترګې بل ډول وې
ویشتل يې هسې وو وژل يې هسې
کتل يې هسې وو،موسل يې هسې
یوازې رنګ يې زما د مینې نه و
دا سترګې شنې وې د اوبو په شانې
شنې د اسمان  شنو ښیښو په شانې
بس زه پرې پوه شوم چې پردۍ ده زما مینه نه ده
خو دې هماغسې کتل راته په مینه مینه
ما ویل چې څه دې اې د حسن او ښایست ملکې!
ته چې تصویر يې زما د ښکلې جانان
یوازې سترګو کې يې رنګ نه لرې
د تورو تورو لیمو جنګ نه لرې
وایه چې څوک يې او له کومه راغلې؟
د کوم طلسم له سدومه راغلې؟
خو ښکلې پیغلې لا څواب کې راته هېڅ نه ویل
لا يې همداسې زما سترګو ته کتل په مینه وړې نظر
خو شیبه وروسته را نږدې شوه ماته
بیا يې ښایسته لیچې را پورته کړلې
د مړوندونو هار يې وتاړه زما پر غاړه
او زما پر شونډو يې د شونډو باران وورواه
د تودې غیرې د سکروټو کان يې وورواه
او زه یوه شیبه کې ډوب شومه ،هم وسوزېدم
د خوند په سیند کې، د هوس په اور کې
نو دغې پیغلې راته داسې وویل :
زه له اوو غرونو اوو سیندونو ها خوا
د ماښامونو د وطن شهزادګۍ

او د لات دیو ها نازولې لور یم
چې په ځوانۍ کې د مرګونو واک په لاس کې لرم
د هغو دنګو شاه زلمیو ژنیو مرګ وم چې شپیلۍ غږوي
چې چېرته ناست وي په کېږدۍ کې
او سپوږمۍ نڅوي
ما د هغو له ځوانیمرګو زړونو وینه ویسته
ما یې په ستوني کې وژله د ژوندون سندره
او ورته غوږ کې مې ویله له هستۍ نه د بیلتون سندره
ما زلمي ځکه وژل
څو چې په خپلې شپیلۍ مات نه کړي زموږه ابلیسي طلسم
نو زه د لمر د راختو سیمې ته
او داد هسکو دنګو غرو کلي ته
ددې لپاره وم راغلې ګرانه!
چې د زلمیو د شپیلیو ستوني پرې کړمه ګونګې یې کړمه
خو یوه ورځ له ورځو
ستاسو پر کلي باندې پېښه شومه
ته مې د شنې څېرۍ تر سیوري لاندې ناست ولیدې
چې په کوډګره ساه دې
چاته شپیلۍ وهله
ته ډېر ښایسته ښکارېدې
لکه ریدی لکه غاټول د بیدیا
لکه روڼ ستورۍ د سبا ځلیدې
او ستا کوډګرې شپیلۍ
ستا ښکلې دنګې ځوانۍ
له مانه زړه واخیسته
زه چې دښمنه د شپیلیو د سندرو ومه
زه چې وژونکې د ځوانیو د لښکرو ومه

ما!
همدا ما هم پر تا زړه بایلوده
او زه پر تا هومره مینه کړم خدای (ج)
چې لیونۍ شوم هر څه هېر شول رانه
ځان رانه ورک شو او جهان مې ورک کړ
د خپل ښایسته غرور کاروان مې ورک کړ
ته مې ونه وژلې، نه مې دې شپیلۍ واخیسته
یوازې ښنګ ته به دې کیناستم
او تو له ورځ مې تاته کتل
روح مې دا ستا د شپیلۍ ټال کې زنګاوه زنګاوه
ژوند مې ستا عشق کې ډوباوه ورکاوه
خو یوه ورځ له ورځو
چا رانه ورک کړې رانه غلا یې کړلې
رانه یې یووړې خدایزده کوم لورې ته
نه دې د ښکلې شپیلۍ غږ راتللو
نه مې دې پل، نه کوم اثر موندلو
زه لیونۍ شوم لیونۍ لیونۍ
لکه بنګساره سارانۍ لیونۍ
خو یوه ورځ مې په دې دښتو کې ابلیس ولیده
ما ورنه ستا د نوم تپوس وکړلو
او د هغه له خولې خبره شومه :
چې ستا شپیلۍ زموږ طلسم مات کړ
او آدم خان ستا د نغمو په مرسته
د آزادۍ هوسۍ ستنه کړه بېرته
ما ویل چې ښه شوه ګوندې هېر به دې کړم
ګوندې چې مینه دې په کرکه واوړي
ځکه چې تا زموږ غرور ووژه

خو زما دا هیله ترسره نه شوه
ستا میني لا په زړه کې زور واخیسته
عشق دې له مانه د ژوند پور واخیسته
در پسي وګرځېدم وګرځېدم
ایله مې نن د خپل طلسم په زور
په دې ځنګله کې داسې وموندلې
اوس هم لا نه پوهېږم خوب دی که رښتیا دې وینم
نه نه ریښتیا ده ته مې غېږه کې یې
زه ستا د متو زور په ځان کې وینم
او ستا د مینې شور جهان کې وینم
له نن نه وروسته دا مانۍ او یو لښکر د مغربي ښاپیرو
دغه سپرلی دغه ښکلا دغه ژوند
یو زه او ته به یو او مینه به وي
ته به زما د زړه او ځان پاچایې
زه به دې غېږه کې ټول عمر تېر کړم
له تا به تل چارپیرومه لیچې
په خپلو زلفو به دې پټ ساتمه
سپینه خولګی به درکوم درکوم
په ښکلې ناز دې نازوم نازوم
ته دې شپیلۍ غږوه
زه به دې ناځمه سرود ته لکه سپینه ماره
ته دې ځوانۍ ځلوه
زه به دې مخ ته شمه شنه هینداره . . .

## او زه شوم داسې ددې پېغلې اسير

نو له دې ورځې وروسته
زه د لويديځ د ماښامانو د ښار
د شهزادګۍ اسير شوم
د چا د شنو سترګو په دام کې ګير شوم
د وخت کاروان همداسې تللو تللو
او زه يې هم ځان سره وړلم يوه ورک منزل ته
ورځ په جامونو او سندرو کې ډوب
شپه هم د غېږې په خوندونو کې ډوب
ومه د خدای (ج) د نعمتونو مېلمه
د ښايستونو او رنګونو مېلمه
مګر افسوس چې دا جنت جنت ژوند
ماته دوزخ دوزخ و
زما ليوني زړګي هماغه ورکه مينه غوښتنه
ها کليواله هغه دنګه نجلۍ
هغه حسينه ها ملنګه نجلۍ
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
ها لومړنۍ ها آخرينه مينه
چې زه يوازې د هغې په ياد او خيال ژوندی وم
د ساه مې تله راتله هغې سره وو
زه له هغې، هغه له مانه ډکه
هره شيبه مې زړه هغې سره و
مګر افسوس چې اوس اسير وم اسير
هو کې اسير له دې فرنګې سره
دغې د شنو سترګو ګلرنګې سره
لکه تړلې په کمڅويې چې يم

نه ترې وتی نه تبنتیدلی شومه
زه یې د کوډو په زور بند ساتلم
پر ما یې وکړ ابلیسي طلسم
پر ما راتاوو د وریښمین وریښمین نظر زنځیر
د ورځو، میاشتو ،د کلونو یو کوډګر رنځیر
خو له کلونو یو کال
او یوه ورځ له ورځو
چې په ځنګله باندې را پریوتل
دو سپنو وحشي آسونه
له رنګه تور په سترګو سره وو څه یاغي آسونه
چې پرې سپاره وو پیریان
په سر یې الوتل د سربو او فولادو کارغان
او دې کارغانو د غضب اور په ځنګله وشینده
نو د شین سترګي مانۍ هم تالا شوه
خدایزده پخپله د لویدیځ شهزادګۍ څه شوه
او په کومه ولاړه
زه هم آزاد شوم آزاد
مګر حیران ومه او نه پوهېدم
چې لا د وخت په زړه کې څه پاتې دي؟!

# دربیمه برخه

## پر شینکي کلي مې وربړي د اورونو باران

چانه پوښتنه وکړم:
زما د ژوند دا ناڅرګنده لاره چېرې رسي؟
آهای!!!
له چانه وپوښتمه:
چې زه په کومه ولاړ شم؟
دا څه د سرو پیریانو ځغاسته ده
او خومره شور دی؟
زما د ناز په خوب ویده کلي ته کوم لوري نه لار تللې ده؟
وحشي آسونو هر څه پښو لاندې کړل
د هسکو دنګو غرونو کلي، هم ځنګل هم خلک
نو زه به چیرته ولاړ شم؟
خدای (ج) خبر زما پر شپول به څه را پیښ وي
آخ! ماته ګرانې رمې
کومو لیوانو به داړلې یې لا داړي به دې
زما اصیله ښکاري آسه! خدایزده
چې به د کومو وسپنیزو آسو
په تور درو بڼ کې ګیر یې؟
آه! خدایه نه پوهېږم
چې زما ودان کلی به څومره ړنګ وي
خدایزده زما د تورو تورو سترګو
هغه ببیا که

هغه مسته ليونۍ مينه به چيرې وي اوس؟
خدايه قربان دې شمه ويې ساتې!
خدايه! ړندې کړې د پيريانو سترګې
که به بد ګوري ورته
دادی درځمه مينې!
زما د تورو تورو سترګو ميرې!
او له دې وروسته مې لټون پيل کړ
د خپلې مينې لټون
خدايزده چې چيرې به وي
زه مې د کلي په لور مخ ته ځمه
لا د پيريانو لښکر ځغلي هر خوا
کله چې کلي ته را ورسيدم :
آه خدايه دا څه وينم؟
کلی مې خومره بدل شوی په رنګ
هر څه يې سره دي، ديوالونه او کوڅې يې سرې دي
د ځمکو فصل، کودرونه او ويالې يې سرې دي
زلمي ښادرنه لري
د نجونو سر يې لوڅ دی
ربه زما پر کلي څه راغلي؟
چا يې غلا کړې ده د رنګ شهزادګۍ
چا يې لوټلې ده د خوند شهزادګۍ
زما د ښکلي ماشومتوب تاج محل
زما د مستې ځوانۍ ښکلی حرم
زما په ستورو ښکلې شپې هم چا سرې کړي رانه
خومره بدرنګه شپې دي
ښکارې په وينو سرې دي
کليه! په تا مې داسې شپې چيرې هم نه لورېږي

زه دې ليدلی داسې نه شم کليه!
د وينو رنګ کې مې ډوب نه خوښېږي
زه درنه څمه کليه
د هغو غرو په لوري
چې مې د مينې راز په زړه کې لري
چې مې د مينې غږ په خوله کې لري
ښايي چې تا به هېر کړم
خو خپله مينه هيرولای نه شم
هغه د تورو تورو سترګو ميرمن
هېڅکله هم له زړه ويستلای نه شم
ځکه هغه ما هيرولای نه شي
زړه نه مې لرې غورځولای نه شي
ورځم د غرونو غېږ ته
ګوندې چې هلته به يې بيا پيدا کړم
هو زه بارو لرم چې وبه يې وينم
ځکه چې خدای (ج) هم د مينو مل دی.

## او ما د تورو غرونو لار ونيوه

څمه د غرونو خواته
او وايم دا سندرې :
«ليونی مينې کړم اشنا له بيابانه سره
پرېږدئ چې ګرځم ليونی په غرونو
د ليونی مينې له لاسه
ناست يم د غم د غره د پاسه
د تصور په تال زنګيږم له خپل ځانه سره
پرېږدئ چې ګرځم ليونی په غرونو

د چا د شوخ نظر لپاره
په غرونو ګرځم ناکراره
د مينې شور مې لګېدلی له اسمانه سره
پرېږدئ چې ګرځم لیونی په غرونو.»
خو يوه ورځ له ورځو
کله چې ورسېدم
يوې رڼې او ښايسته چينې ته
راته د تېرو وختو خيال پيدا شو
پر زړه مې و وريدل تېر يادونه
هغه د پيغلو ډله
چې به چينې ته راتلې
په خنداګانو مستې
لکه د ګلو ځانګې
په نرۍ ملا ماتيدې
تر شنو منګيو لاندې
او هغه ورځې زما د تاندې ځوانۍ
چې په سندرو مست وم
ځومره په سوز به مې شپيلۍ وهله
هغه ښايسته وختونه
ها د جنت عمرونه
لکه يو خوب چې وينم
خو اوس چينه میراته
ګودر يې ورک دی لاره هم نه لري
ښکاري کلونه کېږي
چا ورنه ځاځکی اوبه نه دي وړې
هېڅا يې نه دی په هينداره کې وربل جوړ کړی
چا يې په غاړو کې خندلي نه دي

چا يې تر ښنګه د شپیلۍ نغمې وهلې نه دي
ما په ژړا کې ورته داسې ووېل :
خو ګوره ښکلې چینې
دادی زه بیا راغلمه
په زړه زخمي په ژړېدلو سترګو
خیر دی که ته هم راته ژاړې په بې غږه ستوني
زه به نن بیا درته شپیلۍ ووهم
زه به نن بیا درته زړې خاطرې
په چیغو وژړوم
دادی چینې درته شپیلۍ وهمه
راځه چې دواړه په سندرو او نغمو وژاړو
راځه چې دواړه د غمونو په شیبو وژاړو
او ما شپیلۍ په شونډو بیا کېښوده
یوه د سوز او ساز لمبه مې بل کړه
ما ویل چې نن د چینې هډ سوزوم
ما ویل چې نن په ځنګله اور لګوم
او له دې ورځې وروسته
چې هره ورځ به غرورغو کې په لټون سترۍ شوم
نو مازیګر به د همدې چینې تر غاړې راغلم
او د شپیلۍ له سترې ستوني به مې سر کړه د غمونو نغمه
زما شپیلۍ، زه او چینه، بس همدا درې ملګري
چې یادول مو د ورک عشق هغه زاړه یادونه
کلونه تلل، کلونه اوښتل او ژوند تېرېده
د عمر سیند سترۍ ستومانه لا پر مخ بهېده

## خو یوه ورځ مازیګر

کله چې زه د چینې خوا کې ناست وم
او له شپیلۍ سره مې یو ځای ژړل
ناڅا په غږ د کوم یو آس راغی
چې د ځنګله د شنو زیتونو او څیړیو منځ نه
د چینې خواته راته
واه څومره ښکلی آس و
لکه د شنو پاڼو په منځ کې را روانه بیړۍ
او هومره سپین ولکه واوره
لکه لاس زما د ښکلي جانان
او پردې آس وه یوه پیغله سپره
زلفې یې بادوې په اوږو اخیستې
او د تیکرې خنده یې
باد رپوله داسې
لکه بیرغ د غزا
هومره ښایسته وه پیغله
لکه د قاف له غرو راغلې د ارم ښاپیرۍ
د سترګو رنګ یې و زما د ښکلې مینې په شان
کټ مټ هغې غوندې وه
لږ څه مغروره او عاصي ښکارېده
زما د جانان سترګې له مینو ډکې
خو ددې سترګې وې له وینو ډکې
زما د یار له کتو ناز ورېده
خو دا کاته جګړه د تورو کوي
نو زه پرې پوه شوم چې زمامینه نه ده
راغله او راغله د چینې تر څنګه

هغه مغروره قهرجنه نجلۍ
هغه حسینه کبرجنه نجلۍ
په ما یې داسې غږ کړ :
ولې دې بیا یمه راغوښتې ځوانه؟!
ووایه څه وایې زه دلته یمه
خو زه دغرونو پردیس
او د ځنګلونو ملنګ
زه د چینې مینجور
او د ښکلا لیونی
د ځو شیبو لپاره
ددغې پیغلې په ښایست کې ډوب شوم
زړه کې مې داسې وویل :
« آه خدایه ځومره ده هغې ته ورته
ها زما ورکه مینه
هغه د تورو تورو سترګو مړمن
اوس خدایزده چیرې به وي
ایا دا پیغله به خبره نه وي
چې زما د تورو تورو سترګو ښکلې چیرته اوسي؟
ځکه نو ما ورڅخه وپوښتل چې :
زه ددې کلي لیونی شپونکی یم
ټول ژوند مې مینه کړې
یوه سپیڅلې مینه
خو اوس د ورکو ورکه
یوه باد وړې مینه
کټ مټ دا ستا په شانې ښکلې مینه
اوس پسې ګرځم  لیونی په غرونو
خو راته وایه نجلۍ

چې ته د کوم جنت راغلې ښاپیرۍ یې دلته؟
هغې زما سترګو ته نیغ وکتل
آس نه را کوزه شوه زما څنګ ته راغله
راته یې بیا بیا ښه په ځیر وکتل
لږ څه موسکۍ شوه بیا یې داسې وویل :
زه خو پردۍ نه یم شپونکیه کلیواله دې یم
ستا کلیوال راته «مغروره» وایي
ښايي چې نوم به مې وي
زه هم مینه یم او ټول عمر مې مینه کړې
کلونه وشول ستا په کلي کې زیږیږم او بیا بېرته مرمه
زه ستاد کلي د پیغلوټو دارواوو ملکه یم ځوانه
درې ځلې مړه شوم بېرته وزیږیدم
درې ځلې یې ووژلم
درې تورو ووژلم
مګر پوهیږې چې زه بیا ولې دنیا ته راځم؟
دا هر څه ستا ددې شپیلۍ له لاسه
دغه کوډګره سحر ګره شپیلۍ
چې هر پوکې سره د زرو طلسمونو دروازې ماتوي
هره نغمه یې ده د کوډو ځاله
او هر سرود یې کرامات ورروي
کله چې ووژل شم
ستا د شپیلۍ په نغمو
بېرته ژوندۍ شم او دنیا ته راشم
او دادی بیا ستا د شپیلیو سرود
ځانته را وبللم
زه د خپل کلي د پیغلوټو اروا
او زه هینداره د پیغلوټو د نیمزالو هیلو

بیا ستا شپیلۍ ژوندۍ کړم
نو راته ووایه چې څه وکړم
په چا باندې ځان بیا ووژنم؟
ووایه بیا د خپلو وینو جام په چا وشیندم؟
ووایه بیا چیرته سلګۍ ووهم
او چیرته ومرمه بیا؟
د ښکلې پیغلې دې خبرو ته حیران شوم حیران
کوم وژل؟!
کومې کوډې؟!
کومې وینې؟!
آه خدایه! دا څه اورم
ووایه ښکلې پیغلې څوک دې وژني؟
دا ستا د حسن قاتل کوم ظالم دی؟
ووایه ځار دې شم کیسه دې وکړه
اې نجلۍ!
زه درنه همدومره غواړم
چې د خپل ژوند ټوله کیسه دې وکړې
د ښکلې پیغلې سترګې
لړې
او ډېرې لړې وګنډل شوې
شونډې یې ورپیدې
یو څه په سوچ کې ولاړه
او نجلۍ داسې راته وکړه کیسه :
زه ددې کلي یوه مسته پیغله
هومره مغروره ،چې به خلکو د «مغرورې» په نامه پېژندم.
یو څوک پر مامین او زه وم پر هغه مینه
نو ډېر کلونه پخوا

يو کال هغه وخت
چې لا زموږ کلي کې فصل د غنمو شين و
هغه مهال چې کليوال وړله لاټ ديو سره جګړې ته تللي
هغه د وياړ کلونه
هغه د تورو فصل
چې شازلميان مو د غزا ډول سره
په اتنو اتنو جنګ ته ورتلل
زما مين هم چې د کلي يو مغرور زلمی و
توره تر ملا کړه او خپل ښکلی آس يې هم زين کړ
هغه غزا ته تللو
دمخه ښې په وخت يې داسې وويل:
«غزا ته ځم په وطن جنګ دی
يوه خوله را کړه چې مې زړه د زمري شينه»
او ما هم پورته کړ منګی اوږې ته
او خپل مين ته مې د تلو په وخت کې داسې وويل:
«جانانه جنګ ته ځان تيار کړه
سنګر ته پاس به اوبه زه درخېژومه»
زموږه ټول کليوال جنګ ته ولاړل
او له لاټ ديو سره جګړه پېښه شوه
زموږ جګړنه وه د «ميوند» دښته کې
څه خونړۍ جګړه وه
څه ليونۍ جګړه وه
چې د لاټ ديو ها مغربي ديوانو
زموږ د کلي ډېر زلمي ووژل
زموږ بيرغچي يې هم په غشي وويشت
هغه ناري کړې هلۍ لويږمه
بيرغ اوچت کړئ

او زه د هغه خواته ورغلم اوبه مې وروړې
خو د هغه په وينو سرو منګولو
نور د بيرغ اوچتولو توان نه درلوده
د غزا لوړه جنډه ورو ورو پريوتله ورنه
هغه په خاورو لويده
ځکه خو ما منګی پرزمکه کېښود
بيرغ مې خوا پورې ټينګ ونيولو
او مخامخ مې د غازيانو پرسنګر پورته کړ
جنډې له باد سره نڅا پيل کړه
زموږه سترې غازيان
زموږه تږي غازيان
آه خدايه! څومره يې په وينو سره وو
ما خپل مين په کې ليدلی نه شو
خدای (ج) خبر چيرې به لاټ ديو ته مخامخ ولاړو
ما ويل چې هر چېرې وي
خو زما ناره به اوري
ځکه مې غږ پرې وکړ :
«که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګی ته دې ساتينه
خال به د يار له وينو کيږدم
چې شينکي باغ کې سورګلاب وشرموينه»
او زما له دې غږ سره
زلمو کې وينه تا وشوه
غازيانو چيغې کړی :
الله اکبر!!
ټول له مورچو ووتل
ميوند د اور تنور شو

وحشي آسونه يو پر بل وختل
سرونه والوتل لاسونه پرې شول
او ما د تورو په بريښنا کې وليد خپل ننګيالی
ها زما مين چې د لات ديو لاس يې په توره پرې کړ
خو خپله هم د مغربي ديوانو تورو وخوړ
هو! زما مين شهيد شو
زه هم کوم چا په غشي وويشتمه
او ما د مرګ په وخت کې دا وليدل
چې د لات ديو لښکر تالا ترغي شو
ټول مغربي ديوان يې ووژل زموږ شازلمو
او چې د سوبې بيرغ
شوتر آسمانه پورته
زموږ کليوالو زه او زما مين په خپلو اوږو پورته کړلو
او دياچا په امر
د ښاپيريو په مانۍ کې خښ شو
زموږ په زيارت کې ښاپيريو پاچاهي جوړه کړه
هلته زموږ زيارت و
زموږه دوه مينو
چې دواړه ځنګ په ځنګ د ميني په خوب پريوتلو
او د کلونو د ارمان غېږې مو هلته يو په بل تودي کړې
خو ما د خپل مين دغېږې جنت ډېرونه ليد
ځکه چې ستا شپيلۍ د ناز له خوبه ويښه کړمه
ستا دي کوډګرې شپيلۍ
يو ځلي بيا ددغه کلي پر لمن راشنه کړم
دا ځلي بيا وم يوه مسته او مينه پيغله
له ښکلا ډکه او مغروره پيغله
هومره مغروره چې به خلکو د «مغرورې» په نامه پيژندم.

## خو دا ځل زموږ کلی بدل و بدل

زه ورته راغلم خو د کلي رنګ بدل ښکارېده
هر څه يې سره وو
لکه وينه
لکه قهر
لکه اور د دوزخ
دا ځل زموږ پر کلي
د شمالي پيريانو سورلښکر يرغل کړی و
د قاف له غرونو هاخوا
د کنګلونو د ښار
او د سرو ييږو د ځنګلونو پيريان
ددې پيريانو د لښکر مشر «اورديو» نومېده
هغه هم زموږ د کلي
د خپلواکۍ پر ملکې مين و
هغه هم زموږ هوسۍ له ځان سره شمال ته بوتله
د ښاپيريو سلطنت يې ړنګ کړ
اوزموږ زيارت ته يې هم اور ورته کړ
د آدم خان پر ځای يې راوستی يو «بوډاچوپړګر»
دا چوپړګرو زموږ د کلي کوډګر
چې له ابليس څخه يې کوډې زده کړې
او په جادو يې پاچاهي د ښاپيرو ورانه کړه
خدای خبر ستا ها نازولې نازو چيرې ولاړه
اوخدايزده نورې ښاپيرۍ يې څه شوې
اور ديو مو کلي ته پيريان راوستل
او لښکريانو يې په خپلو تورو
کلی د سرو وينو باران کې ډوب کړ

له یوه کاله وروسته
اور دیو زمور کلي کې
د خپلو بوډاچوپړ په مرسته پاچاهي جوړه کړه
د شمالي پیریانو سره پاچاهي
چې به بوډاچوپړ کړ
زیندی پر غاړه
د پیریانو بنده ګي کوله
او په دې ډول یې زمور د کلي
د پیړیو ویاړ ته اور ورته کړ
خو زمور سپیڅلیو کلیوالو
له پیریانو سره جنګ ته ملاوې وتړلې
او د زیارت یو مستانه مینجور
هغه سپیڅلي ملنګ
ها بابه قو
ها لیوني قلندر
چې یې د سترګو په بریښنا کې ټول جهان ځایېده
زمور د زیارت تر ړنګېدلو وروسته
رباب تر ملا کړ سر یې وتاړه په داسي جنده
چې په کې توري، سرې او شنې کربښې وې
د کلي خو مست مستان او قلندر زلمي یې
سره را ټول کړل د قیام لپاره
د عشق په نوم یې سره ورکړل خپل زلمي لاسونه
چې هم هوسی وکټي
او هم د سرو، سرو شمالي پیریانو
لښکر له کلي نه بهر وشړي
زما مین هم له ملنګ سره ولاړ

زه مې مين سره يوځای تلم د پيريانو جنګ ته
او يوه ورځ له ورځو
چې د پيريانو لښکر
زموږ د کلي د غنمو فصل وسوزاوه
په هغه ورځ ماله همزولو سره
د مستو مستو ليونو لښکر ته
له دې چينې څخه اوبه ور وړلې
کله چې اور په کرونده کې بل شو
او سره پيريان ورنه چارپيره په نڅا لګياوو
ما او همزولو مې په چيغو چيغو
هغوی ته وکړې ښېرا
هغوی چې زموږه دا ښېرا واوريدې
څه په غوسه شول چا کټ کټ وخندل
موږ لا ښېرا کولې
چې يو ناڅاپه د بوډاچوپېرګر
يوه نااهله بچي
هغه زما کليوال
چې د پيريانو عبادت يې کاوه
خپل غشي زما پر تټر و ورول
زه يې بيا ووژلم
مګر دا ځل د مرګ خوند هومره تريخ و
لکه د زهرو پياله
ځکه د خپل کليوال لاس وژلم
خپل لاس وژلم په پرديو تورو
خپلو وژلم او پردو ليدلم
خدايه! څه سخت ساعت و
خدايه! قربان دې شمه څومره تريخ و

هو زه يې ووژلم
او خپل مين څخه يې بېله کړمه
خو دا بيلتون مې هومره اوږد هم نه شو
ځکه چې ستا شپيلۍ يې مزي لنډ کړل
ستا دې کوډګرې شپيلۍ
يو ځلې بيا ددغه کلي په لمن کې شنه کړم
دا ځلې مسته نه وم
مګر غرور مې درلود
هومره مغروره وم چې خلکو د «مغرورې» په نامه پېژندم
بيا راغلم خپل کلي ته
خو دا ځل هم کلۍ بدل ښکارېده
کلي د سرو پيريانو تيغ لاندې لا ساه راکښله

## مګر لات دېو ژوندی و

سم چې پيريان زموږ پر کلي راغلل
ابليس لات ديو خبر کړ
او دا کيسه يې وکړه
چې اور ديو څنګه زموږ له کلي څخه بوتله هوسۍ
څنګه زاړه چوپړګر  وپلورله
هغه د هسکو هسکو غرو د خپلواکۍ ملکه
د کنګلونو د هېواد پر پيرې
او په دې ډول د اورديو او لات ديو
هغه زړه او پخواني دښمني بيا ژوندۍ شوه
لات ديو د سروزرو کاروان را بار کړ
او هغې دښتې کې يې واړول چې
په لومړي ځل يې وابليس ليدلی

دا ځل يې بيا هم د ابليس په مرسته
او هم د کوډو او د زرو په زور
زموږ د کلي ښکار ته ملا ټينګه کړه
سم چې د دنګو دنګو غرو د کلي
زلمو پيريانو سره جنګ ته ملاوې وتړلې
نو پر هغوی يې د سرو زرو باران ووراوه
ښايي هغوی باندې يې کوډې وکړې
هغوی يې وويشل په څو لښکرو
او هر لښکر ته يې بيا داسې وويل :
ولاړ شئ !
جګړې ته د پيريانو ولاړ شئ !
او د پيريانو دوستان هم ووژنئ
هر څوک چې وي
که کليوال مو هم وي
ويې وژنئ !
ويې تړئ !
مېنو ته يې اور ورته کړئ !
هر چا چې ډېر ووژل
زه به د کلي پاچاهي ورکړم هغه لښکر ته
هر چا چې ډېرې ويني وبهولې
هومره به يې ډکه کړم لمن له زرو
او له دې وروسته شو زموږ کلی د وينو کلی
يو د اورونو او مرګونو کلی
د سيند اوبه زموږ له کلي څخه
د تېريدو په وخت کې سرې اوښتې
او باد به تل د مړو کوپړيو ايرې ځان سره وړې
دا ښکاره نه وه چې څوک څوک وژني

يوازې کلی و په وينو کې ډوب
يوازې مړي په کوڅو کې سر په سر پراته وو
خو خدای(ج) خبر چې کليوال مو خلاصيدل څنګه نه؟!
جګړه د «ديو» او د «پيري» ترمنځ وه
او ګوزارونه وو د دوی د متو
مګر سرونه به زموږ د کليوالو پرې شول
پښې او لاس به زموږ د کلي د ځوانانو مات شول
پيريان لښکرو څخه نه وېريدل
د هغوی ويره له ملنګ څخه وه
او د هغه له مستوـ مستو شاه زلميانو ځنې
ځکه يوازې وو هغوی
زموږ د کلي د دښمنو دښمن
د زيارتونو مستانه مينجور
په اتنو او په سندرو کې غزا کوله
هغه اور ديو او لات ديو دواړو سره جنګ کولو
او کليوالو ته يې تل د اويل :
پام چې غلط پرې نه شئ
لات ديوزموږ د کلي زړو دښمن دی
راځئ د خپلو کليوالو وژل پرېږدو
له پردو سره جګړې ته ووځو
هم له ديوانو هم پيريانو سره
د خدای (ج) لپاره زما د کلي خلکو!
اخر په تاسو دا څه چل شوی دی؟
نيم په اور ديو خرخ شوي
نيم په لات ديو اوښتي
هغوی موسيل کوي
او تاسو يو د بل د وينو تږي

د خدای(ج) لپاره ځان مو وخوځوئ
لږ څه راوپښ شئ او د متو په زور
دواړه له دې کلي بهر وشړئ
دواړه زموږه د اوږو ماران دي
او خوري مو هره ورځ په سر کې ماغزه
موږ نه يې عقل و بصيرت وړی دی
سمه لار نه پېژنو
يو بل نه سرپرې کوو
يو د بل ويني څښو
اخر په کومه ګناه؟
زموږه جرم څه دی؟
دوی دواړه څوک دي؟
چې به موږ ته پاچاهي وکړي
راځئ چې ټول کليوال يو شو سره
راځئ د خدای (ج) په مرسته
راځئ په خپلو متو
لاټ ديو، اور ديو دواړه د خپل کلي په ونو پورې وځړوو
او بيا په مينه مينه
خپله هوسۍ راولو
بيا ښاپيرۍ راولو
هو!
ملنګ داسې وويل :
او له پردو سره يې جنګ کولو
هغه ديوان وژل، پيريان يې وژل
هاله لويديځ څخه راغلي ديوان
ها له شمال څخه راغلي پيريان
او د کوډګرو طلسمونه به يې هم ماتول

زما مين او زه «مغروره» له ملنګ سره وو
ما به هغوی ته له چينې څخه اوبه وروړلې

## خو يوه ورځ له ورځو

مست مينجور په نخېدو راغی
ځنې به يې واچولې
بيا به يې درب ور کړپيښې ته
او ټولو مستو شاه زلمو ته يې ويل چې : له هغه سره اتڼ وکړي
کله چې ټول په اتڼو ستړي شول
نو د ملنګ بابا تر مخ راټول شول
او له هغه نه يې ددې خوښی لامل وپوښته
د ملنګ سترګي يو ځل وځليدې
يو څه په سوچ کې ولاړه
او بيا يې داسې وويل :
دوستانو شکر د خپل رب ادا کړئ
ځکه چې نورو نو د اور ديو د ابليسي طلسم راز ماتيږي
پيريان به ټول زموږ له کلي څخه وشړل شي
تاسو خبر ياست که نه؟
نور د پيريانو هم طلسم مات شو
ځکه زموږ د کلي
هغه ورک شوی شپونکی بيا راغلی
ها د سندرو کوډګر
ها د شپيليو پاچا
چې له لات ديو سره د جنګ په وخت کې
له کلي خدايزده بناپيريو وبوولی چيرې؟
خو دا څو ورځې يې په بر ځنګله کې

يو ځلې بيا د نغمو غږ راځي
هغه په خپلې ورکې مينې پسې ګرځي او شپيلی غږوي
او دا کوډګره شپيلی
بيا ماتوي طلسم
او زموږ ورکه هوسی
يو ځلې بيا ويښېږي
هلته شمال ته د کنګلونو ښار کې
او د هغې له ويښېدو سره سم
د کنګلونو هېواد
ورو ورو ويلېږي او ماتېږي پسې
دوستانو زيری مې درباندې
چې د شپونکي شپيلی مو بيا د خپلواکی ملکه
ښکلې هوسی ژغوري
او د اورديو طلسم هم ماتېږي
د کنګلونو ښار به ويلې او توټې توټې شي
پيريان به هم په سمندر کې ډوب شي
او د يوې پيرۍ کوډګره بوډۍ
ها ـ له هر څه منکره ـ
هغه په زړه کافره
چې سره پيريان زيږوي
چې يوه سترګه لري
هغه به هم په خپل تابوت کې پريوزي
زموږ هوسی به ورته خاندي
سره بوډۍ به د تاريخ ډېران کې خښه شي
اوخاورې به شي

## راځئ دوستانو چې اتڼ وکړو

راځئ ملګرو چې نغمې ووايو . . .
ملنګ ربنتيا وويل
هغه په هر څه پوه و
د هغه سترګو کې جهان ځاييده
- ګرانه شپونکيه واوره!
ستا دي کوډګرې شپيلۍ
يو ځلې بيا هم هوسۍ وژغورله
او د اور ديو طلسم هم مات شو
سره بوډۍ مړه شوه د اور ديو لاس او پښې هم پرې شول
او د پيريانو لښکر
مات او ګوډ بېرته ولاړ شمال ته د کنګلونودهېواد په لوري
هغه بوډا چوپړګر هم وتښتېد

## مګر افسوس شپونکيه!

چې زمور په کلي کې د وينو چينې وچې نه شوې
که څه هم مات شو د پيريانو جادو
مګر لاټ ديو ژوندۍ و
او لايې خپلې ابليسي کوډې کولې پر مور
سم چې بوډا چوپړګر
زمور له کلي ووت
جګړې ته تللي کليوال ستانه شول
خونه د ورونو په شان
زلمي يې توره په لاس
او يو د بل وينو ته تږي تږي

د کلیوالو جرګه نه جوړېده
ځکه زموږ کلي کې فصل د غنمو نه و
او له جرګې نه د غنمو وږي
ابلیس په غلا وړي وو
ابلیس د هغو کلیوالو ترمنځ
چې له پیریانو سره یې جنګ کولو
لاړې توکړې
ځکه لښکر، لښکر شول
او هر لښکر یې و دبل یو دښمن
ددې لښکرو هریو مشر پاچاهي غوښتله
خپلو کې یو د بل د غوښو د هډوکو او د وینو وږي
نو لا څو ورځې تېرې شوې نه وې
چې مو په کلي کې لښکرو تور دروبڼ جوړ کړ
تورې له تیکو نه راووتې
او سترګې سرې شوې
د کلي خړې کوڅې بیا په وینو ورنګېدې
دا ځل بوډا او ځوان چانه پیژندل
هر چاله هر چا ښخه سر غوڅاوه
هر چا د هر چا کور ته اور اچاوه
هرڅه تالا او لوټ شول
زموږ د نیکونو شملې
د اناګانو ټیکرې
چا ماشومان حلالول زانګو کې
چا له میرمنو نه حیا لوټله
چا به له پیغلو پیغلتوب غلا کړ
چا به زلمي کتار ـ کتار ووژل
چا به د خلکو د غنمو فصل وسوزاوه

چا به د کلي جوماتونه رنګ کړل
چا به د خلکو په هډوکو ژرندې تاوې کړلي
او دغه ژرندې به د وينو په وياليو ګرزېدې
چا به دخوارو کليوالوپه سرونو کې مېخونه وهل
د کليوالو د سرونو مناورونه مو اوچت شول دومره
چې له هر ځای څخه به هر چا ليدل
زموږ د سويو کلاګانو تور دودونه وو اسمان ته پورته
زموږ د غرونو لوړې څوکې هم په اور سوزېدې
لکه زموږ د کليوالو غرور
چې په مرګو کې ورک شو
داسې مو دنګو غرو له شرمه ځان په اور پټاوه
زموږ د پيغلو لوپټې به هره ورځ تالا شوې
لکه د کلي باد مو هم چې غل وي
ددغه کلي په اوږده ماضي کې
هيڅ کله داسې کيسه نه وتېره
دغسې توره د مرګونو او شرمونو کيسه
داسې د «وياړ» په نامه تشه له وياړونو کيسه
داسې د وير او د ماتم کلونه
داسې د درد داسې د غم کلونه
داسې د اور او د لمبو فصل چې
زموږ د کلي شنه ماضي هم په کې وسوزېده
او ښايسته زرينې پاڼې يې پرديو غلا کړې
زموږ ماضي ديوانو ووژله
زموږ ماضي پيريانو وخوړله
لاتت ديو دا هر څه ليدل
او په کټ کټ يې خندل
هغه زموږ له کليوال نه کسات اخيسته

د خپلې ګوډې پښې
د خپلو ماتو لاسو
د خپل ډوب شوي لښکر
هغه ته دا کوډې ابلیس ښودلي

## خو په هوسۍ څه پېښ شول؟

واوره شپونکیه زموږ د کلي د غمونو کیسه :
موږ د ملنګ ملګرو
چې کلی داسې ولید
نو دلته لرې راغلو
او په ځنګلونو کې مو ځانته کړې جونګړې جوړې
په دې جونګړو کې ژړل به مو سهار او بیګاه
په کلیوالو او په کلي پسې
خو یوه ورځ مازیګر
زموږ په جونګړو کې غوغا جوړه شوه
ځکه ملنګ بابا د کلي له خوا
یو ښوک په غیږ کې راوړ
کله چې موږ ورغلو
نو د ملنګ بابا په سترګو کې مو
په ټول ژوندون کې لومړی اوښکې لیدې
هوکې ملنګ بابا ژړل لکه چې
او یوه ښکلې نازولې میرمن
په خپلو وینو ډوبه
وه غځېدلې د ملنګ پر لاسو
موږ له ملنګ بابا نه وپوښتل چې دا ښوک ده؟
هغه په چیغو چیغو وژړل او ویې ویل:

تاسو يې نه پېژنئ؟!!
دا خو هوسۍ ده هوسۍ
د ښاپيريو د پاچا ملکه
د خپلواکۍ څښتنه
مور هم په چيغو سر شوو:
زما مين وويل :
اخر ملنګ بابا دا کوم ظالم کړه داسې ټپي
خدای (ج) دې کړي مات هغه لاس
خدای (ج) دې تباه کړي هغه . . .
خو په دې وخت کې موږه وليدل چې
ټپي هوسۍ لږ څه موسکۍ غوندې شوه
زما د جانان په خوله يې لاس کېښوده
او په ځګيروي يې وويل :
« پام چې ښيرا ونه کړې
زما خو په خپل قاتل «درد» نه دی پيرزو
هغه چې زه په توره ووهلم
هغه زلمی هم کليوال دی زموږ
خدای(ج) دې د هغه سرته هم خير کړي
ما ويل د سولې پرښته به شمه
ما ويل د وينو سيند به ودروم
او د ابليس لارې به وچې کړمه
دښمنو زړونو کې به مينه شمه
خپل کليوال به سره ورونه کړمه
او نيکمرغي به شمه
د هغه وخت په څېر ،چې زموږ کلي کې فصل دغنمو شين و
خو هغوی زه په تورو ووهلم

او هغه توره،
چې زما ښېرته راتګ ته پورته شوې وه
زما په زړه کې خښه
شوله
ښايي زما ښېرته راتګ به د «انسان» په وينو نه ارزيده
ځکه د خپلو کليوالو په لاس
زماويني هم تويې شوې
ای خدايه ما وبښې!
ای خدايه ما وبښې!»
او دې خبرې سره
هوسۍ له هوښه ولاړه
پر مخ يې راغلې د دردونو خولې
بابا ملنګ چيغې کړې :
اوبه ! اوبه!
هله «مغرورې» ژر شه!
لږ څه اوبه راوړه!
او ما منګی پورته کړ
په منډو منډو د ځنګلونو منځ کې
دغې چينې ته راتلم
ځکه يوازې دا چينه وه چې اوبه وې په کې
زموږ د کلي په څاه ګانو، په سيندونو او چينو کې خو –
اوبه نه وې نګه وينې وې
او کليوال مو له اوبو څخه روژه وو روژه
تش لښکريانو به روژه خوړله
او د اوبو په ځای يې وينې څښلې
زه د چينې په لور راتلم چې لږ اوبه يوسم

خو يو ناڅاپه مې په لاره کې يو سيوري ولید
یو ببر سری سیوری
یو داسې سیوری چې د ویری له تیارونه جوړ و
وروسته بیا سیوري ډېر شول
پنځه او شپږ شول سیوري
او چې د سیورو خاوندانو ته مې پاس وکتل
هغوی مې وپېژندل
زما کلیوال وو د «زمرو لښکر» نه
هغوی مې مخې ته کتار شول کتار
ما ویل :
چې لار راکړئ اوبو پسې ځم
خو هغوی وخندل او ویې خندل
کړس کړس خندا یې وکړه
دهغوی ژبه د زمرو ژبه وه
او د زمرو په ژبه یې داسې وویل :
«اول زموږ زړونه خړوب کړه بیا اوبو پسې ځه »
آه خدایه دا څه اورم؟!!
زما ها درانه کلیوال څومره سپک شول
چې اوس د خپلې کلیوالې پر حیا بلوسې
خو دې پینځو زمرو، په ژبه دلېوانو، وویل :
ته زموږ د ډلې نه یې
او ستا په وچولي کې نه شته د زمرو نښاني
ځکه زموږه نه یې
اوس ته یو جام یې او موږ تږي لېوان
راشه زموږ غېږې ته
راشه چې ستا پر رانه وچولي کې
ددې پینځو زمریو نښه کېږدو.»

آه خدايه اوس څه وکړم؟!
له مرګه پرته بله لار نه لرم
خدايه زما د کليوالو مل شې :
ما خپله لار پرېښوده
زمرو تر شا راپسې مندې پيل کړې
خو زه په منډه منډه
د لوی ګړنګ تر خوا را ورسيدم
لا کليوال زمريان تر شا راتلل
خو ما د لوی ګړنګ پرانيستې غېږ ته
خپل ژوندون سوغات ورکړ
بس يوه چيغه او د مرګ دروازه
او زه شوم داسې قتل
د درېيم ځل لپاره
مګر دا ځل د مرګ خوند هومره تريخ و
لکه زقوم د دوزخ
دا ځکه نه يوازې خپل وژلم
بلکې له ما يې د حيا د اخيستلو تمه هم درلوده
خدايه څه سخت ساعت و
خدايه! قربان دې شمه څومره تريخ و

❋ ❋ ❋

شپونکيه! دا وه زما د تېرو ژوندونونو کيسه
درې ځلې مړه شوم بېرته وزېږېدم
درې تورو ووژلم
خو درې نغمو ستا د شپېلۍ ژوندی کړم
اوس چې ما وينې

زه د دریواړو نیمزالو روح یم
یوه «مغروره» یم په درې ځېروکې
تل په دې غرونو او ځنګلونو ګرځم
او کله ځم د خپل مین د ړندو سترګو کور ته
هغه ته خوب غوندې شم
هغه لا اوس هم په ړنده سترګو ما خوب کې وینې
او ته پوهېږې هغه ولې ړوند دی؟
راځه له ما سره چې ور دې ولم
پاتې کیسه به درته لار کې وکړم

# ځلورمه برخه

**زموږ د مینې دیدن**

**اوموږه دوه لیونې**

**خدای(ج) خبر چیرې به ځو**

نجلی مې لاس ونیو
او دواړه پر سپین آس سواره شو
هغې مغرورې مستې پیغلې راته داسې وکړه پاتې کیسه :
« اوس هلته لرې د یو غره لمن کې
چې زموږ د سوې کلې باد پرې هره ورځ لګېږې

د يو پراخ او شنه ځنګله په منځ کې
هلته له ستركو لرې
د قلندر بابا يو کلی جوړ دی
او له هغه سره ملګري ټول زلمي او پيغلې هلته اوسي
زخمي هوسۍ هم ورسره ده هلته
لا يې زخمونو ښخه وينې راځي
ټېپي هوسۍ ته يې له لوخونه بستر جوړ کړی
دا ځو کلونه وشول
چې د هغې د زخمو وينې په بستر بهيږي
ملنګ بابا او د هغه ملګري
په اوښکو مینځي د هوسۍ زخمونه ،
دملنګ سترګې په ژړا سپينې شوې
هغه په دواړو ستركو ړوند دی اوښوک نه شي ليدی
او زما مين هم په ژړا ژړا ړوند شوی دی اوس
ښايي ملګري د ملنګ بابا به ټول ړانده وي
هوسۍ ځګيروی کوي او هېڅ نه وايي
يوازې کله کله ستا نوم د ځګيرويو منځ کې
په نيمه ژبه اخلي
هغه شپونکی يادوي
کله شپيلی ياده کړي
کله غنم يادوي
او کله ستا دهغې ښکلې مينې نوم اخلي
هغه چې تورې تورې سترګې لري
هغه چې اوس خدای(ج) خبر چيرې تللې؟!»

✵✵✵

زه او مغروره پېغله
ورو ورو روان وو د ځنګلونو منځ کې
هغې کیسه کوله
او زه حیران وم دخپل ګران کلي عجیب داستان ته
تر څو له لرې د ځنګلونو منځ کې
د یوه غره په لمن
د شنو زیتونو او څېړیو تر خوا
ښکاره شوې څو جونګړې
له وچو خاشګو او ښونه جوړې
په عجیبه شانتې چوپتیا کې ډوبې
سم چې ور ورسېدو
هلته مو ولیدل خپل څو کلیوال
رنګونه ژیر
ښې سپېرې
سترګې له اوښکو ډکې
ځینې ځوانان او ځینې پیغلې وو ړانده په ژړا
او د مغرورې پیغلې
ښکلی جانان هم اوس په سترګو ړوند و
مګر بیا هم د خپلې مینې په راتلو وپوهېد
مغرورې پیغلې هغه غېږ کې ټینګ کړ
او په ژړا ژړا یې ښکل کړل سره
زما په سترګو کې هم اوښکې راغلې
او ما ملنګ ولیده
نو شییه وروسته موږه ټول ولاړو ملنګ بابا ته
هغه چې زموږه له راتلو خبر شو
خپلې جونګړې نه بهر راووت
یو څه خوشاله او حیران ښکارېده

هغه زموږه درناوي ته راغی
ماته يې غيږ پرانيسته
او چې يې سر زما پر ولي کېښود
خدايزده چې ويې ژړل که ويې خندل
د هغه ول ول ځنې سپينې وې اوس
د شين کميس پر ځای يې تور کميس په غاړه کې پروت
کچکول يې مات و، تبرګي يې لاستی نه درلوده
خو لايې سترګو کې هماغسې برېښنا ځليده
په ړندو سترګو کې يې اوس هم لا جهان ښکارېده
هغه له هر څه خبر
او په هر څه پوهېده
خو اوس هغه هم زموږ د کلي برخليک ته ژړل
ملنګ چوپتيا نه وروسته داسې وويل :
ښه شو چې راغلې
اې د هسکو هسکو غرو شپونکيه !
زموږ د کلي د سندرو پاچا
اې د شپيلۍ د نغمو
د کوډو لويه ځوانه!
زموږ غم آباد ته دې قدم مبارک
کېدای شي ستا دغه کوډګره شپيلۍ
زموږ هوسۍ وژغوري
زموږ د کلي نيکمرغي، د خپلواکۍ ملکه
هغه چې اوس ساه باسي
د ژوند او مرګ پر پوله
او له زخمونو نه يې وينې راځي.
ته پرې خبر يې چې د چا له لاسه؟
زموږه خپلو لاسو

زموږ د کلي د زلمیو منځو
هغه د مرګ تر ستوني راوستله
خو خدایزده چاته یې خپل ژوند ساتلی
خدایزده وروستۍ سلګۍ یې چاته پریښې
څو کاله وشول ځنګدن یې دی
خو سترګې یې لا لارې څاري
کله په نیمه ژبه تا یادوي
کله شپیلۍ یادوي
کله ستا ورکه مینه
کله غنم یادوي
او کله سپینې اوبه
ښایي چې ستا نغمې یې بیا ژوندی کړي
ځکه خو هیله کوم
اې د سندرو پاچا
راشه تر څنګ یې کېنه
شپیلۍ دې وغږوه
تر هغې ورځې پورې
چې هوسۍ بیا ژوندۍ شي
چې زموږ له کلي څخه تللې د خوښیو ورځې
بېرته را وګرځي او بیا راشي
او دا د وینو او غمونو شپېې
نورې د تل لپاره کډه وکړي.

## آه زموږ د مینې هوسۍ

او ما همداسې وکړل
زه او ملنګ بابا هوسۍ ته راغلو

پيغله او ړوند جانان يې هم راسره
ټول د جونګړو اوسيدونکي تر شا
هلته له لوخو جوړه شوې وه يوه کوډله
منځ کې يې پروت و، يو د لوخو بستر
او د بستر له پاسه
يوه زخمي ښاپيرۍ
د درد په خوب ويده وه
هغه مغروره، هغه مسته هوسۍ
هغه د هيلو، نيکمرغيو، خپلواکيو نښه
چې ټول جهان يې په ديدن پسې هلاک و هلاک
خو اوس د مړي په شان
د ژوند په وليو بار وه
آه زموږ د مينې هوسۍ!
خدای(ج) خو دې وساته د مرګ له لاسه
زه به دې سر ته کينم
او څو چې ساه لرمه
ستا ښکلي روح ته به شپيلۍ ووهم
درته به جوړه کړم د ژوند سندره
تا به د مينې په نغمو مسته کړم
نو دادی واوره!
اې زموږ د خپلواکۍ او نيکمرغۍ ملکې!

❋❋❋

زما شپيلۍ زما د ژوند دا سرګردانه بيړۍ
بيا د يو ورک سفر په لارو سرده
خدای(ج) خبر بيا چيرې ځي
دادی زموږ د خپلواکۍ هوسۍ ته

د ژوند سندرې وايي

لکه چې بيا په کوډو راغله سحرګره شپيلۍ
خدايزه چې بيا کوم طلسمونه وژني
شپيلۍ لګيا ده لا نغمې وروي
او د زخمي هوسۍ په مړاوو اننګيو کې بيا وينه ځغلي
او سپېرې شونډې يې ورو– ورو رپيږي
ښايي تکل د څه ويلو لري
بابا ملنګ مې پر اوږده لاس ايښی
او راته وايي داسې
ښايي چې زموږه خپلواکي بيا راځي
ښايي چې زموږه نېکمرغي بيا راځي
زه په ړندو خوبو کې وينم رڼا
زه د لمر پل پېژنم
تانه قربان شم د نغمو يا چا شپيلۍ ووهه
سندرې وبوله سحر نږدې دی
هوسۍبه وينه شي او مات به شي د وينو طلسم
ځار شم ،شپيلۍ ووهه
او ما همداسې لا شپيلۍ وهله

## سترګې دې پرانيزه ای ښکلې هوسۍ

مور تولو خپلې سترګې تاته درکړې
سترګې دې وغړوه
مور خپل ژوند تول يوه نغمه کړ ستا تر سر مو ځار کړ
سترګې دې پرانيزه اې ښکلې هوسۍ
زمور د هيلو او د مينو نازولې هوسۍ
او دې سندرې سره

ښايسته هوسۍ خپلې بيمارې سترګې پرانيستلې
بيا يې زموږ خواته را وکتل
يو يو يې له نظره تېره کړو
لږ څه موسکۍ شوه
لږ څه وځګرويده
او شيبه وروسته يې بيا سترګې زما په لور کږې کړې
هغې په ښکلو سترګو ماته کتل
او بيا يې ورو وويل :
«ماته شپيلۍ ووهه
ماته نغمې جوړې کړه
يوازې ستا شپيلۍ ژوندون راکوي
يوازې ستا نغمې مې مرګ نه ژغوري
شپيلۍ دې وغږوه
او زما د ژوند کيسه تر پايه وکړه
ستا د شپيلۍ په ژبه زه پوهېږم
يوازې ماته د نغمو کيسه په زړه پاتې ده
ماته زما د ژوند کيسهووايه!
تر وروستي فصله،
تر وروستۍ شيبې
تر پايه پورې!»
هوسۍ تردې خبرو وروسته سترګې بيا پټې کړې
يو څه آرامه شوه ښايسته ښاپيرۍ
ما لا وهله شپيلۍ
ماښام نه آن تر سپين سهاره پورې
آن تر هغو چې لمر را وختلو
ځومره تياره وه، څه اوږده وه دا شپه
ملنګ بابا هم ويښ و

مغروره پېغله ړوند مين يې ويښ وو
ښايي ددې جونګړو تول زلمي او پيغلې ويښ وو
سم چې سهار شو او لمر ځرک وواهه
هوسۍ بيا خپلې سترګې پرانيستلې
دا ځل يې بيا ماته را وکتل په ښکلو سترګو
خو په ليمو کې يې را ورغړيدې سپينې اوښکې
او له ژړا سره يې داسې وويل :
« شپونکيه ! ستا شپيلۍ رښتيا وويل
هو په رښتيا زه ګنهکاره يمه
داتولې وينې زما له لاسه بهيدلې دلته
دا هر څه ځکه وشول
تر څو چې زه د خپلواکۍ ملکه
دهسکو هسکو غرونو کلي ته راوګرځمه
دغو زلميو همدا زه ګټلم
ځکه يې ورپيل شول شنه سرونه
دې کلي پرته له ما ژوند نه غوښته
ځکه خو وسوزيد لمبه لمبه شو
ځکه په وينو کې يې ولمبل
تالا شو
لوټ شو
دې غرونو زه غوښتلم
ځکه يې ډکې شوې لمنې د بچو له قبرو
دې پيغلو زه غوښتلم
ځکه يې لوټ شول د حيا پړونې
دې کوچنيانو زما سيورۍ غوښته
ځکه له لوړې مړه شول
اې کليوالو!

اې د هسکو هسکو غرونو خلکو!

اې پیغلو!
اې زلمیو!
اې زړو، ځوانو، نارینه وو، ښځو!
مګر دا «زه» په دومره وینوارزم؟!
«زه»
هو!
همدا «زه» همدغه ښکلې هوسۍ
همدغه ستاسو ښایسته ښاپیرۍ
د خپلواکۍ ملکه
د آزادۍ پرښته
د استقلال ښتنه
مګر په دومره ریبل شوو سرو
دومره قبرونو دومره سویوارواګانو ارزم؟!
آیا زه ټوله د «انسان» په یو وینته ارزمه؟
آیا زه ټوله د «انسان» په یوه درد ارزمه؟!
په یوه آخ
یوې سلګۍ
او یوې اوښکې ارزم؟!
نه خلکو نه ارزمه
زه هیڅ ارزښت نه لرم
تاسو یې ومنئ چې ما خو داسې حال نه غوښته
دومره د وینو ترږې هم نه ومه
دومره سرونه خو مې نه غوښتل
د دومره غوښو وږې نه وم
هر څه زما په نوم شول

دا هر څه داغ شول زما پر سپینه لمن
آه خدایه! دا څه وشول

آه خدایه! ما وبښه
اې ربه! ما وبښه . . .»
ښکلې هوسۍ وژړل
د هغې سترګې شوې د اوښکو چینې
ښايي چا غوږ کې ورته داسې وويل :
هوسۍ!
سلګۍ ووهه،
وژاړه او زړه دې تش کړه!
خپل برخليک ته ژاړه
چې ستا لپاره يې د ځومره «انسانانو» ژوند ته اور ورته کړ
وژاړه ښکلې ښاپيرۍ وژاړه
اې د آزاد ژوندون ښايسته ملکې!
هغومره وژاړه چې تولې وينې
ستا د رڼو اوښکو په سيند لاهو شي
په خپلو اوښکو وينې ومينځه او مينې شنې کړه
هغومره مينې شنې کړه
چې نور د وينو رنګ له خلکو هېر شي
خو له ژړا نه وروسته
هوسۍ ورو وخوځېده
او په زخمي ګوتو يې
په خپل ګرېوان کې کوم څه ولټول
بيا يې را وويست د سرو زرو تاويز
او شيبه وروسته يې د پوښ له منځه
د لاس په رغوي کې غنم تويې کړل

او د غنمو درې داني يې موږه ټولو ته راوښوولې
يوه شيبه يې ماته ښه وکتل
او بيا يې وروسته راته داسې وويل:

اې زموږ د کلي د نغمو شهنشاه
د سرو او تورو طلسمونو ماتوونکيه جادوګره واوره!
- زه مې د خپل ژوند هستي تاته سپارم
کيدای شي دغه د غنمو درې داني درسره مرسته وکړي
چې ددې کلي د مرګونو کوډې ماتې کړې پرې
زموږ د کلي د جګړو طلسم
يوازې دغه درې غنم او ستا شپيلۍ ماتوي
دغه غنم دي، ها سپيڅلي غنم
چې ډېر کلونه پخوا
زموږ د کلي کروندو کې شنه وو
چې لا زموږ کليوال
دخپلو مينو په خوږو کې ډوب وو
چې نه لات ديو و ، نه اور ديو
نه يې زاړه چوپړګر
نه دا لښکرې وې او نه هم د جګړې هياهو
کله چې زموږ کلي کې فصل د غنمو شين و
دغه غنم مې کړل تاويز د خپل ګريوان لپاره
ما ويل چې ما سره به زما د کلي نښه وي د تل لپاره
خو اوس چې زموږ کلي کې فصل د غنمو نشته
او کليوالو مو د ټول عمر روژه نيولې
دا غنم تاته سپارم
ولاړ شه او خپله مينه بيا پيدا کړه
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن

څکه کلونه وشول
چې تاته لارې څارې
هلته د برو غرو په شنه دره کې
ستا پخوانې شپول سره
یوې جونګړې کې یوازې اوسې
ولاړې شه هغې ته دا غنم یوسه
او چې یو ځای شوئ سره
بیا دواړه لرې ولاړ شئ
لرې ډېر لرې
زموږ د کلې یوه داسې ځای ته
چې د «انسان» له قدمونو پاک وي
یو داسې ځای چې هلته وینه تویې شوې نه وي
داسې سپیڅلې ځای ته
چې «انسان» نه وي وژل شوی هلته
یو داسې ځای چې پرې د وینو ورمه نه لګېږي
کله چې داسې ځای ته ورسیدئ
نو هلته دغه غنم وکرئ په مینه مینه
بیا نو اوبه راوړئ له داسې چینې
چې په کې وینه د انسان هېڅ ګډه شوې نه وي
پاکې سپیڅلې اوبه
چې د انسان د ظلم رنګ یې هېڅ لیدلی نه وي
وروسته په خپلو لیو
دغه اوبه ورکړئ همدې دانو ته
او بیا نو تاسو دواړه
چې نه مو خوک وژلې
نه چا وژلې یاستئ
نه مو د وینوتویول لیدلي

نه مووژل او نه وحشت ليدلی
او ارواګانې مو سپيڅلي دي لا
په خپلو ښکلو نغمو
په راز اونياز د مينې
په مستو مستو خنداګانو هيلو
او د شپيلی په سندريز و کوډو
دا درې غنم ورو‌زئ
کله چې دې غنمو وږي وکړل
بيا يې نو راوړئ ماته
او زه به دا غنم د خپلو کليوالو په لور وشيندمه
چې کړي پرې ماته د کلونو روژه
له دې روژې سره به ماته شي د وينو تنده
ورسره مات به شي د جنګ طلسم
هم د مرګونو کوډې
وينې به ودريږي
د دښمنيو سيند به هم وچ شي
او اور به واخلي د قهرونو د توپان وزرونه
توري به ماتې شي اغزي به ګل شي
اود چګړو ديوان به ټول هلاک شي
زموږ کليوال به بيا د مينې اتنونه پيل کړي
او بيا به شين شي د غنمو فصل
ولاړ شه شپونکيه ولاړ شه
ولاړ شه او خپله مينه بيا پيدا کړه
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
اوله هغې سره يو ځای دغه غنم وکره

❃ ❃ ❃

نو ما همداسې وکړل
دهوسی لاس نه مې غنم واخيستل
د هغې سترګې وې له اوښکو ډکې
په ډېره هيله يې لا ماته کتل
ما له ملنګ بابا نه
له نورو پيغلو او زلميو ښخه
هم له مغرورې هم يې ړوند جانان نه
د دعا هيله وکړه
او هغوی ټولو راته وکړه دعا
بابا ملنګ پښې ته درب ورکړ
اتڼ يې پيل کړ
زلمو او پيغلو ټولو پيل کړه نڅا
او زه ددغو اتڼونو اونغمو بهير کې
په لمدو سترګو را روان شوم له جونګړو ښخه
پر زړه مې مخامخ د يار خوږه ورمه لګېده
کيدای شي نن يا سبا
ډېر ډېر کلونه وروسته
د خپلو تورو تورو سترګو مېړمن
د خپل ژوندون يوازينی مينه بيا ووينم په خپلو سترګو
اسمانه زيری راکړه
ای غرونو وناڅئ په ملامات شئ!
د شنو زيتونو او ځېړيو ونو!
ګلونه وشيندئ سپرلي راولئ!
چې زه به خپله مينه بيا ووينم
هغه د ښکلو تورو سترګو مېرمن
اې ژونده مه تېرېږه!
ودرېږه!

کيدای شي مرګ نږدې شي
او زه مې خپل مینه
دا ځل ونه شم لیدای
هغه سات مه کړې خدایه!
خدایه هغه سات مه کړې!

## زموږ د مينې ديدن

باد
لا هماغسې د شنو ځېړيو ښکلې ښانګې
ښکلوي ناز ورکوي
غر لا هماغسې چوپتیا کې ډوب دی
سیند لا هماغسې سندرې وايي
لمر لا هماغسې ځليږي د اسمان پر لمن
ځنګل د خپل سترې بدن زخمو ته خوب ورې دی
خو وخت تېرېږي ماته نه درېږي
او زه د عشق د لارو ورک مساپر
د يار ديدن پسې ځم
مخامخ لوړې ښارم
بر غره ته لار لنډوم
هلته د شنې درې په منځ کې
دخپل ورک شپول تر منزل پورې ځم
او د هوسۍ په وينا:
کيدای شي هلته خپله ورکه مینه بیا پیدا کړم
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
هو! زه هغې ته ورځم
او په سپېرو شونډو سندرې وایم:

« نن د جانان دیدن ته څمه – توري نری ورروزي
خدايه ته لنډ کړي دا د زمکي تنابونه – مستي نازنيني
چې د وصال د ميو ويش و – مستي نازنيني
زه د تقدير په زولنو ترلی ومه – وسوم اور د ميني
نه دي ديدن شته نه مې صبر – مستي نازنيني
په غم لړلي ياراني ستړی دې کړمه – وسوم اور د ميني
نن د جانان دیدن ته څمه – توري نری ورروزي
خدايه ته لنډ کړي دا د زمکي تنابونه – مستي نازنيني»
... او زه سندري وايم
باد لا هماغسي تاويږي د څېړيو منځ کي
غر لا هماغسي چوپتيا کي ډوب دی
ځنګل د خپل ستړي بدن زخموته خوب وړی دی
خو وخت تېريږي ماته نه دريږي
او زه د برغره شنه دره کي خپل ورک شپول لټوم
دغرو لمنو کي اوس لاري نشته
تولي له زوځو او اغزو ډکي دي
خو زه د غرو په ژبه ښه پوهيږم
زه د هغوئ د زړونو غږ اورم
غر زما همزولی زه د غره همزولی
زموږ اشنايي ده د کلو اشنايي
زه خپله خاوره او خپل غر په مړينه هم پيژنم
زه د همدغو تورو غرو بچی یم.
ما خو دغرو دابی پی رودلي*
او زه د غره زړه ته د تګ په لارو ښه بلديم
زه د خپل شپول د هوا بوی پيژنم

* د اسحق ننګيال يو شعري تعبير

کیدای شي شپول مې ړنګ وي
کیدای شي لارې مړې وي
خو زما د غرو هڅوکي هېڅوک ماتولای نه شي
زه د هغه په هډ کې خپله زانګو ښه پېژنم
زه خو همدلته زیږیدلی یم لوی شوی یمه
مامې د پلار شپول کې خاپوړې کړي
شپول خو زما کورو
زما د مینې کورو
اوس که وران شوی هم وي
خو زه د خپلې زانګو هډ پېژنم
دادی ددغو پرښو
ددې کمرونو تر شا
د هغې لوړې څوکې کینې خواته
له هغه ځای څخه چې غر راځي
آه خدایه دا څه اورم؟!!
څومره اشنا آواز دی
آه څومره خوږ دی څومره شور نه ډک دی
آه خدایه اور لګوي،ژوند راکوي
څومره په سوز وايي چې :
« یو ځلې بیا په دې لار راشه
په پخوانو پلونو دې پریوتل ګردونه»
دادی اشنا درغلم
او دادی واوره غږ مې :
« درځمه غېږ کې مې ویده کړه
د بیلتانه شوګېرو ډېر وهلی یمه»
او زما له دې غږ سره
آشنا آواز سندره پرېښوده او غږ غلی شو

هلته زما د شپول تر څنګه ده یوه جونګړه
له وچو کړکو او وښونه جوړه
وه په کې ناسته ببر سرې او ملنګه نجلۍ
سم چې زما غږ یې واورید
د لیونیو په شان پاڅېده
جونګړې نه بهر ووته
ها خوا او دې خوا یې په ځیر وکتل
زلفې یې باد وهلې
یو څو زړې جنډې یې غاړه کې وې
ټیکرۍ یې نه و پر سر
پیښې یې لوڅې وې ګریوان یې څیرې
یوه بنګسارې لیونۍ نجلۍ وه
په ویره ویره یې هر خواته کتل
په تورو سترګو کې یې کرکې او ډار
یو ځای څپې وهلې
ښایي هغه ویرېده
خدایزده له څه شي څخه؟!
زه د څیرۍ شا ته ولاړوم او کتل مې ورته
هغې د شپول په کنډوالو و خپل نظر ګنډلی
وروسته یې ځان سره په کرکه وویل :
« د بنیادم غږ راځي؟!!
لکه چې کلي کې څوک پاتې نه دي
لکه چې ټولې ویني خلاصې شوې
سرونه خلاص شول؟
نو دادی اوس بنیادم دلته راغی؟
دلته زما معبد ته ؟!
دغه سپیڅلي او له وینو څخه پاک حریم ته

اې بنیادمه څوک یې؟
پام چې رانه شې وړاندې
زما رګونه وچ دي
او غوبښه هم نه لرم
یوازې اوښکې لرم
پام چې رانه شې دلته
دا خو زما د شپونکي شپول دی
دا خو زما معبد دی
دا ځای سپیڅلی دی له وینو،
له مرګونو او له کرکو ځخه
پام چې په دې ځای باندې سیوری نه شې
که مې ژوندون غواړې او وژنې مې نو ووایه خوشاله به شم
هلته به لرې درشم
هلته ما ووژنه پروا نه لري
خو پام چې دلته وینې تویې نه کړې
دا خو زما د شپونکي شپول دی
دا خو زما معبد دی
ای بنیادمه څوک یې؟
غږ خو دې راغی خو لیدی دې نه شم
زما خو سترګې دي له اوښکو ډکې
زه خو له اوښکو
له سلګیو
له ژړاه جوړه یم
زما خو رګونه وچ دي
او غوښه هم نه لرم
زه لیونی یم یوه سوچه سارانی لیونی
ستا د هوس تنده هم نه شم ماتولای په ځان

هو بنيادمه واوره!
زه همدا اوس ،همداد وينو وخت کې
لا هم مينه يم او مينه کوم
زه ليونی يم
ځکه مينه کوم
مګر پوهيږي بنيادمه چې جانان نه لرم
زما جانان کلونه وشول ورک دی
هغه شپونکی و زموږ د کلي شپونکی
هغه شپيلۍ وهله
چې ښاپيرۍ يې شوې مينې د شپيلۍ پر آواز
نو پر هغه باندې يې کوډې وکړې
او پر سپين آس يې آن د قاف د غرونو شاته بوته
خو زه لا اوس هم پرې مينه يم
له ياد سره يې مينه کوم
اې بنيادمه غږ مې اورې که نه؟
زه ليونی يم چې لا مينه کوم.))

✵✵✵

له دې خبرې وروسته
د ليونۍ پيغلې له تورو تورو سترګو څخه اوښکې راغلې
زه د خيرۍ شاته ولاړ يم،ليونۍ ژاړي
لمر لا هماغسې ځليږي د اسمان پر لمن
غرونه هماغسې چوپتيا کې ډوب دي
مګر اې غرونو واورئ!!!
نوره چوپتيا مو بس ده
زه نوره ستاسو چوپتيا نه شم زغمی
زه مو نور چوپ نه پرېږدم

تاسو به وغړوم، ونخوم
تاسو به بیا د یوې ورکې مینې
د خوب پالنګ کړمه او مست به مو کړم
اې غرونو وناڅئ،
اتڼ وکړئ چې زه درته شپیلۍ ووهم
او ستاسو دغه لیونۍ لور به هم مسته کړمه
د یوې ورکې مینې اور به یې په زړه کې بل کړم
ما مې شپیلۍ په شونډو بیا کېښوده
او د هغې په کوډګر ستوني کې مې پوکړه نغمه :
شپیلۍ مې واوره لیونۍ ملنګې
او خپلې تورې تورې سترګې دې راواړوه بیا
زه درته مخامخ په تیږه ناست یم
شپیلۍ مې واوره او باور وکړه چې خوب نه وینې
شپیلۍ مې واوره او د مینې دیدن بیا تازه کړه

مبارکې راکړئ عالمه
د کلو ورک جانان مې بیا غېږ ته راځینه

لیونۍ وپېژندم
مالا شپیلۍ وهله
چې ړنګه بنګه مې په غېږه کې را پرېوتله
ځومره توده وه
څه خوږه وه زما د مینې غېږه
لکه چې یو شو سره
د یو وجود په شانې
زړونومو خپلو کې خبرې پیل کړې
څومره ګیلې څومره پوښتنې یې وې
زړونو! ګیلې مه کوئ

چې په ټول ژوند کې داسې ښکلې شيبه بيا نه راځي
زړونو ګيلې مه کوئ!
يوازې يو بل سره ښکل کړئ سره يو شئ دواړه
زړونو اوروته مړه کړئ ،
غوړ ونيسئ
چې موږه دوه ميناں
کله چې شونډو باندې شونډې ږدو
نو څه به وايو؟
کله چې يو د بل په غېږه کې کيسه کوو د تېرو کلو
کله چې لاس يو د بل غاړه کې سپيدو څخه پوښتنه کوو
سبا به څه کيږي
يو کال وروسته به څه پيښيږي ؟!
زړونو درزا مه کوئ غوږ ونيسئ!
موږه سبا ته ځو د غرو څوکو ته
چې د سپيڅلې چينې خوا کې د غنمو درې دانې وکرو
زړونو!
اوروته مړه کړئ شورمه کوئ
زړونو درزا مه کوئ غوږ ونيسئ

## چې لوړو غرونو کې نارې وهې څوک:

د لوړو څوکو هسکو دنګو غرونو
د سردرو د شنو لمنو خوا کې
هلته يو کلی دی د وينو کلی
د سرو اورونو او د تورو کلی
چې سوزېدل يې آن له لرې ښکاري
چې کليوال يې خپل کورونه سوزي

او موږ ددې کلي يو دوه ليونيان
دوه کليوال او دوه مين ملنګان
يو يې شپونکی، چې په شپيليو باندې کوډې کوي
بله ملنګه نجلی
هغه چې تورې تورې سترګې لري
غاړه په غاړه ځو د غرو څوکو ته
پاکو اوبو سپينڅلې خاورې پسې
غواړو غنم وکړو
او کليوالو ته مو ژوند وبښو
هغوی چې ټول عمر روژه نيولې
کلونه وشول د اورونو منځ کې
زموږ غنمو ته په تمه ناست دي
موږه له غره ښخه خپل کلی وينو
چې ترې لمبې او تور دودونه خيژي
خو موږه دوه ليونيان
غاړه په غاړه ځو د غرو څوکو ته
پاکو اوبو سپينڅلې خاورې پسې
غواړو
غنم
وکړو.

**پیل:**
**د ۱۴۰۲ لمریز کال د  مرغومي (جدي) لومړۍ اونۍ**

# دویمه هوسی

# لومړی برخه

## هغې ورکې پسې ګرځو
## چې منزل يې زموږ زړه دی

### په لټون د پاکې خاورې

د هسکو دنګو غرو په شنه لمن کې،
په دې ستومانه سوزېدلي زمکه
د سردرو په زړه کې پټ د شرشرو شرهار
او د ناوونو ترمنځ ځرښنده سپېره بوربوکۍ
تر پربنه پربنه هيبتناکه لوړو ځوکو لاندې
هلته يو کلی شته، د مينې کلی
زه د دې کلي مساپر شپونکی روان يمه لا
منزل مې ورک دی
خو ،
د پاکې خاورې نښې لا هم نه ښکارېږي
ځوک راسره ده، لکه سيوری
لکه زما د خپل زړګي درزا په بل ګوګل کې
ها زما ښکلي مينه
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
ها چې کلونه پاس د غره په شپول کې
وه زما شپېلۍ ته لا په تمه ناسته
هغه ښايسته ليونۍ،

هغه سرسامه،
ها د نجونو میره.
دا دی اوس لاس په لاس روان یو،
خدایزده چیرې دواړه؟
ځو کومې خواته ؟
او په کومه لاره؟
موږ دواړه ګرځو
سرګردانه یو په ستړي لټون
لا لټوو سپېڅلې خاوره او له وینو څخه پاکې اوبه
غواړو غنم وکرو
او کلیوالو ته مو ژوند وبښو
زخمي هوسی او کلیوال
وږي نهار راته په تمه ناست دي
او دلته دوه میینان،
یو یې شپونکی ،چې په شپیلیو باندې کوډې کوي
بله ملنګه نجلی
هغه چې تورې تورې سترګې لري
غاړه په غاړه ځو یو لرې ځای ته
پاکو اوبو سپېڅلې خاورې پسې
غواړو غنم وکرو
او کلیوالو ته مو ژوند وبښو
هغوی چې ټول عمر روژه نیولي
کلونه وشول د اوروونو منځ کې
زموږ غنمو ته په تمه ناست دي.
لارې اوږدې دي
او سفر ستړی دی
د داسې خاورې څرک لا هم نه‌ښکاري

چې د انسان وينه پرې بل انسان شيندلې نه وي
هغه چينه ورکه ده،
چې په کې وينه بهېدلې نه وي.
زما د مينې لاس مې لاس کې تود دی
زه يې د زړه خوږه درزا پېژنم
زه يې له سپينې غاړې
د غرنې ګلانو عطرو څخه ساه اخلم
هغه د تورو سترګو مېرمن
چې په زخمي نازکو پښو کې يې د لارې د اغزيو څرېکې زړه برېښوي
کله ناکله يې ګوګل نه يو ځګېروی پورته شي
چې زه يې سترګو ته ورو‌ګورمه
دا راته وخاندي په مخ مې ښکل کړي
زما د مينې په خوږو او تورو سترګو کې زمونږ د کلي ډېرې کيسې لکه چينې بهيږي
زما د مينې په خوږو او تورو سترګو کې زما د شپېلۍ غږ روان دی
د هغې لاس زما په لاس کې دی او درد مو هېر دی
بېلتون بندي دی، خدايزده چېرته لرې
د افسانو د تورو- سرو او خونړي ديوانو سوړ زندان کې
زما د مينې سپينه غاړه کې د سرو زرو تاويز زنګيږي
هغه تاويز، چې په کې درې داني غنم پراته دي
هغه تاويز چې زمونږ ښکلې هوسۍ
د خپلواکۍ ملکې
له خپلې غاړې راسپارلې مونږ ته
چې پاکه خاوره کې غنم وکرو
او له سپېڅلې چينې ورکړو اوبه

دغه غنم به د پېريو تور طلسم مات کړي
چې زموږ ښکلي هوسۍ
هغه زموږ د خپلواکۍ ملکه
بياځلي ژوند ومومي
او زموږ زخمي کليوال
بيا نېکمرغي ووينې
ها ورکې شوې زمانې ته ګوندې بيا ورسو
چې زموږ کلي کې لا فصل د غنمو شين و
او کليوال مو په يو بل مېين وو
هغه د مينې او ښکلا زمانه
چې کليوالو مو غنم کرل او مستي چينې
له پاکو سپينو اوبو ډکې بهېدلې په ويالو او ان تر سينده پورې
مستې هوسۍ،
د خپلواکۍ ملکې
لا زموږ د کلي په خوښيو پاچاهي کوله
چې لا په کلي کې د تورو سرو ديوانو لاره تېره نه وه...
زه او زما ښکلې مينه
غواړو غنم وکرو
او دغه تور طلسم مات کړو د شپېلۍ په نغمو
هلته د هسکو هسکو څوکو مازيګر ولاړ دی
او زموږ زخمي هوسۍ په تمه ده لا
د لوړو لوړو غرونو کلی لا د ولړې او جګړو په سرو لمبو کې سوځي
زما د مينې تورې سترګې او زما د شپېلۍ غږ لا په يو بل مېين دي
او موږه دوه مېينان
په ورکو لارو کې مزل کوو پاخېږو، لوېږو
کله مې ښکلې مينه وځګېږوېږي

زرين تاويز په خپلې غاړې پورې کلک ونيسي
زه مې شپيلۍ ترخنګه ټينګه کړمه
خدايزده چې چېرته به سپېڅلې خاوره
پاکې اوبه ومومو؟
چې هلته وکرو غنم د هوسۍ
ها چې زموږ د خپلواکۍ نښه ده.

## غرونه غرونه ديوالونه

د پاکې خاورې او سپېڅلې چينې
رڼو اوبو پسې راوتي دوه ميين ليوني
د هسکو دنګو غرو د کلي دوه ستومانه، دوه زخمي کليوال
يو يې شپونکی، چې په شپېليو باندې کوډې کوي
بله ملنګه نجلۍ
د تورو تورو سترګو ښکلې پېغله
چې يې په غاړه کې زنګيرې د غنمو يو زرين تاويز
د خپلواکۍ د ملکې امانت
د بدمرغيو د طلسم ماتوونکې درې غنم پهکې پراته دي...
ځو مزل کوو په
ورکو لارو
دا دی راورسېدو
د يو اشنا نيمزالي سيند غاړې ته
داسې يو سيند، چې په کې خو ژرندې اوبه بهيږي
د لوړو لوړو غرونو اوښکې راروانې دي، خو رنګ په کې د وينو
ګډ دی
پاس د يو غره په ډډه
له خښتو ګټو جوړ ديوال لکه ښامار کړی کړی پروت دی

داسې ديوال، چې د پېړيو ګرد يې اوس هم په مرۍ پروت دی
عجيب ديوال دی، چا جوړ کړی؟ او د څه لپاره؟
خدايزده له کومه پيل شوی او تر کومه اوږد دی؟
غر او ديوال د سيند ترڅنګه څه عجيبه کيسه ؟
د رمز و راز تر دوړو لاندې ده غريبه کيسه.
زه او زما ښکلې مينه
چې تورو سترګو کې يې تنده او ستړيا لکه د زړه دردونه ډنډ ولاړ دي
د دغه سيند پرغاړه دمه کوو
زما د تورو تورو سترګو مېرمن
تر يوې ښکلې موسکا
په ځګېروېدلې مهربانه غږ غوښتنه کوي:
«ماته شپېلۍ ووهه!
ګرانه شپونکيه! زه خو ستا د دې خوږې شپېلۍ په تمه لا ژوندون اوږدوم.
شپېلۍ راواخله او د تېرې زمانې کيسه نغمه نغمه کړه
د دغو غرونو ديوالونو له رازونو دوړې بيا وڅنډه
د دې نيمزالې سيند په راز مې پوه کړه
ماته شپېلۍ ووهه!
ماته شپېلۍ ووهه!
او ما د کړکې وچ بدن کې د نغمو ښاپېرۍ وينه کړله
په زخمي وچو شونډو
نغمه د غره په ډډه پروت د خړ ديوال د ښامار رګ رګ کې ورننوته
سيند، لکه ژبه د اور، تاوراتاو شو
غره کې انګۍ شوه د کوډګرې شپېلۍ
زما تر سترګو داسې وبرېښېده

لکه په غره باندې ودان ديوال چې وخوځيږي

لکه له خوبه راویښ شوی ښامار
چې غځووني وکړي
یوځل مې وکتل د خپلې مساپرې مینې ښکلې مخ ته
په مړاوو مړاوو اننګو یې راروانه وه د اوښکو مرغلره رڼه
او ما شپېلۍ وهله،
چې یو نا څاپه له غره تاو پورته شو
له هسک دیوال نه د پېړیو دوړو لیکه وکړه
او شېبه روسته پاس له غره نه مرغۍ والوتلې
د دوه پردیسو د ګامونو ښکالو راغله غوږ ته
او زما مینې زه په غیږ کې ټینګ کړم
ما لا شپېلۍ وهله.
او د شپېلۍ د نغمو سوز کې مې د غره له خوانه
یوه جوړه ولیده
یوه په خاورو دوړو سپینه سپېره
یوه ښایسته نجلۍ د ښکلې مرغلرې په شان
او یو زلمی ورسره
لکه ایرو کې لوغړن اس چې یالونه څنډي
ښکلې جوړه له غره راتله د سیند د غاړې خواته
مخامخ زموږ په لوري
ما لا شپېلۍ وهله،
چې ځوان او پېغله مو تر خوا کېناستل،
زلمي له دوړو څنې وڅنډلې
او د نجلۍ په سپېره مخ باندې د اوښکو څاڅکي کرښه کرښه
ښکته راورغړېدل
اوس نو د سیند په غاړه
موږه څلور کسان یو بل ته ګورو

زه او زما مینه، چې تورې تورې سترګې لري

پیغله او ځوان چې د پېړيو سپېرې خاورې يې ځنډلي
او پر غره د
ديواله له اړخه دلته راغلل
د ديواله نجلۍ لا اوښکې بهوي وړې سلګۍ يې اورم
جوړه مې وپوښتله:
د زمانو له سپېرو دوړو راوتليو ښکلو
دلته په خير راغلئ!
د دنګو غرونو له رګ رګ نه راوتلې د دې سيند اوبه مو لار ته شيندم
او هرکلی مو کوم
څوک ياست؟
په کومه ځئ؟
له کومه راځئ؟

## د غبرګو تورو د پاچا له زمانې څخه راغلي خلک

له ديواله څخه راغلې نجلې
چې په سپېره مخ يې د اوښکو ځاځکو لارې ايستې
او ښکلې سترګې يې ګنډلې وې په لرې افق
ورو ورو ترشونډو لاندې وځګېروېده:
زه «پرتمينه» يم او زما جانان « اسه» نوميږي
موږ دوه ميين يو او د غره په ديواله کې خښ وو
«د غبرګو تورو د پاچا» له زمانې څخه تر نن
او تر همدې

تېرې شپې پورې په خوب ويده وو
چې ستا شپېلۍ راويښ کړو

ستا جادوګرې، ستا کوډګرې شپېلۍ

مورږ د پیړیو له درانه خوبه راپاڅولو
خدای خبر ولې؟ او د څه لپاره؟
مورږ له پیړیو او کلونو څخه نه یو خبر
خدایزده پرون و؟
که پیړی پخوا؟
که زر او یا یونیم زر کاله
یوه عجیبه زمانه وه،
د دې سیند په غاړه
زموږه خلکو د غنمو کروندې کرلې
دلته به شین و د غنمو فصل
خو یوه ورځ له ورځو
په دغه چم کې اوازه شوه چې  د دوه تورو پاچا راځي
و لمرخاته ته د لویدیځ د غرو له شا راځي
له کومې وچې لویې د بنتې،  له صحرا راځي
د خرمښکیو او کربوړو له بیدیا راځي
یوازې نه دی،
ورسره یوه سپاه راځي
له هغې خوا راځي...
او نجلی ناخاپه د لاس ګوته د لمر د پریوتلو خوا ته ونیوله
او له دې ورځې روسته
د دغه غره لمن کې
او د دې سیند د دواړو غاړو خلکو
ان د زړې او ډبرینې هاغې لویې کلا
د شاوخوا سیمو هستوګنو خپل یومونه راوړل
او د دې سیمې د واکمن په حکم
د لمرلویدو او لمر ختو په کربنه

د دغه غره په ډډه

د لوی دیوال د جوړېدلو اشر ته ډول وډنګېږ
د دنګو غرونو د لمنو خلکو
ورځ و شپه ختې وکړې
چا ورته ګټې راوړې
ډولچیانو ډول وواهه
او د دې سیمې  له هر کور ځخه به هر سهار څه وچه ډوډی
او یو منګی  د چینو یخې اوبه
اشربنو ته راتلې
داسې ډوډی، چې یې غنم زموږ په ځمکو شنه وو
داسې چینې، چې لا اوبو کې یې د وینو رنګ ګډ شوی نه و.
زما اسه،
زما دغه خوږ جانان هم راغی د دیوال بیګار ته
چې لمرلوېدو نه د بیدیا د لښکر
د ځرمښکیو او کربوړو له صحرا نه راروان یرغلګر
زموږ تر کلي پورې
په اسانی رانهشي
او د دې دنګ غره د لمنې خلک
د غبرګو تورو د پاچا له خونړی لښکره
ځان او وطن

وساتي
داسې نو دغه دیوال
یوه تر بلې ورځې
راهسکېده، اوږدېده
ما پرتمینې به هم هره سهار منګی په اوږه
خو پاستې وچه ډوډی
تر خپل جانان، تر ځوان اسه پورې راوړله دلته

یوه شپبه به مو دیدن وکړ په مینه مینه

او هره ورځ به د ډبرو او پخڅو دغه ديوال ښکارېده
لکه په غره باندې چاپېر يو خړ ختين ښامار
چې د بيدياوو له
لښکرو زموږ چم وساتي
هغه چې مشر يې د غبرګو تورو شاه نومېده.

## لومړی قيامت

هغه کلونه دلته دغه سيند له سپينو اوبو ډک بهېده
د دغه سيند اوبه د هغو دنګو غرونو له واورينو څوکو
کږې وږې راتلې
رڼې خوږې راتلې
موږ د دې سيند په دواړو غاړو اوسيدونکي خلک
او د دې غره لمن کې
په ها پراخه زمکو
د شنو غنمو کروندو کې يو په بل مين وو
دا د باغونو او پټيو سيمه
د سرو منو، د شنو غنمو او توتانو وطن
څه د زنبقو، نسترنو او ګلابو وطن
چې يې تر ونو لاندې
سپينې رڼې اوبه په ناز بهېدې
زموږ اوبو کې لا د وينو رنګ ګډ شوی نه و،
چې يو سهار د لمرلوېدو له خوا غرونه راغلل
اوږدې نيزې ښکاره شوې
يو هيبتناکه لښکر
د لرې لرې دښتو

د ځرمښکيو او کربوړو له بيديا راغی

له وچې دښتې، له صحرا راغی
د غبرګو تورو يو پاچا راغی
او لمر لا زموږ د غره پر هسک باندې تود شوی نه و
چې دنګ ديوال کې لګېدلې دروازه بنده شوه
د غبرګو تورو پاچا
د ديواله له هاخوا
زموږ په خلکو غشي وورول
هغه سهار د لومړي ځل لپاره
په دغه سيند کې راروانو اوبو
د وينو رنګ ولیده
زموږ د خلکو ويني
په دغه سيند کې ګډې وډې شوې او وبهېدې
هغو ډولچيانو، چې اشر ته يې ډولونه وهل
په دغه ورځ د جنګ ډولونه ښه په غرب ووهل
زموږه خلکو د بيديا له لوی لښکر سره جګړه پيل کړه
د غبرګو تورو پاچا
دروازه ماته کړه او وړاندې راغی
او د دې سيند په غاړه غاړه يې په دوو تورو
زموږ له خلکو نه سرونه رېبل
له لرې دښتو، له بيدياوو نه راغلي خلک
لکه د تږيو جل وهليو لښکر
په سيند ورګډ شول او اوبه يې تر مرى تېرې کړې
د لوږو غرونو د رنو اوبو په ښاخکو يې سينې يخې کړې
د دوی له ګوتو او له تورو څخه وينو سيند ته لاره وکړه
سيند ليونی شو او د غره ځيګر نه تپ پورته شو
د غبرګو تورو پاچا

په لښکر چيغه وکړه:

ووژنئ!
ټول ووژنئ!
نارينه ټول له تېرو تورو تېر کړئ
پېغلې او ځوانې ښځې
خپل منځ کې وویشئ او مینځې یې کړئ
او لکه تل مې چې ویلي درته
تر ټولو ښکلې یې زما برخه دي...
لښکریان وخښمېدل
تورې له تیکو نه راووتلې
جګړه توده وه او سرونه رغړېدل هره خوا
د سیند اوبو کې سور د وینو رنګ ګډوډ بهېده
مخ د ختیځ په لورې
ما سره یو منګی اوبه او یوڅو پاستې ډوډۍ
ومه روانه چې اسه پيدا کړم
خپل خوږ میین ته ورشم
او په دیدن یې کړم روښانه خپلې غبرګې سترګې
خدای خبر چېرې به و؟
د غبرګو تورو شاه لګیا و، زموږ له خلکو یې سرونه رېبل
چې یو ناڅاپه یې زه ولیدلم
سترګې یې ډنډ د وینو
ما ویل په سترګو مې خوري
له غبرګو تورو یې روانې وې د وینو ویالې
یو څه موسکی شو، خدايزده څه یې وویل؟
بیا یې نارې کړې: هلئ !!!
د غره او سیند د دغې سیمې دا تر ټولو ښکلې
د دیواله د چم دا دنګه پېغله

رنو اوبو غوندې روانه ږنګه بنګه پېغله

ونیسئ!
رايې ولئ!
دا به زما مینځه شي
دا به زما برخه وي.
او بیا یې غبرګې تورې
له سر نه تاوې کړلې
زموږ د چم د خلکو
له اورمیږو یې څو سرونه پرې کړل
زه په ځان وویرېدم
خدایه!
زما اسه به چېرې وي اوس؟
یا خدایه! ته یې مل شې!
ما لا دعا کوله،
چې یو ناڅاپه زما مېین، زما جانان، زما زړور اسه
له خپلې لندې سیلاوې سره راورسېده،
لکه سرکشه اس چې سر واخلي
لکه د قهر سیند چې تاو راتاو شي
لکه یو غر چې د توپان مخ ته سینه ونیسي
لکه ببرۍ چې د سرکښه څپو زړه وڅیرې
لکه برېښنا چې په اسمان کې په یو ګرز له تورو وریځو نه څرمن وباسي
او لکه تندر چې په دنګ چنار راولویږي لمبه یې کړي تر هسکې څانګې
زما اسه، زما مېین جانان چټک راتاو شو
په یوه منډه یې د غبرګو تورو هغه پاچا
- چې یې لا سترګې خښې کړې وې په ما کې او په مکر موسک و-

له ګریوانه راونیو

له خپل سرکشه مغرور اس څخه یې وغورځاوه
د غبرګو تور شاه لا تورې خوځولې دواړه،
چې د اسه په سیلاوه یې سر له تنه بېل شو...
د غبرګو تورو د پاچا لښکرو
چې د خپل مشر له اورمېږه د سرو وینو فوارې ولیدې
زما په اسه یې د تېرو غشیو باران جوړ کړ
ما منګی وغورځاوه
پاستې مې شنه پلو نه ورغړېدل،
په یوه منډه له اسه سره شوم غاړه غړی
د لښکریانو غشیو
موږ دوه مېین غاړه په غاړه سره وګندلو
زموږ له وجود څخه د وینو لیکو
د دغه سپند اوبه رنګینې کړلې
لکه د تکوسرو یاقوتو کان چې وبهیږي
زموږ دوه مېینو زړونه
یو بل ته ودرزېدل،
ودرېدل.
لکه دوه ستړي مسافر چې سره غاړه ورکړي
موږه په خپلو وینو لژند مېین
یو د بل غېږ کې د مرګې په خوارږه خوب پرېوتو
او د بیدیا لښکریان
د وچو دښتو د صحرا لښکریان
د غبرګو تورو د پاچا لښکریان
د خپل سردار له مړې وویرېدل
ټول لښکر منډې کړې مخ شاته تاو شول

او شېبه روسته لمرلوېدو خواته د تېښتي سپيره دوړه شوه اسمان ته پورته
وخت مازيګر و، چې د سيند د دواړو غاړو خلک
او د دې غره لمن کې زموږه د چم ستړي او ستومان وګړي
د هغې لويې ډبريني او زړې کلا له منځه راوتلي نارينه او ښځې
راغلل، زموږه جنازې يې پر اوږو پورته کړې
چا په سندرو او په وساندو موږه ولمانځلو
چا چيغې ووهلې، خاورې يې په سر باد کړې
ډولچيانو ډول وواهه
او سيند د وينو په رنګ سرې څپې په شنو کروندو وشيندلې.
موږ دواړه، زه او جانان
دوه يو په بل مينان
د غره او سيند په شان د يو بل ياران
د خپلو خلکو په اوږو تر خپل مزاره راغلو
دلته د غره په هاغه ډډه چې ديوال ودان دی
د اوږد ختين ديوال ترمنځ، پر يوه لوړه پرښه
هلته يو برج کې يې موږ دواړو ته يو قبر جوړ کړ
موږ سره غاړه غړۍ
د خاورو نوي کور ته
په ارمان ننوتو
زموږه خلکو دغه برج د مينانو د زيارت په نامه ونوماوه
او موږ پيړۍ پيړۍ همدغلته ارام ويده وو
تر همدا نن پورې، چې ستا شپېلۍ مو واورېدله
ستا د شپېلۍ سندرو
له خواږه خوبه ويښ کړو
موږ دواړه نه پوهېږو
د لوړو غرو د هسکو دنګو سردرو شپونکيه

ولې دې بیا دغې دونیا ته رابللي یو نن؟
ووایه، نن څه وایې؟
له مورڼ نه بیا څه غواړې؟
او زه حیران شوم حیران
ما د دیوال د پرتمینې پېغلې هېڅ یوې پوښتنې ته ځواب نه درلود
یوازې سترګې مې ګنډلې وې د سیند په لیکه
چې د کوم ورک برخلیک په خوا بهېده...

***

زه لا حیران وم حیران
زه د دې دنګو غرو او هسکو سردرو دغه ناهیلی او ستومانه شپونکی
او زما ترخنګه ناسته
زما میینه، ها د تورو تورو سترګو ښکلې
لړ هاخوا ناست له دیواله څخه راغلې په ګردونو سپېره
یوه جوړه میینان
یو دنګ زلمی، چې لا هم ځیر دی د کوم لرې افق څنډې ګورې
او یوه ښکلې پیغله،
چې یوه اوښکله یې له سترګونه رارغړې په سپېره اننګې
چوپیتیا خپره ده او په سیند کې د اوبو شرهار هم ګونګی دی
باد کله کله په تنګې کې داسې څښنده تیریږي غلی
لکه په پانو د تاریخ کې چې د وروکو جنګیالیو په ګردجنو څښو لاس تیروي.

## جدایي راغله لارې دوې شوې

چوپتیا خوره وه،
چې زما میینې،

هاغې د تورو تورو سترګو

ښکلې
یوه خوږه، له درده ډکه موسکا
د پرتمینې دوو سترګو ته ورووبښله
غږ یې دره کې د پاسته باد په وریښمینو څنو غوتېه،

داسې ښه لګېده
لکه له لرې زمانو، چې کوم اشنا داستان ته غوږ ونیسې
د تورو سترګو ښکلې
د پرتمینې او اسه جوړې ته وکړ سلام
او بیا یې داسې وویل:
زه او زما دغه ستومانه شپونکی
چې د شپېلۍ په نغمو کوډې کوي
چې د شپېلۍ نغمو یې تاسو دواړه بیا راوېښ کړئ
هو،
موږه دواړه د دې هسکو هسکو غرونو او درو د کلي
د خپلواکۍ د ژوبلې، سترې او زخمي ملکې
- ښکلې هوسۍ - په وینا
په غرو رغو، دښتو ځنګلونو ګرځو
چې پاکه خاوره او له وینو نه رنې اوبه کوم ځای پیدا کړو
کلونه وشول، زمانې واوښتې
په دغه چم کې چا د ښنو غنمو کر ونه کړ
موږ ته هوسۍ - د خپلواکۍ هغې ښایسته ملکې -
په دې زرینه غاړه‌کۍ کې د غنمو درې دانې راکړې
چې یې په داسې زمکه وکرو،
چې پاکه او سپېڅلې وي له وینو څخه
چې د انسان وینه د بل انسان په لاس پرې بهېدلې نه وي

له داسې پاکو او سپېڅلو اوبو
دغو غنمو ته اوبه ورکړو په مينه مينه
چې په کې رنګ د هېڅ انسان د چيغو
لا ورګډ شوی نه وي
داسې اوبه، چې لا سرې شوې د هيچا په وينو نه وي او رنې بهيږي
زماني واوښتې،
ښنې مو په مزلوسترې شوې
لاهم غنم ګرځوو
که پاکه خاوره او رنې اوبه پيدا کړو چېرته
زخمي هوسۍ او زموږ نهر کليوال
ملنګ بابا او ها «مغروره» پېغله
هم روند جانان يې ټول په تمه دي لا
چې موږ غنم وکړو
او د جګړو طلسم مات کړو،
خپلواکي او سوله بيا راولو
زخمي هوسۍ وژغورو
څو ځاځکي پاکې اوبه
او له دې شنو غنمو پاکه ډوډۍ
خپلو نهرو کليوالو ته ورووښنو بيا
هلته د تورو دنګو هسکو غرونو شاته،
يوه سترې
سوزېدلې زمکه
او له جګړو څخه ستومانه ځنګل
له اور اخيستو سبرونو او څېړيو سره
له تندر سويو چنارونو او نښترو سره
د وزرماتو شنو کوترو اور اخيستې ځالې
په کې څو سترې او زخمي کليوال

تږي، په سترګو ړانده
یا په لاسونو او پښو مات و ګوډ
څو ماشومان او څه نیمزاله زلمي – پېغلې لا په تمه ناست دي
که داسې ځای ومومو
چې دا غنم وکرو
او کلیوال مو د «اوردیو» یا د «لاټدیو» له شیطاني طلسمه بیا وژغورو
زخمي هوسۍ لاهم په تمه ده او سترګې یې زموږ په لار دي
نهر او ژوبل کلیوال یې سرته ناست دي، دعا ګانې کوي
خو موږه دوه کلیوال
دوه میینان، دوه یو د بل ارمانجن
یوه د کلي د ګودر د نجونو هغه میره
چې د شپېلیو په نغمو باندې یې زړه بایللی
او بل د هسکو دنګو غرونو د لرغوني کلي
هغه میین شپونکی،
چې په شپېلیو باندې کوډې کوي
د ده شپېلۍ ده له یو لرې نیستان څخه راغلې زموږ تر کلي پورې
هغه د کږکو ځنګل
چې په کې زموږ ښکلې هوسۍ بندي وه
او یو کوډګر ملنګ د تورو ماښامونو له هېواده ځنې
په هوسۍ شوي د جادو او طلسمونو ماتولو په پار
راوړه تر هسکو هسکو غرونو پورې
او زما شپونکي دغه شپېلۍ ومونده
له هغې ورځې بیا تر نن پورې همدغه شپېلۍ
زموږ هوسۍ او کلیوال د مرګ له خوبه ژغوري
د دې شپېلۍ اواز زموږ د ارمانونو لار روښانه ساتي

دغې شپېلي د تېرو تېرو هېرو شویو زمانو له شانه

د درانه خوب له خروړونو خاورو لاندې پراته
ته او اتل اسه نن بیا راویښ کړې
چې له موږ دواړو سره
د پاکې خاورې او رڼو اوبو لټون پیل کړې
ګوندې په ګډه هغه زمکه او چینه ومومو
هلته چې دغه غنم وکرو او شنه شي،
زموږ د ولږې او

جګړو طلسم ونړیږي
هوسۍ بیا ژوند ومومي
د خپلواکۍ ملکه
د هسکو غرونو او ځنګلونو په لمنو کې په ناز وګرځي
چې غنم شنه شي او لمنه د تیارې تو له شي
هره ورځ لمر خپله زرینه بګۍ راولي،
زموږ د دنګو غرونو په

هسک وځلیږي
راځئ په ګډه دا لټون پیل کړو
سپیڅلي خاورې او رڼو اوبو ته لار وباسو
او یوځل بیا چوپتیا خوره شوه، د سین مړاوې مزل باد سره شو غاړه غړۍ
اسه په خپلو ځیرو سترګو و ځیر شوی د لویدیځ افق ته
څو شیبې روسته یې د ښکلې پرتمینې لاس مړوند نه ونیو
او دواړه وخوځیدل
په تلو کې ښکلې نجلۍ شاته کتل
زما مینې ته یې وموسل، چې خدای پامان
موږه لمرلویدو خواته ځو
که پاکه زمکه او سپیڅلي اوبه بیا ومومو،

زه او زما مینه

هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
مخ لمرخاته ته د سیند غاړه کې مزل پیل کړ،
«جدايي راغله لارې دوې شوې
مرګ مې قبول دی جدايي نه قبلومه»
خو مورې په دغې تمه
چې د غنمو د کرلو زمکه بيا ومومو
بيا سره ووينو په شنه کرونده
يو بل ته لاس خوځوو
اوښکې مو سترګو نه رارغړي کښته
د زمانې بوډۍ د سپينو وېښتو شاته په کوړاغو سترګو
د دوه مېينو جوړو
مزل ته لارې ګوري
سيند نيمه‌خوا بهيږي
او باد د غره د ديواله په ويجاړ برج کې په اتڼ سر دی.

# دويمه برخه

## په لوګيو خوبولي بلهاريان

### د کوډګرو لښکرونه

زه،
او زما د ښکليو تورو سترګو هغه نجلۍ
چې د هوسۍ زرين تاويز کې د غنمو درې دانې يې په ښايستوکې
سپينه غاړه زانګي
مخ په ختيځ روان يو،
د سيند نيمزاله مزل موږ سره ترخنګ بهيږي
لرې د هغې ډبرينې او زړې کلا برجونه نړېدلي ښکاري
چې پاس د غره د ديواله د ښامار سر يې په اوږه لګيږي
کلا د ډېرو زمانو د پولادي ليوانو داړو ده کپ کپ خوړلې
کلا د دنګو غرو د کلي د دردونو او خوښيو ډېرې پاڼې په سينه کې
لرې
موږ په نرۍ لاره روان يو د زړې او ډبرينې کلا لورې ته
او
زانګو يو د بل د زړه درزا ته سره
چې يو ناڅاپه د ملنګ بابا ښکالو راغله
هغه ملنګ چې د دوه سترګو په ځلا کې يې دونيا ښکاريږي
هغه چې زړه کې يې د دې کلي کيسې ژوندۍ دي
بابا ملنګ چې موږه وليدلو

یوځل بیا په ځرځېدو شو[1]
بیا یې درب ورکړ پښې ته
او په شور یې راناري کړې
هلئ هلئ بچو هلئ!
دغه لاره کړئ بدله،
ځئ، چې ولاړ شو پورته غره ته
د زاړه دیواله برج ته
مګر تاسو خبر نه یاست؟
چې راځي په خرپ د تورو
د زړې کلا په لوري
د لوګیو د کوډګرو د زوزاتو او لمسیو
نوي نوي لښکرونه؟
چې د غبرګو دوو تورو د پاچا جنډه پرې رپې
تر مودو مودو راروسته
بیا یو بل ځوک ورسره دی
چې رګونو کې یې وینه
د هغه پاچا غورځنګ کړي
چې یې غبرګې تورې سرې وې
د دې کلي د لرغونو کلیوالو په سرو وینو
دا کوډګر هم ها د خپلو تېرو تېرو پلار نیکونو
په شان کوډې کړي د ژېړو ژېړو پاڼو
دوی د ژېړو کاغذونو
په لوګي خلک ویده کړي
او بیا خلک په لوګیو شي طلسم

[1] دلته تر بل سرلیک پورې د منظومې وزن بدلیږي، د وزن دغه بدلون د یوې ریتمیکې رنګارنګۍ لپاره راوړل شوی دی.

بس ړانده شي، یا کاڼه شي
یا یې ژبې و خولې ګونګۍ شي
یا له ویرې یې زوبۍ شي
شي د کوډو په لښکرو او کوډګرو پسې لیکه
لکه وي جذام و هلي
خپل هرڅه ورڅخه هېر وي
هم د دنګو غرونو کلی
هم ځنګلونه
هم سیندونه.

## په ملنګ بابا پسې ځو

زه،
او زما د ښکلیو تورو سترګو هغه نجلۍ
چې د هوسۍ غنم په غاړه لري
لاره بدله کړله
بابا ملنګ سره ځو
په غره د هغه دیوالة د زاړه برج لوري ته
چې په کې باد لا په اتڼ سر دی
خو زه او زما میینه
دواړه حیران یو، چې دا څه پېښیږي؟
د غبرګو تورو د پاچا جنډه او دغه د کوډګرو لښکر؟
دا هرڅه بیا له کومه لوري راځي؟
پوښتنې ډېرې دي، خو موږه دوه میین کلیوال
یو د شپیلیو شپونکي
بله خوږه د تورو تورو ښکلیو سترګو پېغله
ځو په ملنګ پسې د غره لوري ته

هلته د غره په ډډه
د غځېدلي اوږد ختين ښامار له ليکې سره
ها زاړه برج ته يوه لاره تللې
په هغه برج کې چې د دوه مېينو قبر جوړ و
بابا ملنګ ترمخه
او موږه دوه مېينان
په سوزېدلي ساه ګامونه اخلو...
په برج کې نښې د زړو زمانو پاتې دي
او قبر د مېينو په کې نه

ښکاريږي
ملنګ بابا يوې ډبرې ته تکيه کړې ده،
ما ورته وويل: خبر يې چې دا دوه مېينان
ها پرتمينه پېغله
او د هغې اتل جانان زلمی اسه زموږ ليدو ته راغلل؟
هغوی زما شيپلۍ راويښ کړل د زمان له خوبه
خدايزده د څومره زماني له شا يې
موږ ته کيسه د دې ديوال وکړله
د غبرګو تورو له پاچا سره د دغه سيند د غاړې جګړه
او د اسه په سپلاوه باندې د غبرګو تورو
د ها مغرور پاچا د

قتل داستان
چې دوه مېين هم په کې وويشتل دښمن په غشيو
خو د هغوی تر ښښېدلو روسته
په دغو خلکو او د لوړو غرو په کلي باندې څه راپېښ شول؟
او څنګه بيا د غبرګو تورو د پاچا جنده راپورته شوله؟
څنګه يې بيا دلته له ذات څخه يو بل لمسي راپېښه وکړه؟
دا هرڅه څنګه وشول؟

او ما ليدل، چې د ملنګ په ځلېدلو زرځو سترګو کې برېښنا تاوېده
نظر يې مخامخ  د غرونو تر شا،
کوم ناڅرګند لرې افق ته ځير و
تا به ويل ټولي تېرې پېښې يې د سترګو ترمخ ليکه باسي
ورو يې تر شونډو لاندې داسې وويل:
هرڅه د ژېړو کاغذونو له کوډګرو پېښ شول...
ما مې مينې ته او دې ماته راوکتلي
زما د مينې تورو سترګو کې پوښتنو لا ځپې وهلې،
چې مستانه ملنګ کيسه پيل کړه:
نو بچو!
غوږ ونيسئ:

## د غبرګو تورو تر پاچا رارسته

ډېر ډېر کلونه پخوا
چې ځوان اسه په سيلاوه باندې د غبرګو تورو شاه وواژه
له لرې لرې  وچو دښتو نه راغلي پردي
د خرمښکيو او کربوړو د بيابان لښکر مخ ببرته لمرلويدو ته ولاړه
او د دې سيند د غاړو خلکو پرتمينه و اسه
په دغه برج کې خښ کړل
له هاغې ورځې روسته
په دغه سيند کې له اوبو سره د وينو رنګ جوړه بهيده
په کروندو کې بيا غنم لکه پخوا غوندې سمسوره نهشول
او پاکې خاورې د انسان د وينو دارې ښنلې
د غبرګو تورو د پاچا له مرګه ډېر کلونه روسته بل لښکر راغی
د جادوګرو لښکر
دوی به د ژېړو زعفرانو غوندې ژېړې پاڼې،

چې به په تورو تورو کربښو د مارانو لړمانو انځورونه پرې انځور و، سیزل
او د دې پاڼو په لوګیو به هوا توره شوه
په ژیړو پاڼو کې ماران او لړمان به په هوا کې مست شول
خدایزده لوګي و، که ماران د کربښو؟
خو دې لوګیو د دې سیمې خلک
په درانه خوب ویده کړل
خلک ویده شول،
او ویده شول،
ویده.
خلک په خوب کې ګرځېدل هره خوا
خوراک څښاک یې هم په خوب کې کاوه
د خوب جذام زموږ د کلي خلک مسخ کړل له خپل پېژانده
د خپلې تېرې ماضي
ټولې کیسې یې ورنه هېرې کړلې
د شنو غنمو افسانې یې ورنه هېرې کړلې
هرڅه بدل شول
هرڅه بل ډول شول
هرخوا کوډګر تاوېدل،
ژیړ کاغذونه او لوګي لوګي ماران، لړمان
یو لوی کوډګر یوه ورځ
د دغه غره لمن کې
په یوه هسکه پرښه ودرېده
نوی داستان یې پیل کړ
خلک حیران و حیران
دغه داستان د خوبوړو خلکو ذهن ته اشنا غوندې و
خو په دې نه پوهېدل

چې دا داستان ریښتیا دی؟
او که کوډګر ده جوړه کړې څه خیالي افسانه
چې خوبوږي پرۍ حیران کړي حیران
د لوی کوډګر داستان کې
د غبرګو تورو پاچا
یو لوی اتل یادېده
کوډګر کیسه کوله:
د غبرګو تورو پاچا
دلته راغلی و، چې وریبي له بدو بدو خلکو نه د دوی سرونه
د غبرګو تورو پاچا
ډېر زړور اتل و
له ډېرو بدو بدو خلکو یې سرونه پرې کړل
خو یو ناڅاپه یوه «بد» زلمي په خپله سیلاوه باندې ترې غاړه پرې
کړه
خو د دوه تورو پاچا
هغه اتل، چې یې په دوه لاسو کې تورو لا سرونه رېبل
پرزمکه ونه‌غورځېد
لا هم روان و په بې‌سره تنه
او غبرګو تورو یې د بدو بدو خلکو ترمنځ
یوه کوڅه وېستله
هاخوا او دېخوا به یې وغورځول
د دوو تورو پاچا
بې سره جنګ کولو
چې په دې وخت کې کومې «بدې» ښځې
ناڅاپه چیغې کړلې:
هلئ! هغه وګورئ
چې په بې‌سره تنه

لا هم روان دی او له خلکو نه سرونه ریبي
بس په دې وخت کې اتل
هغه د غبرګو تورو شاه، پر هغه ځای ولوېده
هغه يو لوی اتل و
تاسو خبر یاست که نه؟
راځئ، چې هغلته جندې هسکې کړو
راځئ! د دغه سیند په غاړه او د غره لمن کې
د غبرګو تورو د پاچا په رالوېدلي تنه
د رنګارنګه جنډو خونه کړو ودانه د پاچا په نامه
هلته به ژېړو کاغذونو نه ماران پورته کړو
د غبرګو تورو د اتل د ښاد اروا په نامه
لوی کوډګر مخکې شو او خلک خوبولي پسې وخوځېدل
خلک په لاره زنګېدل له خوبه
ښځو ببر سرونه وپېچل په تورو توټو
او نارینه‌وو له لمنو نه ریښکی بېلې کړې
لوی کوډګر ځای وروښود:
دلته لویدلی دی زموږه اتل
دلته به لکې کړو د رنګارنګ جنډو لکړې
دلته به خونه د جنډو جوړه کړو
کلونه اوښتل او لمر به د دې غره له دیواله څخه د سیوري په شان
ګرد تاوېده
د دوه مېینو په دې برج کې به باد
لکه يو مست لیونی
ګرد په اتڼ سر و
خلکو کیسه د پرتمیني او اسه هېره کړه
خلکو د غره په ډډه پروت دیوال ته پاس نه کتل
خلک له دغه دیواله شرمېدل

دغه د شرم دیوال
د لوی اتل له لښکریانو سره جنګ ته هسک و
اوس خوبولیو خلکو نوی داستان
هرځای یو بل ته وایه
د غبرګو تورو پاچا
ها لوی اتل چې یې له بدو بدو خلکو نه سرونه رېبل
د یوه بد زلمي په لاس کې سپلاوه یې تر مغرورې غاړې ورسېده
د غبرګو تورو د اتل پاچا سر وغورځېده
خو دی بې‌سره لا روان و او د بدو خلکو منځ کې یې کوښه ایستله
هاخوا او دېخوا یې رېبل سرونه
چې یو ناڅاپه یوې بدې ښځې
خلکو ته وښوده او چیغه یې کړه
هلئ! هغه وګورئ
چې په بې‌سره تنه
لګیا دی خلک وژني...
او اتل وغورځېده
د غبرګو تور پاچا
د رنګارنګ جنډو د خوني ځای کې
چې هره ورځ له شنه اسمانه پرې برېښنا پرېوځي
او هرماښام وربانديې بلې وي ډیوې او وړانګې
کوډګر یې هره شپه په خوب کې ویني
کوډګر د خپل پاچا په نوم د ډېرو ژېړو کاغذونو تورې لیکې په لمبو سوزوي
له ژېړو ژېړو کاغذونو ښخه تورې لیکې
لکه ماران او لړمان هوا ته الوځي او ناڅي د لوګیو په شان
خلک ویده دي او هیڅ نه وینیږي
خلک په خوب کې ګرځي،

یو بل ته اوروي کیسې د اتل
خلک لا وياړي د اتل د غبرګو تورو په خونرېزه داستان
خلکو د لوی کوډګر دا ټوله افسانه زده کړې
میندې یې نیمه شپه ورو ورو بچو ته
په للو للو للو کې
وايي
پلرونه خپلو زلمکيو ته لرګيني غبرګې تورې په لاسو کې ورکړې
او د اتل په نوم جګړه ورښيي
خلک د لوی کوډګر په ياده افسانه کې ورک دي.
سیند لا روان دی او د وينو رنګ يې رګ رګ کې بهيږي ښکته
او باد د دغه برج په منځ کې په اتڼ سر وي
خلک ویده دي، افسانه د خپل اتل هره شپه خوب کې ويني
او تور لوګي لکه ماران او لړمان له ژېړو ژېړو کاغذونو نه هوا ته
وځي

## تل دې ړندې وي د ښځمنو سترګې!

په ژېړو ژېړو پاڼو
د رسم شويو تورو لړمانو او مارانو لوګي
لا هم د لوړو لوړو غرو د کلي پاکه هوا
په خوبوړو لړو ډکه ساتي
کوډګر د ښځو له دوه سترګو ځخه وېره لري
کوډګر د ښځو له ليدلو نه ويريږي په مرګ
د دوی داستان داسې و
چې لوی اتل، هغه د غبرګو تورو تېر پاچا
پرېکړې سر لا په جګړه روان و
د بدو خلکو يې له مړيو نه کوڅې ايستلې

چې یو ناڅاپه کومې ښځې ولید
او نورو خلکو ته یې چیغه وکړه
هلئ! هغه وګورئ!
داسې د غبرګو تورو شاه،
زمونږ اتل ولوېده
چې اوس د رنګارنګ جنډو په زړه خونه کې ارام ویده دی
تر دې کیسې راروسته
کوډګر د ښځو له دوه سترګو څخه ډېر ویرېږي
د دوی په ټولو افسانو کې دې راغلي داسې
چې خوبوړي نارینه هم بس د ښځو په نظر ویښیږي
د ښځو سترګې دې ړندې وي مدام
د ښځو سترګو څخه ډار په کار دی
که ښځې لار وويني
که ښځې غر وويني، سیند وويني
که ښځې هغه زوړ دیوال وويني
که ښځې یادې کړي کیسې د «پرتمیني او اسه» بچو ته
نو نارینه به ټول راویښ شي او رڼا به راشي
بیا به طلسم د کوډګرو مات شي
او بیا به ژېړو کاغذونو باندې رسم ماران
د هوا تور لوګي کې ونهاخي
نو
د ښځو سترګې دې ړندې وي مدام
ښځې دې نهشي لیدی
سړي دې نه ویښیږي.
له دغې ورځې روسته
په ژېړو ژېړو کاغذونو کې په توره سیاهي د رسم شویو لړمانو او
مارانو د لوګیو کوډګر

د هسکو غرو د کلي
د ښځو سترګو او ليدلو ځخه ډېر وېرېدل
د ښځو سترګې يا ړندې او يا تړلې ښې دي
دوی ته رڼا ليدل ده لويه ګناه
دوی که رڼا ولیده
بيا به روښانه ويښ بچې زيږوي
او نارينه به د لوګيو له طلسم نه راويښ کړي د ابد لپاره
بيا به د ژېړو کاغذونو د لوګيو او مارانو د کوډګرو پاچاهي ړنګه شي
د غبرګو تورو د اتل پاچا کيسه به بېرته هېره شي له خلکو ځنې
خلک به غر ووينې،
سيند کې به رڼې اوبه د دوی له سترګو
ومينځي لوګي د کوډو
خلک به بيا د غره په ډډه زوړ ديوال ته ځير شي
په دغه برج کې به د دوه مينو هغه داستان
بيا ور په زړه شي، چې د کوډو په زور هېر دی ورنه
خلک به بيا د دې زړې او ډبريني کلا
تر ديوالونو ها خوا
خپله ماضي او د پرديو کيسې
خپلو بچو ته له للو للو سره سندره کړي په مينه مينه
کېدای شي دلته کومه پيغله چې روښانه تورې سترګې لري
او جهان ټول په خپلو تورو ښکلو سترګو ويني
د لوړو غرونو په دې کلي کې بيا ومومي سپېڅلې خاوره
پاکې اوبه او داسې ځای چې پرې لا وينه بهېدلې نه وي
ښايي، چې هلته د هوسی غنم په مينه مينه وکري
او سوله راشي.

ښايي، هوسی يوځلې بيا جوړه شي

زمونږ هوسۍ، د خپلواکۍ ملکه
ښايي د هسکو دنګو غرونو په ودان کلي کې بيا خپل زرين تاج په سر کړي
او له مودو روسته دې کلي ته ريښتيني خپلواکي راولي
رڼا،
اوبه
او د غلميني ډوډۍ پاستو سره
د ماشومانو د خندا په شان خوښي راولي.
او ما په دغه وخت کې
د خپلې ښکلې مينې
په تورو تورو ښکلو سترګو کې ځلا وليده
ما مې د خپلې خوږې مينې په څېره کې بيا موسکا وليده
د دنګو غرو د کلي تورو شپو ته
په لرې لرې افقونو کې مې بيا سپينه رڼا وليده
زه د ملنګ بابا خبرو کې د هيلو څرک له ورايه وينم
هغه رڼې سترګې، چې دی يې ښيي
همدا زما د ښکلې مينې جهانبينې ښکلې سترګې دي، چې لار به مومي
د پاکې خاورې او رڼو اوبو لټون کې دغه تورې سترګې
اخر منزل ته رسي.

## لا څه سترګې وې روښانه

د کوډګرو ويره ډېره وه له سترګو
دوی د پېغلو او د ښځو، ان کوشنيو وړو نجونو
له معصومو کتو دومره ډارېدل، چې
د سرېو د وينښتيا راز يې په دغو رڼو سترګو کې ليدلو

هلته دلته

تېرو تېرو زمانو کې
د دې لوړو لوړو غرونو په لمن کې زموږ د کلي
په کورونو کې لا نجونې
پېغلې، ښځې داسې وې، چې
د کوډګرو له لوګيو ښخه لرې
يې لا دوه سترګې بينا وې
دوی نړۍ لا هم ليدی شوه
دوی رڼا لا پېژندی شوه

## کوډګران د ابليس چم کې

ملنګ بابا يوځلې بيا زموږ د دنګو دنګو غرو د کلي
د خونړي داستان بل فصل پيل کړ:
زما خوږو  بچو کيسې ته غوږ شئ
هغه کلونه، چې زموږ کلي کې
د کنګلونو له هېواده
او
د ييږو له ځنګلونو ښخه
«اورديو» له خپلو سرو پېريانو سره راغی زموږ د کلي چم ته
او موږ د کلي خلک پاڅېدو، چې کلی له اورديو وساتو
«لاتديو» چې زړه يې موږ د خلکو له کينې نه ډک و
راغی، چې بيا زموږ د هوسۍ په سر اورديو سره جګړه پيل کړي
د دنګو دنګو غرو د کلي لمرخاته لور ته يې
د ابليس دښته کې ديوانو سره لاس يو کړ
او د هوسۍ په ننګ وتلي کليوال يې سره ووېشل په ډلو ډلو
بيا يې د دې ډلو ترمنځ د بدۍ کرښه په لمبو انځور کړه

همدا کلونه وو، چې دغه د لوګيو کوډګر

ولاړل ختيځ ته،
د ابليس دښتې ته
هلته يې ګوډ لاټديو نه نوې نوې کوډې زده کړې
لاټديو د دوی لپاره
نور کاغذونه ورکړل
ژېړ کاغذونه،
چې مارانو، ښامارانو يې اسمان کې تور لوګي او سرې
لمبې کړلې
لاټديو د دوی لپاره
يو لوی کوډګر د څرمښکيو او کربوړو له بيديا څخه د تور ابليس
بيديا ته راوست
د غبرګو تورو د باچا داسې لمسی،
چې د نيکه د قتليدو کيسې يې

ښې په ياد وې
د غبرګو تورو د شاه دغه لمسی
- چې يادېده «ژېړ زمری» -
په ژېړو ژېړو کاغذونو کې د تورو ښامارانو د لوګيو يو بډای کوډګر
و
چې د سرو زرو څو ځولۍ يې په اوښانو بار وې
د ابليس دښته کې لاټديو د ژېړ زمري په مشرۍ
د ژېړو ژېړو کاغذونو د لوګيو کوډګران راټول کړل
چې يوه ورځ له ورځو
د دنګو دنګو غرونو کلي ته لښکر راولي
د کوشنيو، پېغلو نجونو او ښځمنو له ليدلو سره
او د هغوی په سترګو
د دغه کلي د سريو وينولو سره
نوې جګړه پيل کړي.

## ژېړ زمری د کوډګرانو سرلښکر شو

تر هغه روسته، چې اوردیو مات شو
تر هغه روسته، چې د بیړو ځنګل اور واخیسته
تر هغه روسته، چې بوډا چوپړګر ورک شو د زمان د ګردلو لړو کې
او ډلي ډلي کلیوال له خپلو تورو سره بېرته راغلل
هغه کلونه، چې یوه ډله د بلې د سر وینو ته وه تږې ناسته
هغه کلونه، چې لاتدیو د ابلیس دښته کې لا ناست و د کسات لپاره
هغه کلونه، چې یوې ډلې له بلې نه سرونه رېبل
چې زموږ د هسکو دنګو غرونو کلی
د ډلو ډلو دجګړو په سره دوزخ کې سوزېد
هغه کلونه، چې د ډلو تورې سرې وې د ماشوم په وینو
هغه کلونه، چې زموږ د خپلواکۍ ملکه
ښکلې هوسۍ د هسکو غرونو لوړو تړو کې زخمي پرته وه
ها زمانه، چې ستا شپېلۍ زخمي هوسۍ ویښه کړه
په هغه ورځو کې چې تا ته هوسۍ درکړې د غنمو داني
او تا په خپل ورک شوي شپول کې خپله ښکلې مینه بیا وموندله
دغه چې تورې تورې سترګې لري
هغه زمان،
چې تاسو دوه میینان ووتلئ
د داسې خاورې او اوبو په لټون
چې هېڅ په وینو لړل شوې نه وي
هماغه وخت و، چې ختیځ ته د ابلیس دښته کې
یو بل لښکر جوړ شو
د کوډګرانو د زامنو او لمسیو لښکر

هغه چې ژېړ ژېړ کاغذونه یې وو ډک له لړمانو، له مارانو، ښامارانو
څخه

له ژېړ زمري نه يې زده کړې وې لا نورې کوډې
ها ژېړ زمری، چې و د غبرګو تېرو تورو د پاچا له ذاته
ها چې راغلی و، لویدیځ نه د کربوړو له بیابانه ځنې
هغه چې سر باندې څادر يې و په توره منجوله تړلی
هغه کلونه، چې په کلي کې د ډلو تور دروبڼ جوړ و
د ژېړ زمري په فرمان
د کوډګرانو لښکر
شو راروان د دنګو دنګو غرو د کلي په لور
او چې راورسېدل
په لومړی ورځ يې د هوسۍ يو سپاهي وواژه
ها چې لاتـدیو يې د ابلیس له دښتي
د مرګ فرمان و کښلی
د ژېړو ژېړو کاغذونو د لوګیو په لیک
ژېړ زمری ډېر ویرېده
د نجونو، پېغلو او ښځمنو له دوه سترګو ښخه
او د دې کلي د زلمو له وینېدلو ښخه
ژېړ زمري څو اوښان په سرو زرو بار کړي لرل
نویو کوډګرو ته يې تل دغه داستان یاداوه
چي څنګه لوی اتل،
د غبرګو تورو هغه پاچا
چې يې له بدو بدو خلکو نه سرونه رېبل
څنګه د داسې يو زلمي په سېلاوه قتل شو،
چې وینښې سترګې يې وې
او پرې مېینې نجلی
له خپلو سترګو ورته

وینه رڼا ښنله
د غبرګو تورو شاه چې سر بایلوده

لا په بې سره تنه
په غبرګو تورو جنګېده جنګېده
له بدو خلکو يې سرونه رېبل
چې يو ناڅاپه يوې ښځې ولید
او هغې ښځې، چې یې دوه سترګو دونیا لیدله،
ناڅاپه چیغه وکړه:
يه خلکو! هلته ګورئ!
بس په همدې شېبه کې
زموږ اتل
د غبرګو تورو پاچا
په زمکه ولويده، په هغه ځای کې
چې اوس د رنګارنګ جنډو خونه ده
نو اې زلمو کوډګرو!
د نجونو سترګې تل تیاره وساتئ
ښځمنې مه پرېږدئ، چې څه ووينې
سرې د ژېړو کاغذونو د مارانو لړمانو په لوګیو تل ويده وساتئ
او نجونې مهٔپرېږدئ، چې دوی د خپلو سترګو په رڼا راوېښ کړې
د ژېړ زمرې داسې فرمان سره کوډګر د دنګو دنګو غرو په کلې
راغلل
تورې تر ملا تړلې
او د لوګیو له مارانو ښامارانو يې متروکې او غمچينې په لاس
د اور له کندې نه د ويرې څه اوراد په ژبه
په هياهو او شورماشور يې ډار د خلکو په زخمي زړونو کې داسې
ورواوه لکه اور
نجونو او ښځو وې تړلې سترګې

په تورو تورو تیوتو
چې د ابليس له دښتې

د ماښامونو سوداګرو راوړې
د ډنګو ډنګو غرو د کلي په ښځمنو و بندیز د رڼا
او د کوډګرو ژېړو ژېړو کاغذونو کې ماران او ښامارن لکه لوګی نخښېدل
د ښامارانو په لوګیو کې راګیر نارینه
ټول داسې ډوب ویده وو
چې ویښېدل یې وو هېر کړي د همېش لپاره
نارینه ډوب ویده وو
او د ښځمنو سترګې پټې وې په تورو دسمالونو، چې راوړل به د ابلیس له دښتې
د ماښامونو سوداګرو، چې شریک وو له کوډګرو سره
د ډنګو ډنګو غرونو کلی و ډوب کړی د اپیمو جادو
زلمي ویده وو، سترګې پټې وې د پېغلونجونو
څوک پرې خبر نه و، چې څه تېرېږي؟
د ډنګو ډنګو غرو په چم کې څه پېښېږي؟
نن به څه کېږي،
سبا به څه وي؟
په داسې ډوبه تروږمۍ کې بس شړکا وه د متروکو او غمچینو
چې په زور تاوېده
د کلیوالو ډډې
لکه په ژېړو کاغذونو کې چې کرښې د مارانو ښامارانو ګورې
داسې تغمې تغمې وې
خو نارینه ویده وو
او د ښځمنو سترګې پټې وې په تورو ابلیسي څپونو
څوک خبر نه وو، چې د ژېړ زمري کیسه څنګه وه؟

په زړو بار اوښان یې چېرته وو
اوخنګه یې د وسپنو کارغان جوړول؟

هیڅوک پرې نه و خبر،
موږ چېرته لرې د دې هسکو سردرو په شنو ځنګلونو کې
لا ویر

ته ناست وو
هوسۍ زخمي وه او له موږ سره راغلي کلیوال خپه وو
موږ ټول په هیله و، چې ته او ستا د تورو تورو سترګو دغه ښکلې
مینه
که چېرته ومومۍ له وینو ښخه پاکه او سپېڅلې زمکه
که دا غنم وکرۍ
او ورته پاکې اوبه ورکړۍ، چې طلسم د تیارو پرې مات شي
موږ هلته لرې خپل ځنګله ښخه د دنګو دنګو غرو کلي ته ځیر و په
اوښلنو سترګو
چې یوه ورځ له ورځو
له لرې لرې اوازې راغلې
د بدو بدو خونړیو پېښو
څه نوې نوې انګازې راغلې
کیسه څه داسې وه،
راویانو ویل:
چې د لاتدیو او له هغه سره د نورو مغربي دیوانو
او ژېړ زمري ترمنځ جګړه پېښه ده
او
ژېړ زمري د تورو وسپنو پولادو د کارغانو په زور
هلته تر اوو سمندرونو هاخوا
د لاتدیوه لوړې هسکې دنګې ماڼۍ
د سرو لمبو په درمندو کې او د اور په ژرنده

داسې ایرې ایرې کړې
لکه چې هېڅ رادنګې شوې نه وې

لکه چې هېڅ چا جوړې کړې نه وې
د ژېړ زمري تورو کارغانو، چې د وسپنو وزرونه يې وو
د لاتديو ډېر ښاريان په خاورو دي لړلي
هم يې لاس دی د
لاتديو پرې کړی
ژېړ زمري دا ځل د لوګيو ښاماران دي نخولي بيا د دنګو غرو اسمان کې
او د سرو زرو د اوښانو په زور
يې په لاتديو باندې قيامت جوړ کړی
هرځای همدغه اوازې وې، چې په ژبو او غوږو ګرځېدې
موږ، چې لا ناست و د ښېسده او زخمي هوسۍ ترځنګه
ټول حيران وو
حيران
د خپلواکۍ د ملکې سترګې لا ښنې پاتې
د خپلو غرونو په لمن کې وه د څړيکو په بستر کې پرته
له لرې لرې مو ليدل، چې زموږ د دنګو غرونو کلی
د يوه بل وحشي توپان درشل ته ګوري په تېجنو سترګو
او په هوا کې يې لا ناڅي د مارانو – ښامارنو د کوډګرو لوګي

## لاتديو کسات ته راځي

لاتديو غوسه دی او له سترګو يې لمبې باديږي
پنځوس يوسترګي نور ديوان ورسره
د تورو وسپنو – پولادو په ليوانو سپاره
د تورو وسپنو – پولادو ګڼ کارغان يې هم په سر پورې اسمان کې اتيونه کوي

د دنګو دنګو غرونو کلي ته يې بيا د سرو لمبو ګوډي په شا راوړي
او له کوډګرو ژېړ زمرې غواړي

خو ژېړ زمری لکه پیری ورک دی
خدایزده اوبه شو او په تږې زمکه ننوته
که د مارانو – ښامارانو د لوګیو په شان
ولاړه هوا کې ناخې؟
ژېړ زمری ورک دی او دیوان د دنګو دنګو غرو په وران کلي کې
په تور
درونې اخته دي
پنځوس یوسترګي دیوان، چې راسپاره دي د پولادو په لیوانو باندې
او پاس اسمان کې پرې تاویږي د پولادو کارغان
دیوان درببیږي او د دنګو دنګو غرونو کلی
بیا په لمبو کې سوزي
کوډګر لګیا دي د مارانو – ښامارانو په لوګیو باندې کوډې کوي
خلک ویده دي لکه مړي چې روان وي د قبرونو په سر
نارینه ډوب دي او خبر نهدي چې څه تیرېږي؟
د ښځو سترګې یې تړلي دي په تورو توتو
ښځې لا هیڅه ته کتلای نهشي
او ژېړ زمری ورک دی
پنځوس یوسترګي دیوان
د ژېړ زمري لوری لودن غواړي
وايي چې مونږ وریسي پل راخیستی
پل یې د دنګو دنګو غرو تر دغه کلي راځي
خلک د ژېړو کاغذونو د مارانو، ښامارانو په لوګیو ویده
او د ښځمنو یې لا سترګې ورتړلي دي په تورو توتو
هیڅوک پرې نهدي خبر
چې د لاتدیو او ژېړ زمري ترمنځ جګړه په څه ده؟

هیڅوک پوښتلی نه شي
چې د لاتدیو او ژېړ زمري ترمنځه

زموږ د دنګو دنګو

غرونو کلی ولې سوزي؟
لاتدیو او نور پنځوس یو سترګی دیوان
د ماښامونو له ښارونو راځي
او ژیړ زمری د ځرمښکیو او کربوړو له بیابانه ځني
دواړه زموږ د دنګو دنګو غرو په کلي کې پردي دي، پردي
موږ د پردیو دوښمني کې ویده
زموږ یې سترګې راتړلي دي پردیو لاسو
موږ د پردیو په عجیبه دوښمنۍ کې سوزو
موږ هلته لرې خپل خوندي ځنګل کې
د خپلواکۍ د ملکې، ښکلې، هوسۍ زخمي بدن ته لا د اوښکو ځاځکي په نذرانه تویول

او له هغه ځایه مو
د دنګو دنګو غرونو خپل کلي ته

ها زموږ ګران وطن، زموږ د زیږېدلو وطن
زموږ د خاپوړو، د مستیو، د ترپکو زمکه
زموږ د خوښیو خاوره
لیده، چې څنګه په لمبو کې سوزي
موږه لیده، چې د مارانو – ښامارانو تور دودنه یې په سر ولاړ دي
او په اسمان کې یې د وسپنو – پولادو تور کارغان الوځي
موږه لیده چې زموږ د میندو او پلرونو هډیرو کې ګرځي
وحشي لیوان چې له پولادو یې هډونه جوړ دي
او پرې سپاره دي د ماښامونو له ښارونو نه راغلي دیوان
چې یوه سترګه لري

او ژیړ زمری غواړي.
کوډګران کوډې کوي
خلک ویده دي، نه څه اوري، نه څه ویني او نه ژبه لري

په هېڅ خبر نه دي، چې څه کيږي؟
او ولې کيږي؟
د نجونو سترګې يې ترلي دي په تورو ټوټو
ښځمني لا هم څه ليدلای نه شي.
هو!
موږه دا هرڅه ليدل
لا يو څه پيغلې، څه ځوانان او څه خواره ماشومان
ستا شپول ته څېرمه د ها لرې غره په شنه لمن کې
د ځنګل ګڼو ونو شاته په يو خوړ کې ناست وو
زخمي هوسۍ ته مو له سترګو بهولې اوښکې،
چې يو ناڅاپه هوسۍ وځګېروېده
غوښتل يې څه ووايي:
خپلې زخمي شونډې يې پرانيستلې،
زه پوه شوم ما ورغوږي
زه مستانه ملنګ، خبر ومه له ډېرو کيسو
ښايي هوسۍ به بيا د راز کومه خبر کوله
خوا ته يې ورغلم او غوږ شوم ورته
ښکلي هوسۍ
هغه د دنګو دنګو غرو د کلي
د خپلواکۍ ملکې
ورو راته داسې وويل:
ملنګ بابا!
اې په رازونو، طلسمونو او رمزو خبره!

زموږه ګران شپونکی او مينه يې په غره د ها ختين ديوال په سيمه کې دي
هغه شپونکی، چې د شپيليو په غږ کوډې کوي

او پر هغه مېينه
چې تورې تورې ښکلې سترګې لري
د پاکې خاورې او سپېڅلو اوبو
په ډېر لتون ستړي دي
هلته د دنګو دنګو غرو کلي کې
د يو نيمزاله سيند تر څنګ دمه شول
هلته چې غره باندې ښامار د يو ختين ديوال په خوب ويده دی
د خپلې مينې په غوښتنه يې شپېلۍ بيا په کوډګرو شونډو کېښودله
له لرې لرې نيستان څخه راغلې ها کوډګرې شپېلۍ
داسې نغمې پيل کړې،
چې زه يې دلته اورم
دغه شپېلۍ په زړه کې راز زموږ د کلي لري
د طلسمو او تورو کوډو راز يې په نغمو کې نغښتی
زه يې خپل روح کې خوږ اواز اورم
دغه اعجاز اورم
هغې عجيبه شپېلۍ
داسې نغمې سر کړي
چې د غره ډډه کې د پروت ديوال مړوند سره له هغه برجه
چې په کې ناڅې ليونې بادونه
او په کې خښ وو دوه اتل مېينان
د شپونکي دغو جادوګرو نغمو
له دغه برج څخه اسه او پرتمينه ويښ کړل
راغلل او دوی ته يې کيسه د تېرو تېرو زمانو تېره کړه
چې څنګه ولاړل د وطن په ننګه

څنګه اسه د خپلې ښکلې پرتمينې مينې
د پت ساتنې په پار
د غبرګو تورو له پاچا څخه اورمېږ وواهه

هغه پاچا چې له بيديا نه راته
د ځرمښکيو او کربوړو له سارا نه راته
د لمر لويدو له لوري
د نااشنا لرې وطن د غرو له شا نه راته
اسه او ښکلې پرتمينه د دوښمن په غشيو ووژل شول
او د بيديا لښکر د خپل پاچا له مړيني روسته
بېرته د غره له ديوالو واوښتل
بېرته له دښتو او مېرو واوښتل
د سيند د دواړو غاړو خلکو خپل جوړه شهيدان
اسه او ښکلې پرتمينه د ديوال په هغه برج کې خښ کړل
چې تر دې روسته به تل باد په کې اتڼ کولو
دا دی زه وينم، چې کوډګرې شپېلۍ
د شپونکي هغې جادوګرې شپېلۍ
چې پرې د تورو تورو سترګو د نجلۍ اروا هم دمه کوي
او ما ته راز زموږ د کلي د برخليک هم وايي
د پرتمينې او اسه ارواوې بيا وينې کړې
او دا دی زه يې وينم،
چې دوه جوړې مېينان
زموږ شپونکی او پرې مېينه پېغله
هغه چې تورې تورې سترګې لري
بله خوا ځوان اسه او هغه پرتمينه پېغله
چې د شپېلۍ په اواز
له ډېرو لرې زمانو څخه راغلي دلته
هوډ د لټون نوی کړ

يوه جوړه ځي لمرلويدو لوري ته،
شپونکی او مينه يې روان دي د ختيځ په لوري
هغې زړې کلا ته

چې د لرغونو زمانو کيسې په زړه کې لري
خو اوس زه وينم چې کلا ته وررروان دی د کوډګرو لښکر
هغه کوډګر چې پرې بيرغ د غبرګو تورو د پاچا رپيږي
اخ – خدايه وساتې شپونکی او نجل يې
ملنګ بابا ورشه او ويې ژغوره
د دنګو دنګو غرو د کلي ژوند له دوی سره دی
د دې طلسم د سيزلو بند له دوی سره دی
د نجلۍ غاړه کې د سرو زرو تاويز کې درې غنم پراته دي
او د شپونکي شپېلۍ ده هغه جادوګره شپېلۍ
چې ډېر رازونه يې نغمو کې پټ دي
يا ربه!
ته يې مل شې
ملنګ بابا ورشه!
هله نو بېړه کوه!
نو زه په بېړه بېړه دلته راغلم
شکر چې دلته په دې لاره کې مې ومونډلئ
ګرانو بچو زموږ کيسه داسې ده
د دې وطن د بدمرغيو افسانه داسې ده.

# درېیمه برخه

## یو سفر په بېزمانه زمانه کې

### او موږه بیا ځو د هوسۍ لیدو ته...

باد یو ځل بیا د زاړه برج په منځ کې ونښېده
د دوه شهیدو میینانو له تش قبر نه یې ګرده بوړبوکۍ پورته کړه
لاندې په سیند که لا یو څو ژرندې اوبه بهېدې
اسمان لا خړ و
او په خړه کې یې توري لیکې کرښه کرښه
لکه د ژېړو کاغذونو د مارانو- ښامارنو د لوګیو لیکې
د لوړو دنګو غرو د کلي برخلیک ته څیر وې
د ملنګ سترګو کې بربښنا ځلېده
یوه عجیبه او مرموزه موسکا
یې وه خوره په شونډو
ورو یې اوږده، زړه لړګینه او کږه لکړه
چېرته د لوړو غرو په زړه کې هغه لوري ته ورسیخه کړله
چې د ځنګله په منځ کې
زخمي هوسۍ او څو زلمیان او پېغلې
موږ ته په تمه ناست وو
ما او د تورو تورو سترګو ښکلې
یو بل ته وکتل او ویو هېدو
چې بیا هوسۍ ته ورځو

له داسې لارو، چې کوډګر مو چېرې ونه ویني
د ژېړ زمري د لارویو له لوګیو لرې

په هغو لارو چې زما د مينې
لا تورې ښکلې سترګې مخه وينې
ملنګ بابا مخکې شو
يو ځل راوڅرخيږ او درب يې ورکړ بيا پښې ته
او مور له دې برزخ نه
مخ په ځنګله روان شوو
هلته چې ښکلې هوسی
د دنګو دنګو غرو د کلي د ريښتينې خپلواکی ملکه
مور ته په تمه ده او لاره څاري
د غره په ډډه پروت ديواله! مور په خدای وسپاره
د دوه شهيدو مينانو د زيارت لرغونيه برجه ولاړو
سينده ورځه بهيږه
زړه کلا دې خدای د وسپنو – پولادو له ليوانو ساتي
د پاکې خاورې او سپېڅلو اوبو
هلته زموږه د غنمو د کرلو ارمان
داسې ژوندی دی زمور په زړونو کې لا
لکه ايرو لاندې د اور خوړلن، چې ځل ووهي
لکه په تمه پيغله
چې خپل جانان ته يو زمولل‌ی ګلاب
په تور وربل ووهي.

## زمانه له موږه ورکه

خدايزده څومره اوږده لار وه
خدايزده څه موده روان وو
زمور د دنګو دنګو غرونو

په لمنو کې ګلان وو
څه د ترخې بوی هوا کې

څه ولاړ ریدي هرخوا دي
چېرته لړ اوبه رواني
غرنۍ چینه بهیږي
یا ومان یې دی تر ښندې
یا پرې سپانده ده شنه شوې
یا مانو دی راوتلی
د وحشي بیالني عطر
په مستۍ مستۍ لتیږي
لمر دغره له څوکې پریوځي
بیا له بل غره شي راپورته
یا مزل کوو سپوږمۍ ته
یا د ستورو ورا کې ګډ یو
لارې دېرې دي او موږه
ځو د شنو ځنګلونو خوا ته

بابا مخکې ټُند روان دی
کله کله یې مرموز غوندې غږ راشي
لکه ځان سره چې وایي څه رازونه
زما د تورو تورو سترګو
خوږه مینه رانږدې ده
لاس یې زما په لاس کې تود دی
بختور یمه چې عشق مې
د ستومان مزله لاربنود دی.
خدایزده څومره اوږده لار وه
خدایزده څه موده روان وو
دېرې شپې مو لار وهلې

د رڼو ستورو ځلا ته
خو د شپو د کاروان پای کې

ځرک د سپین سباوون ښکاري
لمر د تورو غرونو شاته
راویښیږي، پورته کیږي
د مرغیو چغهار شو
او د باد د مستۍ غږ شو
چې د ونو څانګې څانګې
لوبوي په اتنونو
موږه پوه شو، چې ورګډ یو
د هغه ځنګله په تکه شنه لمنه،
چې زموږ د خپلواکۍ ملکه هلته مېلمنه ده
د هوسۍ او کلیوالو
په همدې ځای ولوله ده
زه او زما د تورو تورو سترګو مینه
په یو داسې سباوون کې
د خپل شپول مستې هوا ته
یوځل بیا ورمېلمانه شو
د خوږو خوږو یادونو
خپل جهان ته ورستانه شو.[2]

***

د ځنګله زړه کې ځو کوډلې لا هغسې نیمهخوا ولاړې
ځو په زړه ژوبل کلیوال،

څه ماشومان او څه نیمژواندي

زلمي

[2] تر دې روسته وزن بدلیږي

څو غمځپلې پېغلې
او څه ړانده میینان
له وچو لوخو او وښو نه جوړه
یوه څېره ده ولاړه او د سپین ململ پردې شا ته هوسۍ ښکاري
د خپلواکۍ له ملکې دي راچاپېره څو ځوانان او پېغلې
ښکلې هوسۍ
هغه د دنګو دنګو غرو دکلي خلکو ته د هیلو او خوبنیو نښه
لاهم رنځوره ده، د مرګ و ژوند ترمنځه په نیمګښه سترګو څاري اسمان
زه او زما د تورو تورو سترګو ښکلې مینه
په بېړه ګام اخلو د ښکلې ښاپېرۍ پالنګ ته
هغه زموږ د دنګو دنګو غرو د کلي د هوسۍ پالنګ ته
لکه د تږیو جلوهلیو چې وي بېړه د چینې اوبو ته
له ولولو ډکې شپېې دي او ځنګل خاموش دی
زموږ په لیدلو، په جونګړو کې د مېشتو کلیوالو په څېرو کې څه رڼا خوره شوه
په زخمي شونډو یې نرۍ نرۍ موسکا خوره شوه
څو تنه پېغلې او ځوانان مو هرکلي ته راغلل
څه ماشومانو له خوښۍ ټوپکې ووهلې
د ځنګله منځ کې دلته پټو کلیوالو، د هوسۍ ملګرو
ملنګ بابا ته هرکلی وکړ په ډېر درناوي
پېغلو ځوانانو په موږ وشیندل ګلونه د خوږو موسکاوو
او موږ په ډېره تلوسه د هوسۍ خوا ته ولاړو
د خپلواکۍ د ملکې اروا خبره شوه، چې موږه راغلو
د سپین ململ شاته یې وخوځېدې ښکلې ګوتې

او زموږ سترګې شوې روښانه د هوسۍ په لیدو
زلمو او پېغلو زمزمه کړه بیا هغه ترانه

چې ډېر کلونه پخوا
کله چې زه د خپلې مينې په ديدن پسې تلم
ملنګ بابا او د هوسۍ ملګرو ورېله
يوه اشنا ترانه
يو خوږ غمجن سرود، چې زموږ د اروا تل ته لکه درد کوزېده:

## سترګې دې پرانيزه اې ښکلې هوسۍ

موږ ټولو خپلې سترګې تاته درکړې
سترګې دې وغړوه
موږ خپل ژوند ټول يوه نغمه کړ ستا تر سر مو ځار کړ
سترګې دې پرانيزه اې ښکلې هوسۍ
زموږ د هيلو او د مينو نازولې هوسۍ
او دې سندرې سره
ښايسته هوسۍ خپلې بيمارې سترګې پرانيستلې
بيا يې زموږ خواته را وکتل
يو يو يې له نظره تېر کړو

لږ څه موسکۍ شوه
لږ څه وځګېرويده
او شيبه وروسته يې بيا سترګې زما لوري ته راواړولې
او زما ترخنګ يې زما د تورو تورو سترګو مينه وليدله
ما او زما مينې ته يې وموسل په ښکلې بڼه
هغې په ښکلو سترګو موږ.ته کتل
او بيا يې ورو وويل :
«ماته شپيلۍ ووهه

ماته نغمې جوړې کړه
يوازې ستا شپيلۍ ژوندون راکوي

یوازې ستا نغمې مې مرګ نه ژغوري
شپېلۍ دې وغږوه
او زما د ژوند کیسه تر پایه وکړه
ستا د شپېلۍ په ژبه زه پوهېږم
یوازې ماته د نغمو کیسه په زړه پاتې ده
ماته زما د ژوند کیسه ووایه!
تر وروستي فصله،
تر وروستۍ شیبې
تر پایه پورې!»
هوسۍ تردې خبرو وروسته سترګې بیا پټې کړې
یو څه آرامه شوه ښایسته ښاپیرۍ
او ما مې خپله شپېلۍ بیا په تریو شونډو ښکل کړه
د جلوهلي روح د توس له زوره
له ډېره درده او د زړه له څوښنه
له ولولو نه، له خوښۍ او غم نه
له یو عجیب غریب احساس څخه چې نه پوهېږم
له ناهیلو که له مینې نه یې حال ویلو
لکه د درد له څړیکو څړیکو سره تېر یادونه
د حسرتونو په وزرو اسمان ته لار وباسي
لکه د یار د ښکلو سترګو د ښو ستنې چې
د زړګي زخم څخه تار وباسي
یا د جانان شونډې ملهم شي او دردونه له پرهار وباسي
داسې له سوزه لکه اور چې په سینه کې بل وي
یا لکه هره ساه چې ستوني نه انګار وباسي
داسې په سوې نغمه

او په لمدو ژړنده سترګو مې شپېلۍ پیل کړه
یوه اشنا یوه خوږه زمزمه

لکه د ډېرو زمانو د غرو له شا چې راځي
لکه د دنګو دنګو غرو د کلي
د ټولو تېرو شنو فصلونو له زلما چې راځي
شپېلۍ مې بيا په سوز و ساز ګډه شوه
د ټول ځنګله ونو سرونه کوز کړل
او غر له ډېره درناوي لاس په نامه شو ورته
مرغيو غوږ ونيوه
باد هم نفس په خپل ګوګل کې په سلام وګانده
او د شپېلۍ نغمې انګۍ وکړې دره ويښه شوه
د هوسۍ مخ کې بيا سُرخي پيدا شوه
په وچو شونډوکې يې رنګ وځغلېد
د پېغلو سترګو رپېدل هېر کړل
او
برندې شوې د خپلو
ميينانو مخ ته
د زلمو رګ رګ کې د اور په شان توده وينه راتاوه شوله
زموږ ړندو او غمځپلو کليوالو هم لاسونه وو په سترګو ايښي
زه پوهېدم، چې د شپېلۍ اواز به
ړندو ته ورکړې سترګې
او د هوسۍ په روح به وورويي
د تېرو تېرو زمانو افسانې
د نن کيسې او د سبا حادثې
او ما شپېلۍ وهله
خدای خبر څومره او تر څه وخت پورې
خدايزده يو څو شپې وې،

که ورځې شپې تېرې شوې
که مياشتې واوښتې کلونه راغلل؟

خدايزده چې څومره موده؟
ما لا شپېلۍ وهله
او هوسۍ موسکه وه په ښو سترګو
پېغلو په برندو کتل
زلمو کې وينه لکه اور تاوېده
بابا ملنګ هلته ولاړ و او ژړل يې په بې زوره سلګو
زموږ د هغو کليوالو سترګې هم روغې شوې
چې له کلو کلو ړانده ګرځېدل
مرغۍ لا غوږ وې او باد پټ و د ځنګله د ونو شنو څانګو کې
زما مينه، ها د تورو تورو سترګو ښکلې
هوسۍ ته ناسته وه او ماته يې کتل په مينه
د هوسۍ سترګې ډېرې لرې شنه اسمان کې په حيرت خښې وې
د ښکلو سترګو له ښو يې رپېدل هېر وو
ملنګ بابا لا ژړل
او ما شپېلۍ وهله
يوه اشنا سندره
يوه د مينې نيمهخوا ترانه
يوه له درده،
له لمبو
او له سکروټو رغېدلې نغمه
زمانه اوښته او ستورې په اسمان کې راختل پرېوتل
لمر به په چوپه خوله راوخوت او ځنګله نه به خاموش واوښته
سهار به راغی او ماښام به ولاړه
او ما شپېلۍ وهله
خدای خبر څومره

او تر څه وخت پورې
زما په نغمو کې زمانه ورکه وه

زمان ولاړ و د شپېلۍ سرود ته
هيڅوک خبر نه و، چې کومه ورځ او کومه مياشت د کوم يو کال ده؟
د شپېلۍ غږ نه د ځنګله او غره فضا ډکه وه
کوډلې ټولې نيمه خوا ولاړې
پېغلو په برندو کتل
او د زلميو په رګونو کې لمبې تاوېدې
د سپين ململ ترشاه هوسۍ موسکۍ وه
د خپلواکۍ ملکه
زما د شپېلۍ نغمو ته داسې غوږ وه
لکه د لوی شنه سمندر څپو اخيستې وي په خپلو اوږو
لکه يو سپين سوسن چې ناڅي د اوبو په بهير
لکه د تللو زمانو په ايينه کې چې سبا ته ګوري
يو ځاځکی اوښکه د هوسۍ له کينې سترګې راغله
او په موسکا کې يې د شونډو غوټۍ
داسې مرۍ مرۍ شوه
لکه د سره ګلاب غونچه چې تر ږلۍ لاندې شي
اوښکه
او بله اوښکه
او بيا دوه درې نورې رڼې رڼې راورغړېدې
ملنګ بابا راغی او ورو يې لاس زما په اوږه کېښوده، چې بس کړه شپېلۍ
هوسۍ ورو وځګېروېده
کوم څه يې وويل، خو زه پوه نه شوم
زما له ستوني نه روستۍ سکروټه لاړه د شپېلۍ مرۍ ته

او...
يوې غمجنې کريغې
شپېلۍ ته دمه ورکړه.

هوسۍ ملنګ بابا ته لاس پورته کړ
بابا له سترګو اوښکې وچې کړلې
يو ځرخ يې وخوړ او پښې ته يې بيا درب ورکړلو
سترګې يې پټې کړې، لاسونه يې اسمان ته داسې هسک ونيول
لکه دعا چې کوي
لکه ښتن ته چې د زړه له کومې
د کوم نومورکي مساپر د ورتلو زيرۍ لېږي
لکه د زړه کومه ټوټه چې څوک په خدای وسپاري
څه شېبه روسته هوسۍ موږ ته په موسکا وکتل
او ملنګ بيا زموږ د دنګو غرو د کلي
يو بل داستان پيل کړ
يوه غمجنه کيسه
يو بل قيامت،
چې و راغلی زموږ د هسکو دنګو غرو په کلي.

## دويم قيامت

ملنګ بابا وويل:
تر هغې ورځې روسته،
چې موږ د غره په ديوالـه کې له زاړه برجه راوخوځېدو
تر دې ځنګله پورې د اوږد سفر په ستړو لارو
هغه شېبې، چې د کوډګرو د لښکر متروکو
د هوا ډېو کې د شړک زخمونه ونځول

هغوی، چې ژېړو کاغذونو نه ماران او ښاماران کړی کړی سوزوي
چې راروان وو د زړي کلا درشل ته د لوګيو ترمنځ
د غبرګو تورو د پاچا جنډه يې هسکه په لښکر رپېده
هغوی، چې ډېر د پېغلو نجونو او د ښځو د دوه سترګو له ليدو وېرېدل

او د سړیو له ویښتیا څخه يې کرکه راتله
د ژېړ زمري په فرمان راغلل او د ټولو ښځو سترګې يې پرې وتړلې
په هغه ورځ چې اسه
او پر هغه میینه ښکلې پرتمینه پېغله
ولاړل له سیند څخه لویدیز لوري ته
غوښتل يې هلته پټه شوې څه سپېڅلې خاوره بیا وموميي
د پرتمینې په زړو او هېرو شویو خاطرو کې لکه خوب چې وینې
د یو ختین منګي کیسه ګرځېده
چې په‌کې پاکه او سپېڅلې خاوره
د پرتمینې مور ساتلې وه، د دې لپاره
چې که د غبرګو تورو هغه پاچا
چې لوی لښکر ورسره
له لمرلویدو نه راته
د څرمښکیو او کربوړو له بیدیا نه راته
له وچو دښتو او سارا نه راته
دلته جګړه وکړي او زمکه ټوله سره شي د انسان په وینو
که اوبه رنګ د وینو واخلي او غنم وسوزي
ښايي چې دا طلسم
بیا د غنمو په کرلو مات شي
خو دا غنم باید په پاکه او سپېڅلې زمکه

دوه میینان وکړي
او تر کرلو روسته
ورته اوبه پاکې سپېڅلې ورکړي
داسې اوبه، چې په کې رنګ د وینو نه ښکاریږي
داسې اوبه او خاوره
چې د انسان وینه پرې تویې نه وي
د پرتمینې په زړو زړو یادونو کې څه داسې کیسه

ورو ورو راویښه شوه او رنګ یې راوړ
نیازبینه مور یې په خاطر کې راغله
خوږه مورکۍ، چې د دې غره په شان ښایست یې درلود
او لکه سیند کې د رڼو پاکو اوبو غوندې یې مینه زده وه
مورکۍ د ختو یو منګی درلوده
مخکې تر دې، چې د بیدیا لښکر راورسیږي
او تر دې وړاندې چې په وینو سرې شي
د غبرګو تورو د پاچا دوه جلوهلې تورې
وړاندې تردې، چې د سیند دواړه غاړې خلک خپلو وینو کې راوپرځیږي
او د زړې کلا ترخنګه یوه لویه هدیره جوړه شي
وړاندې تر دې چې ارغوان د وینو ډنډ کې ډوب شي
یو پلو پاکه او سپېڅلې خاوره
بس دومره خاوره چې د سرو زرو تاویز کې ساتل شوي غنم
په کې راشنه شي او طلسم مات شي
د پرتمینې مورکۍ
منګی له خاورو ډک کړ
په خپل پلو کې یې له پاکې زمکې
منګې ته خاوره راوړه
او پرتمینې ته یې داسې وویل:

زما خوږې، زما پرتمینې لورې
دغه منګی هېر نه کړې
او دغه پاکه خاوره
کېدای شي موږ به نه یو
خو د جګړو او د لمبو طلسم
د خپلواکۍ له شنو غنمو پرته
په بل څه نهماتیږي

دا شنه غنم سپېڅلي خاوره او د پاکو اوبو ښاخکي غواړي
داسي اوبه او داسې خاوره چې پرې وينه د انسان لا تويې شوې نه
وي
دغه منګی هېر نه کړې
او دغه خاوره تل په ياد ولره
زما پرتميني لورکی
زما نازنيني خورې
زما زړورې بچی
زما د دنګو دنګو غرو تورپېکی
اې د اسه ناوکی
په دې منګي کې پاکه خاوره تل په ياد ولره!
او پرتمينه چې نن بيا وينه شوه
د لوړو غرو د سردرو د ځوان شپانه په شپېلی
نو خپل مېين اسه يې لاس ښخه نيولی له سيند پورې ولاړه
لکه ورو ورو يې چې څه لرې لرې تللې خاطرې ياديږي
منګی
مورکی
او خاوره
غنم
او داسې اوبه

چې په کې ويني بهېدلې نه وي...
مورکی ته چېرته يې چې ښکل دې کړمه
خدايزده چې چېرته به دې بيا ووينم؟
منګی به چېرته وي له خاورو نه ډک؟
اې خدايه ته مې مل شې،
چې دا سپېڅلې خاوره بيا پيدا کړم
ښايي، چې زموږ د زاړه کور انګړ کې

یا د باغچې په زړه کې
د ها زړې ونې پېنو ته خښ وي
اسه!
راځه چې هغه ځای ته ولاړ شو
راځه باور لرم چې بيا يې مومم
ماته مې بيا د مورکۍ غږ راځي
لکه دا اوس يې چې اروا ماته نارې راوهي
اسه!
راځه چې ورشو
دا سيند مې نه هيرېږي،
د سيند له دغې کږې غاړې ښخه لږ ورپورته
زموږ کورګی ودان و
ښايي چې نښې يې لا پاتې وي په هاغه غاړه
ښايي منګی پيدا کړم
يا په انګړ کې يا باغچه کې کوم ځای
اسه او ښکلې پرتمينه يوځای
د سيند له ځوږرنده اوبو واوښتل
د سيند له غاړې لرې
څو لس قدمه مخ د غره په لورې
هلته د دوی هغه لرغونی کور ودان و، يو وخت

د پرتمينې ذهن
لکه د لړو او غبار تر شا
خپله مورکۍ وينې، چې ډک منګی کوم لورې ته وړې
ورو ورو د ذهن د غبار تر شا خپل کور او هغه شنه باغچه په ياد
کې ورځي
چې له اسه سره يې شوی و د مينې ديدن
مورکۍ يې داسې د غبار تر شا ښکاريږي، لکه خوب چې وينې

ښايي منګی او پاکه خاوره د لرغوني کور انګړ کې  يا باغچه کې
خښ وي
خو سيند بدل دی بدل
دا سيمه ټوله بدله شوې ښکاري
هوا د هغې زمانې په شان رڼه نه‌ښکاري
اسمان د تورو لړمانو، د مارانو – ښامارانو له لوګيو ډک دی
هرځای د ژېړو کاغذونو او د کوډو بوی دی
خلک بدل دي بدل
نارينه ټول ويده دي
او لکه خوب کې چې روان وي، عجيبه ښکارېږي
ښځې او پېغلې ان کوشنۍ نجونې څه نه شي ليدای
ترلې سترګې يې تيارو او ترورېمو سره روږدې ښکاري
اسه حيران دی،
چې د سيند د دواړو غاړو په دې خلکو باندې
څه شوي دي؟
زما د سيمې په هوا باندې دا څه پرېوتي
هرخوا د کوډو د لوګيو خوبولی بوی دی
نارينه ټول ويده دي
او ښځې هيڅه هم ليدلای نه شي
خو پرتيمنه ده په سوچ کې ډوبه

نه خوبوړي نارينه ليدای شي
او نه ترلې سترګې ښځې و نجونې
هغه په خپلو خاطراتو کې ورک کور لټوي
هغه د ذهن د غبار شاته مورکۍ ته ځير ده
چې پاکه خاوره يې منګي کې اچولې ده
او ګرځې داسې ځای
پسې چې ويې ساتي

ناڅاپه ښکلې پرتمينې له اسه وغوښتل،
چې لاره بېله کړي او ولاړ شي د لرغونې ښنې باغچې لوري ته
هلته که ومومي د مور د لاس د پاکې خاورې ډک منګی
او زه به بل لوري ته ولېږوم
منګی او پاکه خاوره
هلته چې زموږ د ها لرغوني کور انګړ ودان و
ښايي مورکۍ به وي خښ کړی هلته
«جدايي راغله لارې دوې شوې
مرګ مې قبول دی، جدايي نه قبلومه!»
اسه عجيب وکتل
د خپلې مينې په ښايسته سترګو کې ډوب شو او موسکا يې وکړه
د دواړو سترګې انديښمنې وې، چې څه به کيږي؟
د دواړو سترګو څه ويل، خو دوی پرې نه پوهېدل
***
خدای پاماني سخته ده
خدای پامانې، د څو شيبو لپاره؟
که نه تر بيا ځلې قيامته پورې؟
خدای خبر څه پيښيږي؟
خدايزده د دوه مينو بل ديدن به څه وخت وشي؟
خو اسه هيڅ ونه ويل

د پرتمينې لاس يې ورو خوشې کړ
ښې لاس ته مخامخ د سيند پرغاړه
يو ناڅرګند ځای ته روان شو او له سترګو ورک شو
چې د لرغونې باغچې ځای پيدا کړي
او پرتمينه د خپل ذهن د غبار ترشا روانه شوله
په خاطرو کې زنګېده زنګېده
که د لرغوني کور انګړ پيدا کړي

ورو ورو نږدې شوه څه اشنا سیمې ته
د غبرګو تورو د باچا قبر ته ورسېده
هغه کوډله، چې له رنګارنګ جنډو ډکه ده
چې پرې ولاړ دي له رنګه تېوتو نه ډک توغونه
هلته، چې ځوان اسه په خپله سپلاوه ورپرې کړه
د غبرګو تورو له باچا څخه مغرووره غاړه
دا ځای اشنا غوندې و
او پرتمینې لا یو څو ګامه اخیستي نه وو...
چې یو ناڅاپه یې تر مخ یو څو کوډګر ښکاره شول
لکه پیریان،
لکه د کوډو دیوان
او سم له لاسه یې د ژېړو کاغذونو د مارانو – ښامارنو لوګي
د دې تر مخې دود کړل
د ښامارانو د انځور د لوګي بوی هوا کې ګډ شو
او د

خلکو هنګامه جوړه شوه
کوډګرو غږ وکړ، چې هلئ خلکو!
یوه پردۍ نجلۍ راغلې دلته
په سترګو نهده ړنده
داسې نجلۍ چې یې دوه سترګې لا تړلې نه دي

هرڅه ته ګورې په پرانیستو سترګو
هرڅه لیدلای شي په سترګو یې خورې نهدي کوډګرې تیارې
هلئ!
پردې خورې کړئ
هلئ!
د تورې توتې داسې یوڅپونې راوړئ
چې زموږ مشر کوډګر

د دغې بدې نجلۍ سترګې په خپل لاس وتړي
هلئ!
چې زمکه باندې اور بل نه‌شي
هلئ!
چې ټکه له اسمانه په مورۍ پرېنه‌وځي
هلئ!
چې بیا کوم سرپرېکړی اتل
د دې د سترګو په کتو پر زمکه ونه‌لوېږي
هلئ!
دا سترګې یې وروتړئ په تورو توټو
هلئ!
نظر ورخخه وتروړئ د ژېړو کاغذو په لوګو
هلئ!
او هلئ!
هلئ!
او پرتمینه چې رګونو کې یې وینه لا د هسکو دنګو غرو بهېده
د خونړیو کوډګرانو په بدرنګه نظرونو سترګې برګې کړلې
او په وچت غږ یې کوډګر ته وویل:
ولې به سترګې تړم؟
زه مې په خپلو دواړو سترګو دا نړۍ وینمه

زه مې په خپل نظر د سیند اوبه، د غرونو څوکې
د خپل محبوب څېره او هرڅه ګورم
زه لمر لیدلی شم او ستوري وینم
زه د سپوږمۍ پلوشې
چې سپینې اوري وینم
دا تاسو څوک یاست، چې زما سترګې تړئ
دا تاسو ولې د سپیځلو نجونو

د ښکلیو پېغلو او ښځمنو له لیدلو نه ویرېږئ داسې؟
په تاسو څه شوي دي؟
چا؟
او په کوم طلسم داسې جادو کړي یاستئ
چې مو د ښځو له نظر سره بدي ده داسې
زه بیا راغلې یم،
دونیا په برندو برندو ګورم
زه پاڅېدلې یم، چې دغه تور طلسم مات کړم
زه به د نورو ښځو سترګې هم رڼې پرانیزم
زه به د ښکلو نجونو سترګو نه پردې لرې کړم
زه به دا ستاسو کودې ونه‌منم
د دې مارانو، لړمانو، ښامارانو تور لوګي به د دې غرونو شنه اسمان
څخه جارو کړم، جارو!
زه به منګی او پاکه خاوره بېرته بیا وموم
چې زما خوږې مورکۍ ساتلې راته
زه به د پاکو اوبو هغه چینه بیا پیدا کړم
چې د زرین تاویز غنمو ته اوبه ورکړي او شنه شي غنم
چې زموږ د دنګو هسکو غرو کلي ته
بیا نېکمرغي راولي
بیا خپلواکي راولي

هوسی به بیا شي زموږ د کلي د ښکلا او ازادۍ ملکه
زه غواړم کلی له دې تورو تورو کوډو او کوډګرو څخه وژغورم د
تل لپاره
د هسکو دنګو غرونو کلی
زموږ د مینې او خوښۍ ټاټوبی
زموږ د اصل او نیکونو وطن
زموږ د ښکلي ماشومتوب او د ځوانیو چمن

زه به دونیا ته ګورم
زه به مې سترګې په رڼا ومینځم
زه به سهار کله چې لمر راخیژي
ښکلي شفق ته ځیر شم
زه به هرڅه ته ګورم
هیڅوک زما نظر له مانه اخیستلای نه شي
هیڅوک زما سترګي له ما نه غلا کولای نه شي
هیڅوک رڼا رانه لوټلی نه شي
زه د مارانو، ښامارنو د لوګیو د دې تورو کوډو
ژېړ کاغذونه د بدمرغه ژوند طلسم ګڼم
او د سپیڅلي پاڅون
د رڼا زیری خپل نظر کې ساتم...
د پرتمیني غږ ناڅاپه د کوډګرو قهرجن څوږ وخوږ
ناڅاپه مشر کوډګر
په نورو چیغې کړې، چې مه یې پرېږدئ
دا نجلی ووژنئ!
سنګساره یې کړئ!
دا نجلی سترګي لري، ژبه لري
د دې نجلۍ داسې خبرې نارینه ویښوي
د دې نجلۍ کتل د ژېړو کاغذونو واک ته ګواښ پېښوي

دغه نجلی د ژېړو ژېړو کاغذو په فرمان
یوه کافره و ګنهګاره ده، عاصي ده عاصي!
د دې نجلۍ سترګي د تل لپاره وتړئ او ویې وژنئ!
هلئ!
د لویې فتنې
او د روښانه کفر،
د ستر فساد او ګناهونو دغه لوی درمند ته اور واچوئ

هلئ کوډګرو لړمان، او ښاماران لوګی کړئ
په ژېړو ژېړو کاغذونو کې د تورو لیکو
کړی کړی او کرښې کرښې انځورونه په هوا کې ګډ کړئ
دا خوبوړي نارینه غوسه کړئ
دا چې په خوب کې ګرځي
دغه له هرڅه ناخبره ویده
په دغې بدې نجلۍ
داسې ورولمسوئ
چې په لغتو او سوکانویې ځواب ووایي
بیا یې سنګساره کړي او اور ورته کړي
دغه نجلۍ ایره کړئ او په سیند کې یې ایرې واچوئ
چې نورې ښځې پوه شي
او خوبوړو نارینه وو ته عبرت شي عبرت!
د ښځو سترګې پرانیستل څه مانا؟
او د سرېو ویښول او پوه کول څه مانا؟
هلئ!
او مه یې پرېږدئ!
او داسې بیاځلې قیامت شو، قیامت!
په پرتمینې یې دویم قیامت کړ:
اول کوډګرو په ډېرو باندې وویشتله

بیا د سیند د دواړو غاړو خوبوړو نارینه وو زلمو
خپلو لمنو او لاسو کې د ډېرو درمندونه جوړ کړل
لس کوډګر سل شول او بیا زر شول خوبولي نران (!)
ګڼ نارینه لکه لښکر د جذامیانو راغلل
په نګوښېدلو ګامو
لاس و لمنې یې وې ډکې د سنګسار له تیږو
د جذامیانو د لښکرو سترګې سرې په وینو

ځېرې یې مسخ وې له ډېرو زخمو
هغه زخمونه، چې لوګیو د کوډګرو یې وو پرېښي په غمجنو ځېرو
هغه زخمونه، د متروکو او غمچینو، چې ترې وینې راتلې
هغه زاولن زخمونه
چې دوی ته نښي د غیرت ښکارېدل
د خوبولو جذامیانو  غیرتي سړیو
غیرت راوپارېده
ډکې لمنې له ډېرو او لاسونه یې له قهره موټې
چې پرتمینه پېغله ووهي او ویې ولې
او د سرو وینو او لمبو په تاو یې زړونه یخ کړي
د غبرګو تورو د پاچا په قبر جوړې خونې
چې پرې د رنګارنګ جنډو توغونه نبغ ولاړ وو
دې منظرې ته کتل
ښایي د غبرګو تورو شاه به موسک و
ښایي د شاه هغه بې سره تنه
دا وخت خوشاله وه، خندل یې او څه ښاده به وه
چې پرتمینه تر ډېرو لاندې
په خپلو وینو سره شوه
د خوبوړو جذامیانو، غیرتي نرانو

زر،

نه په زرګونو کاڼې

په پرتمینې داسې ووربېدل،
لکه د قهر باران،
چې د ښایست په کوم صنم ووري
هرچا ویشته په کاڼو
یوه یوازې، د زمان له ډېرو ډېرو پراونو نه راغلې پېغله
هغې ناري وهلې:

های زما خلکو!
اې د سیند د دواړو غاړو خلکو!
اې غیرتي نرانو!
په تاسو کوډې شوي
تاسو په ښو او بدو نه پوهیږئ
د یو کوډګر په چیغه
خپله ببوزلي خور په کانو ولئ
دغه کوډګر ستاسو د هرڅه دوښمنان دي،
ولې نه
وینبیږئ؟
لږ څه راویښ شئ، ګورئ دا څه کوئ؟
زه یم راغلې، چې طلسم مات کړم
زه یم راغلې، چې دې ښځو ته رڼا راولم
او نارینه وو ته وینتیا راولم
دغو تیارو ته روښانتیا راولم
زه یم راغلې چې سپېڅلي خاوره بیا ومومم
د خدای لپاره ویښ شئ!...
خو خوبوړو غیرتي نرانو
د پرتمینې چیغې نه اورېدې
د ښامارانو او مارانو په لوګیو مستو غیرتي نرانو

لاپسې غټې غټې تیږې کړې لاسو کې پورته
او پرتمینه یې سنګساره کړله
د پرتمینې له بدن څخه د وینو لارې لارې بهېدې هره خوا
کوډګران لوړ د غبرګو تورو د پاچا د قبر څنګ ته ولاړ
او دې هرڅه ته یې په برندو کتل
د غیرتي نرانو شور و زوږ کې
د کوډګرانو د کړس کړس خنداوو غږ ننوت

لکه د دنګو هسکو غرو په شنه اسمان کې، چې د ژېړو کاغذونو لوګي
کړۍ کړۍ ورکېدل
غټ کوډګر موسک و او وړو وړو یې
په ژېړو داړو خندل
د خوبولو غیرتي نرانو نوي لښکرونه راتلل
لاس و لمنو کې یې پنډ دبري
چې د رنګینو جنډو
او رنګارنګ توغونو
د خونې خواته،
هلته
چې په کې بې سره تنه پرته وه
د غبرګو تورو د اتل پاچا
د دغې خونې ترشنګ
یوه نجلۍ په خپلو وینو لژند
د تورو زلفو له هر ول ښخه یې لیکې د سرو وینې راتلې
او نوره نه ځګېرویده
یوازې سپین لاس یې و هسک نیولی
د هغې سپین لاس هم په وینو سور و

له لرې داسې برېښېده لکه د ناوې لاس چې سور وي په نکریزو باندې
نجلۍ لوېدلې وه
او
د غیرتي نرانو ډلو پرې د کانو ګوزارونه کول
نجلۍ لا سپین، په وینو لژند لاس و هسک نیولی
څه شېبه روسته غیرتي نرانو

د نجلۍ هغه بدن
چې نيم په وينو سور و
نيم يې په خاورو سپېره
له دغه ځايه کش کړ
چا له ويښتو څخه نيولې وه روښانه نجلۍ
او چا له هغه سپين، په وينو لژند لاس څخه کاږله د ډبرو ترمنځ
چې يې نيولی هسک و
د پرتميني په بدن پسې د وينو يوه سره ليکه روانه وه په توره زمکه
خدايزده په دې ليکه يې څه کښلي وو؟
لکه د خپلو جلادانو د طلسم لوګي
داسي کړۍ کړۍ د وينو کرښه
د کاڼو لوټو ترمنځ
وه راکښل شوې مخ د سيند په لوري
د سيند په غاړه يې د ښکلې پرتميني په بدن باندې د ژېړو کاغذنو يو لوی درمند جوړ کړ
او بيا يې اور ورته کړ
په ژېړو ژېړو کاغذونو کې د لويو ښامارانو او مارانو ليکې وسوزېدې
او پرتمينه يې ايرې ايرې کړه
د لمبو منځ کې لا هم لاس د پرتميني هسک و

د هغې سپين لاس، چې لا لژند په سرو وينو يې و پاس نيولی
تورو لوګيو لا تور کړی نه و
او
پرتمينه د مارانو، ښامارنو په لمبو ستې شوه
داسې ايرې ايرې شوه
چې شين اسمان د هسکو دنګو غرو د کلي يې لوګي ته په ژړا سترې شو

د غبرګو تورو د پاچا د قبر خواته لا کوډګرو خندل
په ژېړو داړو يې کړس کړس خندا ته خولې خلاصې وې
او غټ کوډګر لا موسک و
د پرتمينې د بدن روستی ايرې د ژېړو ژېړو کاغذونو تر ډېری لاندې
د سيند په غاړه
داسې په مړو اوبو کې وښوييدې
لکه ختيځ ته چې د تلو تږې وي
لکه د خپل اسه په ورک او ناڅرګنده برخليک پسې، چې لاره باسي
او پرتمينه لاړه
ايرې ايرې اوبو کې وبهېده
ښايي يو لاس يې لا هم هسک ساتلی
ښايي تر هغو يې سپين لاس چې نور په وينو سور و
اسمان ته هسک وي، چې اسه پيدا کړ ی
خدای خبر څه به پېښ شي؟
د پرتمينې مين
زلمی اسه به اوس په کوم مالت کې
د پاکې خاورې په منګي پسې باغچه لټوي؟
د خوبولو غيرتی نرانو
سينې د ښکلې پرتمينې په لمبو يخې شوې
او لا کوډګرو د رنګينو جنډو خوا ته په کړس کړس خندلې

په سيند کې څو ژرندې اوبه لا مړاوې مړاوې په حسرت بهيږې
سيند خپلې لور ته ژاړي
د پرتمينې ايرې ليکه ليکه
د سيند اوبو سره راونې دي ختيځ لوري ته
د پرتمينې ايرې
د اوبو ذهن مينځې
سيند لا روان دی،

لیکه لیکه د ایرو یې په اوبو ګډې دي
ختیځ د خپلې ښکلې لور ایرو ته لارې څارې
ختیځ د خپلې ښکلې لور راتلو ته فرش د رڼو اوښکو غوړولی په لار...
په هغه تور ماښام، چې سیند خپلې اوبه د پرتمینې په سپېڅلو ایرو ومینځلې
په هغه شپه، چې د ستې پېغلې اروا د غره په لوړ دیواله ونښېده
دلته هوسی وژړل
د خپلواکۍ د ملکې له سترګو ډېرې اوښکې وبهېدې
په هغه تور ماښام زموږ ځنګله کې
یو لیونی باد داسې توند لګېده
لکه د ونو له ډېرونو سره جنګ چې کوي
باد لکه وږی لیوه
په ځنګله ننوت له څانګو نه یې خرپ پورته کړ
او غره د باد له انګولا سره په کوکو ژړل
هوسۍ سلګیو کې څو پېغلې کلیوالې ځانته وبللې
وېویل: ولاړې شئ، په تن کړئ د وریښمو تورې تورې جامې
او په تیاره کې ورشئ
د هغه سیند په لورې
چې په کې زموږ پرتمینه وسوه

زموږ ستې مېینه پېغله چې اوبو کې د ډېوې په شان روښانه بل شوه
له هغې پاتې ایرې
او هغه لاس چې یې لا پاس نیولی
هغه سپین لاس، چې اوس په وینو سور دی
چې لا لوګیو او لمبو د اور تور کړی نه دی
د دغه غره د نښتر ډډ نه په جوړ شوي میناتور تابوت کې
د غره په ډډه ها دیوال ته یوسئ

او هاغه برج کې يې دويم ځل خښ کړئ
چې په کې باد لا په اتڼ سر دی
د پرتميني تابوت
يوازې پېغلې په اوږه پورته کړئ
د خوبوړو غيرتي نرانو سيوري نه يې هم وساتئ
ورځئ!
زما ښکليو نجونو
ورځئ!
د ميني او پاکۍ ښاپيرو!
او کليوالو نجونو داسې وکړل
د پرتميني تابوت،
چې يې لا سپين په وينو سور لاس ښکارېده ورخخه
پاس يې نيولی و او نه و لا تور کړی د لمبو لوګيو
په هغه برج کې خښ کړ
چې په کې باد لا په اتڼ ځرخېده
ها ليونی باد، چې ځنګله کې يې له ځانګو ښخه ملا ماته کړه
د زاړه برج تر منځ لا هغسې ترځانه ګرد اتڼ کولو
لا سباوون د لمر زرين جام ته شېبې شمارلې،
چې کليوالې پېغلې ببرته راغلې
او د هوسۍ غوږ ته يې راز غونډې کوم څه وويل...

ملنګ بابا داسې کيسه وکړله
او موږ حيران و حيران
ما ورنه وپوښتل:
بابا !
زموږ اسه،
هغه اتل،
په پرتميني ميين

ها چې وتلی و، د پاکې خاورې ورک منګي لټون پسې، په کومه ولاړه؟
د خپلې مینې له غمجنې کیسې چا خبر کړ؟
خدایزده په هغه به څه پېښنه وي اوس؟
اسه خبر دی که نه؟
ملنګ بابا په لمدو سترګو موسک شو
د هغه سترګو کې د راز بربښنا بیا وځلېده
او زه پرې پوه شوم، چې دا راز لا د ویلو نه دی
ملنګ بابا د خپلو سترګو په بربښنا پوه کړمه
چې دغه راز به درته روسته بیا هوسۍ ووایي
زموږ د دنګو هسکو غرونو د خوښۍ او ازادۍ ملکه
چې اوس زموږ د کلي
ورک برخلیک ته ژاړي
د مرګ و ژوند په بستر
د سپین ململ شاته یې سترګې نیمه خلاصې شنه اسمان ته ګوري...

# څلورمه برخه

## لا یو څرک د رڼا ښکاري

## ورک منزل د پاکې خاورې

هوسۍ لړ وځګېږوېده
ورو يې بيمارې ښکلې سترګې ما او زما ښايسته ميينې ته راواړولې
هغه چې تورې تورې سترګې يې له اوښکو ډنډ وې
موړ ورنږدې شو، چې يې غږ واورو
نور کليوال چې پوه شول
هوسۍ څه راز وايي
ځو ګامه شاته ولاړل
او په ادب يې سترګې زمکه باندې وګنډلې
هوسۍ عجيبه افسانه پيل کړه
زموږ د د نګو دنګو غرو د کلي
د سبا ورځې يې کيسه پيل کړه
څه يې په ماتو او رنځورو تورو
څه يې په ډېره تلوسه پيل کړه
زموږ د دنګو هسکو غرونو د عزت او خپلواکۍ ملکې داسې وويل:
اسه هغه کتيبه وموندله،
چې پهکې پته د سپېڅلې خاورې
د ها لرغونو زمانو په ژبه

ده ليکل شوې په مرموزو کرښو
ها ډبرليک، چې ليکل شوی و تر ډېرو زمانو ورهاخوا
د پرتمينې مورکۍ
د يوې نښې په شان پريښی موږ ته
په ډبرليک کې د منګې او پاکې خاورې ځای کښل شوی په لرغونې ژبه
په ډبرليک کې ډېر رازونه په مرموزو کرښو
د هسکو دنګو غرو د کلي پرې داستان ليکلی

او هغه لويي خزانې، چې زموږ د کلي په سينه کې نغښتي
اصلي کيسه دلته ده
زموږ د هسکو دنګو غرو په زړه کې
زموږ د خوار کلي په هره لويشته
زموږ د هرځنګل سمسور ګوګل کې
زموږ د هر اېلبند په پراخه سينه
زموږ د دښتو بيابانونو تر پراخو ټټرونو لاندې
د سرو لالونو او غميو خزانې خښې دي
په هره لويشت کې مو د سرو زرو سِکې خښې دي
د دغه کلي دغه لويې خزانې، دغه بېشمېره سِکې
ځان ته راکاږي د دونيا ښاماران
د سپينو، سرو او تورو،
د اورنيو خونړيو او يوسترګو زنځيري ديوانو
د څه خوني، د څه وحشي ديوانو
د بلاګانو د شيشکو او پيريانو جنګ په دغو خزانو باندې دی
زه د دې کلی هوسی
د دغو خلکو د ژوندون ښاپيری
د خپلواکی ښتنته
د دنګو هسکو غرو د کلي د سپېڅلو ساده خلکو د ارمان ملکه

د دې پراخو خزانو بلهاري شوې يمه
د دې بېشمېره شتمنی قرباني شوې يمه
زه که لاتـديو کړمه اسيره، د لويديځ د ماښامونو ښار کې
زه که اورديو د کنګلونو ښار ته
په زنځيرونو، زولنو کې بوتلم
که زماني پخوا،
د غبرګو تورو شاه و له بيديا راغلی
د ځرمښکيو او کربوړو له صحرا راغلی

که روسته بیا د غبرګو تورو د پاچا بل لمسی
هغه چې ژېړ زمری یې نوم و او د ژېړو کاغذونو لوی کاروان یې راوړ
او له هغه سره یوځای و د کوډګرو لښکر
که د ختیځ له لوري
د ابلیس دښتې نه پیریان یا د یوسترګي دیو زوزات راتلل
دا هرڅه هرڅه بس د دغو خزانو لپاره
د دې بېشمېره شتمنیو او د سرو زرو سِکو لپاره
ټولو غوښتل، چې زموږ د دنګو هسکو غرو له زړونو
زموږ د کلي له ګوګل،
زموږ د ځنګلو له منځه
زموږ د دښتو له تېټر او زموږ د هرې لویشتې زمکې له رګ رګ
څخه د وینې په شان
دا خزانې ولوټي
زموږ غمي یوسي
او
زموږ سِکې ولوټي
زموږ شتمنې خپلو ښارونو او بیدیا ته یوسي
دوی زموږ له رګ رګ څخه وینه باسي

لکه له زړونو مو چې مینه باسي
دیوان،
پیریان،
ښاماران
ابلیس،
شیشکې،
کوډګر
ټول خزانو پسې دي

زموږ غمیو او سِکو پسې دي
دوی په لوګیو، طلسمونو او د کوډو په زور
زموږه خلک تل بنګساره ساتي
لکه ویده ګرځنده مړي یې ناکاره ساتي
د ښځو سترګې تړي،
نجونې یې خوښې دي ړندې په نظر
د پیغلو سترګو ته رڼا نه‌غواړي
ویښو زلمیانو څخه وېره یې په زړونو خوره
له بینا نجونو نه یې ترهه په وهمونو خوره
ټول سره یو دي، بس زموږ کلی یې وران خوښیږي
د خزانو او سرو غمیو یې کاروان خوښیږي
زموږ سیندونو کې رواني د ژوندون چینې دي
«آب حیات» زموږ د غرونو اوښکې
ټول دي راغلي، چې له موږ «آب حیات» ولوټي
رڼې خوږې اوبه، غمي غوندې نبات ولوټي
ژېړ زمري پټ د لاټدیو لاس نیولی
لاټدیو په تاج کې لا زموږ هغه الماس نیولی
د کوه نور په ځل یې سترګې لا ځلیږي د دیو
ورډیو په ییږه راسپړیږي، چې بیا جنګ ته راشي

د خزانو او د سکو په هوس ړوند یوسترګی دیو راځي
شیشکو لارې دي نیولې چې کوډګر له ژېړو ژېړو کاغذونو ښامارن
لوګی کړي
دا ټولې کوډې، طلسمونه او ړانده دمونه
د لړمانو او مارانو لیکه لیکه تاویزونه او بوینه د خنزیر وازده
په زعفرانو لیکل شوي اوراد
او نیل‌توتیا د شیطان
زموږ کلیوالو باندې شوي دي بلا د بنګساری کوډې

نران ویده دي په تیارو کې بېخبره ګرځي
اوتر اوتره ګرځي
د نجونو سترګې يې ترلي دي په تورو ټوټو
ښځو او پېغلو ته لیدل لویه ګناه ده، ګناه
د خزانو او سرو سِکو په مینه مست دیوان زموږ له کلي ګرد تاویږي
زموږ د دنګو هسکو غرو د زړونو پانګو ته يې لاس نه رسي
ځکه د ټولو خزانو د پرانیستلو رموز
په یو زاړه ډېرلیک
زموږ په لرغوني ژبه
او په مرموزو تورو
دي لیکل شوي پخوا
دا ډېرلیک اوس له اسه سره دی
اسه د هسکو دنګو غرو په سردرو کې ورک دی
په ډبر لیک کې د رموزو ترڅنګ
د یو منګي او پاکي خاورې پته هم لیکلې
چې د غنمو درې داني يې غېږ کې
دمې ته لارې ځاري
کوډګر لا کوډې کوي

چې دا لرغوني کتیبه ومومي
چې په مرموزو تورو
او په لرغوني ژبه
د خزانو د پرانیستلو په رموزو پوه شي
اسه،
زموږه اتل
په پرتمیني میین
له کتیبې سره له ټولو کوډګرانو ورک دی
له تورو، سرو، سپینو دیوانو ورک دی

هم له شیشکو او پیریانو ورک دی
کوډګر لګیا دي او لا کوډي کوي
د ژېړو ژېړو کاغذونو د مارانو- ښامارانو تور لوګي يې شين اسمان
ته درومي
په دغو کوډو نارينه ويده دي
لکه ښنګساره په اپيمو روږدي
لکه جذام وهلي،
لکه زخمونو د متروکو او غمچينو په بدن چيچيلي
له هرڅه هرڅه بېخبره او په خوب کې روان
نجونې او پيغلې لا ليدلی نه شي
سترګې يې پټې دي،
رڼا ورته ګناه ښکارېږي

کوډګر د کوډو په زور
له کليوالو غلي
په کتيبې پسې هرځای لټوي
په کتيبې پسې راغلي ديوان
په کتيبې پسې راغلي پيريان
شيطان،

شيشکې
او
د ژېړ زمري ړانده لارويان
ټول راټول شوي دي د دنګو هسکو غرو د کلي ګردچاپيره
څه يې خټيځ ته د ابليس دښته کې
څه يې ړانده دي زموږ د غرونو له رګونو راوتليو د ژوندون اوبو ته
او کوډګر کوډې کوي
خو اسه ورک دی
خدای خبر د کوم شپانه په شپول کې پټ دی

یا ځنګله کې

چېرته
د ها زاړه تندر وهلي چنار ډډ کې ناست دی
له ډېرلیک سره یې زړه درېږي
هغه مېین زړګی چې
له هر یو درز سره دوه نومه اخلي
د پرتمیني نوم د میني په یاد
او ډېرلیک کې د لرغوني زماني افسانه
دې کتیبه کې لیکل شوي په زړه ژبه اسه پوهیږي
بل څوک یې نهشي لوستی
اوس د کوډګرو او دیوانو هم اسه په کار دی
هم کتیبه او هم د ډېرو خزانو هغه مرموزه ژبه
چې د غمیو او سِکو خزاني پرانیزي د رمز په کیلي

***

لا هم طلسم د دیوانو او کوډګرو هغه وخت ماتیږي
چې ستا د تورو تورو سترګو د نجلۍ د غاړې

په پروت زرین تاویز کې
غنم راشنه شي په سپېڅلي خاوره
د داسې زمکې خاوره،
چې د انسان وینه پرې تویې نه وي
او دا غنم خړوب شي
په داسې پاکو اوبو
چې د انسان د وینو رنګ په کې ګډ شوی نه وي
د پاکې خاورې منګی
د پرتمیني مور خښ کړی یوه داسې ځای کې
چې کتیبه کې یې نوم

زموږ په لرغوني ژبه کښلی دی، په ورکو تورو
ای! زموږ د دنګو هسکو غرو شپونکيه
ما ستا شپېلۍ نه دا کيسه واورېده
ستا له نغمو مې دا عجيبه افسانه واورېده
زموږ د کلي د غمونو دا داستان خو ستا شپېلۍ کړ بيان
ستا د شپېلۍ نغمو کې بل فصل د اور هم شته لا
يو ژېړ ښامار چې يې له خولې نه سره اورونه اوري
په شهپرونو يې د غرونو ديوالونه هسک دي
د لوړو لوړو غرو له شا نه راځي
د افسانو د لوی ديوال هغې دونيا نه راځي
چې له ديوانو او کوډګرو خزانه خپله کړي
ښامار په چوغو سترګو
زموږ د دنګو هسکو غرو ګاونډ کې داسې غځوني کوي
چې زمکه هم لړزوي
اور ديو،
لاتديو
او کوډګر

ابليس، شيشکې پيريان
د غبرګو تورو د شاه نوي زوزات
له دې ښاماره ريږدي
د ټولو زړه باندې د ويرې بوړبوکۍ ګډه ده
ښامار زموږ د کلي
په خزانو پسې تکل کړی دی
د لوړو غرونو ترشا
په يوې لارې يې بورجل کړی دی
کوډګر لا کوډې کوي
او کليوال له خوبه نه ويښيږي

د نجونو، پېغلو سترګې پټې دي لا
او د ښځمنو لیدل
لویه ګناه ده،
ګناه.
خو له دې هرڅه سره
لا وچې نه دي زموږ د هیلو چینې
د هر طلسم ماتېدو لپاره
موږه ژوندي یو دلته
او سترښتن مو وینې
موږ لا ژوندي یو،
زما ښکلیو کلیوالو واورئ!
دا طلسمونه ماتول غواړي
د ښامارانو او دیوانو ملاوې
سر او هډونه لړزول غواړي
د هسکو دنګو غرونو دغه کلی
له دغو تولو نه ژغورل غواړي
د خوبولو نارینه وو ویښول غواړي

د پېغلو، نجونو، ښځو
ترلې سترګې پرانیستل غواړی
رڼا ته تلل غواړي
هرڅه لیدل غواړي
غنم کرل غواړي
د دنګو هسکو غرونو
د کلیوالو ژوند ژغورل غواړي.
غنم کرل غواړي

## پاکې اوبه چېرته دي؟

هوسۍ موسکۍ وه،
ښکلو سترګو يې اسمان ته کتل
غبږ يې اوس نه ځګېږوېده
د قهر اور يې اننګو کې ګلابي رنګ په نڅا راوسته
په ښکلو شونډو کې يې وينه تاو وه
يوځل يې ماته په عجيب شاني نظر وکتل
بيا يې زما د تورو تورو سترګو مينه کړه له سترګو تېره
او تر دې مخکې چې موږ وپوښتو: د پاکو اوبو راز به څه وي؟
چېرې به بيا مومو رڼې اوبه، چې وينه د انسان پرې بهېدلې نه وي؟
هوسۍ په خپله وويل:
د هغو پاکو اوبو
چې به خړوب کړي غنم
هغه غنم، چې د منګي سپېڅلې خاوره کې يې تاسو کرئ!
هو!
د هغو پاکو اوبو راز هم شپېلۍ وړايه
دا اوبه شته،

خو نه په زمکه کې چينه لري،
نه سيند او نه باران نه راځي
نه چېرته لوړو غرو نه
نه له بيابان نه راځي
د دغو پاکو او سپېڅلو اوبو
چينه په سترګو کې ده
د لوړو غرونو هسکو دنګو څوکو
د سردرو لمن کې
زموږ د کلي د ښځمنو، ښکلو پېغلو او کوشنيو نجونو
په هغو سترګو کې، چې

له زمانو راهیسي پټې دي او هېڅ نه ویني
چې د لوګیو کوډګرانو دي تړلي د تیارو په تېوتو
هو هغه سترګې، چې لیدل پرې د دونیا ګناه ده
د هغو نجونو سترګې، چې د مارانو – ښامارنو په لوګو بندې دي
چې ژېړو ژېړو کاغذونو ترې رڼا لوټلې
د دغو سترګو اوښکې
په یوه جام کې ځاڅکی ځاڅکی واخلئ
لکه سپېڅلې اوبه
دغه رڼې او ځلېدلې اوښکې
داسې راټولې کړئ په نوم د رڼا
چې ترې یوجام ډک شي
او بیا د هغه منګي
سپېڅلې خاوره کې غنم وکرئ
له دغه جام څخه په نوم د رڼا
راڅڅېدلې دغه اوښکې ورکړئ
که زموږ د دنګو هسکو غرو د کلي
د ښځو، پېغلو او کوشنیو نجونو

د سترګو اوښکې – پاکه خاوره کې – غنم وخښني
په هغه ورځ به طلسمونه مات شي
هغه شېبه به لمر راوخیژي زموږ په کلي
هغه شېبه به د مارانو – لړمانو لوګي
د کوډګرانو په سپړمو ننوځي
زموږ د کلي نارینه به ټول راوېښ شي او روښانه به شي
د نجونو، پېغلو، ښځو
سترګې به ووینې رڼا او دونیا
د ښځو سترګې چې رڼا ووینې
نارینه ټول ویښیږي

او بیا به زموږ کلي کې فصل د غنمو شین شي
زموږ کلیوال به کړي په دې غنمو
ماته له ډېرو زمانو نه رانیولې روژه
او زه به تاج په سر کړم
یو ځل به بیا شمه د کلي د خوښی او ازادی ملکه
موږ به په ټولو زمکو
بیا شنه غنم وکرو
دیوان به مات شي، ښاماران به مړه شي
کوډګر به وسوزي د ژېړو کاغذونو اور کې
پیریان به وتښتي، شیشکې به د دروغو افسانو کې مړې شي
او ژېړ ښامار به بندي پاتې شي د دنګو دیوالونو ترشا
زمری به بېرته د کربوړو خرمښکیو بیابان ته ستون شي
اتل اسه به په پالنګ د پرتمینې پریوزي
او زاړه برج کې به لا باد په اتڼونو سر وي
ولاړ شئ اسه پیدا کړئ
کتیبه ووایئ: چې چېرته پاکه خاوره د منګي خښنه ده؟
ولاړ شئ!

د کلي د ښځمنو، پېغلو، نجونو له تړلیو سترګو
د اوښکو جام را ډک کړئ
ولاړ شئ غنم وکرئ
او زموږ کلي ته بیا ژوند راولئ!
پاک خدای مو مل شه! ګرانو!
ورځئ! په مخه مو ګېډې ګېډې ګلونه!

## او موږه دوه میینان

د لوړو څوکو هسکو دنګو غرونو
د سردرو د شنو لمنو خوا کې

هلته یو کلی دی د وینو کلی
د ژېړو ژېړو کاغذونو د لوګیو کلی
چې نارینه یې ټول ویده دي، ویده
او نجونې، پېغلې، ښځې
په سترګو هېڅ نه ویني
داسې یو کلی، چې ماران او ښاماران په کې په کوډو مست دي
او مورډ ددې کلي یو دوه لیونیان
دوه کلیوال او دوه میین ملنګان
یو یې شپونکی ،چې په شپیلیو باندې کوډې کوي
بله ملنګه نجلی
هغه چې تورې تورې سترګې لري
غاړه په غاړه ځو د غرو څوکو ته
چې خپل اتل پیدا کړو
د زمانو له ډېرو ډېرو پړاوونو هاخوا
د شنو غنمو د فصلونو له خوږې زمانې
ها راستون شوی اسه
چې کتیبه یې زموږ د ژوند موندلې

په کتیبه کې زموږ د ورکې ځای لیکلی په لرغونې ژبه
د پاکې خاورې منګی
او زموږ د ډېرو خزانو په رمز لیکلې پته
چې د دیوانو، ښامارانو او پیریانو پرې سیالي ده د ابلیس دښته کې
موږ له اسه سره یوځای ورځو
پاکو اوبو سپېڅلې خاورې پسې
پاکې اوبه زموږ د نجونو، پېغلو
او کلیوالو ښځو اوښکې دي، چې جام ډکوي
او د منګي په پاکه خاوره کې موږ دوه میینان
غواړو غنم وکرو

او کليوالو ته مو ژوند وبښو
هغوی چې ټول عمر روژه نيولې
کلونه وشول د اورونو منځ کې
زموږ غنمو ته په تمه ناست دي
موږه له غره ښخه خپل کلی وينو
چې ترې لمبې او تور دودونه خيژي
خو موږه دوه ليونيان
غاړه په غاړه ځو د غرو ځوکو ته
پاکو اوبو سپيڅلې خاورې پسې
غواړو
غنم
وکرو.
پای

۱۶ دلو ۱۴۰۲

# ته زما ټوله شاعري يې!

عبدالغفور لېوال

WWW.samsoor.COM



هغه کتابونه چې سمسور وو بپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر
لیکه کوي، نور څوک یې
پر لیکه کول اجازه نه لري

WWW.SAMSOOR.COM

WWW.SAMSOOR.COM

# سلام !

عجیبې ورځې دي.
ژوند د یوې ماتې مینې، د ګېډې غم، سیاست او کار تر منځ سرګردانه دی.
باد را الوتی؛ خو ستا له تورو زلفو سره لوبې نه کوي، باد سرونه ریبي، باد په قهر دی او پسرلی د اضطراب په ځنګله کې کولې باسي.
ښکلا د رسمونو، رواجونو او تاویل و ماویل په بوږبوکیو کې راګېره ده او عشق تر ټولو غریب دی. ستا د سترګو مهرباني مې هېره ده، ته مې اوس هم په زړه کې اوسې؛ خو د یوه درد په څېر، د یوې څړیکې په شان.
تر هغه پخوا چې تا ووینم، له تا سره مې مینه وه؛ ځکه ما ټول عمر له داسې چا سره مینه کوله، چې زه پرې ګران یم، زه ځکه په تا ګران یم، چې (زه) یم او دا نګه مینه ده، زه دې په همدې له هر څه ابستلی یم. د همدې لپاره زما ټوله شاعري ستا لپاره ده؛ بلکې ته زما ټوله شاعري یې.
دادی د ژوند شپېږ د برشم پسرلی مې د زخمي سترګو له مخې تېرېږي او ته، چې زما ټوله شاعري یې، لا هم له ما څخه خپه یې او زه خپل ټول شعرونه، چې ستا لپاره دي، یو ځل بیا راغونډوم او خپروم یې.
لمر پر باران وهلو پاڼو راوخوت، زما د خونې پر ښیښه څو څاڅکي راوړغړېدل، او ته مې مخې ته ودرېدې، نن مې ټوله ورځ ستا په هکله فکر کاوه، د کارخونه مې یو ځل د تالندې په

WWW.SAMSOOR.COM

بریښنا رنها شوه، ما ګومان کاوه چې ته به وخاندې، خو دا سې نه وشول، د کمپیوټر پر پرده مې ددې کتاب وروستی شعر یو ځل بیا وکوت، کتاب پوره شو، خو ته لا هم نه یې... دا هر څه ستا لپاره دي.

زما ټوله شاعري زما ټول لیونتوب دی، لیونتوب! ستا لپاره، د وطن لپاره او د انسان د درد لپاره، له جګړې سره زما د ټولې کرکې لپاره او له جګړه مارانو څخه زما د ټول نفرت لپاره، بس په ما کې همدومره لیونتوب ځاییږي.

ته پوهېږې چې زما ټوله شاعري ستا لپاره ده، او همدې ته دومره مغروره کېږې، چې زه دې هېر کړم، هغه (زه) چې پر تا ډېر ګران وم.

✵✵✵

عجیبې شپې دي.

ستوري شته، خو هر وخت چې سپوږمۍ ګرده شي نو وریځ راشي، سپوږمۍ نه ښکاري او باران، زما د خوب د کوټې پر بام اتڼ کوي، زه د څاڅکو له پایکوبۍ څخه خوند اخلم مګر سترګې مې نه پټېږي، چې تا په خوبووینم. دا مې نه ده هېره، چې سپینه، ګرده سپوږمۍ ستا ډېره خوښېږي.

هغه شیبې چې د باران د څاڅکو او لامده بام جګړه اورم، د خپلې ټولې شاعرۍ په هکله فکر کوم هغه چې ټوله ستا لپاره ده -آیا دا په دې ارزي چې بیا یې خپره کړم؟

ظالمه زمانه ده، ځینې خلک دا نه مني چې یو شاعر دې خپلې ګرانې مینې ته دومره ډېره شاعري وکړي، ځکه خو دا ټوله بیا خپروم او دوی ته زور ورښیم، ایله به پوه شي، چې ته څومره ګرانه یې! څومره ښکلې یې او څومره درپسې سوزم...

WWW.samsoor.COM

نه پوهېږم، تاته به زما د ټولې شاعرۍ لیکه تر کومه وغځېږي ،خو درد دادی، چې ستا له سترګو، زما ټوله شاعري لکه یو څاڅکی اوښکه را ورغړي او په لیوني ګریوان کې ورکه شي.

ته هېڅکله نه پوهېږې، چې زما لپاره هر څه همدا شاعري ده، دا چې ټوله ستا لپاره ده.

ګوره !

زما د ژوند ډېرې خوږې شېبې، ټولې خوشالۍ، ویاړونه، غمونه او عاطفې د شاعرۍ په کرښو کې پټې دي او بیا دا ټولې کرښې ستا لپاره دي، خو چې کله زه خپله ټوله شاعري درته یاده کړم، نو ته راته وواییې:

« یوازې خیال او تصور؟ !

زه نه غواړم یوازې په خیال او تصور کې ژوند وکړم

او ستا لپاره یوازې په خیالونو کې ژوندۍ واوسم...»

همدومره سرسري او سوړ چلند !

مګر ته نه پوهېږي چې د شاعر لپاره خیال او تصور څه مانا؟ !

د شاعر لپاره ،هغه څوک هر څه دی، چې په خیال او تصور کې یې اوسي، ته ځکه زما ټوله شاعري یې چې ته زما هر څه یې. هڅه مه کوه ،چې ما د واقعیتونو په ډبرو وولې او راویښ مې کړې، ځکه زه همدا یم، ما ټول عمر په خیال او تصور کې ژوند کړی دی، اخر د خدای لپاره ،زه یو شاعر یم.

عجیبې شېبې دي !

د زړه زرګونه څاڅکي وینه سترګو ته راشي او د شاعر یو څاڅکی اوښکه شي ډېرې اوښکې را ورغړي او په لیوني

WWW.samsoor.com

ګریوان کې ورکې شي، چې یوه شاعرانه کلمه ترې جوړه شي:
((شعر نه دی دا خوناب د زخمي زړه دی ...))
خو ته! ډېره سړه، ډېره بې پروا، ووایې!
«یوازې خیال او تصور!!!»
یو چا ویلي و، سږکال پسرلی دومره ښکلی دی لکه د شاعر معشوقه. اوته، ما همداسې مقام ته رسولې یې، ته اوس د ښکلا نښه یې، هر څه ښایي او وه ځله د ښایستونو په ملکوتي ډنډ کې ومینځل شي، چې بیاله تاسره د تشبیه کېدو وړتیا ومومي، ځکه ته خو د شاعر معشوقه یې!
خو ته په خپل دې مقام خبره نه شوې.
تا زما د ټولې شاعرۍ قدر ونه پېژانده، زما د ټولې شاعرۍ، چې ستا لپاره ده، بلکې ته زما ټوله شاعري یې.
ددې کرښو ګرانه لوستونکیه!
دا کتاب ولوله!
دا زما ټوله شاعري ده، ته یې ولوله او بیا راشه چې زه او ته سره خبرې وکړو!
بیا نو ته راته ووایه، چې هغه ولې له مانه خپه ده؟
ولې وايي چې یوازې خیال او تصور؟!
ته بیا زما له خوا ورته ووایه، چې:
((ته زما ټوله شاعري یې!))

عبدالغفور لېوال
کابل
۱۳۸۸د پسرلي پېنځه څلوېښتمه ورځ

WWW.SAMSOOR.COM

# مکتبي

د بر کلي صايب زاده يم
يو مې آس يوه شړۍ
قصيده مې پخه کړې
ګرځومه کوزړۍ
ځوان مريد د ځرخي پير يم
رنګ دې ورک شي کوډې نه کړم
کوډې باسم
بند بختونه خلا صومه
د مينو زړو ريبار يم
شکرانه مې يا مميز دي يا توتان دي يا مرۍ
څوک د سمال راته خامک کړي
څوک راجوړه کړي خولۍ
د بر کلي صايب زاده يم
يو مې آس يوه شړۍ
نجونې ګردې رانه تاو وي

WWW.samsoor.com

تاویزونه رانه غواړي
ملا تل راته په قار وي
سل کوپرونه راته وایي
خو پروا یې ډېره نه کړم
خدایزده ولې
د کوز کلي په زلمیو باندې ګران یم
ما ته راز د دوی مالوم دی
یو د خان په لور مین دی
بل لېدلې د ملا صایب لمسۍ
د بر کلي صایب زاده یم
یو مې آس یوه شړۍ
د شنډ توت ډډې ته ناست یم
شنډو ښځو ته تاویز کړم
ماشومان له ځېله خلاص شي
ورته دم چې زه ممیز کړم
د برات د میاشتې سر دی
نن اوله پنجشنبه ده
یوه پیغله راته ناسته
ښته ډېره ښایسته ده
وایي داسې تاویز راکړه
چې مې پلار لر بسلمان شي

WWW.SAMSOOR.COM

میرات مړی ولور کم کړي
خوږ جانان مې مسا پر دی
په دوبۍ کې مزدوري کړي

✵✵✵

نیمه شپه چې شي رابره
په سندرو باندې سر شم
ټول ماران مې په هوده دي
غږوم ورته شپېلۍ
د بر کلي صایب زاده یم
یو مې آس یوه شړۍ
ژرنده ګرۍ مې ښه یار دی
ډیرې شپې سره یو ځای یو
ظالم ښه مست ربابي دی
د ځوانۍ سندرې وایو
شپه چې ښه ډېره پخه شي
بیا نو بله کړو دوهۍ
د بر کلي صایب زاده یم
یو مې آس یوه شړۍ
ژرنده ګرۍ چې نن راغۍ
په خندا یې راته وویل:

WWW.SAMSOOR.COM

صایب زاده کیسې ته غوږ شه
نن اوړه مې د خان یووړل
کور یې ډک له مېلمنو و
څوک له ښاره وو راغلي
په انګړېې شور ماشور وو
یوه ښکلې مېلمنه وه
په ښایست وه ښاپیرۍ
کلیوالو غوندې نه وه
ښکارېدله مکتبۍ
شرمېدله پټ یې وویل:
صایب زاده یار ته دې وایه
پیر خانې ته دې سلام دی
یو تاویز خو راته وکړه
چې جانان ته شم منظوره
شکرانه به پوره درکړم
خدای دې مکړه ادې بوره
مکتبۍ راته دا وویل
بیا یې راکړ دا کاغذ
ژرنده ګړې توبې وکړې
ویل یې ورانه زمانه شوه
مکتبۍ نه وه بلا وه

WWW.SAMSOOR.COM

په خندا ببرته ستنه شوه
په کاغذ کې وو ليکلي:
((په سندرو يم مينه
د نغمو يم ليونۍ
په يو چا مې زړه بايللی
غږوي ښکلې شپېلۍ
يو تاويز ورباندې وکړه
چې ماګل کړي د پګړۍ
د برکلي صايب زاده دی
يو يې آس يوه شړۍ))

۱۳۸۳\۱۱\۱۴
متحده ايالات- مريلند

WWW.SAMSOOR.COM

## يوه شنه دره د مينې

شپه تورې، په لاس لکړه
په همدې لاره شوه تېره
موږه دواړه ورپسې ځو
ستا خندا يو ښکلی تاج دی
پاس په زلفو سها راېښی
ما دې ملا نه لاس چاپېر کړ
ستا پر ولي مې سر اېښی
دواړه ځو د ځنګله لور ته
د سپرلي د ابۍ کور ته
څو مره ښکلی شين ځنګل دی
د څېړيو د ممانړو
چې هر ګام درسره واخلم
زړکي والوځي له کانړو

WWW.SAMSOOR.COM

هغه وړاندې ونې ګورې؟
هلته لرې د سيند کڅ کې
په ډبره راته کينه
غاړه دنګه

سينه سپينه
شه کوتره راته کينه
چې ستا حسن ته نقاش شم
د خپل خيال قلم به واخلم
د هنر په ښايستو کې
ښاپېرۍ به قسم واخلم
ته بيا لږ راته موسکۍ شه
يوه مسته ادا وکړه
غرنۍ شه غرنۍ شه
لږ ساده غوندې کوچۍ شه
ستا تصوير به داسې جوړ کړم
چې پرې تږۍ جهان موړ کړم
آن چې غر هم پرې مين شي
ليونۍ شي په اتڼ شي
سم چې لاس ورته را اوږد کړي
زه يې واچوم اوبو ته
د مست سيند مستو خپو ته

WWW.samsoor.com

چې پرې مست شي بېړنی شي
لکه آس چې لېونی شي
د څپو په لاسو ورکړي
څو څاپېړې د غره مخ ته
خو زه وته يې خوا ته راشو
غره او سيند ته په خندا شو
هغوی دواړه بيا پخلا کړو
د ماشومو زړو غوسه يې
لوبو لوبو کې ترې غلا کړو
شنې درې ده اوږه ايښې
د چينې يې مېلمانه يو
کان د زړه ته يې لاس اوږد کړه
دوړو تېږو په منځ کې
موتی خښ کړه پال وګوره
زړه کې تېره کړه زما مينه
سيپاره د خپل ښايست هم
سپين نازک موتی را باسه
ډک له پاکو وړو تيږو
که غمی په کې را ووت
يا مری يې وه په منځ کې
بيا نو غيږې ته رادرومه

WWW.SAMSOOR.COM

يوه مسته خولګۍ راکړه
نېکشاګومه يې کړې خدايه
بختوره يې کړې ربه !
ژر شه ژر شه لاس دې راکړه
چې باران پر دره اوري
باد وزرونه پرانيستلي
زړه د ترېي ځنګل ګوري
واه ! چې څنګه مې په غېږ کې
د باران څاڅکو خيشته کړې
لکه تکه سپينه زانه
د خدای شين هنر لمده کړې
د باران د څاڅکو هار دې
ځې غمې غمې پر غاړې
مخ آسمان ته سترګې پټې
خدايزده څه له خدايه غواړې
ته دې زنه را نږدې کړه
چې ترې جام د کوثر جوړ کړم
د سينې له ښکلي رود نه دې
دا ترږی زړګی موړ کړم
اخ ظالمې زه دې لوند کړم
ته خو لور د شرشرې وې

WWW.SAMSOOR.COM

زه دې ثاڅکې غوندې ړوند کړم
زما په غیرږه کې شه پټه
چې تر هغو پربنو ولاړ شو
چې ترې لاندې وچه زمکه
لکه ستا تر پیکي لاندې
د سپین وچویلي په شان ده
چې لړ اور هغلته بل کړو
دا تاوده تاوده آهونه
د خپل عشق ورسره مل کړو
زه دې ولې باندې سر ږدم
ته دې لیچې زما پر غاړه
زه دې شونډو باندې خوله ږدم
ته مې زړه نه کیسې غواړه

١٣٧٧/١١/٢
لغمان

WWW.SAMSOOR.COM

# دا ملنګ دا پسرلى

شين سپرلى دى سپين سهار دى
يو رنګين کلى د ګلو
په کې شنې کوڅې د پاڼو
د نقاش د لاس هنر دى
چې د څانګو له بامونو
وروي د وږمو پېغلې
د ګلاب د لاس عنبر دى
يوې ګڼې ولې لاندې
څه وريښمينه شان جونګړه
چې پرې سيورى د څپړيو
يو ښايسته شاني وزر دى
په جونګړه کې دننه
ده د دوه مينو ځاله
يوه ښکلې ملکه د پسرليو
بل د عشق د شينکي کلي جادوګر دى
يو د بل غېږ کې تاوده دي

WWW.samsoor.com

يو د بل کتو کې ډوب دي
بس د يو بل پر ښايست يې
پريو تلی نن نظر دی
چې ناڅاپه وږمه راغله
د شنو پاڼو په کوڅه کې
د سندرو او د مينو
څه ښايسته غونډې محشر دی
آهای !
راغی ملنګ راغی
څه خيرات د حسن راوړئ
خدای(ج) مو عشق کې برکت کړه
دا آواز د قلندر دی
نن راغلی د عشق چم ته
شنه قبا يې ده اغوستې
يو کتاب يې دی تر څنګه
کوږ پټکی يې هم پر سر دی
يو ځل بيا په څرخيدو شو
بيا يې درب ورکړ پښې ته
خو مره مست مستانه دی
له دنيا نه بې خبر دی
په کچکول کې يې پراته دي

يو څو مستې خنداګانې
يو څو اوښکې څو آهونه
يو زړګی دی يو خنجر دی
ملنګ درب ورکړ پښې ته
يو ځل بيا په څرخيدو شو
دی د دوو زړونو منځ کې
عجيبه شان سوداګر دی
آهای !
راغی ملنګ راغی
څه خيرات د حسن راوړئ
خدای(ج) مو عشق کې برکت کړه
دا آواز د قلندر دی
د جونګړې له کړکۍ نه
سپينې لېچې را بهر شوې
د مړوند د بنګړو شرنګ شو
مړوند نه دی سپين مرمر دی
سرو منګولو کې نيولې
د پستو زلفو څو تاره
او يوه د غرور ننبه
د زړې شملې ريتاړه
دا ساعت له خوشالۍ نه

WWW.SAMSOOR.COM

پر ملنګ لکه اختر دی
ددې هر څه په ليدلو
يو ځل بيا په څرخېدو شو
بيا يې درب ورکړ پښې ته
له جونګړې ګرد را تاو شو
دی يې ستوری عشق يې لمر دی
شين کتاب يې مخ ته پرانيست
ورو يې ځان سره دا وويل
هغه څه مې نن موندلي
چې د ټول ژوندون مقصد مې
د هغو په لور سفر دی
دا څو اوښکې څو آهونه
دغه مستې خندا ګانې
دا پرهر پرهر زړګی هم
چې تر څنګه يې خنجر دی
دا د زلفو يو څو تاره
د مغرورې شملې ښنه
او شرنګا د شنو بنګړيو
چې له خوبه مرور دی
دا هر څه چې ټول يو ځای کړم
د زړه ښت اوربلو مه

WWW.SAMSOOR.COM

په نڅا به ترې را تاو شم
همدا اور زما کوډګر دی
دا هر څه په لمبو سوزم
چې د کرکو طلسمونه
هم د وینو جادو مات شو
د جنګونو تور ښامار ته
ما راوړی سور سقر دی
عشق اوله قرباني ده
عشق اوله قرباني ده
یو ځل بیا په څرخېدو شو
بیا یې درب ورکړ پښې ته
آهای ولاړه ملنګ ولاړه
چا خیرات د حسن ورکړ
خدای (ج) مو عشق کې برکت کړه
دا آواز د قلندر دی
چې د عشق پر کلي سر دی
دې کوڅې نه خدای خبر دی
چې په کوم لور یې سفر دی
شین سپرلی دی سپین سحر دی

۱۳۷۸/۱/۲۳
کابل

WWW.SAMSOOR.COM

## نیمګړې مثنوي

ستوري ما تو م ورنه چړې جوړوم حسنه
ستا تر هر قدم لاندې نظر قتلوم حسنه
قتل چې نظر کړم نو له وینو نه یې رنګ اخلم
کسي خرخومه یو سېتار اخلم یو چنګ اخلم
رنګ اخلم د ذهن په پرده باندې انځور باسم
ستا د خندا سیوري ته پیکي لاندې انځور باسم
ستا تصویر چې راشي زړه مې بیا یې شنو خوبونو ته
غږ د شرشرې راځي موږ دواړه ځو ځنګلونو ته
ښکلې پسرلی دی شین ځنګل دی زه او ته یو
عشق مو ښکلی پیر دی مریدان د یوه زړه یو

کابل- وری ۱۳۷۸

WWW.samsoor.COM

# راز

يوه شپه وم مست خرابه
د انګور له ترخه آبه
زنګېدم د خيال په تال کې
د مستۍ ښکلي وبال کې
خدايزده کوم اسمان ته ولاړم
د ښکلا جهان ته ولاړم
انځورګر شوم د خپل ذهن
صورتګر شوم د خپل ذهن
د ښايست قلم مې واخيست
د هنر دفتر مې پرانيست
ځان مې بيا له سره هست کړ
زه شوم «بل» بل «زه» مې مست کړ
خپلو سترګو ته مېلمه شوم
بيا له سره را ښکاره شوم

WWW.samsoor.COM

نازولی شهزاده شوم
د بلاس په اراده شوم
دا بلاس زما هاتف شو
په اسرارو مې واقف شو
د بخملو ننداره وه
د یاقوتو سره صفه وه
پریو ښکلی تخت له پاسه
څو کسان وو لاس په لاسه
تخت و جوړ له سرو بخملو
څلور خواوې يې له زرو
په دې زرو کې انځورو
د ګلونو میناتور و
راسره یو څو مستان وو
ښکلي ښکلي شاهدان وو
یوه پیغله نازولې
د جنت په اوبو ولې
وه له ما سره ملګرې
زما يې سترګې تورولې
په یو لاس يې سلایي و
په بل لاس يې صراحي و

WWW.SAMSOOR.COM

لږ څه لږي شاهدان وو
لکه ښکلي مريان وو
زه غوسه وم خدايزده ولې
لاس او پښې مې غورځولې
چا يو څه کړل چا بل څه کړل
ټولو هر څه زما په زړه کړل
ښکلي پيغلې مې پر څنو
سپينې ګوتې را کاږلې
غلې غلې يې زما غوږ کې
د ښادۍ ټپې ويلې
خو زه نه خوشالېدمه
شيبه نور غوسه کېدمه
ما ويل چيغه به کړم نوره
ددې ډېر قهر له زوره
لامې نه وه کړې چيغه
نه مې وويسته کريغه
چې هر څه يو ځل بدل شول
ښايستونه ټول شډل شول
پيغله ولاړه، شاهدان شول
ټول بدل لوی لوی ديوان شول

WWW.SAMSOOR.COM

د هماغه تخت له پاس
څو کسان وو لاس په لاسه
زه يې ترلی په زنځيروم
د خپل ځان عجيب تصويروم
مګر زړه کې وم خوشاله
بې پروا وم له جداله
خوشالي مې ټوله دا وه
چې مې هيله د سبا وه
يوه پېښنه مې مېلمه وه
يوه غلې شان جګړه وه
ماتېدل وو تويېدل وو
شرنګېدل وو، کړنګېدل وو
زما هډوکي په غورځنګ وو
اتکړو سره په جنګ وو
زما هډوکي ماتېدل به
زنځيرونه شرنګېدل به
جنګېدل وو پرځېدل وو
پاڅېدل خوشحالېدل وو
وم خوشاله دې جګړې ته
د هډوکو غلغلې ته

WWW.samsoor.com

بس عجيبه ګوزاره وه
سرچپه شان ننداره وه
په نعمت کې وم بدحاله
په زحمت کې وم خوشاله
دې هر څه ته فکر وړی
اندېښنو کې پريوتلی
چې ناڅاپه بل حالت شو
ننداري کې يو قيامت شو
هر څه بيا يو ځل بدل شول
د شيبو اتڼ کې دل شول
چې مې وکتل بيا ځان ته
خپل وړوکي شان جهان ته
له خپل ځانه بيګانه وم
يو پريشانه مستانه وم
بل عالم و بيخودي وه
له خپل عقله جدايي وه
خدايزده چاته وم په تمه
بل جهان له بل عالمه
انتظار و بيتابي وه
اضطراب و پريشاني وه

WWW.SAMSOOR.COM

چې يو غړ شو له هاتفه
د اسرار و له واقفه
ژوند د داسې لوبو نوم دی
بې له لوبو ژوندون کوم دی؟
ما ويل دا څه دې سپېڅليه !
د جنت په ګاڼه ښکليه !
دا عجيبه ننداره شوه
چې نن ماته را ښکاره شوه
وايه دې نه مرام څه و
د دې لوبو پيام څه و
ځواب راغی چې لږ ځير شه
مصور د دې تصوير شه
موږ ټول چې را پيدا شو
په همدې لوبو لګيا شو
رانه ځان شو هېر په لوبو
دومره بوخت شو ډېر په لوبو
ژوند همداسې ننداره ده
چې نن تاته دړښکاره ده
موږ هر يو ممثل يو
خپل صورت کې ځان د بل يو

WWW.SAMSOOR.COM

څه چې يو هغه مو هېر دی
خپل تمثيل ته مو پام ډېر دی
پيدا شوي دا سې نه يو
خدايزده څه وو خدايزده څه يو
ژوندون داسې ننداره ده
چې تر مرګه راسره ده
هره ورځ يو نقش په غاړه
کله خانده کله ژاړه
که ښادي ده او که غم دی
که رڼا ده که تور تم دی
دغه هر څه بې مانا دي
اصلي نه دي ټول خطا دي
دغه دوه لوبې چې ګورې
انديښنې کې ورته ښورې
دوه تصويره د عمرونو
د ښاديو او غمونو
په مانا يې نه پوهېږې
په ليدو يې حيرانېږې
دا ژوندون داسې مرموز دی
ښادي پاس ده غم يې کوز دی

WWW.samsoor.COM

خدا يزده ولې يو خوشاله؟!
يا خپه يو پرېشانحاله
بس همدومره پرې پوهېږو
يا خوشاله يا غمجن يو
دا چې ولې؟ خبر نه يو
نه په بدو نه په ښه يو
بس خپل نقش او رول ادا کړو
له دنيا نه ځان فنا کړو
هېڅ خپل اصل ته نه ګورو
ظاهري تمثيل کې ښورو
هيچا و نه پېژانده ځان خپل
د اصلي ځېرې جهان خپل
ژوند د داسې لوبو نوم دی
بې له لوبو ژوندون کوم دی؟
ما ويل زړه ته مې الهام را
ناکرار يم لږ آرام را
تنداري او دغه لوبې
دغه ماتې دغه سوبې
دا ښادۍ او داغمونه
دغه رنګ رنګ تمثيلونه

WWW.samsoor.COM

د صحنو له دې جدال نه
های وهوی او قیل و قال نه
مراد څه دی راز یې څه دی؟
دغه پټ انداز یې څه دی؟
په دې هر څه مې خبر کړه
اضطراب نه مې بهر کړه
هاتف وني وم له لاسه
راګوزار یې کړم له پاسه
د یاقوتو له صفې نه
له دا هسې ننداري نه
زه راولوېدم مه لاندې
پردې خړه زمکه باندې
بیا غږ راغی له هاتفه
د اسرارو له واقفه
معرفت ته دې که زړه دی
پاس وګوره چې ژوند څه دی؟
دا دنیا چېرته پرته ده
چې د ژوند پرې ننداره ده
دا وګړي چېرې ژوند کا
چېرې اند کا چېرې شخوند کا؟

WWW.samsoor.COM

بیا خبر به شې له رازه
د ژوندون له پټ اندازه
چې کتل مې پاس حیران شوم
هم له ویرې په لړزان شوم
د زړه پاڼه لیونۍ شوه
پرې د ویرې بوږبوکۍ شوه
چې مې ولید وړاندې لوری
و ولاړ یو څلور بولی
یوه لویه شان بلا وه
عجیبه شان هیولاوه
لوړ ولاړ لکه منارو
په څېره لکه ښامارو
دا ښامار جوړ له سروزرو
له یاقوتو مرغلرو
سره لالونه یې خالونه
زمرد یې شهپرونه
سر یې لوړ و تر څو غرونو
تاج یې هسک تر اسمانونو
خوله یې خلاصه هیبتناکه
د دوه غرو په شانې چاکه

WWW.samsoor.COM

د صدفو يو څو غرونه
يې په خوله کې وو غاښونه
هغه تخت چې زه ترې راغلم
شيبه مخکې لا پرې ناست وم
هغه جوړ له سرو بخملو
څلور خواوې يې له زرو
د ياقوتو چې صفه وه
د بخملو ننداره وه
همدا تخت يې و په خوله کې
د څلور غاښو په وره کې
څلور غاښ يې څلور پښې وې
څلور خواوې پرې سپرې وې
تخت مو ژبه د ښامارو
زموږ خوارو عجيب کارو
راته داسې هاتف وويل
په اسرارو واقف وويل:
ددې زمکې دا وګړي
لکه ګرځي چېرې مړي
خبر نه دي چېرته ژوند کا
چېرې اند کا چېرې شخوند کا

WWW.SAMSOOR.COM

ټول لګيا د ښامار خوله کې
د سره اور د تنور زړه کې
کړې ګومان چې ننداره ده
دنيا دا ده چې ښکاره ده
د ښامار په ژبه ګرځي
د سره اور پر زمکه پرځي
وايي دا ياقوتي تخت دی
پاچاهي ده ښه مو بخت دی
ژوند د داسې لوبو نوم دی
بې له لوبو ژوندون کوم دی؟
بيا مې وپوښتل چې وايه
حقيقت دی له کوم ځايه؟
د ښامار خېره ده ولې
حيرانتيا کې ډوبه تللې
د هغه له خلاصې خولې نه
له غمجنې شان خېرې نه
اضطراب او ويره اوري
خدايزده څه شي ته به ګوري
چې هم هېښ دی هم حيران دی
هم ويرېږي هراسان دی

WWW.SAMSOOR.COM

څه حيرانه يې څېره ده
ډار و وحشت په کې ښکاره ده
په څه هکله کوي فکر
له څه حاله لري ذکر
هاتف ووېل: چې ګرانه
دا اسرار واوره له مانه
د ښامار دوه سترګې ښکلې
له الماسو جوړې شوې
لرې لرې هلته ګوري
پرې باران د ادراک اوري
ښايي ورک حقيقت ويني
د هستۍ اصالت ويني
هلته لرې بل جهان کې
بل زمان او بل مکان کې
د ژوندون په راز پوهېږي
په دې پټ انداز پوهېږي
نو ښامار د حال په ژبه
د خپل پټ کمال په ژبه
هم په ويره اضطراب کې
داسې وايي ستا ځواب کې

WWW.samsoor.COM

چې نن تا ته در ښکاره ده
ژوندون دا سې ننداره ده
ننداره راغله جنت نه
د وجود له حقیقت نه
ته پوهېږې جنت څه دی؟
چې د ټولې هستۍ زړه دی
جنت جوړ دی له سروره
د یو ښکلي لمر له نوره
دغه لمر او دغه نور یې
دا جنت او دا سرور یې
دا هر څه یو نوم لرینه
ددې پټ راز نوم ده «مینه»

۱۳۷۸/۳/۸
خیرخانه مینه

یادښت:
دغه مثنوي د هغه ځانګړي فکري حالت زیږنده ده چې د مثنوي په لړکې لږ او ډېره اشاره ورته وشوه، دلته شاعر یوازې راوي دی ښايي په ځینو رموزو پخپله هم نه وي پوه.

WWW.SAMSOOR.COM

لوی استاد علامه حبيبي ته !

## پوښتنه

پښتو ابۍ
دا سپې لکړه پر لاس
له کومه لوري راغلې؟
له پنځو سو زرو کالو هاخوا
او
د سلو مدنيتونو له پټې خزانې څخه
څو يې ښکاره دي؟
يو هم نه:
ځکه يوازې
زر کاله پخوا مې
د يو کروړ قلم په وينو سور شو
زما بچو ښايي لومړي قلم ته وينې ورکړې
ځکه چې دوی ساده سپيڅلي وو «رنګونو» باندې نه پوهېدل

WWW.SAMSOOR.COM

پښتو ابۍ !
دا پړ غاړه دې څه دي؟
د پرديو پېغورونو
د زړو سرپو او پولادو اميل
ولې؟
مګر د خپل کاله د زرو او لالونو هغه کان دې څه کړ؟
- ټول مې بچو ته پرېښود
خدای مه کړه وږي نه شي
هسې هم زه ترينه خبره نه وم
چې هغوی ټول وپلوره
- مګر بچي خو دې اوس هم وږي دي
- هغوی ښېرا ووهل
- د چا؟
- د خپلو هغو ورونو
چې يې د دوی د نېکمرغي لپاره
په دعا ګانو کې ړندې شوې سترګې
خو دوی ونه پوهېدل
ځکه دعاوې په ښېرو واوښتې
***
پښتو ابۍ !
کلی دې چېرې دی؟

ـ د نړۍ د سترو ديوانو په قبله کې
ددې ديوانو زما له کلي سره دومره ډېره مينه ده چې
له پنځوسو زرو کالو را په دېخوا
په نذرانه کې هره ورځ زما د زرو بچو
پر مرۍ تېغ را کاږي
پښتو ابۍ!
نو اوس چېرې درومې؟
د سهار کلي ته:
ـ غواړې چې خپل ويده بچي را ويښ کړې؟
ـ نه!
هغوی ويده دي د ابد په خوب ويښېږي کله؟
ـ نو څوک ويښوې؟
د نړيوالو انسانيت ويښوم
چې راته لاره د ديوانو د ماڼۍ وښيي:
څمه ديوانو ته پلو نيسم، زارۍ کومه
چې د بچو وينې مې توېې نه کړي
چې د هغو له لاسو تورې واخلي
چې د هغوی له زړو غلا شوې مينه بېرته ورکړي

غبرګولی ۱۳۷۸
کابل

WWW.samsoor.COM

# تر ګودره هاخوا

ما مې زړې پښې تر څنګ نيولې
د مشدۍ لونګۍ ريتاړې مې په غاړه پرتې
د لارې شګې مې پښو سره خبرې کوې
پرون مې بيا له بر آخوند څخه تاويزا اخيستی
ستا سود دنګې کلا برج کې يې ږدم
وايه چې پلار به دې راضي شي که نه؟
مګر دادا د خدای(ج) له قهر څخه نه ويرېږې؟
دا څو کلونه وشول
چې دې له سپينې خولې نه غلا کومه
د غبرګو شونډو غلا ده غبرګه ګناه
اخر به څوک رانه لاسونه پرې کړي
❋❋❋
اوس په مريو او څونډيو کې پوښ
هغه ښکارې ټوپک هم نه لرم چې
ستا په نامه ورباندې ډزې وکړم
او بس په ډزو دې را خپله کړمه
ورونه، تربرونه مې هم نه شته چې مې ملا وتړي
که نه ګودر نه په راتلو کې مې د ټولو تر مخ
ستا پر اوږه باندې منګی ماتاوه

WWW.samsoor.COM

يا مې دې پېښکه د ټېکرې خېرله
چې دې په خپل نامه کړم

✵✵✵

ستا سو هو جرې سره به
چې د ښپليو لوی کتار جوړ شو
او د چلمو شنه دودونه به د يرې نه په هوا پورته شول
خو بيا به هم جرګه ناهيلې راغله
ما خو په چټ ملنګ خپل بخت خلاص کړی
ته هم ګلدادې سره پټه يوه ورځ ورشه
نه چې ميرې دې وي څه کوډې کړې
څه موده مخکې يې له ښار نه زعفران غوښتي وو

✵✵✵

زړه مې ډېر تنګ دی اشنا !
اوس خو رباب هم پټ په غلا غږوم
چې غږ يې وانه وري څوک
د چرسو شنه لوګي خو هم حرام دي
چرته په پټه کومه شپه ورنه لوخړې باسم
رېښتيا - رېښتيا ، دروغ - دروغ جانانه !
چې دې د سترګو کتاب ونه لولم
په هغه ورځ رانه لمانځه کې رکاتونه هېر شي

✵✵✵

د لو په ورځ مې ستا سو درمند څاره

WWW.samsoor.com

چې تېره لور رانه مړوند زخمي کړ
ستا د ښايسته لوپټې
هغه ټوټه مې لا تر اوسه په مړوند تړلې
وايه ! ميرې ته دې د ځيرې ټيکري ځنګه بهانه جوړه کړه،
پلار دې خبر شو که نه؟

***

ګرانې خامک څادر مې ډېر زوړ شوی
ځيرته په پټه به يو بل هم راته ونه ګنډې؟
ما له بزاز څخه کتان را غوښتی

***

راته په تورو سترګو نېغ وګوره
يو ځلې بيا خوله را کړه
پرون مې بيا له بر آخوند څخه تاويز اخيستی
سبا ته هم يوه جرګه درلېږم
وايه ! چې پلار به دې راضي شي که نه؟
بس يو دسمال دې راکړې
ولور چې هر څومره وي
ما حاجي خان ليدلی
وايي:
«دوبۍ کې مزدوري ډېره ده !»

۱۸تله۱۳۷۸
پېښور – حيات آباد

WWW.samsoor.COM

# نن هم ږلۍ وريږي

نن هم ږلۍ وريږي
او باد د ونو د وروستيو پاڼو منځ کې
لا د تورو په جګړه اخته دی
خو زه د شنې پاڼې د غاړې او د تيغ تر منځ په پوله کې لا
سوچ کومه
چې بيا به هم کله سپرلی ووينم؟
نن هم ږلۍ وريږي
د باد لښکرو د باغچې له شنه ټيکري څخه بيرغ جوړ کړی
او د سيليو کوډګر
د تالا شوې کروندې په ګرد چاپېر را څرخي
ډېرې ږلۍ مې د پنجرې په ښيښه ولګيدې
خو زه وېرېږم
د ږلۍ دانو ته لاس نه وروړم
زه چې ماشوم وم له ږلۍ نه به مې موټې ډک کړل
او پر همزولو مې شيندلې لکه سپنې د واده پټاسې
خو اوس چې لوی شوم خدايزه ولې له ږلېو څخه ويره لرم
مګر دا ژوند مو په دې ارزي چې اوس

WWW.samsoor.com

آن له ښايسته ړلۍ نه هم ويرېږو ؟
موږ چې هوښيار شو نو بد بينه هم شو
دومره بد بينه چې ړلۍ راته قاتله د سپرلي ښکاره شي
نن هم ړلۍ وريږي
زه د باد توره وينم
چې لا د پاڼو د پستې غاړې پر وينو سره ده
مګر د باد په لاس کې د غه توره چا ايښې ده؟
زه چې ماشوم وم نو پر باد مين وم
باد به زموږه کاغذي بېړۍ د سيند اوبو کې
له دې خوا هاخوا وړلې
خو اوس بادونه هم خوني او ليوني شول راته
زموږ د کلي د ماښو جاله يې هم ډوبه کړه
ځکه خو زه هم له بادونو ښخه
ترهه لرم
کرکه لرم
ويره لرم
موږه پر ځان ولې مين يو دومره
چې آن له باد ښخه هم کرکه لرو؟
موږ چې را لوی شو نو ډارن شو هومره
چې له خپل سيوري ښخه هم ويرېږو
موږه کلونه پخوا

چې ماشومان وو ، زړور وو هومره
چې به د ښکلو افسانو له اتلانو سره يو ځای تلو د ديو جګړې ته
موږ له ديوانو څخه نه ويريدو
يوازې هغوی به مو بد ايسېدل
خو په دې نه پوهېدو
چې يوه ورځ به موږ پخپله
شو بدل په څو خوني ديوانو
يو د بل غوښې به خورو
يو د بل وينې به څښو

نن هم ږلې وريږي
وريځو اسمان کې بيا کاروان تړلی
خو اوس هغسې د اوښانو کتار نه ښکارېږي
چې به زموږ همزولو
ورته اتڼ کاوه په شنه دېره کې
او دا کاروان مو د کوچيانو د راتلو لپاره زيری ګڼه
اوس خو له ماتې پنجرې څخه د وريځو څېره
لکه کتار د څو دارونو ښکاري
چې انسانان يې زړولي ورنه
نن هم ږلې وريږي

WWW.samsoor.COM

او زوروړ توپان په ډېره غوسه
زما د کوټې
د پنجرې پر ښيښو ګوتې وهي
تاسو د باد ګوتې کوم وخت ليدلي؟
خدايزده چې تاسو ته به څنګه ښکاري
ډېر ډېر کلونه پخوا
چې باد په دغو ګوتو
زما پاسته وېښتان ورو ورو نازول
ماته پستې ښکاريدې
خو اوس ګومان کومه
چې دا بدرنګه ګوتې
زما تر ستوني را چاپېره دي
او وژني مې په هره شيبه
خدايزده چې زه بدل، که باد بدل شو
کيداى شي باد مې ماشومتوب وړى وي
کيداى شي زما ګومان او وهم بدل شوي وي او س
او باد هماغه باد وي
نن هم ډلۍ وريږي
او باد د ونو وروستيو پاڼو منځ کې لا د تورو په جګړه اخته دى
۱۳۷۸/۸/۱۸
کابل – خيرخانه مينه

WWW.SAMSOOR.COM

# وېره

زه چې ماشوم وم څو کلونه پخوا
یوه شپه خوب کې ویریدلی ومه
او چې مې چیغه وکړه
نو مور مې وویل راته:
«آخ زویه وویریدې؟
خیر دی ویده شه ګرانه
سبا چې ویښ شوې نو چینې ته ولاړ شه
او خوب رڼو اوبو ته تېر کړه یو ځل
خدای(ج) به یې ښه کړي درته
نو ما همداسې وکړل
او سهار سپینه چینه
په یوې ښکلې څپې ونازیده
زما د خوب تعبیر ته ونښېده وخندیده
له هغې ورځې وروسته
بیا ویریدلی نه وم
مګر کلونه وروسته

WWW.SAMSOOR.COM

بيګاه شپه بيا په خوب کې وويريدم
داسې يو خوب مې وليد
چې مې د سترګو کاسې ډنډ له وينو
سرمې ببرو ، لکه زمونږ د افسانو شيشکه
او دوه غاښونه مې اوږده وو آن تر زنې پورې
ژبه مې وه خو غږيدلی نه شوم
ستونی مې و خو غږ مې نه درلوده
د دوه لاسو ګوتې مې دوه چړې وې
دواړو لاسونو مې يو بل قتلول
يو د بل متې يې ريبلې سره
خپل روح مې وليده چې
راته ولاړ دی او چکچکې کوي
يوه هينداره يې نيولې راته
زه مې د ذهن کتاب وينم په کې
زه مې د فکر سبق لولم په کې
ژبه مې وه ، خوغږيدلی نه شوم
ستونی مې و ، خوغږ مې نه درلوده
زما د ذهن کتاب:
سر نه تر پايه تورو
زما د فکر سبق:
سر نه تر پايه اورو

WWW.SAMSOOR.COM

بيگاه شپه بيا په خوب کې وويريدم
آسمان له تالندې بريښنا نه ډک و
زه په يو قبر ولاړ
تر زنگنو مې پښې په قبر کې وې
ښايي زما خپل قبر و
مخامخ لوري نه مې
له يوې ورانې کنډوالې ماڼۍ نه
د کوم چا غږ اوريده
د کومې مستې شهزادگۍ خندا وه
چې د خندا به يې کړس کړس پورته شو
ما به د گوتو چړې
لا هم په خپلو لاسو ومنډلې
لا مې خپل روح ليده چې
راته ولاړ دی او چکچکې کوي
چپ لاس ته لاره مې دوزخ ته تلله
ښي لاس ته ورتړلی
زنځير يې جوړوله الماسو ، کولپ يې سرو زرو نه
د دغه وره له شانه هم د خندا غږ راته
له دې خندا نه وبريدم وبريدم
لکه ښکه لړزيدم لړزيدم
ژبه مې وه خو غږيدلی نه شوم

WWW.samsoor.COM

ستونی مې و خو غږ مې نه درلوده
بیګاه شپه بیا په خوب کې وویرېدم
د شهزداګۍ د خندا غږ داسې و
لکه زما د هېرې شوې مینې
د مستانه خندا غږ
زما يې ځېره هیره ده
خو د خندا غږ يې لا اوس هم په غوږو کې ساتم
همدغه غږ زما له روح څخه کسات اخلي
د هېرولو کسات
د خپل تصویر د ماتولو کسات
هغه تصویر چې مې له سترګو هېر دی
د خندا غږ رانه کسات اخیسته
ژبه مې وه خو غږیدلی نه شوم
ستونی مې و خو غږ مې نه درلوده
بیګاه شپه بیا په خوب کې وویرېدم
او چې له چیغې سره پاڅېدمه
د خپلې مور خبر را یاده شوه چې
«سم له سهار سره چینې ته ولاړ شه
او خوب رڼو اوبو ته تېر کړه یو ځل
خدای به یې ښه کړي درته».
خو دغه خوب وم ویرولی دو مره

چې تر سهاره تم کیدلی نه شوم
په نیمه شپه کې تر چینې ولاړمه
چینه په توره شپه کې
ځلیده داسې سپینه
لکه زما د ذهن سپینه پاڼه
زه له چینې څخه هم وویریدم
ځکه چینې څخه هم
د خندا غږ راغی زما تر غوږو
چینې کې هم چا راته کړس کړس خندل
اوس ویده نه وم ویښ وم
مګر خندا مې اوریده په غوږو
چینې ته وړاندې شوم چې خوب ووایم
د خپلې ویرې کیسه وکړم ورته
خو مې له ستونې څخه غږ ونه وت
چې په چینه کې مې خپل ځان ولیده
نو مې د سترګو کاسې ډنډ له وینو
سر مې ببرو، لکه زموږ د افسانو شیشکه
او دوه غاښونه مې اوږده وو آن تر زنې پورې
ژبه مې وه خو غږیدلی نه شوم
ستونی مې و خو غږ مې نه درلوده

۷/کب/ ۱۳۷۸

WWW.samsoor.COM

# ماتې څانګې

پر دره لويه ګرد له پريوتې
د ځنګله ونې سره نه شي ليدی
ښکته د سيند غيږه غبار نه سترې
څو مره آرامه د رومي
او د باد غږ راځي له لوړو څوکو
څو شيبې مخکې له دې ځايه ده رمه اوښتې
د جړنګانيو شرنګا شرنګ يې لا تر اوسه اورم
او ګردلې لا د تودو وړيو بوی ساتلی
د ځنګله منځ کې يوه ونه سوځيدلې نيمه
څېره يې ډېره ده انسان ته ورته
دوه ماتې څانګې يې ښکاريږي داسې
لکه پرې شوې متې
چې وي اسمان ته پورته
لکه دعا چې کوي
خو لپه ونه لري
ونه يوازې ده بيخي يوازي
زه مې نيم روح ورکوم دا يوازيتوب راکوي
نور درمې شرنګا شرنګ نه اورمه

✱✱✱

WWW.samsoor.COM

او زه د ونې د زړه غړ ته غوږ یم
ونه مینه وه د باد پر زلمي
چې هر سهار به یې دیدن ته راته
د باد زلمی ښکلی و
ونه یې هره ورځ د ځنو شنهار ته نخښېده نخښېده
ونه په ملا کړېده
ونې به زلفې هر لور وشېندلې
او د باد ژنی به په مسته ځوانۍ تېر شو ورنه
خو یوه ورځ پر ونې تندر پریوت
ونه یې وسېزله
له هغې ورځې وروسته
د باد زلمی پر لوړو څوکو ګرځي
او ښکته نه راځي اوس
خو خدای(ج) خبر چې ولې
آن لا تر اوسه د ځنګله له منځه
دوه ماتې څانګې دي اسمان ته پورته
لکه پرې شوې متې
چا ته دعا چې کوي
خو لپه ونه لري

۱۵وري۱۳۷۹
د کابل جلال آباد لویه لاره

WWW.samsoor.COM

# ټوکه

يو ليوني بل نه پوښتنه وکړه:
که اوبه اور واخلي، ماهيان به چېرې کډه وکړي؟
هغه ځواب ورکړ چې:
زموږ د کلي تر سيندونو او ويالو به راشي
ځکه چې دلته که هر څومره وچکالي هم راشي
لا په سيندونو او ويالو کې مو بهېږي وينې
دلته د وينو وچکالي نه راځي
ځکه ماهيان به ټول همدلته راشي
ليوني کړس وخندل:
ته خو رېښتيا چې ليونی ښکارېږې
مګر ماهيان څه افغانان خو نه دي
چې به د وينو په سيندونو او ويالو کې لامبي

۱۳۷۹/۲/۱۱
کابل

WWW.samsoor.COM

## وچکالي

څو مياشتې وشوې چې همدا سې کېږي
باد ونه پاڅېږي او وريځې راشي
اسمان له تورو سپينو، خړو ډک شي
کله د تالندې ګړز هم پورته شي
خو زمکه څاڅکي پسې مړه شوه، باران نه ورېږي
سږ کال کوچيان رانه غلل
او د شوتلې په بدل کې مو چا کورت رانه کړل
ما مې کوچۍ درخو ونه شوه ليدی
تېر ځل مې ښار کې له هيندو نه ما ميره واخيسته
او د هرات سليماني رانجي مې ګډ کړل په کې
ټول کال لګيا وم په مريو مې رجړومه پوښ کړه
يوه هينداره او يوه سلايي
ما ويل درخو به راشي
تېر پسرلی يې رانه سترګو ته رانجي غوښتي وو
زما يې دا خبره نه هېرېږي
چې له خندا سره يې يو ځای وکړه:
«پام چې رانجي يې ښه وي
د يشين پروا د ګناه نه لري رنجو سره سکاره ګډ وي
درخو رېښتيا وويل
زمونږ ګناه ډېره شوه

WWW.samsoor.com

او ډېر سکاره مو د رنجو په نامه وشيندل د بل سترګو ته
موږ د همدې سترګو آزار وړی دی
چې اوس باران نه اوري
څو مياشتې وشوې چې همداسې کېږي
بادونه پاڅېږي او وريځې راشي
خو څاڅکی نه پريوځي
موږ ګنهګاريو
چې باران نه اوري
او کوچيان هم نه راځي
او خدای(ج) خبر زما درخو به وي په کومه تللې
زه به يې هېريم که ياد ؟
کاشکې خبره وای چې
زما رانجي اصل دي
او ما ګناه څخه توبه ايستلې
زه په درخو مين يم
مين ګناه نه کوي
درخو دې خپله ښېرا بېرته واخلي
ګوندې
باران
ووري

۱۴ثور ۱۳۷۹

WWW.SAMSOOR.COM

# رخه

زموږ د کلي د چړي پر آذان
د کلي ډېرو پيغلو زړه بايلوده
زموږ د کلي د جومات حجره کې
چې به چړيانو ميلې جوړې کړلې
او سندمار چړي به غږ د ياکوربان پورته کړ
د ډېرو پيغلو زړه به ودرزيده
په شرم شم غوړې ځنې
په رنجو تورې سترګې
په مخ يې خط راغلی
د دنګ چنار په شاني دنګه ونه
سپينې جامې، کتاب تر څنګ چې په کوڅه تېريده

WWW.SAMSOOR.COM

نو ډېرو سترګو به له بام څخه په پټه څاره
خو زموږ د کلي چړي زړه و پر يوې بايللی
چې به د برآخوند سبق نه راغی
هغې به پټ د دروازې خوله کې منګي څخه اوبه ور کړلې
يوه شيبه به د ديدن تېره شوه
او ګاونډی به دا شيبه وليده
زړه کې به يې بلې شوې د رخې لمبې
ګاونډی هم وه پر چړي مينه
او ګاونډی وه د چړي د معشوقې تربوره
چې به چړي د معشوقې پر منګي خوله کېښوده
نو به ددې په زړه اري تېرې شوې
خدايزده په ژبه به يې څه بلا ښېرې تېرې شوې
چې يوه ورځ يې د چړي د معشوقې ديوس ته
پلو کې غوټه وروړه
يو څه رانجي
او څه د چين نيلتوتيا
دا يې د يخ منګي اوبو کې ګډ کړل

❋❋❋

چړي د برآخوند سبق نه راغی
نجلۍ يې لرې څخه لار څارله
او شېبه وروسته د نجلۍ د دروازې تر څنګه

WWW.SAMSOOR.COM

چړي منګي ښخه او به وښنبلي
او داوبو خوند يې بدل وليده

✵✵✵

سبا د کلي د جومات آذان بدل شو بدل
او چا خبر راوړ چې:
د سندرمار چړي له ستوني ښخه غږ نه وځي
او دواړه سترګې يې ړندې دي ټپې
معشوقې وژړل له ډېره غمه
او ګاونډي، تربورې هم وژړل
خدايزده له غمه
که د رخې او کسات له زوره

۱۳۷۹/۳/۲
موسهی – کابل

WWW.samsoor.COM

# غم، وېره، ګیتار

څو ورځې مخکې مې د کور انګړ کې
بد مرغي لنګه شوه
او غم وزېږېد
یو ځل مې ستونی ډک شو
ما ویل راځه وژاړه
خو بیا مې فکر وکړ
مګر دا ژوند دومره ارزښت لري چې ویې ژاړو؟
غم ته مې وخندل خو وشرمېدم
یو ځل مې زړه وشو، چې شپه باندې پرواړ تېره کړم
خو که ریښتیا ووایم
له لیونیو سپیو ووېرېدم
کله چې ووېرېدم
نو مې له ځان څخه پوښتنه وکړه
آیا دا ژوند راباندې دومره ګران دی؟
خو زه له مرګ څخه نه
بلکې له درد څخه وېرېږم هر وخت
زما ښاریانو!

WWW.SAMSOOR.COM

چې يو ازې پيدا شوي يا ست د مرګ لپاره
او ژوند مو ډک دی ټول د مرګ له رنګارنګ تجربو
آيا د مرګ کور ته مو د اسې لاره هم ليدلې؟
چې له «درد» پرته ما ور ورسوي؟
څو ورځې مخکې مې د کور انګړ کې
بد مرغي لنګه شوه او غم وزېږېد
باد لا د کور باغچه کې ونو ته کيسه کوله
زما ګاونډی چيرته پټ شوی و ګيتار يې واهه
او شپې د واټ پر سر د وريو ليونيو سپيو
کولې زما غوږ ته راوړې
غوښتل مې باندې ووځم
چيغې وکړم
خو وېرېدم، وېرېدم
ليوني سپي له مانه ښه وو، چې پر واټ ګرځېدل
زه غمځپلی خو له ويرې بهر نه شوم تللی
غم مې په کور کې په اتڼ سرو
خو ګاونډی مې چېرته پټ و
او ګيتار يې واهه

۱۲ چنګاښ ۱۳۷۹
کور خيرخانه - کابل

WWW.samsoor.com

# تاريخ

خپله نيزه مې اخلم
ځم د تاريخ جګړې ته
او بيا به هېڅکله را ونه ګرځم
ستا تر معصومې خنداو ګرځمه
د پاکې مينې کيسې
خلکو ته ټوکې ښکاري
خپله نيزه مې اخلم
او ستا ټيکري څخه بيرغ جوړوم
هغه شرقي ټيکرى دې
چې له لويديځه د څلورو سوو کالو پېغور
وربانديې ښبې لري
هغسې ښبې لکه ترمې وچې شوې وينې
لکه د سترې ملالۍ له خولې ختلې کړيکه
خپله نيزه مې اخلم
ځم د تاريخ جګړې ته
هېڅ څوک به ونه وژنم

WWW.SAMSOOR.COM

زما نیزه نوره په وینو مړه شوې ده او اوښکې غواړي
نیزه مې ستړې ده خو شرق ویده دی
نیزه مې ستړې ده سکون غواړي
زه به مې خپله نیزه
د شرق ویده سترګه کې خښه کړمه
خیر دی که ړوند شو
پرې را ویښ خو به شي
تاریخ په کړس کړس خاندي
د ویښ ړانده او د ویده بینا تر منځ جګړه ده
خپله نیزه مې اخلم
د ښاپېریو شهزادګۍ رانه دیوانو بوتله
تاریخ د قاف د غرونو شاته پټ دی
تاریخ دیوانو سره لاس یو کړی
تاریخ د ښکلو ښاپیریو چم ته بیا نه راځي
تاریخ ښامار پېژني
د یو پېژني
لال پېژني
تاریخ زما د نیزې شغ پېژني
مګر ارمان جانانه
تاریخ ستا ښکلی ټیکری
چې پر نیزه تړلی نه پېژني

WWW.samsoor.COM

تاریخ په ټول عمر کې
عاطفه نه پېژني
تاریخ د مینې په نامه پورې ملنډې وهي
آشنا خبر شوې که نه ؟ !
او د تاریخ پر کوڅو بیا ولګېد
او د ښکېلاک پر واټ بل ستوری وخوت
انسان کتاب را واخیست
غوښتل یې خپل تېر ژوندون بیا ولولي
خو خدایزده ولې یې د خپلو وینو بوی څخه خوا وګرځېده
او خپل تاریخ ته یې د «هېڅ» ټکی په کرکه کېښود
او د تاریخ پرکوڅو بیا ولګېد
د مغزو جنګ پیل شو
لاس څخه هېره شوه د تورې قبضه
خو د سیاست توره له تېکې څخه ووتله
څو د تاریخ پر تندي دا ولیکي:
« چې یو انسان
د بل انسان
دوزخ دی».

۳۰تله۱۳۷۹

www.samsoor.com

# د شهزداګۍ خوب

تر شعر مخکې دا يادونې د پام وړ دي:

دا شعر د هغې موميايي شوې شهزداګۍ خوب دی، چې په ۱۳۷۹ کال کې له افغانستان څخه غلا شوه او د کوټې له لارې د کراچۍ موزيم ته ورسيده.

ارشاک: هغه پکتياني زلمی و، چې د کاپيسا نامتو نڅاګره (اوشاس) پرې مَېنه شوه او د هغه په مينه کې يې ځان پر سيند لاهو کړ، ارشاک ښکلی او تورزن زلمی و.

اندوس (سيندو): د اباسين زاړه نومونه دي.

کوشاني: نامتو آريايي پاچهي کورنۍ وه.

پښتيانا، روهستان، آريانا، پکتيکا، پکتويس: د افغانستان زاړه نومونه وو.

آرش: نامتو آريايي غشی ويشتونکی.

بخدي: د بلخ زوړ نوم.

اوستا: زوړ آريايي کتاب.

---

پښتيانا ! چيغې مې واوره
درنه وړي مې درنه وړي مې
پر سر تاج لرم د زرو
کمربند مې طلايي دی
شل کلنه ښکلې پېغله
لوی کهول مې کوشاني دی

WWW.samsoor.COM

د اندوس پر ښپو اوړم
روهستان مې ننداره کړي
دا د کوم عصر جادو دی
له ژوندو ښخه مې مړه وړي
ها تورزن ارشاک دې څه شو
برېتور دې چېرې ولاړه
پکتویسه ! مغرور یاره
لوی لښکر دې چېرې ولاړه
راته ښه په برندو ګوره
زه دې خور یم پښتنه یم
ستا په لاس کې غشی مات دی
چې بربنډه اوس پرته یم
هېڅ د غشي شغ يې نشته
هغه مست کمانکش څه شو؟
لوی وطن مې بې سرحده
راته وایه آرش څه شو؟
زما تر ځنګه دی یو زخم
ستا تر ځنګه یو خنجر دی
د زردښت د دربار نذر
زما د وینو سور پرهر دی
لا لونګ مې وو پر غاړه

WWW.samsoor.COM

آوازه مې د واده وه
په بخدي کې ارشاک ناست و
سل منۍ توره تر څنګه
يا په تمه زما ډولۍ ته
يا راغلی و له جنګه

خو ارشاکه ! زما ياره !
اوس تابوت مې چېرته لېږې
له دوه نيمو زرو کالو
وم په تمه ستا د غېږې

پښتيانا چيغې مې واوره
درنه وړي مې درنه وړي مې
لکه باد چې پاڼه يوسي
يا خولاس د مرګي راشي
ښکلی يار له چانه يوسي
آريانا زما همزولې
پکتيکا زما همزولې
اوستا مې سکه خور وه
د دوه نيمو زرو کالو
د خوږو خوږو خوبونو

WWW.samsoor.com

څو مره تريخ مې دا تعبير شو
خداى خو مه واى ويښه کړې
په نصيب مې بل زنځير شو
پښتيانا ! چيغې مې واوره
درنه وړې مې درنه وړې مې
زه خو ستا د روح تصوير يم
ستا په پټو خزانو کې
ستا خندا يمه ستا وير يم
زه ستا ننبه ته زما ننبه
يو د بل د وجود غړي
ته ژوندى يې ورته ګورې
چې ما وړې در څخه مړي
ستا خوبونه ټول دروغ دي
زما خوبونه ټول پرېشانه
زه دوه نيم زره کلنه
ته پنځوس زره کلنه
دواړه «هېڅ» يو دواړه نه يو
ستا وياړونه ټول دروغ دي
او زما هيلې تش خيالونه
نه ارشاک ستا غيرتي دى
نه تورزن شتنه مړوندونه

زه ستا ښکلې شهزادګۍ وم
د قاف غرونه مې ټالونه
ښاپېريانې مې کنيزې
لوی دېوان مې مريي وو
پاچايانو به غوښتلم
او ما ورونه سکني وو
پښتيانا ! هغه دې هېر شول
چې ته ځوانه وې زه پېغله
د ارشاک د تورې سيورې
ستا لمن ساتله سپينه
زما د حسن تماشې ته
ښاپېرۍ راتلې له چينه
پر ما ډېر زلمي مَېن وو
لکه ستورې، زه سپوږمۍ وم
د ارشاک د غشي شغ ته
د بيابان ټپې هوسۍ وم
او س هغه وختونه نشته
چې زه ښکلې شهزادګۍ وم
په جهان کې وې څو ښکلې
زما همزولې شهزادګۍ وې
لکه زه چې پښتيانۍ وم

WWW.SAMSOOR.COM

څه مصري، څه يوناني وې
هغه ټولې اوس ويدې دي
هغه ښکلې زما همزولې
هم مصرۍ، هم يونانۍ مې
پښتيانا ! چيغې مې واوره
درنه وړي مې درنه وړي مې
غيرتي ورور مې يو نشته
چې مې وګټي نن مړی
نه يو آه راپسې ووت
نه مې چا دی ارمان کړی
نو ارشاکه زما ياره
اوس تابوت مې چېرته لېږې
له دوه نيمو زرو کالو
وم په تمه ستا د غېږې
راته ښه په برندو ګوره
يوه پېغله پښتنه يم
ستا په لاس کې غشی مات دی
چې بربنډه اوس پرته يم

۱۰/ ليندۍ/ ۱۳۷۹
خيرخانه - کابل

WWW.SAMSOOR.COM

## ژوند یوه ورکه لار ده

کله دې لاره په ځنګله کې ورکه کړې مسا پر جانانه؟ !
چې هر خوا ګورې بس د ونو او شنو بوټو پر اتڼ پېښېږې
دومره پوهېږې چې لمر لوېږي را روانه ده شپه
يو ځل کوکو کړي او بيا کغ باسي مرغان ونو کې
باد شغهار کړي د شنو پاڼو او وښو په منځ کې
چېرته ډېر لرې د زړه ځانګو يو خرپ پورته شي
باد ورته وشيشنيږي
وخاندي
چې ماته مې کړه
ځای ځای د بوټو منځ کې

WWW.samsoor.COM

يو ډنډ او به ولاړې
چې يې پر غاړه پلونه وګورې نو وربېږدېږې
څو شيبې مخکې دلته پړانګ راغلی
څو ګامه وړاندې چې ځې
پر تودو وينو دهوسۍ به پښې شې
چې يې پر ليکو د ژوندون د شيبې پای ليکلی
... او ته حيران يې چې شپه چېرې وکړې؟
کله دې لاره په ځنګله کې ورکه کړې مسا پر جانانه؟!
(نه)؟!
دا (نه) دې نه منمه
ته دې ټول ژوند کې را وهلې لاره بيا وګوره
اوس هم حيران يې چې شپه چيرې وکړې؟!

۳۰مرغومی۱۳۷۹
کندهار ښار

WWW.SAMSOOR.COM

# درې شپې

د آس د منډې غږ دی
تیاره ده
لمر په پریوتو دی
هر څه تور ښکاریږي
یو آس په منډه ځي لو یدیځ پلو ته
سپور یې یو دنګ زلمی دی
باد یې څادر لکه جنډه رپوي
آس له مستۍ څخه شیشنیږي او پښې ټکوي
زلمی د کلي له ویالې څخه اوبه په لپو اخلي او سینه سړوي
ویاله د کلي د لوی خان د باغ له منځه راځي
د خان د رېبیمه لور د آس د راتلو غږ ته خاندي
زلمی اوبه څښي
او
ویاله د باغ له لوري درې منې راوړي
سپور لږ موسکی شو خو څېره یې اند ېښمنه ښکاري:
« ښنبې خو سمې راغلې
څو له کنډوه اوړو
خان دې خدای (ج) نه خبروي»
زلمي په زړه کې په دعا وویل
او شپه وروسته د ماښام خړه کې

WWW.samsoor.COM

آس د خيتځ په لوري منډه پيل کړه
د خان دربېمې لور د سپور له ملا لاسونه تاوکړل
او د ټيکري پيڅکه يې
لکه بيرغ رپېده
سپوږمۍ د دريو شپو ده
او د ماښام ستورى لا درې لويشتې له غره پورته دى
آس په کنډو وا وښته
شاته درې ډزې وشوې
د آس د غوږ له څنګه شنې شو چې ګولۍ تېره شوه
مګر ځنګله نه کوربان
چې ګڼو څانګو کې يې پټ کړل سپاره
د زلمي شونډې يو ځل بيا موسکۍ شوې
پېغلې هم ستونى لوند کړ
او ايله پوه شوه چې د سپور زلمي بدن په خولو ښومره لوند دى
باد د ځنګله غوږ کې سندره وايي
ستوري سپرو ته د ځنګله لار ښيي
درې پاره شپه تللې ده
درې جوړې سترګې دي پر لار نښتې
د دوه مَېنو بدنونه يو پر بل تاوده دي
آس لا مزل کوي
مخ وړاندې درومي

۳کب ۱۳۸۰

WWW.SAMSOOR.COM

# تصویر

د شپې په تور بخمل
د ستورو د پاولیو
ځلا څنګه ښکاري؟
ګوندې تصویر به یې کړم
که ته لمدو زلفو نه څاڅکي د باران تویې کړې

۱۳۸۱/۴/۱۱

WWW.samsoor.com

# مساپر

یو ستومانه مساپریم
داوږدې شپې له مزله نه راغلم
ټوله شپه مې په ځنګله کې
د زاړه بوم له دوه سترګو نه رڼا اخیسته
ما ټوله شپه و اوریدل
چې ځانګو ځنګه قهرجن باد ته ځګیروي کول په نیمه ژبه
خو باد پرې نه پوهېده

د ۱۳۸۱جواز
د لویې جرګې تالار، پولیتخنیک

WWW.samsoor.com

الف. ر ته !

# ایـمان

دا ستا د سترګو د ګيلو په مانا ښه پوهېږم
غواړې چې ژوند او هر څه پرېږدم
او ستا لاس ونيسم؟
غواړې چې دواړه لېرې ولاړ شو
دومره لېرې چې له خلکو هېر شو
غواړې چې څو کمزورې زړونه هېر کړم؟
هغه چې زما لپاره ښورې او ژوندون اوږدوي
دا ستا د سترګو د ګيلو په مانا ښه پوهېږم
په دې پوهېږم چې له ما سره دې مينه
نوره پټه زړه کې نه شې ساتی
زه دې په سترګو کې لوستی شم دومره پاکه مينه
لکه د خدای(ج) د رحمتونو چينه
لکه سپيڅلې رېښتيا
لکه له تللې پرديس ورور سره د خور د دعاګانو پاکي
په دې پوهېږم چې حېرانه يې زما مينې ته د څه نوم ورکړې
د خور او ورور که د محبوب

WWW.SAMSOOR.COM

او که د لور مینه له پلار سره يې
درته ريښتيا وايم زه هم حيران يم
چې تا ته څه ووايم
خو بس په دې پوهېږم
چې مې له تا سره د مينې اور په زړه کې بل دی
کيدای شي نه ستا د ښکلا په خاطر
او نه له تا سره د ګډ ژوندون د پيل په هيله
بلکې ددې لپاره
چې تا زما په خاطر
د عشق په خدای باندې ايمان راوړی
دا ستا د سترګو د ګيلو په مانا ښه پوهېږم
نو وايه څه وکړمه؟
غواړې چې ژوند او هر څه پرېږدم
او ستا لاس ونيسم؟
غواړې چې دواړه لېرې ولاړ شو چې له خلکو هېر شو
او هلته لېرې د کوم سيند پر غاړه
د څپو خواته
د ساحل چوپتيا کې
خپلو کې يو بل ته د زړه وروستۍ خبره وکړو
چې مور يو بل سره د څه لپاره مينه لرو؟

۱۴تله ۱۳۸۱

کور کابل خيرخانه

WWW.samsoor.COM

# سفر

ياد بېږي هغه ورځ مې چې باران دوا ړه لامده کړو
او پاسته باد ستا د لمدو زلفو په ولونو کې وهلې ګوتې
څو لاروي د ښار کوڅو کې وو په بيړه روان
زه او ته دوا ړه ستړي
ستا له سفر څخه يوه ورځ مخکې
زموږه زړونو خدايزده ولې يو له بل څخه پوښتنې وکړې
سفر به څنګه وي؟
بيلتون به څنګه؟
زه او همدا کوڅې همدغه ورځې
ته او د بل وطن پردېسې شپې
زه او ته دواړه په دې نه پوهېدو
چې په لمده زمکه روان يو چيرې
ښايي چې ژوند به د همدغو څو شيبو لپاره ښکلی و ، زموږ لپاره

WWW.samsoor.com

خو ژوند تېرېږي موږ ته نه درېږي
هغه شيبې هم ولاړې
او د بيلتون ورځې را ورسيدې
زه او همدا کوڅې همدغه ورځې
ته او د بل وطن پردېسې شېبې
خو ته منې ؟
چې له هغې ورځې را وروسته باران نه ورېږي
او ښار د خړو خاورو خړ ميدان دی
ته دا منې؟
چې له هغې ورځې را وروسته د باد ګوتې پرې دي
او باد د هيچا په لمدو زلفو کې لاس نه وهي
زه او همدا کوڅې همدغه ورځې
ته او د بل وطن پردېسې شېبې
باد و باران نه شته دنيا خړه ده

۲۵تله۱۳۸۱
وزير اکبر خان مېنه

WWW.samsoor.com

# ژوند

مانه دې وپوښتل چې ژوند څه مانا
زما ساده خبرې خوښې دي ساده يې وايم:
ژوند ستا پوښتنه او زما ځواب دی
ژوند ستا د سترګو د شوخيو ښېلا ښېلې شيبې
او زما ساده خبرې
چې ستا خوښېږي مګر حال نه وايي
منم چې ژوند ښکلی دی
مګر په دومره بدلون نه ارزي چې ته يې لرې
او ژوند په دومره خندا نه ارزي چې زه پرې خاندم
تا د انسان په لاس جوړ شوي د ښيښو ښارونه وليدل
چې نورو انسانانو مات کړل
او ته همدې ښارونو
په يوې ښکلې ښيښه يې نانځکې واړولې
راځه !
زما له ليونۍ خندا نه مه ويرېږه
زه به مې کړس کړس خندا پرې نه ږدم چې ماته دې کړي

WWW.samsoor.COM

او که ته ماته هم شې
ژوند په دې نه ارزي چې ویې ژاړو
زه به مې خپله خندا
او دا ساده ساده شرقي خبرې
ستا د خوبونو له وربښمو سره و اوبمه
تا ته به جوړې کړم وربښمینې جامې
ځکه ښیښه یوازې یو رنګ لري
خو د وریښمو پوره اووه رنګه دي
زما ښیښه یې نانځکې !
راځه چې جوړه دې کړم
لکه بڼکه د تاووس
لکه سره شنه زرغونه
او هومره ښکلې لکه ستا د خوب رنګینه دنیا
زما ښیښه یې نانځکې
پام کوه زړه دې د ښیښې په کنګل نه کړې بدل
ورځه شرقي زړګی دې ببرته راوړه
چې ورته ووایم:
((د ژوند مانا د زړه بایلل دي))

۲۹/ تله/ ۱۳۸۱
وزیر اکبر خان مېنه

WWW.samsoor.COM

# غوسه او مینه

نږدې ماښام دی سیند آرام بهیږي
چوپتیا خوره ده زه خواشینی یمه ډیر خواشینی
خو ته آرامه او موسکا پر شونډو
یوه سندره څو رنګینې لنډۍ
د باد شپیلۍ او د اوبو شرهار
ته رانه تاوه شې را تاوه شې پر مخ مې ښکل کړې
غوا ړې له ما څخه غمونه هېر کړې
ته چې اوبو ته لپه ډکه کړې ساحل ته نږدې
د نیلوفرو ګلان وښوریږي
او زما زړه کې د غمونو قهرجنې لمبې بیا بلې شي
زما سرګردانه اروا
لکه تیاره
لکه شپه
لکه یو وچ او سوزیدلی ځنګل
زما سرګردانه اروا
له کساتونو ډکه
په اور او وینو مړه
ناڅاپه اور واخلي
څېره کې مې د قهر ریښې وغځیږي

چې سترګې پټې کړمه اور وينمه
های اوښکو راشئ !
زما په سترګو کې اورونه مړه کړئ !
خو ته، چې ما ووينې
د نيلوفرو په شان وربړد برې
پرما خوره شې له ما ګرده تاوشې
او زه دا ستا د ګريوانه له ورمو
د عشق د خدای(ج) جنت ته ورسيږم
ته څومره مينه لري
زما له غمونو نه هم ډېره مينه
زما په ذهن کې د قهر له دوزخه ستره
همدا چې غم مې هېر شي
او په اروا کې مې د قهر دوزخ ونړيږي
چې سترګې پرانيزم نو ويوهيږم
چې تا مې سر پر خپل زنګون ايښی دی
يو ځاځکی اوښکه دې پر مخ ولاړه
مګر پر شونډو دې موسکا خوره وي
د نيلوفرو ګلان ناځي د اوبو څپو ته
او ما ستا غېږه کې پناه اخيستې
نږدې ما ښام دی
سيند آرام بهيږي

د عقرب لومړی نېټه ۱۳۸۱
وزير اکبر خان مينه

WWW.SAMSOOR.COM

# ایـرې

خدای(ج) د خپل نور له کومو وړانګو جوړه کړې يې ته؟
چې زما تياره ژوند دې رڼا کړ داسې
ښايي چې ته به د برېښنا د يوه پړک په شانې
زما د ژوند له اوږدې شپې تېره شې
او ښايي بيا به دې ونه شم ليدای
هو ! ته به ولاړه شې خو ستا رڼا به
زما له ژوند سره تر پايه مله وي
خدای (ج) ته د کوم غزل سرليک پيدا کړې؟
چې له دې وروسته زما د ټولې شاعرۍ تصوير شوې
او که ته غواړې، چې ما وپېژنې
يو ځلې وخانده بس پوهه به شې
زه د ايرو ځلی يم
او ته د خدای(ج) د جنتونو وږمه
راځه او رنګ مې کړه

WWW.SAMSOOR.COM

ذرې ذرې مې يوسه د اسمان لورې ته
دا سې مې ورک کړه چې مې څوک چېرې بيا نوم وانه خلي
***
ترلسو شلو کلو د پرې شپې شوې
چې ته مې خوب کې ليدې
خو پېژندلې مې نه
او دادی اوس دې وينم
چې له اسمانه دې د مينې صحيفې راوړې
بس ته په دې پوهه شه
چې له ازله ترابده به يوازې همدا يو امتې
ستا صحيفو باندې ايمان ولرې
ستا صحيفو کې د خدای(ج) امر دا دی
چې ستا په زړه کې به يوازې د يوې مينې معبد جوړېږي
ته هم په دې پوهېږې
خو پتوې يې ماته حال نه وايې
زه د ايرو ځلی يم
مګر تر هغو پورې نه ورانېږم
چې راته ونه وايې:
«تا سره مينه لرم»

۱۴ليندی ۱۳۸۱

WWW.SAMSOOR.COM

# د هغې غر

کله چې ما سره خبرې کوې
د ساه ایستلو غږ یې هم اورمه
یو داسې غږ، چې له حیا ، مینې او ویرې ډک وي
او داسې غږ یوازې زه پېژنم
خو یونا څا په یې غږ نور هم ټیټ شي
زه د کوم څه د کرپا غږ اورمه
نو ترې پوښتنه وکړم
آیا ځوک شته، چې ستا خبرې واوري؟
وخاندي وو ایي:
نه !
دا مې د غوږ والۍ دي
چې پر غوږې د تیلیفون لګېږي
او د کرپا غږ یې ترتا هم درځي

۲۳قوس ۱۳۸۱

WWW.SAMSOOR.COM

# کله چې ته خپه شې

کله چې ته خپه شې
زه مې له ځان سره دا پرېکړه وکړم
چې څه موده دې له ليدلو نه زړګی صبر کړم
وو ايم پرېږده، چې ته خپله را پخلا شې
زما ليدو ته را شې
کله چې ته خپه شې
زه مې ټوټه ټوټه غرور را ټول کړم
وو ايم پرېږده چې ستا سترګې له ژړا ډکې شي
او په بند ستوني را ته ورو وو ايې:
ګرانه ما مه هېروه
کله چې ته خپه شې
زه مې د اوښکو چينې وتړم د غم په تيږو
او خپلې سترګې له غوسې ډکې کړم

WWW.samsoor.com

څو تا په دې پوهه کړم:
«چې دا ځل هوله ملامته ته یې»
کله چې ته خپه شې
زه په خالي لارو کې ستا د ګام آواز لټوم
چې ګوندې بیا به راشې
پوهېږم نه، چې ولې
ستا په راتلو باندې باور لرمه
کله، چې ته خپه شې
زمکه ځای نه راکوي
غواړم، چې راشې او یو بل ووینو
زه مې د سترګو په ګیلو باندې تا وپوهوم:
«چې دا ځل هوله ملامته ته یې»
او ته د سترګو په ګیلو باندې ما وپوهوې
«ګرانه ما مه هېروه»

۸/ کب/ ۱۳۸۱

WWW.samsoor.COM

# وروستی ماښام

نور هر څه پای ته رسيدلي عشقه !
نور به هېڅکله د هغې سترګو ته ونه ګورم
نور به هېڅکله د هغې له نفسونو سره ګام وانه خلم
او پرې به يې نه ږدم، چې خپل سر زما پر ولي کېږدي
نور هر څه پای ته رسيدلي عشقه !
نور به پر زړه د صبر غټه تېږه واړومه
هېڅ څوک به ونه ويني
چې زه خپل زړه سره پټ څومره ژاړم
زه به خپل زړه بدل کړم
کيدای شي هېره مې شي
ماکې کوم څه ماتېږي
څوک مې له روح څخه پوښتنه کوي
دا هر څه ولې پېښ شول؟

وروستی ماښام، چې له هغې سره وم
د بيلتانه کيسه يې خپله وکړه
اودا چې څنګه به سفر وکړي له دغه ښاره...
او ښايي سترګو يې په خپله راته وويل، چې:
نور هرڅه پای ته رسيدلي عشقه!
های د نړۍ ټولو مينو زړونو
يوازې تاسو د وروستي ماښام په راز پوهېږئ
يوازې تاسو د وروستۍ خدای په امانۍ پرمهال
د مين غم پېژنئ...
نور هر څه پای ته رسيدلي عشقه!
نور به هېڅکله د هغې سترګو ته ونه ګورم
او دا به ونه ګڼم:
چې عشق د ژوند مانا دی

۲۳حوت۱۳۸۱

WWW.samsoor.COM

# نړۍ

زه يو عجيب جهان کې ژوند تېروم
ختيځ ويده دی
ختيځ هېڅ د ويښتابه په مانا نه پوهېږي
لويديځ د ښکليو وحشتونو طلايي ټاپو دی
او افريقا يوازې ايډس، لوږه او مرګ پېژني
لويديځ د عقل د ښيښو ماڼۍ له ستورو څخه د ننګې ساتي
خو په دې نه پوهېږي
چې له بچي سره د مور عاطفه څه خوند لري
ختيځ د پاکو احساساتو لوی ساتول راخيستی
او د خپل عقل شارګونه پرې کوي د عقيدې په نامه
ختيځ ته مرګ د انسان

WWW.SAMSOOR.COM

د شنو مچيو له وژلو نه اسانه ښکاري
ديموکراسي هغه زانګو ده چې لويديځ يې زنګوي په قهرجنو لاسو
او د انسان د آزادۍ ماشوم له ويرې په کې ساه ورکوي
لويديځ ولاړ دی د بشر د حق تېره توره يې لاس کې ريږدي
او په ختيځ کې د عراق او پلستين له اورمېږه سره خبرې کوي
خو د عربو شيخان
يو د بل پتې دوسيې
لکه د تيلو د بوشکو په شان لويديځ ته سپاري
ختيځ لا اوس هم بنګاوه د خپل زاړه کولتور پر سر اړوي
او چې خوماري سترګې وځمبوي
په بې خودۍ کې له ريشخنده وايي
«بايد د ښځو حقوق وګټل شي !»
هند لا بنګال کې په لکونو جادوګر لري
جوګيان يې په اوبو کې ناست وي
او افغانان لا هم سپوږمۍ ته د انسان ور رسيدل نه مني
چين وارخطا دی، چې نفوس يې له خاورينې زمکې تويې نشي
ختيځ ريښتيا هم د نړۍ موزيم دی
ختيځ کې خلک د انسان په قدر نه پوهېږي
خو په لويديځ کې د حيوان درناوی دومره ډېر دی
چې ښکلې نجونې له آسونو سره شپې تيروي
نور په لويديځ کې اپارتايد ورک شوی

WWW.samsoor.COM

ځکه چې سپنې نجونې
له تور پوستکو نارینه وو سره مینه کوي
شرق لا براتوار دی د غربي پوهانو
کومه وسله ځومره ورانې پېښوي ! !
او چې شرقیان یو پر بل زړونه تش کړي
بیا بشر پاله لویدیځوال ورباندې زړه سوزوي:
چې جګړه مه کوئ
جګړه بده ده
زه یو عجیب جهان کې ژوند تېروم
زه د ختیځ له غاښو کرکه لرم
چې یو انسان یې بل انسان ته چیچي
زه د لویدیځ له ښیښه یي ماښیو کرکه لرم
چې کمپیوټرپه کې دوړیو ماشومانو له کولمو څخه نغمه
د «دومینون» خپروي
زه یو عجیب انسان یم
او په عجیب جهان کې ژوند تېروم
د هیچا نه خوښېږم
لویدیځ مې بولي بدوي او وروسته پاتې حیوان
ځکه تر اوسه هم ماشین نه یم احساس لرمه
او ختیځوال مې بې همته او ډارن بولي
ددې لپاره چې د مړیو د نڅا له ننداري څخه خوند نه اخلمه

WWW.samsoor.COM

زه يو عجيب انسان يم
او په عجيب جهان کې ژوند تېروم
په داسې لوی جهان کې
يوازې يو انسان
يوه نجلۍ
يوه ليونۍ
ما سره مينه لري
خو زه عجيب او ناتوانه انسان
دومره وس نه لرم چې
د هغې لاس ونيسم
او له دې تور او سپين جهان څخه يې لرې بوځم

۲/ حمل/ ۱۳۸۲

WWW.SAMSOOR.COM

# مسا پرې خدای (ج) دې راوله

نن مې بيا ښې سترګه رپيږي خير کړې
لکه چې راشي مسا پره يا ره
بيګاه مې خوب کې په خندا ليدلې
له مانه تللې مروره يا ره

چې تلې وروستی ماښام دې ما ته وويل:
د سپوږمۍ لار څاره سپوږمۍ ته ګوره
چې څوارلسم يې بر شو زه به راشم
د شنه اسمان سپينې بېړۍ ته ګوره

نن شپه سپوږمۍ د څوارلسم ختلې
ستوري جانانه ستا وعدو ته ګوري
زما په سترګو کې د اوښکو څاڅکي
ستا د ورو ګامو راتلو ته ګوري

WWW.SAMSOOR.COM

په هر نفس کې دې چې نوم یادوم
اسمان کې وځلیږي یو ستوری
نیمه شپه زړه کې ستا خبرې شمارم
د ژوند په هره شیبه یو توری

زما مساپرې خدای (ج) دې ژر راوله
زما دې سترګې او ادا یادیږي
ستا په وړو وړو خبرو قسم
زما دې خپګان زما دې خندا یادیږي

ای چې رڼا دې د سپوږمۍ خوښیږي
هره شپه ته یې زما د خیال شهزادګۍ
چې شم ویده ستا له رڼا ډکه شي
زما د خوب دغه وړه دنیاګۍ

ای په سپرلي مینې کله راځې
د ارغوانو ننداري تېرې شوې
نه وې چې یو بل ته اوبه وشیندو
د باران شړکنده شیبې تېرې شوې

WWW.samsoor.com

ای چې سپوږمۍ ته دعاګانې کوې
وایه چې ما له خدایه کله غواړې
چې زه دې خپل شم دومره خپل لکه ځان
داسې دعا له خدایه کله غواړې

په خدای قسم ګرانې چې زړه مې تنګ دی
د ژوند مانا په هېڅ کتاب کې نه شته
هسې چې ستا سترګو کې ما موندلې
د هېڅ کتاب په هېڅ یو باب کې نه شته

عجیبه وخت د بې رحمۍ راغلی
څوک چا ته حق د مینې نه ورکوي
هغه چې ژوند اخلي اتل یې بولي
لوی ګنهګار شي څوک چې زړه ورکوي

کله به راشې له پوښتنو سره
چې ګېلې راوړې په نمجنو سترګو
له دې ظالمې دنیا چېرته ولاړ شو
ټول راته ګورې په شکمنو سترګو

WWW.SAMSOOR.COM

راځه چې دواړه داسې ځای ته ولاړ شو
چې خپل خپل کار پسې روان وي خلک
په بل چا کار نه لري، شک نه کوي
داسې سپېڅلي مهربان وي خلک

هلته به مخامخ يو بل ته کينو
ګوندې چې دواړه شو په تېرو بدل
مينې پېغلې به مراد غواړي
زموږ زيارت به شي د مينې محل

۱۳۸۲/۱/۲۲
خيرخانه

WWW.samsoor.COM

## مخه ښه

څانګو هیر کړی دی د پاڼو سرود
لمر د رڼا بدلې نه پېژني
باد د شنو لوخو له ځنګله نه په چوپتیا تېرېږي
آهای !
مګر څوک شته دي دلته؟ !
که زه هم کډه وکړم؟
شپو د الهام د کاروانو نو جرس
د تورو متو جبل کې ونښېځه
چې خوب د زلفو پر بالښت باندې حرام دی حرام ! !
نو زه په کومه ولاړ شم ؟
زما د باغ د لوړ قامتې ولې
په کوم یو ډډ کې چیرې ځاله ابابیل نه لري
چې د شامېت پر پیل لښکرو شګې و وروي

WWW.samsoor.COM

باران خپه دی زموږ په وچو شونډو نه وريږي
او د کنګل له ستوني زانه ما نه ولې پوښتي؟
چې سپرلی کله راځي؟
زما د هيلو شرشرې لاندې ښکاري ويده دی
نو اې د مينې هوسۍ !
پام له دې ډنډ نه او به و نه څښې
زما ماضي يې جوړه کړې وه له دريو ټکو :
وچکالي،
غم
او تياره
خو ما د نورو شنه ماضي ژړوي
که د دعا ژبه مې وچه نه وای
ما به بد مرغه ماضي بيا غوښتې وای
آهای !
دلته څوک شته دي مګر؟ !
که زه هم کډه وکړم؟
زه د خپل ښار هره کوڅه کې درويزګر وينمه
ما هغوئ نه څوروي
خو دې پوښتنې ته ځواب نه لرم
چې موږه ولې نه مرو؟
يوه شپه تېره شوه او بام بدل شو

WWW.SAMSOOR.COM

ښايي کارغان تللي وي
های د رنګ شوي سپل آشنا کوترو
زما په مات ختين سپيره کندو کې
يوه دانه غنم هم نشته چې راو موبولم
ای د هسک پېغلې !
زه پوهېږم چې لا ماته نه يې
او موږ نه مخ پټوې
وايه د تور بخمل کميس دې څه کړ
کلونه وشول پکې نه ښکاري د ستورو پاولي
نه !

ښايي داسې نه وي
يوازې موږ رانده يو
يا مو د سترګو کسي لامبي هره ورځ وينو کې
«ويار» رانه هر څه يووړل
هر څه «غرور» وخوړل
زه د خپل لاس په ګوتو
د «خپلواکۍ» غلام شوم
اوس په دې نه پوهېږم
چې کوم انډول يې سم دی
«ويار» د «ژوندون» لپاره
که «ژوند» د «ويار» لپاره

WWW.SAMSOOR.COM

آهای !
مګر څوک شته دي دلته ؟
که زه هم کډه وکړم ؟
زه مينه نه پېژنم
او پاڼريژ خپل کسات زما له سرې ساه نه اخلي
ژوند لکه ماته ببړۍ
د چا د سترګو سمندر کې توپانونو ډوب کړ
چا راته ويل: مين شوې
ما ويل استغفرالله
«مينه» ګناه ده زه «ګناه» نه کوم
زه چې چاړه په لاس له شپوله تېر شم
ميږې او وري يو بل ته وخاندي او داسې وايي:
هغوئ د يو بل لېوان
په خپلو غوښو ماړه
زموږ تر ستونو يې چړې نه رسي

زما يې ژبه د زمريو په تالو کې شنه کړه
نو زه به څنګه د «انسان» د خوارو نوم
له ښکل نه خوند پورته کړم؟
سوی رانه تښتي زما حريم ته خطايي راغلی
خو زما غاښونه په دې نه دي خبر

WWW.samsoor.COM

چې د «لويديځ» تورې ته څه ووايي؟
اې لاسه ! نه دې وينم
له کومه لوري راغلې
له ما دې ساه واخيسته
لکه نانځکه دې د وهم په کڅ کېنولم
غوښتل دې ما چې د شعور له کوڅې غلی تېر کړې
آيا ستا هم کله پښه ښوييږي؟
نه ؟
نو ولې داسې وشول؟
زما شعور خو دې په خپله وېښ کړ
زه اوس پوهېږم لاس او پښې مې رانه تا پرې کړي
او هم پوهېږم چې بې وسه يم
له خدای (ج) نه تا ته «شرم» غواړم
ته هم پوهېږې «شرم» خيال دی او وجود نه لري
ځکه دې توره زما په ستوني موښې
آهای !
مګر څوک شته دي دلته؟ !
که زه هم کړه وکړم؟ !
څو به د ښکلي نيلوفر پر پاڼو شعر ليکمه؟
زما نيمګړی انځور «رنګ» نه لري
باد مې د کور له دنګو دنګو ديوالونو را اوړي

WWW.samsoor.com

پټې ګنډې کوي
څو پخوانۍ سندرې راوړي او ښکې ببرته يوسي
يا د چا خيال غلې شان راوړي او له دې خوا ببرته
د پخواني وخت په حسرت کې څو سلګۍ يوسي
زه د خپل کور تر څنګ

د شنه چنار د پاڼو شرهار پېژنم

د ټوکېدو د هوس شنې نغمې يې
ستوني کې جبل وخوړې
پخوا يې زمونږ کلي کې «هرڅه» په سرو زرو پېرل
مګر اوس هرڅه ورکوي او ببرته «زر» اخلي
ماته مې پلار ويل چې: «لوی سړی شې!»
مګر افسوس دا سې ونه شول
ځکه زه شاعر شوم
او د کلو تش دسترخوان مې هم په توتو خرڅ کړ
ښايي زه بيا را شين شم
خو کاشکې هسې يم چې اوس نه يمه
آهاي!
مګر څوک شته دي دلته؟!
که زه هم کړه وکړم؟!
سينده ځواب راکړه!
چې مسا پرې بتې کله راځي؟

WWW.samsoor.COM

ته خو يې ليرې نه د ستړي الوت غږ اورې
اى د ښكلا ملكې !
ته هم حيرانه يې او نه پوهېږې
تر ټولو ستر هنر «د نس مړول»
په هنرونو كې څووم هنر دى؟
او زه يوازې لرم دوه ګاونډي
ښي لاس ته «مار» او چپ ته «زړه جادوګر»
«ابليس» مې لاره كې مورچل نيولى
چې هره ورځ راباندې ډزې د خنداوو كوي
ځكه په سرو وينو ككړ لاسونه
د هغه ډېر خوښېږي
زه په پوټيو كې هم پل نه لرم
سيورى مې ورک دى رانه
كله په خپل شتون هم شكمن غوندې شم
خو يو ځل نوم چې چيرې وا ورم د «درد»
نو بيا د خپل وجود په ځړيكو مې باور راشي
زما ليونى كهول يې «اور» نه جوړ كړ
خو زه حيران يم چې سرزوري پښت مې
په څه نامه دلته نيالګي كينول
مګر د سرو لمبو په چم كې چيرې باغ جوړ شوى؟
آهاى !

WWW.samsoor.com

مګر څوک شته دي دلته؟!
که زه هم کډه وکړم؟!
زما يې ټول عمر دی ځای کړی
د عذاب د يوې شپې پولو کې
خدايزده په کومه ګناه
بيا د اجبار د سرو اغزيو په بستر کې پروت يم
يوه «ښکلا» مې څنګ ته آه باسي
د کرکې حجم نه مې ډک دی ګوګل
زه د «هوس» د قحطۍ کال کې
يوه وچه ډوډۍ هم نه لرم
څو يې د ښکلي پېغلتوب
د پانې پانې ګل تاوان ادا کړم
د مرګ کوچيه زما د ورح ايلبند ته کله راځې؟
چې ستا پګړۍ ته د نيمګړې ځوانۍ ګل ډالۍ کړم
«نيمکرغي» ښايي ستا په غېږه کې وي
دغه خيالي او دروغجنه د دوکو افسانه
چې د وجود سراب يې موږ د زړونو لار کې لامبي
سپيدو! زموږ د برخې لاس مو مات دی؟
چې مو د ذهن له آسمانه وريځی نه پاکوئ
زما نيمه خوا مينې له تا څخه پوښتنه کوم:
«بدمرغي» پوله لري؟

WWW.samsoor.COM

هو ؟ !
زه به دې سترګو کې لاهو شم ما ور ورسوه !
آه ! چې زه نه پوهېږم
«درد» ما ته څومره ګران دی
ای د بازار وګړو
نن زه له ډېرې مجبورۍ نه خپل «دردونه» پلورم
هره ګېډۍ یې د موسکا پرېوې سپینې سکې
آیا څوک شته چې رانه وېې پېرې
نه !؟
نو زه په کومه ولاړ شم
اې د خندا پلورونکو !
زه مې د سترګو کسې هم خرڅوم
د خدای (ج) په نوم زما کهول ته لږ خندا راکړئ
آهای !
مګر څوک شته دې دلته؟ !
که زه هم کډه وکړم؟ !
بېګاه مې خوب ولید چې:
یو لاس له غیبه راشي
او بېرته ما د «بشریت» د کورنۍ غړی کړي
خو چې را وینښ شوم له هماغسې عاصي وم عاصي
بیا له کوم لوري را الوتي جزامي بادونه
WWW.SAMSOOR.COM

زما له ښکلې نه يې خال وړی دی
او ښکې يې ماته دا پېغور راکوي:
ولاړ شه ! د باد جګړې ته
او د جزام له ژېړ باچا نه دې د خپلې مينې
خال وګټه

خو هغوئ نه پوهيږي
چې ژېړ لښکر له مانه متې وړي
او په اوږو باندې مې شخوند وهي لا
ته اې سپېڅلې «نه !» په کومه لاره ې
چې مې رسۍ د دار نږدې ده
سر کې «هو» انځور کړي
زه چې زړه وکرم زقوم را شين شي
د کډو
کډو
کډو
ښکالو مې اوري که نه؟
زه درنه ولاړم مينې !
آهای !
مګر څوک شته دي دلته؟ !
چې ماته ووايي:
په مخه دې ښه ! ! !

WWW.SAMSOOR.COM

# ښـېرا

پېغله چينه کې خپل وربل جوړوي
او د وړمو ډمې يې مخ ته ده نيولې د اوبو هينداره
د شپونکي ګام نه تيره رغړي د چينې لوري ته
او پرې ماتېږي د اوبو هينداره
پېغله ښېراوې کوي
شپونکی يې لمانځي په سلام د مينې
د پېغلې شونډې په ښېرا اخته دي
خو يې د سترګو ژبه بل څه وايي:
«تا سره
مينه
لرم»

۱۳۷۴/۳/۱۴

WWW.SAMSOOR.COM

## يو ټاپو د جذاميانو

څه مانۍ د نازولو شوې کوڅې د دروېزګرو
څه لوی ښار مو د حسينو جوړ مالت شو د سوالګرو

څه درنې درنې شملې مو شولې لپې د کپ سوال ته
غرونه غرونه لوپټې مو نن ګرو شوې په جوازګرو

هر زر ګر مو آهنګر شو جوړوي په غبرګو لاسو
له نتکيو نه د ښکلو تور کچکول د قلندرو

په لاسو کې د سندرو زولنې شوې د ځګيرويو
د رباب د شرنګ حجره مو شوه جونګړه د کوډګرو

زه بې وسه بې ګربوانه، چېرې وساتم ستا اوښکې
رانه يووړې مرغلرې ها پرديو سوداګرو

WWW.SAMSOOR.COM

کلی نه دی هدیره ده یو څو مړي په کې ګرځي
نه ګودر شته نه منګي شته نه کتار یې د دلبرو

ته خو راغلې خو شه چینې خو سږکال مو فصل سوی
نه غنم شته نه یې وربي نه یې مینه د لوګرو

له ټاپو د جذامیانو په ړندو سترګو ور ګورو
هېڅ کښتۍ چېرې رانه غله نه بادبان د درمانګرو

که د مینې کیسې غواړې زما د سترګو کتاب پټ کړه
نه چې اور درشي جانانه له ناورونه د نهرو

مور د مینې لیوني وو، ټول وطن مو لیوني کړ
اوس څوک نه ولې په کاڼو لوی کاروان د سربېرو

# د نکریزو آیینه کې

زه بګیوان وم د زیارت د لارو
او هره ورځ د چارشنبې به مې د پېغلو ډله
د یو رنګین مازیګر
په پلوشو کې تر زیارت پورې وړه
سم چې ماښام به شو زیارت کې به ډیوې بلې شوې
چا به نغریو کې تبۍ د خوږو غوړو بار کړې
چا به لکړو پورې سره او ګلابي اننګي
چې به لامده وو په رڼو او مرغلینو اوښکو
د کوم مراد لپاره وموښودل
چا به په سپینو او ښایسته منګولو
په زاړه توغ پورې د سمال وتاړه
چا به د اوورنګو وربښمو تار ته
په ډېره هیله ځلو ښنت غوټې ورکړې
چا به د شنه مرقد پښو ته لپه ونیوله

WWW.samsoor.COM

ما به ګومان وکړلو
چې د نکريزو آيينه کې به له خدای ځخه
د خپل مين انځور غواړي
چا به بې وسه او نازکې پنجې
له زنګ وهلي زاړه کولپ ځخه راتاوې کړلې
خو کولپ به خلاص پرې نه شو
چا به ملنګ بابا ته رغوی اوږد کړ
او قلندر به يې تالې وکتې:
«ستوری دې بر ختلی...
... يو ځوک به راشي په سپين آس او ستا ډولۍ به يوسي»
نو بيا به دا له شرمه تکه سره شوه
خپلې تنکۍ شونډې به يې وچيچلې
او چې په غلا به يې زه وځارلم
لږ به موسکۍ شوه ما به هم وخندل
آس به مې وشپشنيده
وربل به وزنګېده
شمله به هسکه شوله

يو ګل به
باد يووړ !!

۱۳۷۲/۵/۲۲
جوی شير کابل

WWW.samsoor.com

# خـوب

زما د شونډو ببړۍ
پر یوې مستې څپې
ستا د سینې پر سمندر تېره شوه
خو ستا د ناز ساحل و ځومره نږدې
چې زه یې ښکته...
نور له خوبه ویښ کړم

۱۳۷۴/۲/۱

WWW.samsoor.com

د خپلو خوبونو ملکې ته !

# رويا

ولې مې خوب ته راځې
نور خو کلونه وشول
چې زموږ کوڅې، مېنې د غرونو شاته کډه کړې
يوازې تا نه يو څو تت تصويره
زما د ذهن په پرده کې پټ دي
آن چې ښکلا دې هم ورو ورو رانه ورکېږي او هېرېږي پسې
خو اشنا نه يو هېږم
کله چې خوب ته راځې
ستا به په ياد يم که نه؟
ښايي لو مړی به دې په زړه در ګرځم
او بيا به وروسته راته خوب کې راځې
که نه نو دغه درېيم ګړی څوک دی؟

چې له مودو نه وروسته
لکه يو خيال
لکه رويا
او لکه خوب دې د ښکلا تصوير کې
دغه له مينې ستومان
دغه له ژونده ستړی
زما رنځور زړګی له لاسه نيسي
او ته په ډېره مينه
او يا خو نه پوهېږم
لږ څه حيرانه راته ګورې داسې
زه خو دې سترګو کې لوستلای نه شم
کاش دې ويلای په هماغې نازولې ژبې
چې دغه ژوند څه مانا
او مينه څه ته وايي؟
او يا ځواب مې د يوې پوښتنې:
چې:
اې زما هيرې مينې!
ولې مې خوب ته راځې؟

۱۳۷۲/۲-۳۰/۳۱

WWW.SAMSOOR.COM

# ځاله

زموږ د کلي د چنار سيوري ته
ماران د يو بل غوږ کې
کيسه د لوږې کوي
ځکه چې نور نو د چنار څانګه کې
د سارانۍ کوترو
شنې ځالې ټولې له بچو تشې دي

۱۳۷۴/۱/۱۰
کابل

WWW.samsoor.com

# د لمر غله

باد
خوځوي تار په تار
زلفې د ښکلې نجلۍ
د سترګو شنه اسمان کې
د جنت رنګ لري
دغه زموږ کلي ته
بیګارا غلې نجلۍ

❋❋❋
❋❋❋

یو شین کتاب یې څنګ ته
وای:
«پیغمبره یمه»
د عشق سندرې لري
شونډو کې غلې نجلۍ

❋❋❋

مذهب یې
(مینه)
مریدان یې د ښکلا لیوني
ځمبل د سترګو یې ډک
له کراماتو راوړل
پیرې کاملې نجلۍ

WWW.SAMSOOR.COM

خو چې ماښام راوخوت
څو هوښيارانو کړې لمنې ډکې
د (عقل) کاڼو څخه
او شپه وروسته لېونو وليده
د خپلو وينو ډنډ کې
وه لمبېدلې نجلۍ
***
چې مريدانو د سندرو منځ کې
په اوږو پورته کړله
لا يې خندلې نجلۍ
دعشق کاروان زموږ له کلي څخه
يو وړه ويشتلې نجلۍ
***
او د هغې تګ سره
زموږ ماښام اوږد شو
تر همدا اوسه
تر سبا
ان تر قيامته پورې
لکه چې لمر يې غلا کړ
زموږ له کلي څخه
په خندا تللې نجلۍ

۱۲ وږی ۱۳۷۷
کابل – خيرخانه

WWW.SAMSOOR.COM

# غنم لو

په کرونده کې یوه پېغله نجلۍ
په شنه سالو کې د غنمو وږي
په سرو نازکو او پستو منګولو
ځومره په ناز ټولوي
زلمي لوګر يې د خولو د مرغلرو شاته
د پېغلتوب حيا نه ډک ښايست ته لارې څاري
***
« نجلۍ ! ته وګوره چې سترګو کې مې څه لوېدلي؟»
پېغله د خپل سالو په څنډه د هغه سترګې نه ګرد پاکوي
خو د زلمي له ميني ډک او دروغجن نظر د هغې پرګرېوان نښتی
«ولې په نېغه راته ګورې دا سې؟»
پېغله په چل د لوګر وپوهېدو
او د غوسې لمبو يې سترګو کې د ميني غوټۍ وسېړلې
خو ددې ښکلې غوسې شاته لوګر دا ولوستل:
« چې لو کوې ګوتې به پرې کړې
که در په ياد مې شي د مخ شينکي خالونه»

۱۳۷۵/۴/۱۰
کابل- چارآسياب

WWW.samsoor.com

# باران

ها مازيګر چې له باران نه وروسته
څو مسا پر څاڅکي دمه شول ستا پر ښکلو او نازکو شونډو
او په نڅا نڅا کې پېغلې وږمې
د استاد تور کاکل لمدې څانګې راوښندلې
ها مازيګر يادوم
چې کتارونه د کوچيو پر خو تلل ستا د ښايسته وو اننګو پر لاره
داسې مخ ښکته د ګرېوان تر اېلبندونو پورې
او ښاپيرۍ دې د بدن
د لامده شوي کميس شاته په څه ناز خوځېدې
چې د کمڅو مستې ساقي دې د ګلابو پيالې
پر سر را اړولې
په هغه ورځ ما سره
د پسرلي حسودو سترګو هم منلې وه چې:
ته له هغه باران نه
او ته تر هغه مازيګره هم ښايسته ښکارېدې

۱۳۷۴/۱۰/۳۰
کابل پوهنتون

WWW.samsoor.COM

## يوه ناوې د سپوږمۍ

سپوږمۍ د شنه ځنګله له ستوني څخه
د پېغلتوب سندره ويلې او سپېدار ورته نڅا کوله
سپوږمۍ د ستورو سپين پاولي
د خپل کميس پر ټټر وټومبل
او باد ورته په خپلو ګوتو
د شپې له څنو نه د سيند ستنه کې تار واچاوه
سپوږمۍ په خپل تندي د لمر له پله نه خال کېښوده
او د اسمان پر لمن
ورته د وريځو سپين لمنې نجونې
په اتڼو ستړې شوې
سپوږمۍ شوه ناوې لا شپونکي ورته شپېلۍ وهله
زما شاعر زړګي يې کېښود پر رغوي د غروب نکريزي
نو اوس به ورا د سپېدو راشي دا ښايسته ناوې به
د شنه بخت کور ته يوسي...

له (پاڼه) منظومې څخه

کابل ۱۳۷۴/۸/۴

WWW.SAMSOOR.COM

## يوه پوښتنه

يوازې يو ځل راشه
چې دې پر شونډو شونډې کېږدمه او ...
درنه د زړه پر ژبه وپوښتمه:
«درباندې ګران يم که نه؟ !»

۱۳۷۴/۱/۱۰
لوګر، د بورګ کاريزونه

WWW.SAMSOOR.COM

# باد

وګورئ باد څومره مين شاعر دی
تل وي د شنو پاڼو په غېږ کې ويده
يا خو د لوخو په ځنګله کې چېرې ناست وي
او شپېلۍ غږوي
کله د پېغلو مخ ته لاس اوږد کړي وربل يې جړ کړي
کله يې تار تار زلفې وشيندي پر سپينو مخو
وګورئ !
باد کله پر هغې نجلۍ هم لګېږي
چې پر سپين اس سوره وي
او د نازک کميس تر شا يې د بدن ابشار
څپې څپې پر زړه وربېږي
❋❋❋
يوازې باد دی چې د وږيو او بربنډو له کوډلو نه خبر اخلي
ښايي چې باد به په (انسان) مين وي
د هر چا ورته‌کوي

WWW.samsoor.COM

هر چاته غېبږ پرانيزي

څه بې تو پيره دی باد

څه مهربانه دی باد

وګورئ !

زموږ کلي کې هېڅ څوک نه شته

لوګي يې مړه، کلا کنډرې او چينې يې وچې

د سوزېدلو اروا ګانو سيوري هم نه لري

خو لا تر اوسه پکې باد لګېږي

تاسې يې اورئ؟

هغه چيغې وهي

هغه ماتېږي،

هغه ژاړي،

هغه مينه کوي

وګورئ باد څومره ځوان مرده يار دی

وګورئ باد څومره مَېن شاعر دی

۱۳۷۷/۱/۲۷

کندهار

WWW.samsoor.COM

# هیله

... او دا دی زه د ژوند پر لویه وچه
د خپلې سپینې او سپېڅلې مینې
د یو یادګار په توګه
د خپل غزل د هر یو بیت ډبره
حوض د کوثر کې مینځم
چې ترې د زړه له پاسه
تا ته یو ښکلی تاج محل جوړ کړم
نو
تا نه هیله کوم
اې زما ټولې مینې
ټول ژوندونه !
د لږ مودې په مخه
ځو تاج محل جوړېږي
زما د ذهن له دې ښارې او سپېرې بیدیا نه
ولاړه شه بلې خوا ته

۱۳۷۴/۲/۲۷
کابل پوهنتون

WWW.SAMSOOR.COM

## پـته

زما بختورې اوښکې
چې پر سينه د ښکلې وڅڅېدې
هلته يوه کوڅه ده
چې د هغې د زړه تر کوره ورځي
پام
درنه ورکه نه شي

۱۳۷۴/۲-۴/۱۳ کابل

WWW.samsoor.com

د شنې مينې شاعر اسحق ننګيال ته

## سیوری

یو پسرلی کله چې خوا کې د چینې
هلته د غره شمله کې مینه شنه شوه
او یوه څانګه یې قامت شوه د چا
چا ورنه ګام پورته کړ
خدای خبر څوک و مګر
ما ته یې سیوری د شاعر ښکاره شو

۱۳۷۴/۲/۲۸
کابل، د لیکوالو انجمن

WWW.SAMSOOR.COM

# کشمالي د ډبو په غېږ کې

دا پر زړه مې بیا د چا زلفې خورې دي
په قسمت مې چې د شپو جوړې کوڅې دي
چې له نازه به کږه وږه پرې راشي
کږ و لارو کې مې سترګې نن خورې دي
دا کاږه وختونه سترګې را نه باسي
چې نیولې مې په لار درته کږې دي
ما وه ورې چې وربل ته دې ګل راوړم
اوس راوړې د لمنې مې ایرې دي
لېوني د مینې تږي شول د وینو
چې پرې وچې ستا د زلفو شرشرې دي
ځنګل ځي له پسرلو سره یې جنګ دی
چې اغوستې یې د منې سرې جامې دي
د باغ سترګې د ږلیو ریبا رانې
وربلونه د ګلونو هدیرې دي
د منګیو وینو وسول ګودرونه
ما زیګر مو وچې کړې شنې ویالې دي

WWW.samsoor.com

د حيا په نوم د جهل لښكريانو
تالا كړې له سرونو لوپټې دي
نڅوي په زور كوڅې د سبرونو
بيا كارغانو جوړې كړې نن ميلې دي
دا سې ورځ پر شهزداګۍ د كشمالو شوه
چې د ځوزو د ديو غېږه كې يې شپې دي
د اغزيو تور پاچا په زور زبېښلي
د غاټولو شونډې بيا تغمې دي
د سيلۍ تورزنو لاس وراچولی
بيا په باغ كې د كوم چا سوې نارې دي
مړې غوټۍ چې سر پرې كړې ورته ناڅي
دا د تورو څه عجيبې نغارې دي
تاته چا ويل وږمې چې دلته راشه
دلته لارې د سپېدو پر وينو سرې دي
لګولی مو لاسو ځكه دا اور دی
چې مو زړونو كې د مينې ديوې مړې دي
اشنا نن را څخه مه غواړه غزلې
سوزېدلې مې په ستوني كې نغمې دي

١٣٧۴/١٠/١٨

WWW.samsoor.COM

# ژړا
# اور
# مینه

د دغه شعر په اړه يو ياد ښت:

د سمبولونو بې غږه خبرې

دا شعر د سمبولونو په ژبه د لېوال د يوه سپېڅلي بغاوت هنرمندانه انځور دی. په دې شعر کې د لمر انځور د هغې رواني تداعي د نده ترسره کوي چې د شاعر په اند له خپلواکۍ، مينې او ښکلا سره اړه لري.

جذام وهلی ټاپو هغه ښار ته ورته دی چې مينه او صميميت په کې ورک دي او د شاعر په ژبه له هغه نه (مينې د تل لپاره کډه کړې).

ماته پنجره: فقر، د عقل ناتواني او نامیندګي تداعي کوي.

اوږد مړوند: په شعر کې د منيځلې مينې او سپېڅلتوب لپاره او بالاخره د يوې ورکې رڼا په هيله د ګدايي سمبول دی.

ويارې: ځينې پخواني ناسوبمن افتخارات، هغه ويارې چې هېڅ ډول نيکمرغي له ځانه سره نه لري، د هغه موخه د يوه آبادي او د بل بربادي وي، هغه ويارې چې د انسان د يوه وېښته ارزښت نه لري، خو د زرګونو «انسانانو» وينه د هغه د ترلاسه کولو لپاره تويې شوې وي.

ژيړه سکه: د نېکمرغې ورکه رڼا.

د واورې پر سر د پښو غږ: د (زه) خواته د انسان توجه ده.

ډودۍ: د يوې رفاه، مړښت او ورک تمدن نښه ده.

وينې: د بې ځايه ويارونو او بې پايلې سوبې ښکارندوی دي.

WWW.samsoor.COM

کچکول: د هغه ځه ارماني تجسم دی چې پیدا کوو یې او ورکوو یې تر څو چې د تل لپاره د هغه په لټه شو.
د دغه شعر سمبولیک نوښت په دې کې دی چې شاعر نوي انځورونه ارایه کوي او له دې سره موږ د یاس او هیلو تر منځ د یوې ورکې مینې لټولو او موندلو ته هیله من کوي څرنګه چې وایي:
«مینې د تل لپاره کډه کړې».
اسد آسمایي

# ژړا، اور، مینه

مینې د تل لپاره کډه کړې
زما تېر کلونه به بیا هېڅ کله را ونه ګرځي
زه تښتېدلی له نېکمرغې ماضي
د کوم (سبا ) د دیوال شاته ناست یم
(راتلونکې ) نه شم لیدی
او (اوس) مې هومره تریخ دی
لکه زقوم د دوزخ
اې د ماضي حسرته !
مګر د مرګ د عزرائیل ګوتې د عشق تر ستوني هم رسېږي ؟ !
زموږ مینه خو لا سترګو کې وه
چې د ښکلاوو د لور شرنګ پورته شو
او مینه وچه شوه

WWW.SAMSOOR.COM

ايرې شوه
چېرې باد يووړه
دا وه د کومو تندرونو وېره
چې مې د سترګو شپول کې ورکه شوه رمه د اوښکو
او ستا د خال د شپونکي قتل په وربل واوښته

مينې د تل لپاره کډه کړې
سږ کال غنمو ګلخنګي ونه کړل
ياسمني هار به دې غاړې ته له څه شي جوړ کړم
شوې د لوګريو سترګې دومره وړې
چې له ستريو يې يوه دانه هم نه تويېږي
اې خوشه چينه اشنا !
ستا په نکريزو سرې منګولې به بيا جوړې نه کړي
د طلايي فصل د وږيو قودې
زلمي بزګر به سږ کال هېڅ تاته در ونه ګوري
او ستا له لپو نه به هېڅکله اوبه ونه څښي
هغه له تا څخه ځان داسې ساتي
لکه د اور له لمبو
تا ته کتل ورته ګناه ښکاري
او اخيستل ورته د مينې دنوم سوچ کفر دی
آه خدايه نه پوهېږم

WWW.SAMSOOR.COM

چې د ګناه
ګناه
ګناه
له ويرې
(عمر) په (ژوند) حساب دی؟!

مينې د تل لپاره کډه کړې
څه د ښايست د وچکاليو کال دی
بس زه يو ازې او يوه کوډله
له خپل شاعر خوب سره
يوه جذام وهلې لويه تاپو
پکې يو وچ ځنګل او سپينې واورې
له بې ښکو يو څو زانو سره
زه هومره ړوند يم د کوډلې ور مې نه پېژنم
بس يوه لار د لمر خاته له خوا دوزخ ته تللې
يو ازې ماتې پنجرې نه راته ښکاري
يوه وچه درويزګره څانګه...
زه يې مړوند وينم کوم چاته اوږد دی
د پاڼو شنه بنګړي ميرات دي ورنه
او تورې ګوتې يې لا ښورې باد ته
کله يې مات رغوي کې پريوځې يوه ژېړه سکه

WWW.SAMSOOR.COM

او زه پرې پوه شم چې لا لمر ژوندی دی
اې ماته ګراني تاپو !
زه تل ويده يم ستا وروستۍ سلګۍ په خوب کې وينم.
کله چې غوږ ونيسم
د چا د پښو غږونه اورم چې په وا وره راځي
د زمکې سپين ځادر يې ګام لاندې ځګيروي کوي
کنګل ماتېږي...
او د کارغانو له کغ کغ سره د ځانګو متې هم ريږدوي
آهای زما سرګردانې اروا !
ستا ويروونکې ښکالو اورم
مګر څه وکړم بې وسه يمه لاس نه لرم
زما د کوډلې ورلږ ورو ټکوه
څو مې د ذهن د تاخچې ځاله کې
د خيال د شنو کوترو خوب مات نه کړې

مينې د تل لپاره کډه کړې
بيګاه مې بيا په خوب کې وليدلې
د خپلې ټولې ښکلا حجم سره
چې دې د مينې د سندرو پر ځای
راته د «وياړ» زړې بدلې ويلې
اې پر ما ګرانې ښکلې

WWW.SAMSOOR.COM

نور مې رګونه وچ دي
تنده مې هم ماته ده
نو راته ووایه چې
دا ستا ، د (هېڅ) په نوم به څه بهوم؟ !
اې قلندره اشنا !
اوښکې دې مه تویوه
دغه زیارت ستا پر ډوډۍ او زما پر وینو جوړ دی
زه هم راغلی یم خیرات غواړمه
ستا د کچکول د ماتېدلو خیرات ( ! )
زموږ د وران کلي پیتاوي کې بیا سیوري ښکاري
د زیارتونو تر څنګ
څو ببرسرې پېغلې
څو لېونۍ چیغې شلېدلې تنۍ
څو لارې وینې په سپېرو خاور کې
چې ماته ښکاري پرې لیکلي يې دي:
آهای !
د بدمرغیو نسله !
ته پرې خبر یې که نه؟ !
مینې
د تل لپاره
کډه کړې

WWW.samsoor.com

# زنداني

يوه ښکلې نګهبانه
د تياره زندان پنجرو کې
ګنهکار د مينې ساتي
زنداني هره خوا ګوري
بس وجود د نګهبانې
دهغه پر روح راخور دی
ښکلې سترګې يې ساتونکې
مخ يې ورځ زلفې يې شپې دي
يو ساده غوندې ژوندون دی.
يوه ورځ چې نګهبانه

WWW.samsoor.COM

عبادت لپاره ولاړه
یوه ورځ یې چې دعا ته
دآمین سترګې شوې پټې
یو ناڅاپه هرڅه تور شول
دژوندون رڼا شوه ورکه
زنداني چې هرخوا ګوري
هغه دوه سترګې نه ویني
په زندان کې هنګامه شوه
نګهبانه را په خود شوه
ژړیې وکتل زندان ته
زنداني پر خپل ځای نه و
نګهبانه شوه پریشانه
مګر نه چې زنداني وي تښتېدلی؟
خو چې ګوري هسې نه ده
زنداني بې نګهبانې
ژوند په تورو تیږو وویشت
زنداني
بې له دوه سترګو
ځای پرځای هملته مړ شو.

۲سلواغه ۱۳۸۷

www.samsoor.com

# ليک

زه دې نو کومه خاطره هېره کړم
هره شېبه رابانــدې اورلګوي
هره شپه ستا سترګې په خوب کې وينم
په ما دهيرې مينې تور لګوي

چې ته د وړانګو له هېواده راغلې
زه ستا دغږ زمزم ته تږی ناست وم
چې بيا په دې ختمه کې دمه پو کړې
وم آدمزاد خو لکه مړی ناست وم

ته راستنه شوې داسې بې خبره
لکه دګل پاڼه کې پټه وږمه
او زه لا تږی جل وهلی روان
ژوند راپه شالکه داوړي غرمه

پوه شومه چا تا ته قسم درکړی
چې بيا به نوم د (هغه) نه يادوې
دلته يې سيوری بر يې ستوری نشته
دداسې چا به نو کوم ښه يادوې

WWW.samsoor.com

خو ګوره ! تا کله پوښتلي ځان نه
چې بې له تا به په ما څه تیریږي
ها چې قسم یې دی درکړی تا ته
د هغه څه چې په چا څه تیریږي

پریږده چې هر څه راځي زه یې ګالم
تا ته درکړی قسم نه ماتوم
په زړه کې ناست د مرمرینې تقوا
دغه سپېڅلی صنم نه ماتوم

زه هسې هم ستا ګنهکار یمه ډېر
له خپل دوزخ سره به خپله سوزم
تا دې خدای (ج) ساتي د جنت وږمو کې
ته را ته ګوره چې تر کله سوزم

بس ته دې شونډو کې زمزم وساته
ما ګنهکار ته به په کار شي کله
موږ دوزخیان هم خدای (ج) ته تمه لرو
شپه به په موږه هم سهار شي کله

۲۴ مرغومی ۱۳۸۷

WWW.SAMSOOR.COM

# پر پلستين يوه بله ژړا

های !
د داود او سليمان هيواده !
خاوره دې وينو سره ګډه ختمه
او هر ديوال دې د انسان له سويو چيغو نه رنګ
مورې ستا تصوير کې ده هر څه نوي وينو:
يو ماشوم څنګه په ګولۍ سوری کيږي
او يو ځوان څنګه ځنکدن کوي
پر زمکه باندې خوله لګوي
يوه مور څنګه د اسمان لوري ته مخ اړوي، چيغې وهي
او د څلورو مياشتو ښکلی هلک
لکه ويده چې وي په خپلو راوتليو کولمو لوبې کوي
مورې د اقصی له ديوالونو سره جنګ د چيغو هم وليده
او د زلميو د سلګيو انګازې چې د شرقي ديوال

WWW.SAMSOOR.COM

تر خښتو رسي !

هيڅ پيغمبر د دومره وينو خوب ليدلی نه و ،

موسی !

عيسی !

آخر زمانه نبي !

ګورئ ! انسان

لکه يو وږی ليوه

د بل انسان پر غوښو غاښ تيروي

هغه انسان چې تا سو !

د دغې زمکې پر سر

د مخلوقاتو خليفه وټاکه

هغه انسان اوس د ماشوم پر وينو

د خپل مذهب دعا په فخر ليکي

هغه انسان د خدای رضا

د بورو ورارو په غوغا کې ګوري

هيڅ پيغمبر په خپل هيواد کې د سياست په نامه

د فاجعې حکومت نه وغوښتی

های !

د داود او سليمان هيواده !

WWW.samsoor.COM

يو ځل زخمي لاسونه وخوځوه
پاس د آسمان خواته يې لپه يوسه
د ټولو سترو اروا ګانو لمن وننګوه !

يو ځل پوښتنه وکړه
چې دا سې ولې کيږي
ولې د هيچا په سينه کې زړه د غوښې نشته
ولې سندره د ليوه د غاښو
او د تنکي ماشوم د غوښو لاهم
د مدني انسان په غوږ ښه لګي؟

کابل: ۲/ مارچ/ ۲۰۰۸

WWW.SAMSOOR.COM

# د وړانګو له هېواده

په هر طواف کې زما ياد ورسره
هغه پر تور بخمل چې شونډې ږدي هم ما ښکلوي
زه يې په زړه کې ناست او حج کومه
زه يې لېمو کې اوسم سعی کوم
ورسره يو ځای ترمينا پورې ځم
چې د زمزم چينې ته ورشي ما په اوښکو مينځي
ها توره تبږه ښکلوي هم زما د سترګو په خيال
خدای ته نږدې له مانه لرې جانان
مګر په زړه کې ناست دی دلې جانان
لکه هاجر له ابراهيمه لرې
په زړه کې پټ د عشق ذبيح ساتي
بيلتون په شګو ولي رجم کوي
د عشق ځلويښت لمونځه د زړه يثرب کې

WWW.samsoor.COM

له هر مناره د بلال ازانګې
له هر براق سره د وصل زيرى
هغه مينه لکه ستره حوا
هغه سپيڅلې لکه ښکلې مريم
هغه د دې عصر د عشق زليخا
هغه به تږې شي او به به نه وي
هغه به ستړې وي دمه به نه وي
څوک يې ياد ېږي خو هغه به نه وي
لکه هاجر به سرګردانه وي د ژوند دښته کې
د اسماعيل د خوب شيبه غونډې به وويرېږي
هغه به ډېره سرګردانه وي د عشق لپاره
او د کعبې خواته به ګوري په اوښلنو سترګو
د اوښکو شاته به مرقد ته ګوري
زه به يې زړه کې ناست يم
چې يو ناڅاپه له کوم لوري وا اوري
يو غيبي غږ لکه عرشه راشي
چې د مينو زړونو حج قبول شو
ها يې چې زړه کې ناست دى
ها ليوني شاعر ته هم مبارک
ها ليوني شاعر ته هم مبارک

۲/۷ ليندۍ/۱۳۸۷ المريزکال

WWW.SAMSOOR.COM

# ځنګل، ته او ښکلا

ځنګل د ټولې نړۍ ګډ وطن دی
ځنګل چو پتيا لري
ځنګله کې د هر راز ونه پټ دي
ځنګل د پانو
دوښو
او د ريښو ښکلا ده
ځنګل د ټول خلقت د نيمې ښکلا غل ختلی
زه چې ځنګله ته راشم
د ليونتوب په مانا وپوهېږم
زه چې ځنګله ته راشم
د خپلې تيرې ماضي ورک ګامونه بيا پيدا کړم
زه د ځنګله په هره پاڼه کې ستا ښکلې خندا پېژنمه
چې په ځنګله کې ځان يوازې کړمه
نو زما خوښه ده چې هر څه کوم
که د ماشوم په څېر ټوپکې وهم
يا خو د زړه له کومې چيغې وکړم
هېڅ څوک به و نه خاندي

WWW.SAMSOOR.COM

هېڅ چا نه نه شرمېږم
ځنګل د ټولې آزادۍ مانا ده
ځنګله کې ستا ښکلا
زما ليونتوب
او د طبيعت رازونه
ټول شنه شوي
زه له ځنګله سره همزولی روح يم
خدای خبر ولې په ځنګله مين يم

۲۲ ميزان ۱۳۸۷
د ګلمارګ ځنګلونه ،کشمير

WWW.SAMSOOR.COM

# کشمیر

شنې اوبه ډکې له پانو
نیلوفر په کې راشنه دي
کوچنۍ بېړۍ روانه
د ګلونو منځ کې لاره
لرې څنډه د ډنډ ښکاري
لمر دونو شاته لوېږي
د ګلونو سوداګره
په وړه بېړۍ کې ناسته
د ګلونو ګېډۍ ډېرې
کشمیرۍ موسکا په شونډو
قرص ټټر یې دی پر غاړه
سورتیکری یې باد ته رپي
د وړو وړو بېړیو
مساپرو ته راګوري
د ګلونو ګېډۍ لاس کې
پاس د غرو پر څوکو واروې
شنو لمنو کې ځنګلونه
پر ښه شنه ده۔

WWW.SAMSOOR.COM

تيږه شنه ده
د لمر سره سرخي پريوزي
مازيګر پر نيلوفرو
د بيړۍ په نرۍ څوکه
او به خيرې شي
په پانو
په بيړۍ کې يوه ښکلې
مخامخ زلمي ته ناسته
غوارې يې ټوله ورنه ځار شي
ټول غمونه، ټوله ويره
خپلو سترګو کې ترې پټ کړي.
دا يوه شيبه د مينې
ډېر کلونه ډېر عمرونه
زما په سترګو کې راشنه ده
هيڅ يو شعر
هيڅ يو انځور به
دا شيبه ټوله ځاى نه کړي
ښکلا څومره ډېرهستره
هنر څومره ناتوان دى

۲۵میزان، ۱۳۸۷
سرينګر، کشمير

WWW.SAMSOOR.COM

د تخار د خواجه بها الدین زنداني کډوالو ته !

# روښانه ببرته راځي

دنګ هیندوکوښ شاهد دی
چې هاغه ستر سکندر څنګه مات شو
روښانه، سپین نقاب پرمخ
توره تر ملا په خړ ماښام کې ولاړه
د آس له پوندو یې د دوړو نرۍ لیکه ښکاري
څو پېړۍ وړاندې سکندر ولړزېد
روښانې توره داسې ووهله
او هیندکښ شاهد و
روښانې ډېر سرونه واخیستل
او خپله د پردیو د ډولۍ نذر شوه
«باګرام» شاهد و «بګولان» ورکتل
روښانه ولاړه ، د تاریخ برخه شوه
د «ګوزریاتس» اوښکې لا وچې نه دي
روښانه ببرته راځي
مشال په لاس
د سولې سپین کمیس پر غاړه
شین پړونی پر سر

WWW.samsoor.COM

روښانه بېرته راځي
د عدالت لمر یې تندي کې برېښي
او د سپین آس څنې یې باد ته ناځي
روښانې !
لاس اوږد کړه ماشوم راواخله
هاغه سپېره
هاغه نهر
هاغه حیران ماشوم
ها ترهېدلی ، د متروکې شړک ځپلی ماشوم
روښانې !
لاس اوږد کړه !
پر آس یې سپور کړه !
یو ځلي بیا یې د بخدي پر کلا وګرځوه
د «ګوزریاتس» د کلا برم ته یې د زرځو سترګو باز یو سه
د ستر نېکه د نغري ګرمې اېرې باد ته ورکړه
روښانې !
روح د کانیخکا راویښ کړه
او د پکتیس لکړې ولړزوه
بېګا د ((سپین تومن)) د اور پر ښتو
د «ناویهار» اورتون روښانه ساته
او د آمو څپو

د ستري سوريا
له هريو ګام سره لنډی بللې
ما د سپېره
د دې نهر
د شرک ځپلي ماشوم
د سترګو کونج کې د سپرغيو کربښې ولوستلې
هلته ليکلي وو چې:
د ننګ هيندوکښ شاهد دی
روښانه ببرته راځي.

۱۸ـتله ـ ۱۳۸۷

۱ - روښانه، رکسانه، رخشانه:
هغه مهال چې مقدوني سکندر د هيندوکوښ لمنو ته ورسېد د سيمه ييزو افغانانو له کلک مقاومت سره مخامخ شو ، د پښتنو د خان «ګوزرياتس» سرتيرو کلکه جګړه کوله په تېره بيا پخپله له سکندر سره يو نقاب لرونکی سپور په سختۍ جنګېده، يو ځل د سکندر د توري په قبضه کې د سپور نقاب ونښته او څېره ښکاره شوه، د سکندر خوله، له حيرانۍ خلاصه پاتې وه ، ځکه ويې ليدل چې زړه ور سپور يوه ښکلې پېغله وه. سکندر جګړه بس کړه او پر پېغلې يې زړه بايلود ، د واده بلنه يې ورکړه پېغلې ورته وويل: زما د پلار «ګوزرياتس» له سيمې ووځه ، ټول اسيران خوشې کړه بيا به زه در سره واده وکړم ، سکندر دا شرطونه ومنل او دغه زوړه وره افغانه يې ورواده کړه.
۲ـ باګرام ـ نننی بګرام:
۳ـ بګولان: وروسته عربانو بغولان کړ او بيا بغلان شو ، نننی بغلان ولايت.
۴ـ بخدی ـ نننی بلخ
۵ـ کانيخکا ، کنيشکا ، نامتو کوشاني ټولواک
۶ـ پکتيس ، پښتون
۷ـ ناويهار د نوبهار زوړنوم
۸ـ سپين تومن د زردښت لقب و ، چې مانا يې ده سپين نژاد
۹ – سوريا د آريايانو د لمر ، ښېرازۍ ، روښانۍ ، اوبو او سيندونو ټولواکه.

www.samsoor.com

# د خوب او ويښتيا تر منځه

ستا غم په زړه کې ويښ دی
ستا د درد پيټي بار د روح پر اوږو
د بيابان سرې تبږې
او
زما د زخمي تلوکيسه
څومره چې ځم غرونه هم لرې روان
چانه پوښتنه وکړم؟
چې غرونه لاهم غمځپلو ليونيو ته پناه ورکوي؟
آيا په غرونو کې لا سمڅې شته چې:
د عشق له رنځه فراريانو ته ددمې کور شي؟
ته لا هماغسې د ژوند د بيابان سراب يې
لرې
ډېر
لرې د افق په څنډه
دنګه ولاړه يې او ګورې راته
ستا غم په زړه کې ويښ دی
او زما ړندې سترګې له خوبه باسي
زه له هغه ښاره وتلی يم چې

WWW.samsoor.COM

هلته د عشق ګناه تر قتله ستره
او ويني وړی دی د ميني فصل
غرونه !
چېري دي غرونه
چې پناه ورووړم
ستا غم په زړه کې ويښ دی
عجيب قانون دی د ښار
عشق ته د رسم او رواج زاړه کولپونه پراته
بازار د تورو او چړو پرانيستی
د دوست ديدن سخت
د دښمن تر قتله
لا ته ولاړه يې او ګورې راته
ستا غم په زړه کې ويښ دی
بيابان د پټو هديرو سمندر
له تندې مرمه
او به نشته
وينه نه شم څښلای
چېرې ولاړه يې
زما لاس ونيسه
مرم درپسې !
رواج مې نه پرېږدي چې لاس دې ښکل کړم

WWW.SAMSOOR.COM

ځکه ستا لاس ښکلی دی
او په ښکلا باندې د شونډو
موښل شین کفر دی
مونږ له یو بله جدا
ځکه دیدن خو مو ګناه ده
ګناه !
یوه پوښتنه کوم
مونږ د دیدن له ګناه ویره لرو
مګر هغه چې د انسان پر مرۍ تیغ را کاږي،
نه ویرېږي
وو ایه کومه ګناه،
څنګه ګناه
لاس راکړه
مرم درپسې
مخ مې ښکل کړه
زما مخ سپیڅلې دی
د پاک کتاب د پاڼې په څېر
پر مخ مې ډېرې اوښکې وبهیدې
د هیڅ چا وینې ور الوتې نه دي
اوښکو زما پر مخ دا ستا د شونډو ښکلې سرخي نه ده وړې
ماته دعا شوې ده !

WWW.samsoor.COM

«خدای دې سرخرویه لره !»

ټول عمر ستا د شونډو رنګ ساتم
او سور مخ ګرځم
ستا غم په زړه کې ویښ دی
غرونه لا لرې دي
او زه ستړی یم
ته لا هم لرې د افق په څنډه
د ننګه ولاړه یې او ګورې ورته
چې عشق قتلېږي د ګناه په نامه

۴ تله ۱۳۸۷

WWW.samsoor.COM

# هله

هلــــه يــــاهو هلــــه يــــاهو ووايــــه
هلــــه ميراتــــه وســـله وغورځــــوه
هلــــه راځــــه هلــــه پــــا يځې بډوهــــه
هلــــه ځــــولۍ نيســــم منــــې ښنډوهــــه
***
هلــه چــې ورانــه چــوتره جــوړه کــړو
د کــلا بــر ســر کــې حجــره جــوړه کــړو
هلــه ماشــينه لــه اوربې کــوزه کــړه
چــې تــرې ښپــرې تــه زينــه جــوړه کــړو
***

WWW.samsoor.com

هلـــه جو مـــات مـــو منـــاره نـــه لـــري
پـه کـې ماشـوم څونـډې سـپاره نـه لـري
هلـــه میلـــه د راکـــټ کـــور نـــه راوړه
ورانـــه دیـــره مـــو کتـــاره نـــه لـــري

❋❋❋

راشـه دا لـس ګـوتې کـړو لـس بزغلـي
د زړه پـــر للمـــه چـــې بـــاران ووري
کـه لـه آسـمانه څـاڅکي نـه پریوتـل
اوبه به ورکړو اوښکې څاڅکي څاڅکي

❋❋❋

د ټوپـــک ماتـــه شـــپیلۍ وشـــرنګوه
د تـــوت پـر شـنه څانګـه یـې ونځـوه
چې ښـوونځي تـه تـرې ټـالۍ جـوړه کـړو
هلـــه ګـــولۍ د ټانـــګ راوځـــړوه

❋❋❋

# اور، ورا ، لنډۍ

شينواري ببو پړونى دې راسم کړه
ها ،چې رنګ دى په سرو وينو خړ په خاورو
دخانک خولۍ سورۍ شوې دمزرو
پروت شاهو دې هلته لرې مړ په خاورو

شينواري ببو دناوې دړۍ وسوې
پولادي کارغانو اور پر واده راوست
نغارې په لمبو وسوې ،داريا مات شو
کافر زړيو نوى شور په واده راوست

شينواري ببو سبا به راډيو وايي
چې پوره تحقيق به وشي په دې کار کې
زورورو سره ،چېرې زمونږ کېږي
دخپليو ټوټې شماره په دې لار کې

شينواري ببو څوک نشته په وطن کې
چې لږ ووايي کاوباي ته: ( خولا ته ګوره ! )
داملت په ( وي ار ساري ) نه پوهېږي

WWW.samsoor.COM

د ترهګرو ډلې نه دي، ورا ته ګوره

شینواری ببو له تورو کرښو راشي
دلته اور زموږه په مېنه باندې بل کا
دلته پوزې د کافر ته ګوته یوسي
مرګ د خوار پښتون د خوارې مېنې مل کا

شینواری ببو د میني کېسې نشته
ستا ځنګل د سرو لمبو د خولې خوراک شي
یا ځانمرګی یا کارغه پولادي راشي
لمنځه ماته شي زړګی د ځیرې چاک شي

شینواری ببو په ورا پسې به نه ځو
نور به نه لمانځو ودونه په لنډیو
دغه ژبه دغه قوم د مرګ لایق دي
ټول سرونه وهل کېږي د پګړیو

شینورای ببو له چا نه ګیله وکړو
خپل ببري مو هم واسکټ د اور اغوستی
د سپین غره لمن کې خپله مکتب سوځو
له کتابه مو توبو ته قوم راوستی

WWW.samsoor.COM

شینواری به بو ګور ګورې سره کال نشته
په خپل لاس مو د ویالې اوبه سیځلي
(وي آر ساري) ته ګیله په پښتونه شي
مورې له خپلو سوړو تور ماریو چیچلي

شینواری به بو پروني دې راواخله
د ماشوم څونډي بدن په کې رانغاړم
ته زما په دې د سمال باندې مخ پټ کړه
زه د ځوان اوغانستان مړي ته ژاړم

16 / چنګاښ/1387

یادونه:
دا شعر د شینوارو پر هسکه مېنه د هغې بمبارۍ خاطره ده، چې ناورې- زوم او ورا یې له ژونده د مرګ کندې ته ورولېږل.
خولا ته ګوره: د شینوارو په ګړدود کې (د خدای لپاره).
وي آر ساري **We are sorry**: مورې خواشیني یو.

WWW.samsoor.COM

# هېره

په عشق کې تريخ دی
خدايږو تريخ
د هېرولو فصل
يو داسې فصل چې نور
د خپلې مينې سترګې نه شې ليدی
د دې کړو وړو لفظونو مستانه لوستونکيه !
يو څه له ځانه سره فکر وکړه !
څومره ترخې شيبې دي
چې په يو ښار په يو وطن کې مساپر شې
ورک شې
خپله خوږه مينه له لاسه ورکړې
هره شيبه ورته لوګی شې
ورته وځورېږې
هغه هم وسوځې لمبه لمبه شي
خو د کافر ژوندون
د جبر شيبې
هغه له تا او تا هغې نه ورک کړي

WWW.samsoor.com

هېڅ څوک پوهېږي نه چې:
زه ورته څه وايمه
هېڅ څوک زما د زړګي زخم - زما دردنهويني
آه ! چې زه څومره نن يوازې يمه
لکه بيابان کې يوه وچه ونه
يا په ځنګله کې يو ورک شوی سړی
خدايزده چې زما هغه ښايسته محبوبه
چې اوس په اوښکو زما خبره له خپل زړګي نه توږي
او غواړي زه يې هېر شم
ـ څومره يوازې او غمجنه ده اوس ـ
هغه په دې لويه دنيا کې اوس يوازې ده
بېخي يوازې
لکه آدم نه ورکه شوې حوا
لکه له سيله پاتې شوې هيلۍ
مور دواړه جبر د ژوندون وهلي
غواړو يو بل مو هېر شي
څومره ظالم بشريت ! !
څومره بې درده خلک ! !
څومره بې زړه وګړي ! !
څه بې پروا انسانان ! !
ټول لا ژوندي دي

WWW.samsoor.COM

او لا سا را کاږي
عجيب بې حسه جهان !
لمر لا سوړ شوی نه دی
اسمان لا نه پريوځي
زمکه لا نه چوي
او لا اور نه اوري
عجيب ظالم ژوندون دی
زه او جانان يو بل نه بيل يو
سره نه شو ليدی
موږه محکوم يو چې يو بل هېر کړو
خولا قيامت نه راځي
خدای خبر ولې ؟
موږ يو ازې
د خپل درد لپاره
همدا کمزوري د وه ياران پاتې يو

غبرگولی 29 مه شپه 1387
کابل

WWW.SAMSOOR.COM

# ښځه

د عرش له نوره راوتلې چينه
دعشق له خاورې سره ګډې اوبه
په دې هستۍ د ښځې نوم پورې شو
آدم يې سيوري د ښکلا ته ويده
دې لوپټې لاندې ماشوم للو کړ
له پاسه نور د خداى پرې ووريده
ماشوم پرې پوه نه شو آدم خبر نه
ښځې د ستورو هومره رنځ وليده
ماشوم چې وږى شو شيدې يې ورکړې
آدم چې ستړى شو دې ونازاوه
ښځه هم وږې وه هم ستړې ستړې
هيڅ څوک په دغه راز ونه پوهيده
ماشوم چې لاس خلاص کړ د مور خندا وه
آدم چې لاس پرانيست، ددې په کې زړه

**1387** / نوروز

WWW.samsoor.COM

# زما قبر

بېګاه مې خپل قبر په خوب لیدلی
قبر مې اووه لارې دی
د راتلو اووه دروازې دلته راځي
لوړه
خپل ورور
غیرت
او جنګ پر ایمان
میراث
پیسې
او مینه
قبر مې اووه ځله تر نورو تیاره
قبر مې ډېر تر نورو خلکو تور دی

WWW.samsoor.com

قبر مې کولپ لري

د سروزرو زنځير پرې څوړند

قبر مې زوی جوړ کړی

زوی مې د قبر واستا کار دی

او وراره مې زرګر

دواړه قبرونو ته د سروزرو زلپې جوړوي

ورور مې قصاب دی

هره ورځ له خولو نه شونډې ريبي

او زما پر قبر يې خورې کړې لکه پاڼې د ګل

مور مې ماښام تياره يو پنډ ليونتوب

زما پر خاوره باندې وشيندي او کټ کټ خاندي

او د خپل سرتورې او سپينې کوڅې

اووه ځلې واوبې او وې سپخوي

يوه بې بې تر اوو ټيکر يو لاندې

زما پر قبر بوخه ناسته ده او پته ژاړي

زما پر قبر د زقوميو نيالګی را شين دی

زما قبر قصر غوندې اوږد جوړ شوی

او د تاريخ په خبر پيېنځه زره زينې پرې جوړې

زما قبر زما د ټولو ترونو او نيکونو له جګړو ښخه لوی

زما قبر ډک د تيرو تورو له شرنګا او خرپـــــا

زما قبر لويه عبرتناکه کيسه

WWW.SAMSOOR.COM

د دې فاني دنیا ژوندو خلکو ته
زما قبر ډېر ښکلی دی
زه مې پر قبر مین
زه مې په قبر باندې سرور کوم
زه د خپل قبر د ساتلو زړور سرتیری
زه د خپل قبر پر تاریخ ویاړ کوم
زما قبر سوری دی هره ورځ را ثاخي
زما هډوکي په اوبو کې خیشته
زما د ابد د کور ډېرې ورستې
خاوره یې ټوله په سرو وینو خوسا
زما قبر زما د شهادت د دورغجنې کیسې راز ساتلی
زما دا بد کور د دوزخ ګاونډی
دلته پیریان له جزیرې راغلي
ټوله ورځ سر په هو هو دي
قصیده پخوي
یوه ناولې ښځه راشي خپلې بنې باندې
هغه تاویز چې په هیندو یې کړی
او د خوګ وازده کې یې پټ پوښ کړی
زما د قبر په لویدلي اړخ کې ننه باسي
زه د دوه بنو د زړې دښمنۍ
ډېرې کیسې په خپل تیاره قبر کې پټې ساتم

WWW.SAMSOOR.COM

زما پر قبر د زقومو يوه ونه شنه ده
بيګاه يو ورک عرب زما د قبر خاوره باندې
ځان و څانډه
او کوم شين سترګي شيطان
پر همدې خاوره سره شراب تويې کړل
زما پر قبر باندې لار تيره ده
نه توبه ! زما قبر په لاره کې دی
زه يو نوم ورکی مړی
پر خپلې خاورې يوه ماته شناخته هم نه لرم
چې پرې خپل نوم وليکم
مګر پر ما مې قبر ګران دی
او لا ويارمه پرې

۲۷ - حوت ۱۳۸۲

WWW.SAMSOOR.COM

# پېغله د پرش

نن مې کالیزه وه
د ژوند پېغلتوب د يرشم درد مې چا ونه لمانځه
نن هیچا هم مبارکي رانه کړه
مور، کليوال پښتانه
خپلې کالیزې په ډيوو نه لمانځو
نن هیچا هم راته یو ګل رانه وړ
هاغه دوه سترګې چې يې څو کلونه
راته په مینه او موسکا مبارکي ويله
چې به يې ورو په دواړو مخو ښکل کړم
بيا به يې په خپل لاس پاخه شوي کوم څه خوله کې راکړل
نن له هغې څخه هم هيره وه زما کالیزه
نن مې د ژوند پېغلتوب د يرش غمه تېر شول
خو هیچا هم مبارکي رانه کړه
چا يو ګل رانه وړ
او ويې نه ويل:
ګرانه لېواله ! مبارک کالیزه !

۲۰ کب ۱۳۸۲ ل
کابل

WWW.samsoor.com

# د ګډلونو سوداګر

د مکتب جينکۍ توري
لکه توري شامتوري
سپين ټيکري يې لکه غاړو کې پټاري
ماشومتوب نه راوتلې
سپين ساده مخونه راغلي ډلې ډلې
د مکتب د زنګ چې کړنګ شو
زلمکي د ديوالو سيورو ته راغلل
کتابچې او کتابونه يې د ملا تر ملاوستنو لاندې پټ کړل
چا د ګوتو په سرونو په ويښتو کې کوڅې وکړې
چا بوټونه د پايڅو په استرونو باندې پاک کړل
د مکتب جينکۍ تونديـ نخره بازي
زلمکيو نه راتيرې شوې بيخياله
ته وا هيڅ يو يې و نه ليد

WWW.SAMSOOR.COM

نرۍ ملاوې يې کږې وږې کولې
وې په زړونو کې حيرانې
زلمکي به را روان شي؟
که ولاړ به وي لا چا ته
د غرمې په سره ګرمۍ کې
تورو تورو کميسونو کې راګيره
سره څونډۍ والا خولۍ ده
لږ په وچولي راکوزه
لاندې دوه ببرې وروځې
لمر سيځلې غنمرنګه څېره ډوبه
د خولو څاڅکي يې راشي تر ګرېوانه
پيسې واخلي چا ته ګل په لاس کې ورکړي
ګل پلورونکی زلمی شماري خپله ګټه
څو پستو ګوتو په لاس باندې لږ کېښکود
ګل يې واخيست ورو ورو شا ته ووتله
ګل پلورونکی لږ موسکی شو:
نن يې بيا ميده پيسې را باندې پور شوې
ګوندې بيا سبا ته واخلي څو ګلونه

۲۷/ وری/ ۱۳۸۴

WWW.samsoor.COM

# دا یوازې ته ولوله !

اوس نو هر څه درته وایم
نور نو د پټې خبر نه ده پاتې
نور مې د ځان ملامتۍ نه خلاصیدلی نه شم
پوهیږې ؟ !
جنګ کې ما ته هله راځي
چې زه په خپله ګناه وپوهیږم
نور زه پوهیږم چې د خدای او بنده
او ستا د سترګو ګنهګار څومره یم
هو ! ما په مینه کې د مینې د آبرو په خاطر
د مینې نوم سره جفا کړې ده
او ما په خپل لاس هغه ټول قولونه
هغه وعدې، هغه د مینې پیمان
او ستا باور مات کړي
هیڅوک، په دې لویه دنیا کې پوهیدلی نه شي
چې ((انسانیت)) کله د ((عشق)) په لوی قاتل بدلیږي
څوک به د عشق او انسانیت د جنګ په راز پوه شي؟
ما په دې جنګ کې خپله توره سره کړه
زه لوی قاتل شوم او سپیڅلې وینه وبهیده
ما ستا د هیلو پیغلې ووژلې

WWW.samsoor.com

او ما د خپلو ارمانونو زلمي ټول حلال کړل
ته وايه ولې؟!
بس د ژوند او انسانيت په خاطر
زه يو عادل پاچا شوم
يوه ښايسته شهزادګۍ
شوه د دښمن پاچا پر زوی مينه
آ بل پاچا زما رعيت پسې وه توره ايستې
اول ما خپله شهزادګۍ په وينو ولړله
او بيا د بل پاچا جګرې ته ولاړم
ټول رعيت لاس پورته کړ
زموږ عادل پاچا دې خدای و ښني
زموږ پاچا ده يوه لويه قرباني ورکړې
او زه عادل پاچا شوم
د خپل رعيت په خاطر
د قربانۍ ستوری شوم
ټوله دنيا کې مې لوی نوم پاتې شو
مګر د عشق په وړاندې
څه شرمنده ځومره سرکوزی ناست يم
هغه سپېڅلې ها ښايسته شهزادګۍ
بس لکه لمر د عشق پر هسک ځلېږي
او د ما د خپل رعيت لپاره هغه ووژله

WWW.samsoor.com

ما ستا لپاره هيڅ يو ګل را نه وو ړ
ما خپلې ګوتې تورو خاورو کې ونه کرلې
ما ويل له ګوتو به اغزي را شنه شي
خدای مه کړه څوک به پرې ازار غوندې شي
ما خپلې ګوتې تورو خاورو کې و نه کرلې
او ستا پيکی له ګله تش پاتې شو
ما ستا د عشق د قتلولو په نيت
د انسانيت ډېر شعارونه جوړ کړل
ما ويل که بل ووژنم
زه به قاتل شم
خو هغه به لکه لمر پر هيڅ افق باندې و نه ځليږي
خو ته مې ووژلې !
چې اوس د عشق د هر قدم رڼا يې
ته زما د شعر اتله
چې ښايي هيڅ تا ته ارزښت نه لري
ما ستا په قتل تا ته هر څه درکړل
لکه مکه کې قرباني د ذبيح
لکه جنت کې د شهيد انګازه
لکه د ټول تاريخ پر تنده د ايثار نښاني
عشق ستا په نوم يو بل تاريخ پيل کړ
او تا د مينې له آسمانه بل کتاب را وو ړ

خو زه په دې عصر کې
لکه يو لوی ګنهګار
ستا د سپېڅلې قربانۍ نښه شوم
چې هر مين به مې په شګو ولي
زه ګنهګار يم، مقدس ګنهګار
د عشق له وينو
هره ورځ د خپل ضمير ډېوې ته تېل ورکوم
زما قرباني لويه ده !
چا به خپل زوی وي په رسۍ تړلی
او په مرۍ به يې چاړه راکاږي
څوک به خپل پوست کې د چينجيو
د خوراک لپاره غوښه ګوري
څوک به ظالم ته هم له خدايه ځنې رحم غواړي
څوک به سينه
د دښمن تېغ ته لکه سپر ونيسي
څوک به د وينو کربلا ته وي په خپله روان
خو د تاريخ له قربانيو څخه
تر ټولو لويه قرباني زما ده
چې اوس يې وايم درته !
زه به يې ووايم، خو وېره لرم
چې د اسمان ستوري را ونه لوېږي

WWW.samsoor.COM

او لمر له ډېر شرمه ويلي نه شي
توتکۍ مړې نه شې
تاووس له غمه و نه سوځي
زه به يې وو ايم خو وېره لرم
چې د دنيا عاشقان ټول
زما د سنګسار لپاره
غرونه لا سونو کې را پورته نه کړي
او د بحرونو سترګې او ښکو څخه وچې نه شي
زه به يې وو ايم خو وېره لرم
چې اسرافيل خپله شپېلۍ پُو نه کړي
او زما کيسه خدای مه کړه پاتې نه شي
زه به يې وو ايم خو زما محبوبې !
ستا ښکلې سترګې به يې و نه مني
چې ما د يو انسان د ژوند په خاطر
د خپلې مينې غاړه غوڅه کړله
او ما يو ازې انسانيت ته د وفا په خاطر
مينې ته
نه وويل ! ! !

۱۳۸۲_ ليندۍ

WWW.SAMSOOR.COM

# باران او تصویر

بیا په شېبو شېبو باران ورېږي
او زما د ګاډي پر ښیښه اتڼ د څاڅکو جوړ دی
ته زما شا ته پر څوکۍ ناسته یې
زه د ښیښې تر شا سړک نه وینم
په عقبي هینداره ستا په ښکلو سترګو کې ورک
زه په هینداره کې دا ستا د څیرې سیند وړی یم
باران ورېږي، څاڅکي لا هم پر ښیښه نښېږي
او ستا خوږې موسکا هنداري کې ګلونه کړي
اې !
دا خو راورسیدو
بس په دې بل سړک به ته کوزه شې
خو ګرانې هیله کوم

WWW.SAMSOOR.COM

که ته کوزېږې خپل تصوير دې پرېږده
پرېږده موسکا دې په هينداره کې همداسې ګل وي
پرېږده چې ټوله لاره
همداسې ستا خوږه موسکا ووينم
غواړم چې ټوله لاره
ټول ژوندون
او
ټوله هستي
زما په هينداره کې ته ناسته
ته موسکۍ پاتې شې.

۲۵ لړم، ۱۳۸۵

WWW.SAMSOOR.COM

# اعتراف (۱)

نن مې د بره پر زړه اورې
نن مې د بره را يادېږي
موږ په هيڅ څه مرور يو
زما او ستا خپګان ته هغه
بهانه هم را نه ښېره
موږ د خپل غرور لپاره
د بې ځايه ضد له زيله
خپل زړګي پخپله مرور و
پوره د برش سهاره راغلل
پوره د برش مابنامه تور شول
زه او ته يو بل ته ګورو
چې به څوک اول پخلا شي
چې آبل خبرې پيل کړي:

WWW.SAMSOOR.COM

دا ځل ټول ملامت ته وې
خو زه څومره په زړه کلک يم
ته خپه يې مګر زه لا
خپل فکرونه جنګومه
فلسفې په زړه کې شاربم
چې که موږ ځانته غره يو
يا مغرور د ځان غلام يو
بيا نو ولې د عشق زور ته
دا سې زړونه خورو له غمه؟
ځانځاني د عشق قاتله
زموږ عشق زموږ قاتل دی
دومره درد او دومره ځور
دا له کومه عشق کې اوسي
مګر عشق څنګه بلا ده
چې خودي هم ورته پرېوځي
په ګونډو شي سجده وکړي
دا سې ډېر پرېشان فکرونه
زما ذهن پسې واخلي
يو ناڅاپه را په خود شم
ګورم ! ډېر يمه خواشينی
نن مې ډېره پر زړه اورې

نن مې ډېره را يادېږې
خو لا هم نه پخلا کېږو
زه پوهېږم ته په تمه
چې بس يو ځل زه درغږ کړم
اې ! دا ځل ملامت ته وې
مګر زه يمه په تمه
چې دا ځل به ته را غږ کړې
زموږ مينه زموږ عمر
د غرور او عشق په منځ کې
داسې هېر او داسې تېر شو
لکه خوږ د ځوانۍ خوب چې
د يو پټ زخم په درد کې
شي پرېشانه، لا لهانده
مګر مرګ راشي او موږه
له دا هسې خوارہ خوبه
لکه چيغه را بيدار کړي
او د عشق له پټه رازه
پس له مرګه بيا خبر شو

۱۹/ عقرب/ ۱۳۸۲

WWW.samsoor.COM

# اختر

میاشت شوه رابره
اختر به راشي
کلی لا لرې
لاره ده ډېره
کوڅې اوږدې دي
دروازې ډیرې
بخمل مې راوړ
تور او چکان دی
شام لندن دی
سپینه خوشبو ده
شنه ارګندي ده
خال زري شته
ګز په څلویښت ساده تافته ده
❋❋❋
ستړی ستومانه

WWW.samsoor.com

خړو کوڅو کې
سر په نارو یم
په دروازو کې
میاشت شوه رابره
اختر به راشي
یو بوډا ناست دی
د جومات خوا ته
لارې ته ګوري
خاورو کې باسي
په یو لرګي نري خطونه
درې ورځې پاتې
چې زوی یې راشي
دروازې ډیرې
کوڅې اوږدې دي
❋❋❋
چیت بخمل درون دی
ګز لګومه
دروازه خلاصه
یو سور پړوني
یو تک سپین لاس دی
شین بخمل غواړي

WWW.samsoor.COM

د ګڼ لپاره
وايي لالا مې
چورمې راوړي
مياشت شوه رابره
اختر به راشي

***

کونډه لګيا ده
لاس په پخخه کې
چې غاړې ورکړي
يو بل تنور ته
تنور په سل روپۍ خرڅيږي
واړه نورګل ته
يو ګز ټوټه ده
نوره په کار ده
مياشت شوه رابره
اختر به شي
بوډۍ لګيا ده

***

ستنه په لاس کې
واړه لمسي ته
پايخه پيوند کړي
خړې کوڅې دي

WWW.samsoor.com

كلاوې ډېرې
يو زلمی غلی
د ديوال شاته
پټ پټ روان دی
بوخڅۍ په لاس کې
يو څه نکريزې
څه پتاسې دي
يوه هينداره
يوه رجړومه
يو لونګين دی
څلور پاولي دي
د ويالې خوا ته
يو لاس را اوږد شو
يو شين ټادرو
يو سپين دسمال و
دوارړه په سنډو
دي خامک شوي
بوخڅۍ يې ورکړه
ټادر يې واخيست
دسمال يې ورو ورو
پر شونډو ښکل کړ

WWW.samsoor.COM

يو پټ ديدن د مينې وشو
مياشت شوه رابره
اختر به راشي
کلی لا لرې
کوڅې اوږدې دي
خدايه بخمل
اوچکان خلاص کړې
پند مې کړې سپک له کتانونو
د ارګندي ګزونه لنډ شه
شامي لندن اوږونه ورک شه
کور مې ياديږي
جانان په تمه
زړه مې درزيږي
مياشت شوه رابره
اختر به راشي
په ټوکو ټوکو
”نه يې پاولې شته
نه د غاړې تاويزونه“

# ځـاځـی

يادونــه: يــو ځــل د ګاونــډ تورلېښکيــو د لرغــونې پښــتيانا پــر ځــاځيو راوبلوســل اتلــو پښــتيانيانو ورتــه د ســر پــه کاســه کــې اوبــه ورکـــړې، لاندې شعر د هماغې حماسې خاطره ده.

آريوب
ډول
اتڼ
ګوربت راتاو شي
د وزرو سيوری
پر هسکو غرونو خور کړي
يو تور پړونی د تنور پر غاړه
يوه شکری له پاستو ډکه ايښې
آريوب
ځيږی پر هسکه څوکه
ګوربت راتاو شي
د وزرو سيوری

WWW.samsoor.COM

پر هسکو غرونو خور کړي
يو زلمی چنګک بريتونه
په شړشم غوړې څڼې
تر سترګو تاوې تورې تورې حلقې
له هر يو ګام سره يې خرپ د ګردنۍ پورته شي
تر واسکټ لاندې د کوژدې ګل سيب
لکه په سپينو واورو ليکه سره د وينو کرښه
آريوب
ډول
غزا
ګوربت راتاو شي
د وزرو سيوري
پر هسکو غرونو خور کړي
يو پولادي ښامار تر غرونو هاخوا
په غړغړو راشي
ديخوا ځائی ماشوم له خپلو کتابونو سره وسوزيږي
يو زلمی چنګک بريتونه
د خپل ټوپک پر ماشه ګوته کيږدي
د پولادي ښامار له غاړې سره
يو لُنګ راوغورځيږي شرم جوړ کړي
زلمی تر چنګو بريتو لاندې مسک شي

WWW.samsoor.com

نن به يو څوک
له پاستو ډکه شکرۍ
تر مورچې راوړي
يو ديدن به وشي
چېرته به لرې يو بل ګړز پورته شي
ګوربت به تاو راتاو شي
څپې به اور واخلي او وبه سوزي
آريوب
ډول
ويني
څو څاڅکي وينه
پر کتاب شيندلې
يو تور پړونی
او يوه له پاستو ډکه شکرۍ
يو ګل سيب د سمال تر ملا
يو څو ځونډې په جيب کې
د غرو بچې مينه همداسې کوي.

0 - ثور- ۱۳۸۲
1 -
شپه ، ته او سمندر

WWW.samsoor.COM

شپه په سمندر کې سپوږمۍ وناڅي
راشي ځان په هره څپه وو بشي
شپه په سمندر کې چوپتيا هومره ده
باد ته ستا د زلفو نڅا اورمه
شپه په سمندر کې دومره پاکه ده
ستر ګو کې دې رنګ د څپو وينمه
ستا په سپينو متو د سپوږمۍ رڼا
وښو ييږي پر يو ځي د اوبو په مخ
سپينې بتې ځان څنډي له ستورو نه
لويې څپې راشي هوا يخه کړي
واخله زما کوټ پر اوږو واچوه
زه به دې پر ملا باندې يو لاس کيږدم
لرې د افق کنارې وګوره
وريځې د نقرې په شانې رنګ لري
شپه په سمندر کې سپوږمۍ کرښې شي
څه د څپو څنډ و ته ځلا ورکړي
څه دا ستا پر مخ د رڼا خط جوړ کړي
څه دې په تندي او څه په غاړه کې
سيوري سره ګډې شي قيامت جوړ کړي
شپه په سمندر کې چوپتيا ډيره وي
باد چې هر څه وايي زه يې اورمه

WWW.samsoor.COM

دوه ستوري ځليږي ستا په سترګو کې
زه ستا د فکرونو سلسله لولم
بس يوازې زه او زما خدای خبر

ويره، پريشاني او خوشالي چې ټول
ستا څېره کې يو ځای شي وژل کوي
دومره لوی جهان کې تنها زه خبر
ستا څېره، سپوږمۍ او څپې څنګه وي
دومره لوی جهان کې تنها زه خبر
شپه په سمندر کې ښکلا چېرې وي
دومره لوی جهان کې تنها زه خبر
سترګې د جانان د ستورو څه کيږي
دومره لوی جهان کې تنها زه خبر
بتې د جانان د متهو څه کيږي

۲۴/ تله/ ۱۳۸۵

WWW.SAMSOOR.COM

# د عشق کمېډي

دا شعر دا ستا د هېرولو لومړۍ هڅه ګڼم
نن مې هيڅ هم له وسه نه وو پوره
بس ټيليفون نه مې ستا نوم او نومره وتوړله
څه خندوونکې، څه غمجنه پېښه
د ادارې او انګريزۍ عصر کې
مينه خپل مين ته وو ايي چې:
ستا د ليدلو وخت مې نه درلوده
تا ته د زنګ وهلو وخت هم نه وو
ته مې د څو شيبو لپاره هم په زړه کې نه وې
آه ! نن مصروفه ومه ډېره بوخته
نن مې د ورځې مهال ويش کې عشق ته ځای ور نه کړ
سبا هم څو ليدنې څو صنفونه
بل سبا هم د خبرونو ورځ ده
نو بيا به ګورو ژوند لا ډېر پاتې دی....
زما شاعر، زما نقاد ملګريه
دا کرښې شعر وګڼه
دا زموږ د عصر کمېډي د مينې
د يوه تريخ يو رنځوونکي درد کيسه ده واوره !
خير که د شعر د علم روح نه لري

WWW.samsoor.COM

نن مې له ډېرې بې وسۍ نه
له سانسوره پرته
د عشق يو نوی درد پر زړه ولېکه
نن مې قسم د هېرولو وخوړ

+ + +

ښار تود نا يل وهلی
له زمکې تپ را خيژي
زه له ګرميو او خولو څخه خبر هم نه يم
کوڅه کې خلک را ته ځير ځير ګوري
څوک را ته سر ښکته کړي ښايي ما به پيژني، سلام به کوي
نن د ترخې هفتې د پای ورځ ده
يوه اونۍ ده چې د چا ليدو ته اور اخلم
يوه اونۍ د تن جامې راباندې غاښ لګوي
يوه اونۍ د ناروغيو له ځګريو ستړی
بس د دوه سترګو په ليدو پسې هلاک وم هلاک
خو هغې وخت نه درلود
"نن مې د ورځې مهال ويش کې عشق ته ځای ور نه کړ"
زما پښتانه زما کليوال ملګري
ها چې د ښځو حقوق نه پيژني
ها چې درنې پښتنې
يا خو په کور او يا په ګور لوروي

WWW.samsoor.COM

چې د غه کرښې لولي
پټ به د شونډو په ګوښه وخاندي
وايي جزا دې همدا
چې د ښاري نجلۍ په مينه دې باور کولو
ملګرو داسې نه ده
د خدای لپاره ما د کونډې زوی شاد ګل مه ګڼئ
زه د ښاري نجلۍ ليدلو پسې نه يم تللی
ما يوه مينه کړې
بس د همدې پيړۍ د قيس او د ليلا په شانې
خو خدايزده چا راباندې کوډې وکړې
چې اوس د خپلې مينې
په مهال ويش کې د يوې شيبې ځای هم نه لرم.
ښار د ميرېيانو ځاله
موټر تر خلکو ډېر دي
زما په زخمي غوږو کې کغ د هارنډو ننوځي
د خپلې مينې خبر بيا ياده کړم... :
"زه يوه ښځه يم حقوق لرمه
ستا دې په خپله هسې هسې وشي
نن تا ته وخت نه لرم
ما ته زما د کار آمره وايي
ستا دا مين د "فيمينيسم" ضد دی

WWW.samsoor.COM

متعصب دی ښځې نه خوښوي
بس په پښتو پورې ښتی، دنیا نه پیژني
پام هغه ستا په پوهه نه ارزیږي.
نو ستا دې خپله هسې هسې وشي
زه هم انسان یم خپله ژبه لرم
زه بې سواده نه یم.... "
د یوه بل موټر هارن کغ وکړ
زه سودایي له ځانه نه یم خبر
ډرایور پټ راته کنځلې وکړې
راځه یو بل ځل به هم زنګ ووهم
ښایي اوس وخت ولري....
نه دا ځل هم ناهیلی...
نن به د ټولو بې مهریو انتقام واخلم
بس نوره مینه په خپل زړه کې ساتم
نن مې هیڅ هم له وسه نه دي پوره
بس ټیلیفون نه مې ستا نوم او نومره وتوږله
نن مې دا ستا د هېرولو وروستی ګام پورته کړ
او په دې عصر کې مې
د عشق د سترې کمیډۍ دروازه وتړله.

۱۳۸۲- سرطان- ۵
کابل

WWW.SAMSOOR.COM

ويرځيپيليو کندهاريانو ته!

# له دې برزخه

کنـــدارۍ ملالـــې دا بـــه مـــو قســـمت وي
پـــه اوږو چـــې جنـــازې وړو ډولـــۍ نشـــته
ســر پـــه غـلا ګرځـوو خـدای نـه امـان غـواړو
پـــه هينـــدارو پتـــه شـــوې خـــولۍ نشـــته

کنـــدارۍ ملالـــې تـــا چـــې خامـــک کـــړې
هغـه شـين ځـادر پـه کټ د شـهيد خـور دی
د لالا غـــاړه دې مـــه ګنـــډه پـــه ســـنډو
د هغـــه ځلمـــي بـــدن پـــه لـــوګي تـــور دی

کنـــدارۍ ملالـــې! ګـــل معلـــم شـــهيد شـــو
د مکتـــب پـــه کتـــابونو لمبـــې تـــاو شـــوې
ســـيپارې د ماشـــومانو پـــه لاســـو کـــې
پـــه دې پـــاڼو د ګلونـــو لمبـــې تـــاو شـــوې

کنـــدارۍ ملالـــې داســـې ورځـــې راغلـــې
چـــې انســـان لـــه بـــل انســـان څخـــه ډاريـــږي
د کاوبـــای او د شـــيخانو ليونتـــوب کـــې
يـــو افغـــان لـــه بـــل افغـــان څخـــه ډاريـــږي

WWW.SAMSOOR.COM

کندارۍ ملالې شين ارغند وچ شوی
د بابا صاحب ميلې وحشت خوړلي
د خرقې په دروازه کې خلک سوځي
د انارو سرې غنچې وحشت خوړلي

کندارۍ ملالې هله چې بيا ګرځ شو
بيا به چيرې ماشومان په وينو سره وي
بيا به کونډه اجانۍ چيرته چغيږي
بيا به کوم ځای کې زخمي زلمي پراته وي

کندارۍ ملالې تور پړونی واخله
زمونږ خويندې سيه پوشې دي له غمه
بس همدا به مو شامېت وي له ازله
چې مو وچې نه شوې سترګې هيڅ له نمه

کندارۍ ملالې ته خبره نه يې
چې مونږ ژوند ته له اوله پيدا نه وو
مونږ د مرګ لپاره خدای يو پيدا کړي
لا خبر په راتلو نه يو چې په تله يو

WWW.samsoor.COM

کنداري ملالې دا خبر رښتيا ده
چې په خپله مو مرګ کور ته راوستلی
مور ته اور په خپلو خسو دی بل شوی
مور په خپله خوله دی خپل بدن خوړلی

کنداري ملالې ټول تاريخ دروغ دی
دې وطن کې نه ويا ړونه اتل شته
دلته ټول تاريخ په سرو وينو ککړ دی
دلته جنګ شته دلته مرګ دلته اجل شته

کنداري ملالې خدای ته پلو يوسه
چې يې ولې مور پر دې زمکه پيدا کړو
دا وطن خو بس په وينو کې ټاپو ده
ځان په مرګ مګر له دې ځايه پناه کړو

کنداري ملالې چا ته ګيله وکړو
عقيدې ټول ملتونه جنتي کړل
بس يو مور يې د دوزخ د تلو لايق کړو
زمور ليوانو تې کفار د رمې سپي کړل

کنداری ملالې دا د خدای رضاء ده
چې کفار مو خپل کاله ته رابللي
موږ له خپلو مسلمانو څخه ساتي
د دنیا لیوني دلته دي ښاغلي

کنداری ملالې اوښکې دې ارزانه
ستا د اوښکو زما د وینو قدر نشته
کندهار چې لکه زړه د پښتنو و
په دې ښار کې اوس د ژوند څه اثر نشته

کنداری ملالې خدای بانده دې سپارم
زه اوس دومره بیچاره یم لکه مړی
اوس مې مینه د ګلونو په هار نه ده
اوس مې غاړه کې دی پروت د وهم پړی

کنداری ملالې څه الله دې مل شه
خدای دې ساته له بمونو له غمونو
هغه وخت به بیا د مینې دیدن وکړو
ارغنداو چې شي بیا سور په انارونو

WWW.samsoor.COM

# تصوير

ستا را لېږلې تصوير
هغه په تور ټيکري کې ښکلې تصوير
هو !
همدا اوس هم زما په لاس کې دی او ګورم ورته
ستا ښکلې سترګې خو تصوير کې هم خبرې کوي
ليونۍ !
سترګو کې دې څه پټ کړي؟
چې زما ټول عمر يې وخوړ
خو تفسير مې نه کړې

۲۱نومبر ۲۰۰۴ مريلند

www.samsoor.com

## جادوګرې ته سرود

جــادو ګــرې څــه دې وکــړل
چــې دې داســې لیــونی کــړم
دا پــه ســترګو کــې دې څــه وو
چــې لــه ځانــه دې پــردی کــړم

جــادوګرې څــــه دې وکــــړل
چــې د چــین مــاچین پــا چاشــوم
ښــا پیرۍ مــې شــوې کنیــزې
چــې ســتا ســترګو تــه ګــدا شــوم

جــادو ګــرې څــه دې وکــړل
کفــرو دیــن دې لــه ماواخیســت
مــاخودبین چــې پــه کــې ځــان کــوت
هــانګین دې لــه مــا واخیســت

WWW.samsoor.com

څه منتر دې په ما وکړ
چې کتاب نه مې زړه تور شو
ستا د مینې ستورې شمارم
بل حساب نه مې زړه تور شو

څه منتر دې په ما وکړ
تا ته دومره در نږدې شوم
ستا په روح کې مې ځان ولید
ستا د نور ذرې شوم

جادوګرې ستا د سترګو
له پیریانو مې توبه ده
بسم الله د سپینو زرو
مې په غاړه کې پرته ده

جادوګرې څومره ښه یې
په سندرو دې بلد کړم
لکه شین طوطي غریبږم
په شکرو دې بلد کړم

جادو ګرې خومره ښه يې
تا له مينې نه خبر کړم
زه ساده د غرو سړی وم
تا په سمولارو سر کړم

ته پوهېږې جادو ګرې
چې ته خومره ښايسته يې
له غزلو نه رنګينه
له سندرو نه پسته يې

ته پوهېږې جادو ګرې
نور له ژونده جدا کېږم
له دې ورو سته ستوري شماره
په آسمان کې پيدا کېږم

جادو ګرې لاس دې را کړه
چې له دې جهانه ولاړ شو
له شکمنو سترګو پټ شو
د ګومان دنيا نه ولاړ شو

WWW.samsoor.COM

جــادو ګـــرې لاس دې را کـــړه
چــې د ســتورو مېلمانــه شــو
لــه هغــه ځايــه چــې راغلــو
هلتــه بېرتــه ور ســتانه شــو

جــادو ګـــرې لاس دې را کـــړه
زمالــه ژونــده زړګــی تــور دی
يــو آرام ځــای تــه مــې بوځــه
دې دنيــا کــې څــومره شــور دی

جــادو ګـــرې لاس دې را کـــړه
زمــا ژونــد دی ســتا پــه لاس کــې
لکــه شــين غمــی د ګــوتې
داســې بنــد دی ســتا پــه لاس کــې

جــادوګرې لاس دی ښـــکلې
د تــک ســپين ســوســن پــه شــانې
رغــوی راکــړه چــې يــې ښــکل کــړم
دخـــواږه وطـــن پـــه شـــانې

WWW.samsoor.COM

جادوګرې جادو وکړه
دا ژوندون را ښخه واخله
يا خو اور په دنيا بل کړه
خپل بيلتون را ښخه واخله

جادوګرې جادو وکړه
ما دې غيږې ته ميلمه کړه
د ژوندون ورکه مانا مې
بيرته روح را ستنه کړه

جادوګرې زړه مې واخله
په بدل کې ښکلا را کړه
ها چې زه ورپسې ګرځم
هغه ورکه مانا را کړه

جادوګرې څومره ښه يې
لاس دې زما په سترګو کېښود
اوس جنت په سترګو وينم
دوزخ يې جهان مې پرېښود

ورېی-۲-۱۳۸۲

www.samsoor.com

# د شها د ت کليمه

ته مې يا د يږې خو د ر تللی نه شم
ژوند مې په هر ګام کې اغزي کړلي
پوهيږې؟
ژوند نه مې زړه دومره توردی
لکه دا ستا له تورو سترګو څخه
چې په رنجو ککړه او ښکه را شي
او ستا د تور کميس ګريوان کې چيرې ځان پټ کړي
پوهيږې؟
ژوند ستا د بيلتون له غم نه لوی پيټی دی
خو تر هغو به يې پر سر ګرځوم
چې يوه ورځ يې ستا په مخ کې کوز کړم
ما مې د مرګ وروستۍ سلګۍ يوازې تا ته پريښي
پريږده ! د ژوند وروستۍ شيبه ښکلې شي
پريږده، چې ستا په مخ کې
د شهادت دا کليمه درسته کړم
خدای خو شاهد دی چې پر ما ګرانه يې

# غم

ستا رترنګيږي
ته مې مخ ته نا سته
خوزه له تا خپه يم
نغمه زما په زړه چړې را منډي
تا بې وفا را ته بېګاه څه وويل؟؟
هيڅ مې له زړه نه وځي
او د ستار نغمه مې زړه کې
غم په شور راولي

WWW.samsoor.COM

## يو شيبه مينه

ستنه شوې ودې خندل
سردې زما پر ټټر کېښنود
زما دزړه درزادې وا وريدله
اې !
دې ماشوم بيا درته غوږ کې څه ويل؟
زه خو دده خبرې نه منمه
دى چې له ما خپه شي
په پټه، ټولې ګېلې تاته کوي
پام کوه !
داليونى هرڅه وايي
ګوره خپه چې نه شې
ستنه شوې ودې خندل
زما تاوده نفس
داستا پر ښکلي وچويلى را پروت وربل دانه وانه کړ

WWW.samsoor.COM

ستا د بدن عطرو مې ذهن ته جنت وښوده
مګر رښتیا وو ایه !
چې زما د متهو منځ کې
ولې د پاڼې په څېر وریږدیدې؟
ستنه شوې ودې خندل
چو پټیا خوره وه
او ما وتا د خپلې مینې لاره ونیوله
دواړه سوچونو کې ډوب
خدای خبر څومره ډېر مزل مو وکړ
چې ستا د ښکلې غږ خوږې زمزمې
د سکوت سپینه آیینه ماته کړه
پوه شوم ګیله دې وکړه ودې ویل:
چې ستا د ګوتو د شوخۍ له لاسه
زما غوږ والۍ خدای خبر چېرې رانه ولویدله
وګوره غوږ مې تش دی
زه بې ځوابه هک حیران پاتې شوم
خدایزده زما سترګو کې دې څه ولوستل
چې را ستنه شوې راته ودې خندل

WWW.samsoor.COM

## سترۍ يمه سترۍ

عشقه ناوخته راغلې
نړۍ د زړو دسکو په ټولو لو بوخته
ستا ملنګۍ ته د چا پام نه شته
په چا به رحم وکړې؟
دلته چې مينې ته ګناه وايو لا
ته به دې اسپه چېرې ودروې؟
عشقه ناوخته راغلې
غر بنياد مونه ړک
سيند بنياد مونه ړک
چېرې خالي د جنون دښته نه شته
نو وايه عشقه ستا شليدلی ګريوان
خپل ببر سر
او زما د مينې اوښکې چېرې يوسم؟

www.samsoor.com

عشقه نا وخته راغلې
زه نور زلمی نه يم چې مينه وکړم
لکه آدم د خپل هابيل او قابيل
د شخړو سيل کوم
عشقه نا وخته راغلې
د بې مهريو د ساده نسل له لاسه ژاړم
څوک مينه نه پېژني
خو په مينو پورې دومره خاندي
چې کله کله ورنه ځان هم هېر شي.
نو عشقه دا سې حال کې
وايه چې تا څنګه کړم
خپلې محبوبې ته مې څه وو ايم؟
او له ژوندون څخه دا ستړی بدن څېرې خښ کړم؟

WWW.SAMSOOR.COM

# نوی جنګ

بیا له تاریخ سره جګړې ته ورځم
بل ځل که هست شوم داسې ژوند نه کوم
بل ځل به مینه وکړم ژوند نه به کسات واخلم
اوس خو د ژوند لپاره مینه وژنم، قتل کوم
دا ځل قاتل یم خپلې هیلې خښوم په خپله
مګر که بیا راغلمه
بیا به د خپلې مینې سترګې لولم
بیا به یې ښکلې مخ ننداره واخلمه
او بس له زوکړې بیا تر مرګه به هغې ته ګورم
بیا له تاریخ سره جګړې ته ورځم
او بیا که هست شوم په یو بل هیواد کې ژوند کومه
یو داسې ځای کې چې د جنګ قهرمانان نه لري
یو داسې ځای کې چې قانون یې یو له بل سره له مینې جوړوي
داسې هیواد چې د اوبو په څیر تاریخ ولري

WWW.SAMSOOR.COM

داسې هيواد چې برخليک يې په سرو وينو ليکل شوی نه وي
داسې هيواد چې له آدمه تر دې دمه هيڅ د تورې او ټوپک
نو مونه نه پېژني
او شرنګ و شرونګ په کې يوازې د پاوليو ، د نتکيو د
واليو خيژې
بيا له تاريخ سره جګړې ته ورځم
راځئ دا ځل د هر وطن پاچاهي
يوې حسينې، يوې ښکلې ته وروسپارو
هو دا منم دلته به رخه وي، غيبت به هم وي
دلته به ټولې شتمنۍ يا پړګاڼو يا پر کاليو ورکړي
دلته به ټول دارونه مات شي زندانونه به له خاورو ډک شي
هره مېرمن او معشوقه به خپل مين ته بيل زندان جوړ کړي
مګر هيڅ څوک به څوک ونه وژني
ټولې لښکرې به په ګور ننوځي
هيڅ يو خاوند هيڅ يو مين به څوک خبرو ته هم نه پرېږدي
ځکه پاچا به يې په خوله د خپلو شونډو مُهر ولګوي
هر نارينه رعيت به کور کې يو پاچا ولري
داسې پاچا چې د کوڅيو په غمچينه به جزا ورکوي
داسې پاچا چې خپل رعيت به په پسته غېږ کې بندي وساتي
تر ټولو سختې سزاګانې به هغه وينې چې بلې ملکې ته ګوري
د مينې رخه به قانون وي

WWW.samsoor.COM

او سالو به يې ملي جنډه وي
په داسې ژوند کې به سياست او منطق دواړه مړه وي
دولت به رحم دا بې شي ماشومان به وي د کور وزيران
او نارينه به بس رعيت وي رعيت
راځئ دا ځل د هر وطن پاچاهي
يوې حسينې، يوې ښکلې ته ورو سپارو
بيا له تاريخ سره جګړې ته ورځم
او که بيا هست شوم له زانګو څخه ترګوره پورې مينه کوم

۱۸ تله، ۱۳۸۵
کابل

WWW.SAMSOOR.COM

# صدام

يو سړی مخامخ د دار کړی، ته نېغ ورګوري
يوه رسۍ لکه دده د ژوند اوږده کلونه
لکه دده د زړه په شان بې رحمه
لکه غرور غوندې يې ټينګه غوټه
د لوی اختر سترګه د غره شاته ده
يو سړی مرګ ته روان
يو سړی فکر کوي
سبا به ډير خلک خوشحاله وي اتڼ به کوي
سبا به ډير خلک خپه وي يا غوسه به کوي
سبا به ډير خلک حيران وي
چې زه ښه وم که بد ؟
يو سړی څو شېبې له مرګه لرې
د خپلو پاتې نفسونو په شمار
يو څو کسانو ته غوسه دی لکه وږی زمری

WWW.samsoor.COM

یو سړی فکر کوي:
"دښمن" زه او
دواړه له یو بل څخه غچ اخلو
یو سړی لاهم خپل جلاد سره د خپل عسکر په څېر غږېږي
یو سړی سترګو کې خبرې کوي:
عرب د دې پېړۍ اتل نه لري
دا دی وطن د کربلا او نجف پور ورکوي
او د بغداد د خلافت له ښاره
یو بل حسین پاڅېږي
یو سړی موسک شي او په زړه کې وايي:
پر عربانو به تر دې لوی احسان څوک و نه کړي
یو سړی فکر کوي:
که عرب دا نه مني
یو ځلې بیا به راشم
او له یوې خوا به یې قتل کړمه
یو سړی خپل ضمیر نه ځان پټوي:
که ما انسان وژلی
که زه بې رحمه او وژونکی ومه
نو دومره ښه ولې مرم؟؟

۱۳۸۵ د لوی اختر اول ماښام

WWW.samsoor.COM

## بد مرغي

پام کوه ونه ژاړې
اوښکې دې مه بهوه
اوښکې دې پټې خپلو سترګو کې خوندي وساته
دلته ژړا ته هم ګناه وايي او شک پرې کوي
که درنجو لیکې دې راغلې په سپین مخ
نو ټول به وپوهيږي
چې تا د مینې په خاطر ژړلي
پام کوه ونه ژاړې
مور د نړۍ له بد مرغانو څخه هغه دوه يو
چې آن ژړلی نه شو
پوهيږې !
هغه ورځ چې تا وژړل

WWW.samsoor.COM

زه څو مره وسوځیدم؟
ځکه چې ټوله دنیا وپوهیده
چې موږه دوا ړه سره مینه لرو.
له دې نه لویه بدمرغي چېرې ده؟
چې ژړا جرم وي
او مینه وي د ټولو ګناهونو ابې
له دې نه لویه بدمرغي چېرې ده؟
چې څوک د خپلې معشوقې په اوښکو
وشرمیږي
او خپلې اوښکې د خپل زړه په وینو و مینځې
له ویرې څخه؟

۵ مرغومی ۱۳۸۲

WWW.samsoor.COM

# زه مساپر یم خو غریبه ته یې

((خپلې ګیلې به دیوالو ته وکړم
ځکه چې ته خو ورته غوږ نه نیسې .... ))
آه یاره دادې لیک کې څه لیکلي؟
مساپر زه یم خو غریبه ته شوې
بیګاه مې ستا د ناچارۍ ګیلې ته ډیر وژړل
له اوو سیندونو او اوو غرونو لرې
زما د زړه په هر یو غږ کې ته یې
ستا چې په زړه کې ګیله وګرځیږي
زه یې همدلته اورم
ګرانې زه اوس هم ستا په زړه کې اوسم
او هر نفس سره دې ساه و باسم
خپلې ګیلې دې خپل زړګي ته کوه
پوهیږې؟
دلته هم آسمان شین دی
او د لمربنکلي طلايي بګۍ دورځې پرلار ځي او راځي
مګر پر زمکه نه اشنا سیورۍ شته
نه تورې زلفې نه لونګۍ نه څادر

WWW.SAMSOOR.COM

نه د زړو څپليو خرپ نه د ټيکريو ورمې
نه ستا د ښکلي رغوي عطر چې زما ډير خوښېده
زما اوره تشه ده
ستا تورې زلفې پرې خورې ورې څپې نه وهي
زما غاړه ستا د نفسونو له ګرمۍ نه ليرې
او وچې شونډې مې موسکانه لري
نه کابل جان شته نه يې د ننګ اسما يي
نه يې ځيره هوا چې ستا د غيرې عطر لري
دلته د هسکو ښيښه يي ماڼيو جسم کې
اروا وې نشته
زه مساپريم او غريبه ته يې
خو اشنا زه در څخه ليرې نه يم
زه خو اوس هم لا ستا په زړه کې اوسم
له ديوالونو سره مه غږيږه
خپلې ګيلې دې په خپل زړه کې ها شاعر ته وکړه
چې که دنيا څخه هم ولاړشي
ستا له زړه نه، نه ځي.

۲۰۰۴-۲-۱۲

د ټوسن ښار اريزونا

WWW.SAMSOOR.COM

# د هستۍ الفبې

هو !

زه پوهېږم چې یاد یږمه دې

راته لیکلي دې دي:

چې د شعرونو کتابونه مې په اوښکو مینځې

زما د زړه دوینو کرښې دې په اوښکو لمد وې، وچوې

اوزما یادونه دې د زړه شپوکې څراغ بلوي

هو ! زه پوهېږم چې یاد یږمه دې

زه ستا په پاکه اوسپیڅلې مینه ښه پوهېږم

خو راشه ما وګوره !

چې ستا تصویر ته په لمدو سترګوخبرې کوم

زه دلته ټولوته بې سده لیونی ښکارېږم

WWW.samsoor.com

نور د ځوانۍ خوبونه ويني، خپلو سترګو ته اوبه ورکوي
د سپينو نجونو د بدن په ليدو آه وباسي.
خو زه د خپلې کوټې ور وتړم
او په شيبو شيبو له ځان سره يوازې اوسم
ستا تصويرونه او ليکونه ګورم
يوازې ستا دليک خبرونه شعرونه ليکم
اوس خو زه نه
زما شاعره ته يې
ته زما زړه کې ناسته
زماله خولې څخه شعرونه وايې
اوس چې ته نه يې زه شاعر هم نه يم
نو اوس منې چې زه په تا ژوندی يم؟
نو اوس منې چې د هستۍ الف و بې
ستا د نامه له يو الف څخه پيليږي او په بل ختميږي؟

۱۷-۲-۲۰۰۴

ټوسن- اريزونا

WWW.samsoor.COM

# وعده

نه !
ته مې هېره نه وې
ته مې په یاد وې، ستا وعده مې هم په زړه باندې وه
زما یا دو نه لا ، له تا سره وو
خو خدای(ج) خبر چې ولې در نه غلم ؟
باران په شړک ورېده
ما د باران د ټولو څاڅکو په شمېر ته یاده کړې
تا راته ویلي وو چې زه به ځان په واینو لوند کړم
کله چې ته راځې نو زه به په شرابو کې لمده خیشته یم
هو ! دا مې هرڅه یاد وو
ستا د وعدې هره شیبه مې په خاطر کې شنه وه
زه پوهېدم هغه ډیوې چې بلې کړې وې تا
اوس خلاصیدې او وار په وار مړې کیدې
خو خدای(ج) خبر چې ولې درنه غلم
ته مې په یاد وې، ته مې نه وې هیره
او په سرو واینو کې لوند خیشت بدن دې
زما سترګو ته نیغ ولاړ و
زه پوهېدم چې ته به راشې

WWW.samsoor.COM

زما د خونې وربه وټکوې
زه پوهېدم چې له ژړانه به دې سرې سترګې را واړوې
ګيله به وکړې:
چې شراب خلاص شول، ډيوې مړې شوې
ولې را نه غلې ته؟
زه پوهېدم چې زه به چوپ ولاړيم
ځکه زه نه پوهېږم
چې ولې درنه غلم
زما په لاس کې به يو سپين کاغذ وي
ما غوښتل شعر وليکم
نه شعر مې نه ليکه همدا سې ناست وم
يوازې سپينه پاڼه
زه پوهيدم چې ته به پاڼه زما له لاسه واخلې
په دې ګومان چې ما به نوي څه ليکلي وي پرې
خو پاڼه سپينه ده يوازې يې په سر کې دي يو څو توري:
(غواړم وطن ته ولاړ شم.)

۱- مې- ۲۰۰۴
ټوسن- امريکا

WWW.samsoor.COM

# يـوازې

هره شيبه د ژوند څېره بدلېږي
هره شيبه د مرګ په لوري يو بل ګام اخلم
لکه د مني پاڼه رېږدمه او لېږدمه د ژمي په لور
او باد د عمر سپينه واوره زما پرسررا شيندي
يوازيتوب
يوازيتوب مې خوښ دی
چې په لمده کبله، بربنډې پښې
يو څو ګامونه واخلم
او هر څه هېر کړم دا بد لپاره
مامې له ژوند څخه يوازې بد بيني زده کړې
هرڅوک يو څوک دی ځانته
هغه چې زما په شانې نه دی هغه زه نه يمه
هرڅوک چې زه نه يم دوزخ دی زما
زه چې يوازې پيدا شوی يم يوازې اوسم
دادی:
د مرګ په خوا يوازې درومم.

۱۱-2004-جون توسن اريزونا

www.samsoor.com

# هو دلته مینه نه شته

دلته هرڅه شته دي خو مینه نه شته
دلته د مور د لاس توده ډوډۍ غلمینه نه شته
دلته رګونو کې شراب ګرځي او زړونه په هوس دربیږي
دلته زما او ستا په شان وجود کې وینه نه شته
دلته رنګونه دي، غوغا ده او شوخي ډېره ده
دلته سپیڅلې او ساده ښکلا زما د کلي
هغه په سترګو توره او په مخ سپینه نه شته
زه دلته دوی ته خپل هرڅه یادوم
دوی را ته خاندي وایي
هو هلته هرڅه دي او دلته نه شته
وګوره دلته سپینه سوله ده او جنګ هم نه شته
دلته غلا هم نه شته تالان هم نه شته
دلته یوازې ودانې شته و رانول چېرې دي
هو دلته مینه نه شته
خو په لاسو د انسان
د انسان مړینه نه شته

واشنګټن 29 /DC2004 اګست

WWW.SAMSOOR.COM

# د سپوږمۍ په ارمان

پايځې مې به وهلې
بيل مې په پوله خښ کړ
او د ليښتې رڼو اوبو کې مې لاسونه پريولل
د جوارو لوی پټي ته ځير شوم چې مې ته وليدې
په شنه ګيډۍ کميس دې سپين ګلا باتون مات کړي
او د پاوليو شرنګهار دې د چنچڼو له نغمو سره ګډ
څومره ښايسته وې بلا
زړه مې له ډېرې خوشالۍ الوځي
سږکال مې زمکه له ګروۍ خلاصيږي
او له روژې څخه به مخکې ستا ډولۍ راوړم
✵✵✵
کابل له سپينو واورو لاندې پټ دی
باغ بالا کې سبروني وچې شوي سږکال
ستا نفسونه ډېر تاوده ښکاريږي
زما تاوده لاس کې دې سپين لاس خولې دی
بيګاه دې بيا ژړلي؟
په ټيليفون کې دې له غږه پوه شوم
اوس ستا څېره کې د ستړيا نښې له ورايه وينم

WWW.SAMSOOR.COM

اوس زه او ته سره د پرنه شو ليدای
ژوند زما او ستا ترمنځ ديوال جوړ کړی
ژوند سرګردانه دی د ښار کوڅو کې
ښار لکه تورښامار زموږ مينې ته اوررا شيندي
***
د خپل کوچني کمپيوټر غږ راوېښ کړم
دا د شيطان صندوقچه هره ورځ همدا سې کوي
ستا بريښنا ليک مې ولوست
کړکۍ ته ودريدم
خو ته منې دلته آسمان نه ښکاري
دلته په مياشتو څوک سپوږمۍ نهويني
دلته سپوږمۍ چا ته سلام نه وايي
دلته نيويارک کې يې آسمان غلا کړی
زه سپوږمۍ نه شم ليدای
خو ستا ليکلې ټيکۍ لا هم زما پرشونډو ناځي
( شين آسمان ذرې ذرې د سرو زرو يې تنابونه
سپوږمۍ د بام په سر په يار وايه سلامونه )

۲۰۰۴ سپتمبر نيويارک

WWW.SAMSOOR.COM

# اروا او ځنګل

ما ځنګل و آزمو يېه
ما له ځنګله سره نفس و يو ست او ځان مې شين کړ
او زما وجود د ځنګله شنه بدن کې وغځېده
ما له ځنګله سره څو شپې تيرې کړې
او د کوچني سيند له سندرو سره وبهېدم
ما په ځنګله کې ځان پخپله ورک کړ
ځنګل زموږ په شان دی:
شاړ
مهربانه
او وحشي خوښکلی
ځنګل زموږ په شان نه
زموږ د اروا په شان دی
هلته هم پړانګ او سيږي

WWW.samsoor.com

او هم د سترې هوسۍ ښکلي بچي
ځنګل کې مار له ونې ځان راتاو کړي
او د مرغيو ځاله ټوله له بچو تشه کړي
ځنګل زموږ ه د اروا په شان دی
دلته ليوه او غزال دواړه اوسي
ځنګل له ځان ځخه دويرې په شان
له ګڼو بوټو لاندې تورې بلاګانې او شيشکې ناڅي
شپه په ځنګله کې ستوري يو يو ښکاري
او سپوږمۍ ځاځکۍ ځاځکۍ ځاځي
له شنو ګڼو ځانګو
دلته د باد نغمه له پاڼو سره لوبې کوي
لکه د دنګې نڅاګرې د پايزيب شرنګهار
خو د ځنګله سهار د ښکلې معشوقې د سپينې غاړې په څېر
همدومره سپين
همدومره روڼ
همدومره پوست دی منې؟
چې کله وينښ شې بيا يې ښکل کړې نو
الله اکبر
يوه نرۍ لار د ځنګله د بوټو منځ کې تللې
د وچو پاڼو پرې غالۍ خوره ده
دا لار زموږ د ژوند تر پايه اوږده

چېرته یو ورک لاروی نه شته چې سلام دې واخلي
او وچې پاڼې به ماتېږي ستا تر پوندو لاندې
ځنګل زموږ د یارانې په څېر دی
ځنګل زما په څېر یاغي
خو ستا په څېر ښکلی دی
ما ځنګل و آزمویه
او ته زما د روح ځنګل ته راغلې
له هم هغه ازله
کله چې ته خپه شې
نو ځنګل اور واخلي اوونې سوزي
کله چې ته وخاندې
پر ځنګله شرکنده باران ورېږي

۸- سپتمبر۲۰۰۴
مریلند- کوزاډیلفی ځنګل

WWW.SAMSOOR.COM

علامه رشـاد ته چې د بیا لیدو ارمان یې زما پر مسا پر زړګي پاتې شو !

# خپل استاد ته !

او ستا دلمر په شان وجود هم پریوت
هېڅ مې باور نه راځي
ها مازیګر به مې همېش په زړه وي
چې پر سبا یې زما سفر پیلېده
زه ستا د کور په لویه خونه کې ناست
او ستا د تود غږ له وړمو سره جنت ته تلمه
تا راته وویل چې:
...پام چې وطن هېر نه کړې
مګر استاده ! ته چې ولاړې
دا وطن او موږ چا ته پرېږدې؟
مګر دا ژوبله او یتیمه پښتو چا ته پرېږدې؟

WWW.SAMSOOR.COM

يوه ورځ تا را ته ويلي وو، چې:
( فخر شاگرد هنرمند به استاد رسد )
مګر استاده !
اوس حيران يم چې زموږ فخر به چا ته رسي؟
موږه بې فخره شو
بې سره شو
بې لمره شو
بس ته چې ولاړې
اې د پښتون مذهب رهبره وايه
زموږ د پوهې پيغمبره وايه
که ستا د تللو نيت و
ولې دې موږ ته دومره مينه راکړه
موږ خو ويده وو دابد په شپو کې
ولې دې مړو رګو کې وينه راکړه
دا ويښ زلميان به اوس په کوم لوري ځي ؟
ته خو يې مشر د دستار سړی وې
دا افغانان به اوس په کوم لوري ځي ؟
استاده ! اوس به دا نيمګړې نسخې چا ته لولم
دا - دخوشال فرهنګ - به څوک وليکي
دا د - اټک - لانجه به څوک وڅيړي
د ستر پښتون نيکه به څوک وپېژني

WWW.samsoor.COM

زما د تاريخ د هسک له لمر سره خو ته اشنا وې
خو
ستا د لمر په شان وجود هم پرېوت
هېڅ مې باور نه راځي
نه !
زه دا منلی نه شم
لا د ېر څه پاتې دي چې ته يې وکړې
يوازې ته
يوازې ته
يوازې ...

د دسمبر اوله ۲۰۰۴
واشنګټن دي سي

WWW.SAMSOOR.COM

دهند په سمندر کې د څونامي زلزلې ۱۵۵ زره کسان ووژل

# زلزله

او زمکه ریږدي
ښې الوځي
دخلکو لو دی
لکه قیامت، موراو زوی نه پیژني
دخدای (ج ) پر زمکه څه بلا پریوتې
چې خلک یو دبل دغوښو بوی نه پوزې نیسي
طبیعت په لوبه بوخت دی
خلکو کبان نیول خو نه وو خبر
چې د طبیعت په یوه لوبه کې به
کبان په دوی ماړه شي
کله چې زمکه دالله(ج ) دبندګانو تر پښو لاندې راوښوېده
لویانو چیغې کړې:
یارب
یا بګوان
یا عیسی ....بودا.... موسی را ورسېږئ...
خو ماشومان او لیوني پوه نه شول
چې چا ته پاس وګوري
دوی د بږنېکمرغه وو چې نه پوهېدل

WWW.SAMSOOR.COM

ځکه اول یې زلزلې ته کټ کټ وخندل او وروسته مړه شول
اسمان لا شین و
چا څه ونه ویل
د څپو غږ کې چیغې ډوبې شوې
خنداوې پراوبو لاهو شوې.
ښځې تر اوسه لا څپو ته ګوري
خو شپه تیاره وي داوبو پر سر د هېڅ ماهیګیر
د کوچنۍ بېړۍ څراغ نه ښکاري
په جوماتونو کې اذان
په مندرونو کې زنګونه نشته
د کلیساوو صلیبونه مات دي
خلک دلویو پانګه والو د خیرات په ډوډۍ
یو بل له ستوني نیسي
او ماشومان
لاهم په ختو کې د مړو میندو له تیو څخه وینې روي
❋❋❋
پر زمکه خلک ډیر دي
څوک یې په جنګ څوک یې په اور کې سوځي
څوک زلزله کې تر اوبو او خاورو لاندې ورک شي
او یو ځل بیا بشر په دې پوهېږي
چې مرګ د کونډو یتیمانو غم وي

WWW.SAMSOOR.COM

نه دهغو چې مړه شول
دمرګ غمیزه لا ژوندۍ ده
دهندي او بنګالي ښځو له اوښکو سره لوبې کوي
خو ها چې مړه شول په دې نه پوهیږي.

✵✵✵

یو لیونی د ونې ښاخ کې ناست و
ونه ولاړه وه دختو منځ کې
او لیونی لکه مرغه په کې ژوندی پاتې و
لیوني وژړل او ویې خندل
او بیا یې داسې وویل:
په دې دنیا کې به لا اوس هم چېرته جنګ روان وي
او ځینې خلک به دځینو خلکو وینې غواړي
دا دی طبیعت ورسره مرسته وکړه
طبیعت ډېر ووژل
نو اوس کېدای شي
جګړه ماران ماړه وي
او جګړه ودریږي....
لیوني وژړل او ویې خندل
ونه ولاړه وه
او دی لکه مرغه په کې ژوندی پاتې و.

۲۰۰۵ جنوري ۲
اندیانا-متحده ایالات

www.samsoor.com

# بنده

شیخ وايي ښه کوه او بد مه کوه
خو شیطان دا نه مني وايي:
بد کوه او ښه مه کوه
ما ته خو دواړه په غلطه ښکاري
آیا دنیا کې بس همدغه ښه او بد دي
بل څه نشته مګر؟
زه نه د شیخ نه د شیطان منمه
د خدای بنده یم بس د خدای منم
او مینه کوم

جنوری ۲-۲۰۰۵
اندیانا- متحده ایالات

WWW.SAMSOOR.COM

آیا دومره لویه بښنه شته، چې جګړه ماران هم وبښي؟

## نه پوهېږم

دنیا یو بل توپان په سر اخیستې
بیا د دیوانو په سرونو کې چینجي ښوریږي
او بشریت په خپله سپینه تنده لاهم د جګړې داغ لري
د انسانیت د پیدایښت له ورځې
زموږ تاریخ د د ووسترو ګناهونو په دوزخ کې سوځي
یو (غلامي) او بل (جګړه) او وژل
خدای ج د انسان د بد مرغیو طوق د دغو شیطانانو
په لاسو کې ایښی
د غلامۍ شیطان د عدل بوربو کۍ کې مړشو
خو (جګړه)
آخ خدای ج دې پرې مور بوره کړي
لاهم د ستر بابا آدم د اولادې شرم دی
دنیا یو بل توپان په سر اخیستې
قیامت به راشي خو حیران یم چې زموږ غاړې به
د جګره مارو تر ګناه لاندې کږې تر خدایه ښنګه ورشي؟!!

مریلند - امریکا

WWW.samsoor.COM

# تصويرونه

که
هندارو تصويرونه ساتلای
مونږ به خپل اوومنيکه هم لېدلی وای
او اوس به ټول پوهېدو
چې د دارا او سکندر آييني څه ډول وې
او د جمشيد په جام کې څه ښکاربدل
يوازې
که هندارو تصويرونه ساتلای
نور به بې روحه تاريخ
داسې بې ژبې او مړژواندی نه وای
مونږ به آدم ته د حوا لومړۍ موسکا پېژنده
او په بېړۍ کې به له نوح سره يوځای ګرځېدو
ما به آتن کی له سوکرات څخه پوښتلي وای چې
تر تا دوه نيم زره کلونه وروسته
ولې لا هم په- عدالت- پسې دا ورک بشر همداسې ورک دی؟
اوله موسی نه به مې غوښتي وای چې
ما هم له ځانه سره طور ته بوځي
بس که يوازې

WWW.samsoor.COM

تصويرونه په هندارو کې خوندي پاتې وای
موږ به ليلا ته وای کتلي د مجنون په سترګو
او په کعبه کې به مو
د اسماعيل د قربانۍ نښې له ورايه ليدې
زه به ورتلم اکاډيموس ته چې په خپله ژبه
له اپلاتون سره خبري وکړم
زما له هغه سره حساب پاتې دی:
ستا - ايتوپيا - چېرې ده؟
او انسانان به وژل کيږي لا تر کله د هغې لپاره؟
ستا د خيالي ډيموکراسي ريښتيا ده چېرې پټه؟
موږ خوپې اوس هم
د دروغو د لمبو تر شاتور سيوري وينو
له ارستو سره مې نه ده جوړه
ځکه چې لا هم د اخلاقو او ايمان په توپير نه پوهيږي
خو
که هندارو تصويرونه ساتلای
ما به له خپل نيکه نه غوښتي ووچې
زما مغرور پلار ته وصيت وليکي:
چې خپل شاعر زوی د ژوندون په لومړۍ ورځ ووژني
بو دا لا اوس هم ما په خوب کې ويني
هو ! زه پوهيږم چې له ما خپه دی

WWW.samsoor.com

ځکه زه ژوند ته دهغه په سترګو نه ګورمه
ژوند کله ښکلی شي زما دمعشوقې دښکلو سترګو په څير
خو بيا هم ما ته هيڅ ارزښت نه لري
بودا ويريږي چې خوبونه يې زماله وينو رنګ وانه خلي
بودا به نه ويريدای
اوزه به هم ژوندی وای
خو که هندارو کې تصوير پاتې وای
راشه چې زه درته يو راز ووايم
له سلوزروکلو ډير تير يږي
هيڅ څوک پرې نه پوهيږي
چې له هندارو څخه ولې تصويرونه تښتي؟
ماته مې اووم نيکه کيسه وکړله:
چې په هينداره کې شيطان وکتل
او بس همدغه شر ميدلي دهنداري حافظه ماته کړه
که درته ووايم خندا به در شي
که تصويرونه په هندارو کې خوندي پاتې وای
موږ به ځانونه دبيزو له نسله نه ګڼلای

۱۳۸۳الرم۲۷

په دې شعر کې وزن څو ځايه توپير لري، خو دا د مانيزو برخو دبيلولو لپاره ديوه نوي ميتود کا رونه ده، نه وزني تېروتنه.

WWW.samsoor.COM

# د افغانستان ورکې خزانې

ددوه زره پينځم کال د اپريل په يوويشتم ماښام د امريکې په پلازمينه واشنګټن ښار کې د افغانی سفارت او نشنل جيوګرافيک سنټر په مټ د افغان لرغونپوه ښاغلي زمريالي طرزي د هڅو او په ټوليزه توګه د فغانستان د لرغونو آثارو په هکله د يوه فلم پرانيستنه وشوه، چې(( د افغانستان ورکې خزانې )) نوميږي په دې فلم کې د باميان دسترو بودا ګانو را پرځېدل و ښوول شول خو تر څنګه يې په سيمه کې ددريیم بودا چې په (ويده بودا ) مشهور دی، د موندلو لپاره د ښاغلي طرزي هڅې او برياليتوبونه هم د پام وړ وو. د فلم جوړونکي باور لري چې دا په نړۍ کې تر ټولو ستره مجسمه ده چې اوږدوالی يې د ايفل تر برجه هم ډير دی. ښاغلي طرزي وويل، له ډيرو څېړنو او کيندنو وروسته مود دغه بودا د پښو يوه برخه وموندله، خو کله چې ډاډه شوم هغه دلته دی، نو کاريګروته مې وويل چې بيرته خاورې پرې وروا ړوي، چې بيا بل وخت په ډاډ او احتياط سره کيندنې پرې وشي. د فلم بله په زړه پورې برخه د طلا تپې د قيمتي خزانې په هلکه وه چې له نيکه مرغه تر اوسه دولسمشرۍ په ماڼۍ کې خوندي ده. دويده بودا را برسيره کېدل په نړيواله سطح يوه ستره فرهنګی پيښه ده، وړاندوينه کيږي چې ددغه بودا تاريخي ابهت او اهميت به د مصر له اهرامونو سره برابر وي، ياد شوي فلم عاطفي جوړښت درلوده چې د ليدو پرمهال يې پرځينو افغانانو بر سيره بهرنيانو هم خپلې اوښکې تم نه شوې کړای. ماله خپلو اوښکو سره څو

کليمې هم مل کړې چې دلته يې لولی:

# ورکه خزانه

بودا !
ويده شه
د تاريخ ترخر وارونو خاورو لاندې آرام و غځيږه
لا ((اپه ګان)) د خپل نيکه ځبره د غم د غبار شاته ويني
لا شغهار د غشيو خيژی لا ګوربت زخمي دی
او د ((لوی غر)) د ذهن ځالې له لمبو ډکې دي
لا پښتين نه شي اوريدلای ستا د سترې ډ بريني سينې ورک
درزونه
لا تور شيطان د ((براهې)) ګردونه مينځي د ((سيندو)) پر اوبو
لا هم پر موږه لمر د تور دجال له کوره خيژي
لا ستا ددواړو تنديسونو له سوغاړو نه دودونه خيژي
بودا !
ويده شه
په آرام پريوځه
هو دا رېښتيا ده چې
بخدي کې يې د ((ساک)) د پا چا ښکلې لور بربنډه کړله
طلا غونډۍ کې يې د سرو زرو له تاج څخه هډوکي تش کړل
خوته ويده شه

ته آرام پریوځه !
د بخدینې شهزادګۍ روح لا له ګاڼو سره په کور پاتې دی
لاله سیندو یا له آمو څخه اوښتی نه دی
لا خو د ساک د لور د ګڼ کمیس پاولي شرنګیږي
او لا د ستر نورستان ((لام )) په (( الینو )) مین دی
لا هم د دنګو پکتانیو د قمې زرین لاسوندي بریښي
نو ته ویده شه، ته آرام پریوځه !
د بخدینې پیغلې ښایست ته مې سلام دی بودا
ستا د خوبونو پریشانۍ ته مې هم پام دی بودا
زه لا د زرو کلو شاته بخدینې وینمه
چې اووه کنیزې پرې چاپیرې دي سینګار یې کوي
څوک یې باولۍ، څوک یې والۍ څوک یې پېزوان سموي
څوک یې په هسکه سینه ږدي د (( سات دیوا )) زرځېره
بودا ښایست ته یې حیران یم خو ویریږمه پرې
چې څوک یې نن را نه هڅوونه له سیندو تیر نه کړي
یا خویې غله د لاجورد و له آمو تیرنه کړي
زه هم پوهیږم زړه مې ریږدي خو ویده شه بودا
ته د تاریخ تر خرو ارونو خاورو لاندې پټ شه
چې زه د خپلې بخدینۍ ښکلې ګاڼې و ساتم
بودا ویده شه
ته خو ښه خبر یې
چې ستا د هڅ هڅ ماتوونکي څوک وو
تا خو د خپلو تندیسو نو پرځېدل ولېدل

WWW.samsoor.com

چې له(( ارک هند ) ) څخه ورها خوايې ديوان نشه کړل
نو ته ويده شه، په آرام پريوځه !
کله چې ما د ارشاک توره بيا په لاس ونيوه
او کانيشکا مې بېرته راوست د باګرام ماڼۍ ته
کله چې لمر له پکتيا نا څخه راوخوت او سوريا وخندل
ګندهارا ته چې مرغۍ له پرښا پوره راغلې
چې آسمايي بيا د( ويشنو ) د پلاز بيرغ پورته کړ
او روهيليو د کوترو سپين خيلو نه په هوا پورته کړل
بيا به( ارجن) له بهار ته راشي
(کليو پاترا ) به د نيل غاړې څخه راوړي زر مصري آسونه
(آشيل) به راشي د (زييوس) پيغام به راوړي طلايي بګۍ کې
او سکندر به خپل زرين تاج ستا پښو ته کيږدي
زرتشت به راوړي د بخدي پيغلې ولور کې د کوبا ارغوان
او د روم پيغلې به ګاڼو ته نڅيږي له لنډيو سره
اراکوزي زلمي به اچوي د څڼو خپې مست اتڼ ته
او هيندوکۍ راڼۍ به ناڅي دخيبر اتڼ ته
سمرقندي کوڅۍ به ځرخي کاکړۍ غاړو ته
او هيندو کڅ به له پامير سره پيالې کړنګوي
بيا به نو تا را ويښوو له اوږده خوبه بودا
بيا به دې باسو دتيارو له تور آشوبه بودا.

د دوه زره پينځم کال د اپريل يوويشتمه
واشنګټن ښار۔امريکا

اپه ګان: د افغان لرغوني بڼه
ګوربت: په ميدان وردګ کې ديوه غره لرغونی نوم دی

WWW.SAMSOOR.COM

لوی غر: د لوګر لرغونی نوم
سيندو: ننني اباسيند، يونانيانو اندوس باله
بخدي: د بلخ زوړ نوم
ساک: ساکيان د افغانانو هغه لرغوني پښت و، چې سلګونه کاله يې پر هېواد واکمني درلوده.
طلا غونډۍ: طلا تپه چې زرګونه لرغوني زرين آثار ورڅخه موندل شوي.
بخدينۍ: بلخي شهزادګۍ
لام: د نورستان په افسانو کې هغه پهلوان دی چې په
شهزادګۍ الينو مين و.
الينو(الينا): د نورستاني افسانو اتله، د لام معشوقه او د افسانوي ښکلا خاونده، د الينګار(الينګهر) او سنی نوم هم له همدې څخه اخيستل شوی او مانا يې د الينا مېنه يا کور دی
سات ديوا: ديوا په سانسکريت کې ځواکمن واکمن ته وايي چې د اوستا يي دورې ارباب الانواع به يې په دې القابو نومل، سات ديواد ساتونکي ځواکمن په مانا ده، چې زرينې مجسمې به يې د شاهي کورنۍ له مړيو سره خښولې چې ګواکې د هغو ساتنه وکړي.
ارک هند: د اټک زوړ نوم.
ارشاک: آريايي اتل
کانيځکا: کانيشکا نامتو افغاني واکمن
کوبا: د کابل زوړ نوم
پرښا پوره: د پېښور زوړ نوم
آسمايي: په کابل کې د دغه غره نوم له دوو ريښو (آسه) يانې نيکمرغي او(مايي) يانې مور څخه جوړ شوی چې مانا يې د نيکمرغي مورده.
ويشنو: له هندي ارباب الانواعو څخه
ارجن: هندي اتل، د مهابهارت په اتم پرب(فصل) کې يې له خپل ترېور کرن سره د جګړو کيسه راغلې.
کليو پاترا: نامتو مصرۍ ملکه(شاه مېرمن)
زييوس: د يوناني اساطيرو نامتو څېره
ګاځونه: ګاتهونه يا ګيتونه زاړه ءآريايي سرودونه چې د هېواد د لرغوني فرهنګ وياړمنه برخه ده.
اراکوزې(او سنی کند هار) پکتيانا(او سنۍ پکتيا) ګندهارا(او سنی ننګرهار): د لرغونې افغاني مدنيت درې مهم منځې(مرکزونه).
هيندوکځ: هيندوکوښ او سنی هندوکش

WWW.SAMSOOR.COM

# افغانان

اوږدې لمنې
ګونځې پايڅې
د پوندو چاودې له پوټيو ډکې
او د خپليو په ميخ ژوبلې تلې
د اوږد تاريخ کوڅو کې ځي او راځي
سبا د لوی او ډبرين ديوال تر شا پټه ده
نن ديوې مړې ډوډۍ لپاره لاس تنها کې
پرون په وينو سره په اوښکو لامده
يو ځل په چپ ولاړل په ښي لاس راغلل
د ښار په لويې ځلور لارې کې په چيغو سر شول
بل ځل له تورو سره را غلل
خپل بچي يې له چپه حلال کړل
اوږدې چپنې
ګل سپب د سمال تر ملا
قرصې رخچينې پر سر
لينګي د شولو په پټيو کې خوړين
ملا خيشاوه کې کړوپه
يو ځل د بيل لاستی په لاس کې بيا قبضه د ټوپک

WWW.samsoor.com

یا لاس پر ټپ ایښې یا ګوته پر ماشه نښتې
یو ځل په زېږه ګنهکار بل ځل د سر په ویښتو
یو ځل ملا پسې و لاړ بل ځل په تیښته ترې خلاص
نیم په تقدیر مین او نیم یې په پېریانو اخته
نیم یې په تمه د جنت او په دنیا باندې یې لاړې تو کړې
څه په مایېو پسې روان
څه یې د مارکس د کتابونو چینجي
څه د سید قطب د تاویزونو غاړه کې په غاړه
څه اسامه سره په سوړو کې پټ
څېرې ګرېوان
ډډې لمن
ول ول لونګۍ په غاړه
د اراب له ربړه جوړې مچنۍ په پښو
د اوښ وندنی پر اوږه مخ په ختیځ دي روان
بارېږي اېیم دي یا د بنګو میده شوې پتۍ
څه په (پریتي) مین او څه یې د ((تام کروز)) لیوني
نیم یې له ډېره تکبره زړې مور ته انګریزي غړېږي
څه یې لا اوس هم د مکتب په سوځولو تکبیرونه وایي
اوږده ټیکري
زړې پنې
ګلاباتون په پایڅو

WWW.SAMSOOR.COM

په سريې شکور دی په مړوند کې بنګړي
ځي لاروان دي خدای(ج) خبر په کومه
څه يې به بدو کې ورکړې د کنيزو په شان ژوند تيروي
ځوک په ميړه باندې سګريټ بل کړي
د ښځو د حقوقو کتابونه لولي
ډيمو کراسي لکه يوزوړډ اينسور
دوړې يې خيژي را روان دی ځوک يې نه پيژني.
دوی ورته وخاندي او وويريږي
چې دا عجيب ځناور
په دې هېواد کې هم هګۍ کړي هم بچي اچوي.

۱۸ تله ۱۳۸۴ کابل خيرخانه

WWW.samsoor.com

# گيله

پرون ناروغ وم ه نا مردې تا ونه پوښتلم
تا ويلې آخ !
خداى دې ما مړه کړي
زه خبره نه وم
زه دې په سترګو کې د دروغو ننسې ښې پيژنم
که ته خبره نه وې
پرون زيارت کې ډيوه چا بله کړه
بيګاه تر نيمې شپې په پټه دعا چا کوله
سهار پلوکې او ښکې چا غوټه کړې
ما به خداى څنګه جوړ کړي ؟
د دروغجنو دعا نه قبليږي.

15 ليندۍ 1384

WWW.samsoor.com

# سايله ستا هغه د خيال کابل

د پښتو ژبې پياوړي شاعر رحمت شاه سايل په دې ورستيو کې د کابل په نامه يو آزاد شعر خپور کړی دی، چې د دغه افغان شاعر د مينې او احساس يوه خوږه ترجماني ده. زما د زلميتوب د خوښې دغه شاعر ته، دا څو کرښې د نوموړي د همدغه شعر، لپاره ډالۍ دي:

تالا کابل ليدلی نه دی، تا کابل ونه ليد
سايله دا د افسانو ښار افسانه وګڼه
په تاريخونو کې يې ورکه شان کيسه وګڼه
دلته د وينو آيينه کې چې لمر سور ښکاريده
زما او ستا د ملت تپ چې لا نا سور ښکاريده
هغه وخت موږه ستا غزلې لوستې
ستا په سندرو به مو خپل د مينې ليک پيل کړ
ستا په نظمونو به مو يو بل ته لاسونه ورکړل
سايله هغه وخت موږ ستا دعا ته لار څارله
چې ګوندې دا وليکې:
((مادر ته ټول عمر د خوبونو ښار ويلې دي
کله مې پېرزوشې په بمبونو کابل جانه))
خو ستا دعا لا پوره شوې نه وه
چې ستا د مستو ليونو خوبونو
د ښاپېريو ښار بمونو رنګ کړ

WWW.samsoor.com

تالا کابل لیدلی نه دی، تا کابل ونه لید
سایله ستا هغه غزلې او زما سندرې
نورې په ورک تاریخ کې ورکې شولې
نور څوک دا لرو بر یو ځای نه ګنې
نور ستا اجمل زما لایق نه شته دي
د پاچا خان ارمان اوبو وړی دی
د ((یو پښتون)) د غېرضمیر را څخه
د کله دارو رنګینو وړی دی
سایله ته لا په روتې پسې او زه یمه په نان پسې ورک
یو هم په خپل کور کې ډوډۍ نه لرو
د اشنغر پېغلې له ډېره نازه
ما ته په کور کې مسا پروایي
چې خړ ځادر په پېښنور کې ګرځم
را ته زلمي لا مهاجر وايي
سایله زه او ته د ورک تاریخ تکرار ته سوځو
سایله زه او ته تکرار یو د یعقوب او یوسف
سایله زه او ته تکرار یو د مریمې او عیسی د فراق
بس دغه ښار دې په خوبونو کې ودان وساته
دا دایروځلی په خیال کې خپل مکان وساته.

مرغومی ۱۳۸۴ لمریز
کابل

# سفر

ته لکه د خوږ شګو کې سپينه اوږنه چينه
زه لکه د غره د کمره خواته راوتلی ګل
ته چې په ملا ماته شې نغمه د شرشرې راوړې
زه لکه د ډنګ کوچي پګړۍ کې يو ټومبلی ګل

ته لکه د سپينې شيدو پۍ پاڼه کې سره ننبه
زه لکه سهارکې د بيباکه نسيم ښکلی موج
ته لکه د سيند په غاړه جوړه د ماشوم ماڼۍ
زه لکه ترتانا رسيدلی ببرته تللی موج

WWW.samsoor.COM

ته کله دروغجنه شې ماشوم درغونه ووایې
زه دې اننگو کې د یو پټ شرم گل ووینم
کله چې بانه جوړه کړې لوبه کیسه پیل کړې
دروغو کې دې هم څه خوندور تخیل ووینم

ته لکه د سپین قرآن د کرښو جنتي ورېمه
زه لکه د عرش له مناورونه د اذان آهنگ
هلته په جنت کې یوه سیمه پښتنه هم شته
ما او تا راوړي له هغه ځایه د عشق لونگ

خدای خبر چې موږ به دې دنیا ته څه او څه ښکارو
څه خبر چې موږه په کوثر د عشق پریو للي یو
زرځلې د مینې شهیدان شو له دنیا ولاړو
بیا لکه آدم او حوا ځمکې ته راغلي یو

دواړه ماشومان یو دواړه ښکلي یو سپیڅلي یو
دواړه د جنت له پاکې ځمکې نه راغلي یو
کله سره لوبې کړو او کله سره جنگ وکړو
کله بیا د میندو پر زنگون باندې خوب وړي یو

دا خلک ژړلی نه شي سترګې يې خيرنې دي
مور لکه رڼا د ايمان سترګو باندې نه ښکارو
زه او ته د اوښکو په زمزم د زړه کعبه مينځو
بس د خدای دوستانو او وليانو ته راته ښکارو

ای ليونی مه ژاړه دا ځمکه خو په وينو ده
اوښکو ته دې پاکه د جنت خاوره له کومه کړم
ځه چې په آسمان کې دې له اوښکو ستوري وتراشم
وريځې به زانګو کړمه او تا به يې ماشومه کړم

مه ژاړه راځه چې په چينه کې دې مخ ومينځم
ژوند همدومره بس دی چې اوبو کې زه او ته ښکارو
واړه عاشقان به موړه وخښي او نشه به شي
مور به د مينو په خوبونو کې ويده ښکارو

ځه چې د ګل ځانګه کې يو رنګ شو بل وړمه د ګل
ښکلي عاشقان به مو يو بل ته په سوغات ورکړي
راشي ملکه چې د مچيو په مور وګرځي
ولاړه شي ترخو خلکو ته هم په مينه شات ورکړي

WWW.samsoor.com

ځه چې له باران سره پر دوه مينو وورو
يا د سپينې غاړې يا د تورو څڼو رنګ واخلو
ځه چې د بوسې د جل وهلو تنده ماته کړو
پس له ډېره وخته د خوږو شونډو قلنګ واخلو

ځه چې دواړه ورک شو له دې دومره ډېرو سترګونه
ټوله په تاريخ کې تيته شوې مينه ټوله کړو
راېې وړو په دومره ډبرينو زړو يې وويشو
دا تياره دنيا چې زه او ته رڼا په سوله کړو

راشه ما سفرته ملا تړلې ده روان يمه
بس يوازې لاس راکړه او سترګې دواړه پټې کړه
زه به دې په شونډو له بوسې نه بسم الله وکړم
ته د اقتدا په نيت له مانه تاوې متې کړه

25 ليندۍ 1384 کابل

WWW.samsoor.COM

# زما کلیزه

ګل کړی کیک
ګیډۍ د ښکلو ګلو
یو څه خواږه
او یوه ښکلې موسکا
یو ځل په مینه راکتل
یوه خوږه خبره
.... زه پرون بیا د ټول جهان پاچا وم
یو چا په مینه زما کلیزه راته ولمانځله
او زه ماشوم د مینې د و مره خوښ وم
لکه دا شپږ دیرش کاله
چې په جنت کې لوبیدلی ومه
ژوند لکه خوب تیریږي
او کله ټول غمونه
د یوې ښکلې شیبې رنګ کې ورک شي
موږ د غمونو او خوښیو ماشومان لا را لوی شوي نه یوو.

۲۱ حوت ۱۳۸۷

WWW.SAMSOOR.COM

## د هغې لپاره

هغې خپل روح په زم زم و مينځلو
او د کوثر په حوض يې شونډې کېښوې
هغه سپېڅلې شوه د پاکو ملايکو په څېر
هغه له نور ځخه روښانه شوه د خدای (ج) مينه کې
خدايزده چې اوس به څومره ښکلې ښکاري
هغې د خپل ګنهکار غږ هم پر خپل ځان حرام کړ
هغه مين چې له ګناه پرته يې هيڅ نه لرل
هغه چې نښه د بدۍ و
چې کمزوری و
چې لاس يې مات وو
هغه مين چې بې لفظونو

WWW.SAMSOOR.COM

بې خبرو يې نور څه په روح کې نه درلودل
هغه نور ورک شو د هغې له حافظې څخه هم
ها چې پخوا يې لا له زړه څخه شړلی و
ایستلی یې و
هغه ورک شوی ګنهکار هغه له بدو نه بد
.... خو هغه څو مره ښه و
چې بیا یې هېڅکله سپېڅلې ښکلې
د ګناه فکر ته هم پرې نه ښوده
خپل دوزخي غږ يې د روح د تمبو شا ته پټ کړ
هغې یې مخ ونه لید
تاسو دا مه پوښتئ چې دغه ګنهکار څنګه شو ؟
تاسو دا وګورئ چې دې مین د عشق لپاره
د خپلې مینې د تقوا لپاره
په خپلې روح کې هر څه څنګه خښ کړل
هر څه
یوازې
د هغې لپاره !

۱۲ سلواغه ۱۳۸۷

WWW.samsoor.com

# اعتراف (۲)

خاطره:

((مات شوې؟))

نه پوهېږم ګران محمد یار ته زما وروستیو شعرونو څه ویلي وو، چې په ژړغونکي ږغ یې را څخه په تیلیفون کې دغه پوښتنه وکړه او بیا یې پرله پسې پر ژوند تونده ګوزارونه وکړل. ما غوښتل ژوند ورته تعریف کړم، خو زما ستونی هم راډک شو او خبرې مو پرې شوې.... بیا زما له خبرو څخه لاندې کرښې جوړې شوې، چې ګران محمد یار به یې ولولي.

هو !

زه

په مینه کې مات شوی یمه

زما د سرو سترګو شاعره یاره !

ستا د سلګیو سپېڅلتیا نه زار شم

ژوند ستا د سرو سترګو په څېر ښکلی دی

ژوند زما د ماتې په څېر لوی حقیقت

ژوند لکه زما خپګان همدومره ژور

ژوند لکه زما د مینې سپینه اوښکه

WWW.samsoor.COM

ژوند لکه عکس په کې د تورو رنجو
ژوند به ډېر تريخ وي خو له مرګه ښه دی
او که نه، دومره درد به څوک تيروي؟
دعشق له ماتې څخه دومره رنځ به څوک ګالي؟
موږ عاشقان، موږ به د غم بلهاريان
همداسې سوځو او کيسې جوړوو
نو ګرانه ((ياره)) وايه!
که زه او ته (مات) نه شو
که زه او ته د عشق لپاره حلاله ورنه کړو
نو بشريت ته به د عشق حماسې څوک جوړوي؟
سترګې دې وچې کړه
قامت دې هسک کړه!
عشق لمر خاته کې ولاړ
تا ته په تمه دی
چې زيری درکړي:
((لېوال په عشق کې مات شو.))

۱۳سلواغه ۱۳۸۷

WWW.SAMSOOR.COM

# خبرتیا

زما د زړه پر دغه شاړه بې خاونده زمکه
د هېرې مینې کنډوالې ولاړې
په دغو ورځو کې یې بیا جوړوم
بیا به ودان کړم تر اسمانه اوچت
بل تاج محل د نوي عشق لپاره
دې تاج محل ته یوه نوې ملکه غواړمه
زه مجنون نه یم چې د تللې بې وفا لیلا لپاره ومرم
زه نازولی شهزاده د مینې
د ښایستونو او پریانو په ټاپو کې ګرځم
هرچا چې درې غمي د حسن د الماسو راوړل
چا چې د عشق لپاره راکړل خپل تاوده لاسونه
چا چې تر زلفو لاندې پټ کړم له فاني دنیا نه
چا چې په خوب کې زما ټوله شاعري ولیده
څوک چې له ما سره زما د شاعرۍ په یاغي تخت کیناسته
ها ملکه به وي د نوي تاج محل واکمنه
د ټولو ښکلو زړه ته لاره کوم
د ټولو خیال ته دروازه ټکوم
راشئ ! او نوی تاج محل وګورئ !

WWW.samsoor.COM

۹ سلواغه ۱۳۸۷

# غزلونه

WWW.SAMSOOR.COM

# نیزار

هر کال چې پسرلی شي له کېږدیو سره راشي
یو څوک مو شینکي کلي ته شپېلیو سره راشي

رمه درې ته بیایم د ځنګله لار ورته نیسم
دغرونو مستـه لور ګوندې څېړیو سره راشي

یو چا په تورو سترګو کې د پړانګ خوی ده پټ کړی
د زړه ښکار ته مې غلې له هوسیو سره راشي

راغلې بنګړیوانې خوشه چینه لارې څاري
چې خوا ته یې لوګری له ستریو سره راشي

د سترګو زخم ساتمه د اوښکو په نېزار کې
کیدای شي چې تصویر دې له هیلیو سره راشي

توپان توپان وطن ته مو یو نوح د ثواب نه شته
چې دومره ګنهګارو ته بېړیو سره راشي

۱۳۷۷/۱۱/۲۸
پېښور حیات آباد

WWW.samsoor.com

# تناب

پټ راز يمه په شونډو تېرومه هره شپه
د ژوند سترې کيسه مې هيرومه هره شپه

وربل ګوتو کې را کړه اعتبار په عمر نشته
د زلفو په تناب دې اوږدومه هره شپه

دا ستا د ښايستونو په دې لويه پاچاهي کې
زه تش د زړه داغونه ډېرومه هره شپه

د تورو لوهلو نه مې دغه سترې متې
له غاړې د جانان چاپېرومه هره شپه

زړګی مې نه خرڅېږي ستا د ښکلو سترګو ښار کې
دغشيو په بازار يې ګرځومه هره شپه

لېوال ته حسن راوړه له لېواله عقل يوسه
دا دوه سره مستۍ کې بدلومه هره شپه

۳۱ثور ۱۳۷۸
کامه ننګرهار

WWW.samsoor.com

# ساده غزل

چې سپينې ليچې دې چمبه تاووي
په خوار زړګي مې سره لمبه تاووي

بانه حاجيان دې له لېمو تاوېږي
کافر غرور ټوله کعبه تاووي

د زيارت توغه! بختور يې څومره
پيغلې دې هره چارشنبه تاووي

د سينې زور له لونګينه باسي
ښکلې يې هسې په پلمه تاووي

زلفو کې مخ پټ کړي کوډګره بلا
په تور ماښام کې سره غرمه تاووي

٧غبرګولی ١٣٧٨
خيرخانه

WWW.SAMSOOR.COM

# د زخمونو تنده

مـاتړي تـه دي خـدايزده نظـر څـه نـړدي کـوي
د سـپينو اوبـو څـاڅکو تـه مـې نـه نـږدې کـوي

بس دومره يم خبر چې د ښو د څوکو آب خوري
هر څوک چې نن سبا ښکلو ته زړه نږدې کوي

له ستوريو نه جوړ شوی يو قامت مې خوب ته راشي
د نـوريـوه دربـار تـه مـې کاتـه نـږدې کـوي

د سرو زخمونو تنده په سرو شونډو ماتوي
غـازي لالـي تـه بيـا ملالـه خولـه نـږدې کـوي

راوړاندې شه چې شپه په غيږه غيږه ولمانځو
تيـاره کـې خلـک زړونـه سـره ښـه نـږدې کـوي

زمـا يـاغي نظـر يې هـم سـتا خـال سـره پـخلا کـړ
دا عشـق څـه زورور دی پښـتانه نـږدې کـوي

۴ وږی ۱۳۷۸
باړه پېښور

www.samsoor.com

# لال

د تـورو سـترګو شـور راوړه چـې غلـي غونـدې شـو
يـو ډنډ د ګناه جـوړ کـړه چـې سـپيڅلي غونـدې شـو

راځـي يـوه جـوړه دي تـورې تـورې هينـد وګـۍ
رام رام ورسـره وايـو کـه منلـي غونـدې شـو

چـې زمـونږ د بـرين زړونـه هـم لايـق شـي د زخمونـو
کـړه نيغـې يـې را پورتـه چـې ويشـتلي غونـدې شـو

ورځـو چـې خپـل يـو لال راوړولـه سـلو ښـامارانو
ټـپـې راسـره وايـه چـې غښـتلي غونـدې شـو

کوم ځای مې اوريدلي چې د خدای(ج) ښکلا خوښېږي
يـو ځـل خـو تـه را وګـوره چـې ښـکلي غونـدې شـو

WWW.samsoor.COM

# غزل

د خال ژنی دې راشي چې له سترګو پرهار يوسي
کوچی دی له ايلبنده به د سره اوښ مهار يوسي
يوازې مو دغرونو غاړې هسکې دي لا پاتې
اخر به ميرخي راشي تر هغو به هم دار يوسي
په زمکه خو يې سيوري رانه غلا کړل غدیٔ مارو
دا ځل به مو له ستورونه آسمان کې مدار يوسي
دا موږه څه بد مرغه يو زندان کې مو زندان دی
صياد مو په قفس کې هم له ستوني چغار يوسي
د څهو شړک ځپلي يو د مخ ديدن به مومو
د شپو د شهيدانو جنازې به سهار يوسي
زما د زړګي رنګ يې ورته پټ بڼو ويلی
د عشق له قمار باز نه به دې سترګې قمار يوسي
بېګاه ويل د سندرو شهزداګۍ چې که خوند غواړي
په پور دې ټولې ژبې د پښتو يکه زار يوسي
درځئ چې سلامي کړو د دنيا ټولې سندرې
آدم دې رباب واخلي له حجرو دې سېتار يوسي
زما د ټپو ژبه ده د ټولو ژبو ميره
ملاله به جنت ته يو غازي سندر مار يوسي

د کابل جلال آباد لويه لاره
د ۱۳۷۹کال د وري ۱۷مه

WWW.SAMSOOR.COM

# دربار

مه وایه چې سترګو کې مې تش د خمار سره اوسي
هلته خو زما هم یو وړوکی غوندې زړه اوسي

څه په درز چمبه وهي او ګډې شي ګیډۍ ګیډۍ
دنګې چتې پیغلې چې سرخېلې د واده اوسي

لمړه دعا نه شم کړای چې کلي ته دې وبولم
دومره اور خورا کړه چې لاسونه مې تاوده اوسي

سم به وي خو کم به وي زړه ستا د قد دربار نه دی
ستا د ښو کور دی دلته ټول په کې کاږه اوسي

سیند ورنه راوړي سپینو اوبو کې سور د وینو رنګ
ښکاري، چې بر کلي کې لا اوس هم پښتانه اوسي

۱۸الرم ۱۳۷۹

# لارې

دومره چې خود بين يو له هندارو سره ځو
يو به ليوني خو له هوښيارو سره ځو

خدايزده چې ژوندی به تر ديداره ستړګې يوسو
يار ته په يوه لاره اغيارو سره ځو

زړونه مو بايللي تر کاروانه يو راغلي
داسې چې له ښکليو دل آزارو سره ځو

ستا زلفو ته لاس نيسو ولې به يې لارې يو
مونږ تر خپله ځانه هم له لارو سره ځو

عشق ته به رسيږو د يار سترګو سره مل يو
ژونده ستا درشل ته له خونکارو سره ځو

۵سلواغه ۱۳۷۹
کندهار

WWW.SaMSOOR.COM

# ژوند لکه سپينې اوبه

خيـال د ژونـدون نـه سـاتو دومـره بې تـدبيره يـو
ستا سترګو ته نيغ ګورو مونږ څومره بې پيره يو

ډک خـم پـه سـر اړوو ، وعـظ د مـلا نـه اورو
ښـکلو سـره مينـه کـړو نـور نـو بـې تقصـيره يـو

ژامـه د ليـوه باسـو مـرګ مـو پـرې لـوريږي نـه
ښـکار تـه کمـان نـه لـرو زړونـو تـه بـې تيـره يـو

رنـګ سـره بلـد نـه يوزړونـه مـو دي سـپين سـاده
خيـال د انځـورګر لولـو خپلـه بـې تصـويره يـو

ژوند سپينو اوبو غوندې غواړو يې نغمو غوندې
سـتړي يـې لـه وينـو يـو سـتړي يـې لـه ويـره يـو

سلوغه ۱۳۸۰

WWW.SAMSOOR.COM

# پير

بوی د نرګسو له دې باغه په څه ويرو تلی
خيال نه مې پټ ستا د خوږو سترګو تصوير و تلی

کله ما تيرې تا ګنډلی که جفا کړې که ناز
زړه نه مې تېر و بېر دا ستا د بڼو تيرو تلی

ساقي له مخ نه دې نور نه اوري نن زما په ګومان
له ميکدې څخه ناراضه کوم فقير و تلی

دا خلک پېژني يوازې د خزان بادونه
له دې د ياره د خوږو ورمو بهير و تلی

دا مريدان به خو د يو بل په کنايو يادوي
دې خانقاه څخه ليواله د عشق پير و تلی

سلواغه ۱۳۸۰

WWW.SAMSOOR.COM

اروانباد اسحاق ننګیال ته چې «شاعر» و !

# د غرونو شاعر

د شــعـر د دوهـيــو قلنــدر مـــو و ننګـيـــال
د عشـق د مـازيګر يـو مسـت ګـودر مـو و ننګـيـال
پښــتـون هنـره نـن دې پـريـو تلـى يـو بـل سـتـورى
زه څـه وايمـه سـتـورى بلكـې لمـر مـو و ننګـيـال
واه مـــوږه خــو د فقـــر د ابـــد پــه غـــم روژه وو
يــو ښــكلـى شـان فقيـر لكـه اختـر مـو و ننګـيـال
د حســـن د شـــرابو دريانوشـــه اشـــنا وايـــه
سـاقي و كـه شـراب و كـه سـاغر مـو و ننګـيـال
د شـــعـر د هنريـــت او آزادۍ لښـــكـر تـــه وايـــه
سـنګر مـو و ننګـيـال او هـم رهبـر مـو و ننګـيـال
ليوالـه بـس د غرونـو د شـاعـر كـډه هـم بـار شـوه
پـه خپلـه چـې هـم سيند و او هـم غـر مـو و ننګـيـال

❋❋❋

د ننګيـال د مړينـې پـه سـهار چـې لـه را ويښـېدو سـره سـم وفـا صـاحب پـرې خبـر كـړم د ۱۳۷۷كال ثور مياشت پېښور.

www.samsoor.com

# روح لکه هینداره

زر ځلې کافر شومه بیا دې مسلمان کړمه
زه له ختمو جوړ آدم مینې دې انسان کړمه

روح مې آئینه غوندې ته یې د ښکلا تصویر
څومره را نږدې شولې څومره دې جانان کړمه

تا ته چې درګورمه څنګه به مومن شمه
ستا په عشق کې ډوب یمه څنګه دې ایمان کړمه

څاڅکی د شبنم یمه پروت پر یوه شنه پاڼه
یو ځل که را وګورې څاڅکی به باران کړمه

هره ساه مې زړه کې یې هره ساه مې سترګو کې
چېرته دې پیدا کړمه چېرته دې پنهان کړمه

۱۳۸۱/۴/۷

WWW.samsoor.com

# آیینه

ستا مې چې نظر په ښکلا پرېوځي
اوښکې له لېمو په خندا پرېوځي

نوم دې چې هم تش په ژبه واخلمه
خولې نه مې سلګۍ په ګډا پرېوځي

عشقه لېوني دې چې ترې کډه شول
اوس به پردې کلي بلا پرېوځي

ډېر چې درته ګورم آیینه به شم
ګوندې کوم نظر دې په ما پرېوځي

ښکلي د لېوال دغه پښتون غزل
پرېږده لو پټه شي په تا پرېوځي

۱۳۷۴/۴/۱۲
کابل پوهنتون

WWW.samsoor.COM

# مانهو

له کومه راغله د ليلا د تنګ کوچې سندره
چې مو په کلي کې خوره شوه ليونۍ سندره

شور د پاوليو د سينې، د چا خوبجن اسويلي
لېونۍ زړه مې رانه غواړي د کيږدۍ سندره

پاس په دره کې د رمې د غاړو زنګ سره مل
ځو مره خوږه ده مازيګر کې د شپېلۍ سندره

دا د سيند غاړه کې نن بيا د چا وربل جوړېده
چې دا سې ماته کړه مانهو پرې د ځوانۍ سندره

زه به نغمه شم د آدم ستا د مړوند پر بنګړو
ته راته وايه په ناز ناز د درخانۍ سندره

لوګر د مينې په لور پرې کړ خوشه چينې يوسه
د زړه پرهر ته يې د شونډو د پټۍ سندره

بي بي مرجانه هره پېغله شوه زيارت ته ورځي
کوډګر ملنګ هره شپه وايي د دوهۍ سندره

۱۳۷۲/۲/۳
کابل پوهنتون

WWW.samsoor.com

# جرګه

ما مې د زړه ورته ډیوه راوسته
ځار شم د زلفو دې چې شپه راوسته
ما خو یوازې درکتل په مینه
تا ورنه جوړه یارانه راوسته
ته دې ښایست ته چې خودبینه شولې
درته د روح مې آئینه راوسته
د زړګي وران کلی مې تش و خو نن
ورته نظر څه مېلمنه راوسته
چا دې تصویر د زړه تر سترګو راوړ
چا مې سجدو ته نن کعبه راوسته
ستا مې غرور سره نن جنګ کولو
څه وکړم حسن دې جرګه راوسته
شوه مې لېواله هدیره په ګډا
خدای خبر چا ورته هغه راوسته

۱۳۷۴/۲/۳۰

WWW.samsoor.com

# سهار

ادا د زلفــو سلســله ماتــه کــړي
ښــکلې غوســه شــي آيينــه ماتــه کــړي

ځــار شــم حيرانــه ده چــې تــش وربــل تــه
د ګــل ځــواني پــه څــه پلمــه ماتــه کــړي

ســتا د کتــو ســپرلي تــه وايــه اشــنا
چــې مــې د روح کنګــل ځيلــه ماتــه کــړي

څــو مره لېــوال يــو د درشــل ســهار تــه
کلــه بــه راشــي چــې دا شــپه ماتــه کــړي

غمــه د اوښــکو ســاقي څــه شــوه چــې لــږ
د نظــر جــل د زړه غرمــه ماتــه کــړي

۱۳۷۴/۱۱/۲۱

WWW.samsoor.com

# غشي

څه ستړي شان داغونه مې پر زړه خواره واره شي
جانانه پر اوربو دې چې وبښته خواره واره شي

خوربې غبربې د شونډو ته دې وايه چې توده شي
دردونه مې اشنا چې پرې ويده خواره واره شي

د خيال قدم دې زړه ته چې پرې راشي ښکلي وايه
بانړه خواره واره شي که لېمه خواره واره شي

د ښکلي قهر غشو دې مغل د بېتلون مات کړل
څه نوره هم غوسه شه چې لرښه خواره واره شي

زما زړه يې کړ قتل ناز دې بېل غرور دې بېل شو
همېش تربري وروسته پښتانه خواره واره شي

باغ بالا
۱۳۷۵/۵/۳

WWW.samsoor.COM

# مات غرور

پورته دې بانه کړه د ادا په غېبر کې شپه راکړه
وروره زلفې د ښکلا په غېبر کې شپه راکړه

شونډو کهنګارو ته د مينې د آيت په نوم
شونډې را نږدې کړه د دعا په غېبر کې شپه راکړه

زه يم، يو څو اوښکې دمه ستا د بارخو سيورو ته
خير دی مساپر يم د خندا په غېبر کې شپه راکړه

مات غرور خو نه يم چې د ناز غېبر نه مې وشړې
سترګو کې دې خوب يمه اشنا په غېبر کې شپه راکړه

خپل دې يم، پښتون دې يم، غزل دې يم، لېوال دې يم
ځار شم پښتنې نن د حيا په غېبر کې شپه راکړه

۱۳۷۴/۳/۱۳
کابل

WWW.SAMSOOR.COM

# کوڅې

لېمه کوز ګوري څه باني جوړوي
ځار له کتو دې چې ګيلې جوړوي

نه شي نظر د زړه ګلاب پټوم
وايه وربل دې چېړې شپې جوړوي

چې د ښايست سپرلی پرې زړه ته راشي
اغزي مې سترګو کې کوڅې جوړوي

ستاد پښتون حسن کاروان ته ښکلې
اوښکې لېمو کې تاترې جوړوي

لېواله ټول ورته غزل غزل شه
سترګې يې بيا د نازکيسې جوړوي

۱۳۷۵/۹/۲۵
کامه - ننګرهار

www.samsoor.com

# خيرات

ستا لـه ښکلا نـه لـږ زکـات غـواړم
د مينـې طـوره يـو تـورات غـواړم

دومـره مجبـور کـړم پښـتنو شـونډو دې
لـه مغـل خـال نـه دې خيـرات غـواړم

چې د وربـل کعبـه دې خلاصـه شي تـرې
د سـرو د ټيـک منـات دې مـات غـواړم

ستـا د شـهيد حسـن پـر قبـر ولاړ
يتيمـو اوښکو تـه مې سـخات غـواړم

زخمي تصوير دې د زړه غېږ کې پـروت دی
سـتا لـه ښو نـه يـې کسـات غـواړم

٢ ليندۍ/١٣٧٦
اچيني پېښور

WWW.SAMSOOR.COM

# غځوني

ځلېږي آيينه کې چې ښکارېږي آيينه کې
د خپل ښايست له سترګو راورېږي آيينه کې

ته پانه پانه ژوند يې او زه ذهن د ځنګلونو
آبشار زما شاهد دی چې شنه کېږي آيينه کې

بانه په سجده پرېوتل د اوښکو په محراب کې
ای حسنه څه مغرور يې خو ماتېږي آيينه کې

جوهر زما د وينو انعکاس کوي ستا مخ کې
دا رنګ د حيا نه دی، چې سره کېږي آيينه کې

زه لاس د انځور کړيم تا به څنګه کړم راټوله
ته څو مره ځانګې ځانګې لا غځېږي آيينه کې

۱۳۷۷/۱/۱۷

WWW.samsoor.com

# تکبير

ستا تصور مې هر مهال مېلمه وي
لکه پر مخ د ښکلو خال مېلمه وي

د زړه له ختهو مې منګي جوړوي
خوب کې مې ستا د عشق کلال مېلمه وي

څه د نهارو د تکبير ښايست دی
لکه د ښار مو چې بلال مېلمه وي

مغلو داسې ورا ناوه لکه چې
روح په کابل کې د خوشحال مېلمه وي

اوري نظر نه دي باران د غزل
لکه د سترګو دې لېوال مېلمه وي

۱۳۷۵/۱۱/۲۴

WWW.SAMSOOR.COM

# سلايي

پسته شه لکه وړانګه پر ګورد باندې خوره شه
یا رنګ د سلايي شه په نظر باندې خوره شه

زه خیال د آدم خان یم سر به ستا پر زنګون کېږدم
ته شرنګ شه د پاولیو پر ټټر باندې خوره شه

زه لپه د تیارو یم اې دعا د رڼاګانو
د ستورو له آمین سره په لمر باندې خوره شه

یو غر یوه رمه ده یو شپونکی یوه شپیلۍ ده
در ځار شم یکه زار شه مازیګر باندې خوره شه

د زړه پر میوند جنګ دی هله پاڅه چې مات نه شي
لنډۍ شه د ملالې په لښکر باندې خوره شه

۱۳۷۷/۳/۲
غزني

WWW.samsoor.COM

# جادوګر

د ستورو اتڼ ګډه دی چېري ناوې د سپوږمۍ وړي
قاتل باد د سندرو د زړه شپون نه مې شپېلۍ وړي

ما زلفو لاندې پټ کړه د سیلۍ جادوګر راغی
له ما شخه شادر وړي او له تا شخه کېږدۍ وړي

د ناز دیوال یې جوړ دی د رباب د ترنګ له خښتو
د زړه آدم مې داسې یوه ښکلې درخانۍ وړي

ایلبند په ایلبند ګرځي یوه دنګه غنمرنګه
د ژوند د اوښ مهار مې یوه دارنګه کوچۍ وړي

کړه تورې سپیني لیچې چې د خیال پر میوند جنګ دي
هر شرنګ دې د بنګړیو زړ ټپې د ملالۍ وړي

۱۳۷۷/۴/۱۷
زابل - کلات

WWW.samsoor.com

# د ناز پرخې

چې دې د سترګو د کتو ور شومه
لکه غوټۍ د غوړېدو ور شومه
څه بختور شومه چې او ښکه شومه
ښکلې! ګرېوان ته د رتلو ور شومه
ناز ومه پرخه پرخه پروت پر شونډو
غروره پام د ماتېدو ور شومه
دام د خوبونو یې وربل خوروي
رقیبه! اوس دې د ویشتو ور شومه
له لېونو سره چې مل ګرځمه
ښکاري ایله دې د کوڅو، ور شومه
اشنا مې نوم چې یاد په مینه کړونن
عشقه معراج ته دې د تلو ور شومه
لېوال غزل مې د شملو غزل شو
ایله چې نن د پښتنو ور شومه

۱۳۷۲/۲/۲۱
کابل

WWW.samsoor.COM

# نتکۍ

ګل پرخه په خوله چاته ډالۍ په شونډو ایښي
شونډو مې دي شونډو ته زارۍ په شونډو ایښي

دا کلي هومره شین دی لکه ستا د خندا فصل
نتکۍ د پسرلي ورته غوټۍ په شونډو ایښي

پربوتې په خوب وړي جانان څانګه د کمڅو ده
یا ګوته د چوپتیا ورته سپوږمۍ په شونډو ایښي

نن هم د چا له بامه سترګې بر غره ته دي پاتې
د کلي زلمي شپون چېرې شپېلۍ په شونډو ایښي

د لمر په خولو لامبي د وربل د شپو ګلاب
که توره د پښتون لالي کوچۍ په شونډو ایښي

۱۳۷۵- مرغومی۲۸
حسن ابدال د مشوانیو کلی

WWW.samsoor.COM

# جاله وان

تـږی شـو ، ریـدي د غـره بـاران تـه لپـه ونیـوه
سـترګو د شـپونکي کـور د جانـان تـه لپـه ونیـوه

بـاده بختـوره بیـا د چـا پګـړۍ کـې ګـل ټـومبې
اوښـکو د کـوچۍ دې چـې ګرېـوان تـه لپـه ونیـوه

کـوم تـږی لـوګر یـې د لـیلا اوږې نـه مـوړ کړلـو
شـنه منګـي غـرور نـه چـې اسـمان تـه لپـه ونیـوه

خدايزده د سپېرو شونډو کچکول کې ورنه څه غواړې
سـتړي ژرنـده ګـړي چـې پېـزوان تـه لپـه ونیـوه

تېـر مـازیګری دی، سـیند نـه پـورې څوک پـه تمـه دی
ښـکلې پـه زاریـو جالـه وان تـه لپـه ونیـوه

۱۳۷۵/مرغومی/۲۷
حسن ابدال

WWW.samsoor.COM

# بارانونه او ډيوې

تيـاره ده، ترورږمـی ده، سـتا يادونـه او ډيــوې
لـه سـترګو سـره جنـګ کـوي خوبونـه او ډيــوې

ستا زلفې يې په مخ دانه وانه وې خورې کړې
بېګـاه يـو ځـای راغلـي وو بادونـه او ډيــوې

ګيـډۍ ګـڼ کميسـونه پـه کـې چتـې پښـتنې
واه ! ښـکلي يوځـای شـوي دي ګلونـه او ډيــوې

دا خلک خړو کليو کې بس خپل جانان ته پرېږدئ
دا خلـک درنـه نـه غـواړي ښـارونه اوډيــوې

پـه تنده دی پـه منډه دی ملت مې پـه تيـاره کې
خاونـده ! يـو ځـای ورکـړې بارانونـه او ډيــوې

۱۳الیندی۱۳۸۷

www.samsoor.com

# سوی زړه

بس په شکرانه کې يوه خوله راوړه
پال ګورم له رغوي سره زړه راوړه

نه مرمه ورځه سر ته مې مه کينه
تږی يمه ولاړه شه اوبه راوړه

نه دي غشي ، زړه باندې خوارږه لګي
سترګې دې راپورته کړه بانه راوړه

تاويل چې سترګې تورومه پرې
تاويل د سوي زړه رانجه راوړه

نه به ښنبي لپوال د غه ترخه شراب
ته ورته د سرو شونډو خوارږه راوړه

WWW.samsoor.COM

# نوې کيسه

قند ستا د شونډو له ترخه قسمته هېر نه کړم
د غم صراط نه يې په هيڅ بهانه تېر نه کړم

د زړه له درد څخه مې دروړې ډيرې سپينې سکې
خو زه يې ستا په خريدارو کې هم شمېر نه کړم

څو مې چې سترګې رڼېدې ستا مې پرې لا څارله
ستا غم به ډېر و زورور خو زه يې زېر نه کړم

کيسه زړه ده د ښو او وروځو ، شونډې راوړه
زه سوله غواړم ياد د غشيو او شمشېر نه کړم

ما ويل شکست نه به لېوال غوندې په زړونو کينم
مين يې کړمه مګر مات يې ستا په څېر نه کړم

WWW.SAMSOOR.COM

# مرمر

دا ځکه مې په غېږه کې نيولې دې لاسونه
هر ځل مې چې له تا نه را تاو کړي دي لاسونه

زه تږی وم، دوی لپه شول، له سپينو اوبو ډک شول
د ژوند په نامه وايم چې دې ښکلي دي لاسونه

هر ځل مې چې له ستورو جوړ امېل په خوب ليدلی
سبا مې ستا په غاړه کې ليدلي دي لاسونه

په حقه له تندي سره جوړه په سجده پرېوځي
ادم چې له حوا نه چاپېر کړي دي لاسونه

WWW.samsoor.com

کوربان شم له پستو لاسو د هغو ملائيکو
چې ستا يې له مرمرو نه تراشلي دي لاسونه

راځه چې يې د اوښکو په شبنم باندې ټکور کړم
ګلابو او نرګسو دې داغلي دي لاسونه

اې خدايه ! چې په موټي کې قبضه د تورې نيسي
دې وليو ته دې ولي نو ورکړي دي لاسونه

چې نه دې و شين کړی يو غنم، خو لور دې راکړ
ما څو ځلې په دې باندې رېبدلي دي لاسونه

رانه ستوري مې څاڅي له دې لسو واړو ګوتو
چې ستا په تورو زلفو مې وهلي دي لاسونه

وطن چې جوړوئ خلکو ! که دوه خښتې وي کمې
غريب لېوال په مينه دربښلي دي لاسونه

۲۰۰۸/۱/۲۳

WWW.SAMSOOR.COM

# د سترګو ماتې هینداري

یو څـــوک دې پــه ســندرو او پـــه ویـــر یـــادوي
مریـــد دی پـــه حلقـــه کـــې نـــوم د پیریـــاد وي

د زلفـــو پـــه تړلـــو موځـــوک کلـــه نـــازوي
زمـــوږ د جنـــون ښـــې پـــه زنځیـــر یـــاد وي

زمـــا د لمـــدو ســـترګو مـــاتې آیینـــې
دوینـــو ، اوښـــکو مـــنځ کـــې ســـتا تصـــویر یـــادوي

چې زړونه رانـه یوسي خپـل ښایست تـه شي مغـروري
چـــې زړونـــه مـــو رامـــات کـــړي نو تقـــدیر یـــادوي

د یـــارد نامـــه تـــوري مـــې ســـلګیو کـــې مـــاتیږي
دا څـــوک پـــه دې دنیـــا کـــې مـــافقیر یـــادوي

WWW.samsoor.com

# سلګۍ

بېګاه دوه پرښتې وې مقررې دلته راغلې
د استا له ښکلو سترګو نه کوترې دلته راغلې

قسم جانانه ټوله ورځ مې زړه کې ګرځېدلې
چې نیمه شپه دې وکړلې وزرې دلته راغلې

په شنو سترګو يې ستا د تورو سترګو غلا کوله
يو دوه د پرنګيو جادوګرې دلته راغلې

د عشق له پیغمبر سره د سرو کفارو جنګ و
بېګاه د ملايکو څو لښکرې دلته راغلې

سلګۍ سلګۍ اسرې لکه افغانې مهاجرې
دا استا د سترګو جنګ نه مرورې دلته راغلې

پرون دې دلېوال د غزلونو کتاب لوستی
خبرې دې خوږې لکه سندرې دلته راغلې

۱۷ مارچ۲۰۰۴توسن اریزونا

WWW.samsoor.COM

# د لنډيو شرنګ

شب پرست يم خپل يزدان سره مې شپه ده
ستا له زلفو او باران سره مې شپه ده

مجلسي ياران مې ستوري او سپوږمۍ دي
مسا پريم شنه آسمان سره مې شپه ده

ستاد ستركو څه نيكمرغه اسارت دى
چې له تيراوله كمان سره مې شپه ده

له ګونګرو يې د لنډيو شرنګا اورم
ستاله ټيک او له پيزوان سره مې شپه ده

چې ويده شمه بس جنګ په خوب كې وينم
ستا د حسن له افغان سره مې شپه ده

۱۹ اپريل ۲۰۰۴ هوسن

WWW.samsoor.COM

# یا هو

بېګـــاه دلتــه راغلــې وه ډيــوې ســره نجلــۍ
آســمان نــه پريــوتلې وه ډيــوې ســره نجلــۍ

د سپين کميس ګلان يې د مظلومو وينو څاڅکي
ملنګــه وه، ســپيڅلې وه ډيــوې ســره نجلــۍ

پــه کلي کې نـن بـاد د اسرافيل شپېلۍ وهله
بېګـاه کـوم چـا ويشـتلې وه ډيـوې سره نجلۍ

يو روڼ ستوری را پريوت، خلکو وليده له ورايه
همدغلتــه لويــدلې وه ډيــوې ســره نجلــۍ

د کلــي ملايــانو تــر ســبا هــو، الاهــو کــړ
د قــدر شــپه بللــې وه ډيــوې ســره نجلــۍ

يو څوليـوني ولاړو چـې د زړونـو نـذر ورکـړو
ارمــان چــې نــوره تللــې وه ډيــوې ســره نجلــۍ

۴ مې ۲۰۰۴ توسن اريزونا

WWW.samsoor.com

# حضور روح

ستا يوې جلوې ته له ګناه سترې بدن شو اور
وتراشه دا روح مې پرېږده خير دې که مې تن شو اور

ځان نه يم راغلى او سفر مې تر خپل ځانه دى
ستا د مخ رڼا ته ددې لارې لوغړن شو اور

مره خاوره ويده وه خوچې تاورته تش وکتل
وينه شوه خوپوه نه شوه چې ثنګه پرې وطن شو اور

ګل په خنديدو کې ستا د حسن ننبه راوړله
ماته مې په ځان کې دغه ځيرې پيرهن شو اور

تانه يې رڼا زده کړه او مانه تا ويدل او سوز
ځارشه زموږ له مينې نه چې دومره برخمن شو اور

دومره مې در واخله چې خيرن خلک مې نه ويني
ماته خو په دې دنيا کې دغه شان بودن شو اور

۳۰ وږی1383مريلند کالج پارک

WWW.SAMSOOR.COM

# اوښکه

جانانــه د خــوږو ســترګو تصــوير ســره دې ژاړم
د خوب او خيـال لـه تور او سـپين تعبيـر سره دې ژاړم

دا تاراتــه ويلــي و چــې بنــد کــې بــه مــې ســاتې
تــه نــه يــې د يــادونو لــه زنځيــر ســره دې ژاړم

ستا اوښـکه مـې تـاويزکړه ګرځومـه يـې پـه غـاړه
لــه پيــر ســره دې ژاړم لــه فقيــر ســره دې ژاړم

بــس تــاکې چــې اوســېږم ليــونی يمــه وطنــه
خنــدا ســره دې خانــدم او لــه ويــر ســره دې ژاړم

برخليک دې دی چې خپله مينه خښه کړې په خپله
ليوالــه بدقســمته لــه تقــدير ســره دې ژاړم

مريلند - امريکا

WWW.samsoor.COM

# يو مساپر

توبه مې کړې وه چې ماته شوه توبه مې وکړه
شيخ او ساقي سره هم دومره ګوزاره مې وکړه

ته به مې خوب غوندې په ياد کې ساتې ښکلې ياره
يو مساپر وم، دلته راغلم يوه شپه مې وکړه

افغانستان غوندې زخمي زړګی مې راوړ درته
جانانه راشه، شونډې راوړه څه چاره مې وکړه

دې ته دې هم لويه ګناه ووېل زما قاتله
چې ځنکدن کې د وطن خواته سجده مې وکړه

زه ستړی نه وم خو پښتو مې مخ ته ودريده
توره مې ماته کړه دښمن سره جرګه مې وکړه

ليندۍ ۲۵ - ۱۳۸۳ واشنګټن

WWW.SAMSOOR.COM

# د تصوير خندا

جانانه څوک چېرې هم داسې ناروانه کوي
چې زړه کې ناست وي خو پروا د زړه والانه کوي

دومره ډېر فرق دی ستا د سترګو او د خلکو ترمنځ
خبرې ټول کوي خو هيڅ څوک يې ادا نه کوي

چې ته را ونه ګورې روح به مې ځان څه ووينې
چې تصوير نه وي آيينه چا ته خندا نه کوي

اخر په زمونږ زړونه د خدای(ج) حسن په خوب و ويني
دغه مين ماشومان هيڅکله ګناه نه کوي

وايي مرګ سخت دی روح له تنه جدا کيږي مګر
ما د وطن بيلتون ليدلی هيڅ پروانه کوي

۲۸ -وری ۱۳۸۴ واشنګټن دی سی امريکه

WWW.samsoor.com

# ته او سندرې

دا ستا په خندا ګانو مې مينځلې دي سندرې
دا دومره چې رڼې او شرنګېدلې دي سندرې

چې باد ته ستا دزلفو رشتې پورته په نڅا شوې
په ما هغه شيبه را ورېدلې دي سندرې

رارغړي ستا له سترګو په رنجو ککړه اوښکه
تصوير ته يې حيرانې غلې غلې دي سندرې

WWW.samsoor.COM

دا ستا دي ځمبېدلو سترګو څه جادو را وکړ
په شونډو کې زما هم په خوب تللې دي سندرې

کاته دي که وژل نه کړي نو دومره راته وایه
دا چا مې په زړګي کې را وژلې دي سندرې

یو څو څاڅکي يې پریوځي چې دا ستا پر بارخوګانو
دا ځکه د باران او پانو ښکلې دي سندرې

زما د زړه له شاړې هم خوږې نغمې تو کیږي
بېګاه دي سترګو بیا پرې ورولې دي سندرې

نالوستي تخییل مې پرې ایمان د مستۍ راوړ
د شونډو له کتابه دې راغلې دي سندرې

د کلي چنې پېغلې له منګیو سره ناڅي
لېوال د غره چینې ته نن و یلې دي سندرې

وری/۲۰/۱۳۸۸
ماسکو

WWW.samsoor.COM

# غزلګی

د تورو سترګو ناز وژلی یمه
ستا د کتو انداز وژلی یمه

د روح کوتره مې مینه وه پرې
د ښکلا داسې باز وژلی یمه

چې ته ترې ووتې او دې پاتې شو
د ژوند همدې اعجاز وژلی یمه

دومره ښایست کې پټه هومره غوسه
د خلقت دغه راز وژلی یمه

روح مې له تنه په نڅا ووته
د حسن داسې ساز وژلی یمه

یلدا ۱۳۸۸

WWW.SAMSOOR.COM

# منظومې

WWW.SAMSOOR.COM

# ارشاک ء او واوشاس

WWW.samsoor.com

# ارشاک او اوشاس

د هيندوکوښ پر هسکو څوکو وې لا واورې پرتې
خو پسرلی د کاپيسا مېلمه و
او په بګرام کې د ګلونو څپو
د آريايي پېغلو لمنو ته عطرونه شيندل
پاس په دره کې لمر ته
ځنګلونه بيا ويښېدل
د کاپيسا دښتې وې ټولې له غاټولو ډکې
د پسرلي داسې ښايسته ورځې وې
چې د بګرام ماڼۍ کې
د ښادۍ ډول اتڼ ته وګړ زيده
زلمېو واچولې ځنې ورته
پېغلې ګيډۍ ګيډۍ را تاوې شولې
ګرده کړۍ يې د اتڼ جوړه کړه
سرې عنابي پيالې راوګرځېدې
ښکليو ساقيانو ډک خمان ګرځول
شپه چراغانه لکه ورځ ښکاريده
د خوشالۍ او د ښکلا شيبو کې

WWW.samsoor.COM

کوم مسا پر چانه پوښتنه وکړه
چې دغه جشن دا ښادي ولې ده؟
دومره بې حده خوشالي ولې ده؟
کاپیسا وال ورته ځواب کې وویل:
تر تا قربان شم ناخبره وروره
د آریایانو دبری په خاطر
زموږ د خپلې خپلواکي په خاطر
د لښکر مشر دا فرمان ورکړی
چې بس دا اووه شپې او دا اووه ورځې دې
په کاپیسا کې خوشالي وي اتڼونه به وي
د میو ویش به وي جشنونه به وي
د لښکر مشر بریمن ستون شوی
او دغه جشن د بري جشن دی
کاپیسا وال خپل مسا پر اشنا ته
یوه پیاله له میو ډکه ورکړه
او بیا یې داسې وویل:
زما مسا پره اشنا !
تانه قربان شم بې خبره اشنا
څه موده مخکې زموږ پر ښکلې کوبا
د آسمایي پرها سپیڅلې سیمه
د ارغوان په رنګو ښکلې سیمه

WWW.samsoor.com

د غليمانو لوی تاړاک تېر شو
د آريايانو د دښمنو تاړاک
ها پنچاليان يادوم
د اباسين له سينده پورې خلک
چې لونګۍ نه لري لنګونه تړي
هاچې له رنګه تور دي
د زړه له سنګه تور دي
چې يې «راجا» مشر دی
له کنيشکا يې بغاوت کړی دی
دوی نه بودا چې هم نفرت کړی دی
څه موده مخکې يې ښکرونه وکړل
او د راجا لښکريان
ښکلي کابل ته راغلل
د آسمايي معبد زموږ د نيکمرغۍ معبد و
هلته وه ښکلې ملکه د خپلواکۍ ولاړه
هاچې هوسۍ نومېده
هغه هوسۍ چې کنيشکا هم ورته سر ټيټوي
ستر کنيشکا خپل هغه تاج چې «همايون» نومېده
د خپلواکۍ ددغې ښکې ملکې سر ته په نذر ورکړ
داسې يو تاج چې له الماسو او سروزرو جوړ و
داسې يو تاج چې په دنيا کې يې مثال نه درلود

دا سې يو تاج چې آريايانو به پرې فخر کاوه
هو زموږ ستر شهنشاه
لوی کنيشکا خپل دغه ښکلی تاج هو سۍ ته ورکړ
همايون تاج د آريايانو د عزت نښه وه
همايون تاج د آريايانو خپلواکي نومېده
همايون تاج به د هوسۍ پر ښکلي سر ځلېده
خو پنچاليانو دغه تاج ځان سره وتښتاوه
اوس د هغوی د تور راجا پر سر دی
همايون تاج هغه سپېڅلې نښه
همايون تاج د آريايانو غرور
اوس د راجا پر سر دی
او اباسين نه هاخوا
د پنچاليانو تور لښکر وړی دی
خو مسا پره ! واوره !
لوی کنيشکا چې دا خبر واورېده
له پکتيانا او روهستان څخه يې
د هر پکتانه زلمي يو ځاي کړل سره
لوی لوی لښکر يې جوړ کړل
د دې لښکر و مشر
همدا بوډا سالار شو
چې نن يې دلته د بګرام ماڼۍ کې

WWW.samsoor.COM

دا سې لوی جشن جوړ کړ
سالار بری ګټلی
اوس د بګرام پر ښکلا زړه مړوي
د کاپیسا له ښکلیو کام اخلي
د هیندوکوښ په اوبو زړه سړوي
سالار جګړه ګټلې
سالار اتل دی اتل
مورې د بوډا اتل د سوبې او برې په خاطر
دا سې اتڼ کوو پیالې ویشو
چې پنچالیان موترا ټکه تېر کړل
مګر ارمان دی اشنا:
چې د کابل د آسمایي معبد کې
هوسۍ هماغسې ټپې پاتې ده
ویاړلی سر یې لوڅ دی
همایون تاج ورنه راجا وړی دی
هوسۍ تر اوسه لا سرتوره پاتې
د آریانا عزت راجا وړی دی
ستر کنیشکا د پکتانو زلمیو
یو بل لښکر جوړوي
دا سې لښکر چې به نیزې ولري
او تېره غشي به یې تېرې چوي

دغه لښکر به اباسين څخه ورپورې غاړه
د پنچاليانو له راجا سره جګړې ته ورځي
ګوندې لښکر د پنچاليانو مات کړي
ګوندې راجا ووژني
او لوی غرور د آريانا وګټي
د هوسۍ ښکلی تاج ترې بيا وګټي
ګوندې بايللی عزت بېرته راوړي
همايون تاج امانت بېرته راوړي
ستر کنيشکا ويلي:
هر يو زلمي چې د راجا سر غوڅ کړ
هر سپاهي چې تاج هوسۍ ته راوړ
هر څه چې وغواړي انعام به ورکړم
يو لوی انعام به له خپل ځانه ورکړم
هو دا زما وعده ده
دغه وعده د کنيشکا وعده ده
اوس پکتانه زلمي لښکر جوړوي
په کاپيسا او په کابل کې واستاکار لګيا دي
دغه لښکر ته له فولادو نه نيزې جوړوي
نو مساپره اشنا !
زما قلندره اشنا !
چې دې په سترګو کې جهان ځايږي

WWW.SAMSOOR.COM

ته چې ملنګ يې کرامات به لرې
ګوندې په زړه کې برکات به لرې
داده زموږه د خوښيو کيسه
او د جشنونو پايکوبيو محفل
او مساپر ملنګ چې دا واوريدل
په شور ما شور او هياهويې وويل:
جامونه ودروئ سازونه بند کړئ
چې زه يو راز له خپل کماله لرم
يوه کيسه هم له پنچاله لرم
ملنګ دا خبرې وکړې(* )
او ناڅاپه يې ځرخ وخوړ
لوی ميدان ته چې ورګډ شو
نو يې درب ورکړ پښې ته
ټول محفل يې کړ خاموشه
له ساقي تر باده نوشه
ستر سالار خپل لاس اوچت کړ
او سازيانو خپل ساز ټپ کړ
نڅاګرې شوې کرارې
خلک ودريدل په لارې

(* ) دلته د شعر وزن او آهنګ بدل دی هيله ده ، چې تر يو ځايه په بيل آهنګ سره ولوستل شي.

WWW.SAMSOOR.COM

زوړ سالار د لښکر پاڅېد
او ملنګ ته يې نارې کړې
اې ملنګه ليونيه !
وايه څنګه دلته راغلې؟
زموږ عيش دې را خراب کړ
په خورو ورو خبرو
دې را خلاص د زړه کتاب کړ
ملنګ وکتل سالار ته
لږ موسکی شو بيا يې وخندل په زوره
دا خندا د ليونتوب وه
که يې وخندل د زړه له پټه شوره
په خندا کې ملنګ وويل:
د زلميو بوډا مشره !
ته په څه باندې مغرور يې؟
پنچاليان دې دي شړلي؟
که راجا دې دی مات کړی؟
مګر ته خو هم خبر يې
چې راجا دی اوس خوشاله
ستا د ښکلې هوسۍ تاج يې پر سر ايښی
ځان خبر کړه له دې رازه
سل طلسمه دي په کار کې

WWW.samsoor.COM

ماليدلي دا په خوب کې
چې «بودا» يې راته وايي
دا زما خبرې نه دي
راوتلې د بودا له ښکلي زړه دي
تور راجا د ابليس يار دی
ها ابليس چې د ماښام په ښار کې اوسي
لمر لويدو خواته يې کور دی
دا طلسم پر راجا دی ابليس کړی
څو ناولي راهبان يې اشنايان دي
يو څو کسه هم د اور له بتکدې نه
يو راهب د «دېويسنا» له لوی مندره
دوی جوړ کړی دی په ګډه دا طلسم
چې راجا کابل ته راغی
دهوسۍ تاج يې تالا کړ
بودا وايي:
دا طلسم به ماتيږي
دا طلسم له بدرنګونه جوړ شوی
ابليسان دي ټول بدرنګه
د بدرنګو طلسمونه
به يوازې او يوازې
په ښکلا باندې ماتيږي

یوه ښکلې ښکلا غواړي
ښکلا نذر د بودا ده
ښکلا مینه د بودا ده
او بودا حسن پرست دی
نو سالاره زما یاره !
چېرته حسن نذرانه کړئ
کا پیسا کې ښکلې ډېرې
هره پېغله یې ده حوره
کا پیسا دې نذر ورکړي
دا طلسم به ماتیږي
اوس نو وګرځئ بګرام کې
چې تر ټولو ښکلې څوک ده
هغه نذر کړئ بودا ته
هله مات به شي طلسم
د راجا او پنچالیانو
ملنګ دا خبرې وکړې
بیا یې درب ورکړ پښې ته
له محفله بهر ولاړه
داسې ورک شو چا ونه لید
چې پر کومه لاره ولاړه
زوړ سالار خپل لاس اوچت کړ

WWW.SAMSOOR.COM

پیالې بیا په ګرځېدو شوې
د سندرو شور ماشور شو
نڅاګرو نڅا پیل کړه
او محفل له شوره ډک شو
خو سالار دې ته حېران دی
دا تر ټولو ښکلې څوک ده؟
چې بودا یې نذر غواړي؟
دا به څوک وي دا به څوک وي؟
دا ملنګ به ریښتیا وایي؟
چې بودا یې په خوب ولید؟
په ریښتیا به نذر غواړي؟
دا تر ټولو ښکلې څوک ده؟
چې بودا یې نذر غواړي؟
دا به څوک وي دا به څوک وي؟...

***

بګرام د ټولې نړۍ حسن راټول کړی دلته
بګرام ښکلا ښکلا څپې وهي ټول
څه د سپرلي څه د ګلونو ښکلا
څه د مستۍ څه د جامونو ښکلا
د بګرامیو ښکلو پېغلو نڅا
د چلچراغ او فانوسونو رڼا

www.samsoor.com

بګرام ژوندی دی بګرام جشن کوي
بګرام د مينې پيوندونه تړي
د پکتانو زلمو کاږه برېتونه
د کاپيسا د چټو پېغلو حسن
څه تماشا يې جوړه کړې خدايه !
د دنګې ښکلې بلورينې مانۍ
تر څنګه ډول څومره په درزوهي څوک
او پکتانه سرتيري
څومره په مست انداز اتڼ کړي ورته
ملاوې تړلې تېرې تورې ترڅنګ
چې د څپلېو يې خرپا خېژي
کله چې تاو شي او را تاو شي کيني
د پښو له پوندو يې بربښنا خيژي
دا پکتانه اتڼ چيان
له بګراميو پېغلو زړه لوټوي
د اتڼ چيانو سرخېل
ها څښور ها غنمرنګ زلمی
هغه چې غټې څيرې سترګې لري
ها د چينار په شانې دنګ زلمی
چې يې تر ملا دی سور دسمال تړلی
څومره ښايسته دی څومره مست اتڼ چې

WWW.samsoor.COM

لکه سرکشه آس دی چست اتڼ چي
ها روهيلی د روهستان سرتيری
ها پکتيانی ها چې «ارشاک» نومېږي
ها چې په توره کې همتانه لري
ها چې جګړه کې ځوک په مخ نه ورځي
هغه ارشاک هغه بېباکه زلمی
او د برېښنا په شان چالاکه زلمی
هغه چې زړه له يوې پيغلې وړی
د کاپيسا تر ټولو ښکلې پېغله
ها چې د ډېرو د زړګي ډيوه ده
هغه چې تورې تورې سترګې لري
هغه چې حسن يې په زړونو زلزله راولي
د کاپيسا د ټولو نجونو د ښکلا ملکه
ښکلې «اوشاس» شوه په ارشاک مينه
اوشاس له لرې ورته ګوري او زلمی اتڼ چي
لا هم تاوېږي را تاوېږي کښې
کاپيساوال يې ننداري ته ولاړ
او د بګرام د پېغلو منځ کې ده اوشاس ولاړه
زړه يې درزېږي زړه يې ځانګې وهي
زړه يې د چا په نري برېتو کې بند
زړه کې يې عشق لکه مات غشی ښوري

د ارشاک مینه یې پر حسن اوري
هلته ارشاک په اتڼونو لګېا
دلته اوشاس وربانديٍ زړه بايللی
اوشاس د مينې په لمبو کې سوزي
خو ، ارشاک نه دی خبر
ارشاک لګېا دی اتڼونه کوي
خو د بګرام دغه ببباکه پېغله
د هيندوکوښ د سردرو شاهينه
څوګامه وړاندې ولاړه
ښه ورنږدې شوه د ارشاک ديدن ته
آن چې د مست اتڼ چې
د پوندو خرپ يې هم له ورايه واورېد
اوشاس په لاس کې دوه ګلان ساتلي
د سپين ګلاب څانګه کې دوه ګلونه
لکه د دوه زړونو د مينې شيبه
او چې ارشاک شو په اتڼ کې راتاو
ښه چې نږدې شولو اوشاس ته د اتڼ دوره کې
هغې دا دواړه ګلان
په يوې ښکلې ادا
پر ارشاک وورول
د ګلاب ښکلې څانګه

WWW.samsoor.com

پر ارشاک ولګېده
د هغه سترګې پر اوشاس خوږې شوې
اتڼ یې پرېښود پکتانو زلمو ته
زمکې ته ټیټ شو ښکلې ځانګه یې راواخیسته
بیا یې ځیرې سترګې راپورته کړلې
او د اوشاس خواږه نظر پورې یې وګنډلې
سترګو د مینې لاره جوړه کړله
سترګو خبرې پیل کړې
سترګو د زړونو راز یو بل ته وویل
او په همدې شیبه کې
زړونو د مینې پیمان ټینګ وتاړه
ارشاک هم زړه پر اوشاس وبایلوده
ارشاک د تورو د میدان جنګیالی
ارشاک د ډېرو هېوادونو فاتح
ارشاک د جنګ او د رزمونو اتل
د لومړي ځل لپاره
د اوشاس سترګو مات کړ
او له دې ورځې وروسته
دوه زړونو خپلو کې خبرې پیل کړې
بس هره ورځ مازیګر
د کاپیسا د سیند پر غاړه د شنو ونو منځ کې

WWW.SAMSOOR.COM

دوه زړونو يو بل ته کيسې کولې
د پاکې مينې کيسې
د يوه ښکلي ابدي عشق د خيالونو کيسې
هر مازيګر وه د سيند غاړه او د مينې ديدن
له هر ديدن سره د مينې پيمان لا پخېده
مګر ارمان زمانې !
څومره بخيله يې ته !
ستا د خوښيو ورځې څومره لږ وې
ښايي چې نن به يې وروستی ديدن وی
ارشاک د ښکلې اوشاس غوږ کې دا خبره وکړه
سبا د جشن وروستۍ ورځ ده ګرانې !
زمونږ لښکر به خدايزده چېرې ولاړ شي
او زه حيران يم، زه به څنګه کوم
ګرانې بېلتون دې مرګ دی
ما په بېلتون مه وژنه
او اوشاس ولړزېده
اوشاس حيرانه ده چې دا څه اوري
د اوشاس سترګې شوې له اوښکو ډکې
اوشاس چوپتيا کې ډوبه
اوشاس د غم په ټال کې زانګي څه سوچونه کوي
اوشاس چاره لټوي

WWW.samsoor.com

او ارشاک ګوري ورته
چې يو ناڅاپه اوشاس سرپورته کړ
په ښکلو سترګو کې يې پړک د هيلو ونښېده
اوشاس موسکۍ شوه
اوشاس زيرى وکړ
او خپل مين ته يې په مينه وويل:
ګرانه ! ته غم مه کوه
خداى(ج) د مينو مل دى
ما اوريدلي دي چې ستاسو د لښکر د مشر
نڅا خوښيږي، نڅاګرو ته انعام ورکوي
او هره ورځ چې د سندرو په محفل کې کېني
چې د هر چا نڅايې خوښه شي نو وايي ورته:
ووايه څه غواړې چې در کړمه انعام د نڅا
او نڅاګر چې هر څه وغواړي سالار يې مني
نو ګرانه غم مه کوه
زه به سبا ته د سندرو د محفل مېلمه شم
او د سالار مخ ته به ونا څمه
داسې به ونا څمه
چې يې تر اوسه څوک ليدلي نه وي
چې د سالار زما نڅا خوښه شي
نو راته وبه وايي:

WWW.SAMSOOR.COM

وو ايه څه غواړې چې در کړمه انعام د نڅا
زه به انعام کې ورنه تا وغواړم
هغه به تا ماته انعام کې راکړي
ته به زما شي زه به ستا شمه د تل لپاره
او زه به ستا د روهستان ناوې شم
ته به هم زما د زړه او ځان پاچا شې
د تل لپاره به لښکرې پرېږدې
نور به د وينو پر ځای مينه کوې
توره او زغر به مات کړې
زما مړوندونه به دې غاړې ته اميل واچوې
ژوندون به يو د بل په غېږ کې تېر کړو
هو زه همدا اسې کوم
سبا ته دا سې ناڅم
چې به انعام کې خپل محبوب وګټم

❋❋❋

د کاپيسا ماڼۍ کې جوړ دی د سندرو محفل
او لښکريان ورنه چارچېر را تاو دي
د پکتانو زلميو سترګې له خوښۍ ډکې دي
نن په بګرام کې وروستی جشن جوړ دی
سبا به بيا لښکر جګړې ته ورځي

WWW.SAMSOOR.COM

بوډا سالار په يا قوتي تخت کېناست
او د لښکرو نور مشران يې هم تر څنګ کېناستل
سم چې بوډا سالار خپل لاس پورته کړ
نو د سازونو هېاهو پورته شو
مستې نغمې د نڅاګانو پيل شوې
او ښکلې ښکلې نڅاګرې پر ميدان ګډې شوې
د کاپيسا هغه نازکې پېغلې
د شرشرې په شانې
چې په کمره راالوېږي
داسې په ملا ماتېدې
د بوربوکيو غوندې مستې پېغلې
ساز ته په ملا کږې وږې راتللې
او د بوډاسالار پر زړه يې ولولې راوستې
د لښکر مشر په نڅا مين دی
د لښکر مشر نڅاګرو ته دنيا ښښله
کاپيساوالو نڅاګرو قيامت جوړ کړی
کاپيساوالې څه په شرنګ نڅېدې
او د بوډا سالار په زړه وريدې
سالار د پېغلو تماشا کوله
او د سازونو د سندور هېاهو پورته و
تا به ويل ټوله کاپيسا نڅېږي

او مست بگرام ورته سندرې وايي
د نڅاګانو او سندرو په دې مست محفل کې
د ښکلو پېغلو د نڅاشپېو کې
د ساز آواز د شور ماشور په اوج کې
چې نڅاګرې نورې ستړې شولې
نو يو ناڅاپه يوه پېغله راغله
نيلي جامې په غاړه ښکلې پېغله
سپينه د سپينې شرشرې په شانې
دنګه د دنګې هسکې سروې غوندې
د نااشنا پېغلې ښکلا ته ټول لښکر حيران شو
او د سالار له خولې ناڅا په يوه (واه) پورته شوه
پېغله ميدان ته راغله
په نرۍ ملا باندې کړه وړه شوه
دغه د حورې په شان ښکلې پېغله
نيلي جامو کې څه ښايسته ښکاريده
لکه نيلي آسمان کې جوړ د سپينو ستورو قامت
لکه اوبو کې راپريوتې سپوږمۍ
لکه سپېڅلې هوسۍ
د آسمايي معبد کې
لکه سپين قود شنو اوبو پر مخه
لکه د خداى په لاس جوړ شوى تصوير

WWW.SAMSOOR.COM

اوشاس وه هومره ښکلې
چې د شاعر خيال يې تمثيل نه شو کړای
اوشاس ميدان ته راغله
او سندر مارو يې ښکلا وليده
خدايزده لاسونو کې يې څه بلا مستي راغلله
چې له سازونو يې قيامت پورته کړ
اوشاس نڅا پيل کړه
او لښکريانو نه غريو پورته شو
سالار په پښو ودرېد
د سالار سترګې له کاسو ووتې
داوشاس حسن ته يې خوله وچه شوه
په وچو شونډو يې کړه ژبه تېره
او اوشاس ونڅېده ونڅېده
په ملا شوه تاوه او را تاوه د لمبې په شانې
د اوشاس پېچ و تاب عالم لړزوي
اوشاس د چا په مينه مسته ده چې داسې ناڅي
داوشاس هر اندام پر زړونو زلزلې راولي
اوشاس چې ښکته شي او پورته شي نو زړونه ريږدي
داوشاس زلفې چې را تاو شي پر سينه پريوځي
د هوسونو ليونۍ څپې پر زړه راولي
او په بوډا سالار ځواني راولي

WWW.SAMSOOR.COM

د بوډا ځوان هوس خبرې کوي:
واه څومره ښکلی حسن
په ټول جهان باندې يې ساری نه شته
دا لوربينه ده د خدای (ج)
د کاپيسا پر زمکه
واه څومره ښکلې ناځې
نن کاپيسا کې ده ما خپله ځواني بيامونده
د کاپيسا خپلواکي ما ګټلې
پر کاپيسا باندې زما د ډېر احسان په خاطر
زما د ډېرو قربانيو د تاوان په خاطر
کاپيسا خپله ښکلې لور زما په واک کې راکړه
دې ته به ټول جهان انعام ورکړمه
جهان لا څه کړې ځان انعام ورکړمه
له دې نه لوی انعام به څه وي دې ته؟
چې د سالار مېرمن شي
هو زه د لويو لښکرنو مشر
چې د نامتو کنيشکا ښې مټه يم
زه د جنګونو اتل
د ټول جهان ستر فاتح
هو کې دا زه به يې غلام شم غلام
له دې نه لوی انعام به څه وي دې ته؟

WWW.samsoor.COM

کاپيسا خپله لور دې ماته را کړه !
تا زما د ډېرو قربانيو د احسان بدل کې
څومره پرځای سوغات ټاکلی ماته
کاپيسا تا څخه مننه کوم
چې زما تيارو شپو ته دې داسې روڼ څراغ را کړ
کاپيسا ستا دغه سوغات د سر په سترګو منم
دا پېغله زما ده ، زه ددې پېغلې يم
زه به يې غېږه کې د ژوند تر ټولو ښکلې شپې په سر واړوم
زه به يې ښکلی وجود
په خپله غېږ کې تود کړم
او هر اندام به يې زما په لاس کې
د پاسته موم په شانې ولوبيږي
دا به وي زما د لوی حرم ملکه
او هره شپه به زما محفل په خپلې ښکلې نڅا
تود او رنګين ساتي
پر بېرده چې ونځيږي
هغه خبره نه ده
چې يې په برخه څومره لوی انعام دی
نن د محفل په پای کې
زه مې خپل سر ددې پښو کې ږدمه
او ټول محفل ته دا اعلان کومه

WWW.samsoor.COM

چې دغه پېغله به زما ناوې شي...
او بوډا داسې پر اوشاس مين شو
چې يې د تل لپاره
هغه د ځان بلله
بوډا مين شو او اوشاس نخېده
اوشاس کړه وړه په ملا ماتېده
د سپينې مستې شرشرې په شانې
ياد سره اور د سرې لمبې په شانې
لښکريان ټول حيران وو
چې په همدې شيبه کې
د پکتانو له منځ نه
يو دنګ زلمی راووت
د ښکلي آس په شان چې سر وا خلي
داسې په هسکه غاړه وړاندې راغی
يوه ګېډۍ د سرو ګلانو په لاس
يوه شيبه يې خپلې مينې ته په ځير وکتل
بيا يې ګېډۍ خلاصه کړه
او پر هغې يې د ګلونو باران ووراوه
د سرو ګلابو ګېډۍ
دانه دانه پر اوشاس ولګېده
بيا يې تر پښو لاندې را پرېوتل ټول

WWW.SAMSOOR.COM

او دې ګلونو د اوشاس ښایست څو چنده ډېر کړ
اوشاس نڅا پر ېښوده
او د ارشاک تر څنګه ودرېده
بیا یې د خپل مېن لاس ونه ښکل کړل
مخ یې سالار ته کړ او ویې ویل:
ای د لښکرو مشره !
ستره سالاره ! چې زما نڅا ته
په پښو ودرېدې
او زما هنر دې خوښ شو
ماته دې ویاړ وباښه
نو زه د خپل هنر لپاره یو سوغات غواړم
تانه د خپلې نڅا
یو لوی انعام غواړم
ماته انعام کې دا زلمی وبښه
پرېږده چې زه دده شم
او دا زلمی زما شي
موږ یو پر بل مین یو
موږه د ګډ ژوندون پیمان تړلی
زموږ سپېڅلې مینه
د ګډ ژوندون ارمان ته لاره څاري
ته مو ارمان پوره کړه !

WWW.samsoor.COM

ته مو ارمان پوره کړه !
او شاس زارۍ کولې
مګر خبره نه وه
سالار غوسې څخه په ملا تاوېده
لکه په غشيو لګېدلی ښامار
لکه په تورو وهل شوی هاتي
لکه زخمي زخمي پړانګ
او لکه وږی زمری
سالار غوسه دی او له قهره رېږدي
د سالار سترګې دي د وينو کاسې
د سالار رنګ له غوسې تور اوښتی
سالار په چيغو وويل:
داسې به هېڅ ونه شي
ای ښکلې پېغلې ته به زما شي زما
ته به يوازې د سالار ناوې شې
ستا نيکمرغي لويه ده
ستا د ښکلا او د هنر په قدر زه پوهېږم
دغه زلمی سرتېری څه پوهېږي؟
ته به زما په شان د سترسالار حرم ته ورځې
تا ته ددې سرتېري مينه حقارت ګڼمه
ډېر ژر به ته شي د سالار ملکه

WWW.samsoor.COM

او دا ګستاخ زلمی به
ډېر ژر د مرګ مېلمه شي
دغه زلمي چې سرکشي کړې ده
او د سر تېرو له کتاره وتی
ددې عاصي جزا يوازې مرګ دی
زه همدا اوس هغه په غشي ولم
زما دغو سې تنده به
دده د وينو فواره ماته کړي
بوډا سالار دا وويل:
او ژر يې غشی په کمان کې کېښود
خو ټول حيران شول حيران
ارشاک هم غشی په کمان کې کېښود
او شاس غوښتل چې د ارشاک سپر شي
او د ارشاک پر ځای ددې سينه غلبېل غلبېل شي
خو لا سالار ځان خوځولې نه و
چې د ارشاک دغشي شغ پورته شو
او مخامخ يې د سالار په زړه کوشه تېره کړه
داسې تېره داسې چټک وغشی
چې د بوډا له زړه نه تېر شو او له شايې ووت
پر وينو سور لژند پر زمکه پريوت
بوډا سالار وغورځيد

WWW.samsoor.COM

له ټول لښکر نه شور ما شور پورته شو
او د ارشاک مټې يې وتړلې
نو د لښکر مشران را ټول شول په پريوتي سالار
ټول يې له ويرې رپېدل تر او سه
او د سالار وروستۍ سلګيو ته حيران پاتې وو
چې لګېدلي سالار
په نيمه ژبه او ځګيرويو وويل
دغه زلمی مه وژنئ !
هغه آزاد کړی هغه مه بندوئ :
د هغه مټې دي ځواکمنې مټې
ما ته يې اوس د مټو زور ښکاره شو
دغه زلمی دی يو پياوړی او تکړه جنګيالی
دښمن يې غشي څخه هېڅکله خطا نه لري
دغه زلمی مه وژنئ !
هغه جګړې ته بو ځئ !
هغه مين دی او په زړه کې يې د مينې زور دی
تاسو ته زور د مينې نه دی معلوم
هغه د مينې زور مجبور کړ چې نن ما ووژني
هغه له ما سره د عشق رقيب شو
او په خپل ژوند باندې ونه وېرېده
مين انسان له مرګه نه وېرېږي

WWW.samsoor.COM

هغه مين دی مين
او مين لوی انسان وي
د لوی انسان وژل وي لويه ګناه
هغه د عشق لاره کې هر څه کوي
هغه په مينه کې د ټول جهان لښکرو سره جنګ کوی شي
هغه جګړې ته بوځئ !
له نن نه وروسته دا زلمی دی د لښکرو مشر
دغه زلمی د ټول لښکر سالار دی
زما له مرګ نه وروسته
د ټول لښکر مشر همدی وټاکئ
پرېږدئ چې ولاړ شي اباسين نه هاخوا
د پنچاليانو جنګ ته
پرېږدئ چې لاړ شي له راجا سره جګړې ته ووځي
ګوندې راجا ووژني
او د پنچال لښکر ته ماته ورکړي
ګوندې همدا زلمی به
همايون تاج وګټي
کيدای شي دغه زلمی
د آريانا تللی غرور وګټي
دغه زلمی به د سرتورې هوسۍ
د خپلواکۍ لوټ شوی تاج ولجه کړي

WWW.SAMSOOR.COM

ځکه هغه مين دی
او مين هر څه کوي
خدای(ج) د مينو مل دی
څوک چې مين وي له ښامار سره جګړې ته ورځي
څوک چې مين وي د پړانګانو خولې ته لاس اچوي
څوک چې مين وي له زمريو سره غېږې نيسي
زما لښکريانو زما وصيت ومنئ.
ولاړ شئ بابيللی تاج مو بېرته راوړئ
د آريانا غرور مو بيا وګټئ
او د غه پېغله د غه ښکلې نجلۍ
چې نن يې زه شومه د عشق قرباني
دا د بودا نذر کړئ
د ها سپېڅلي قلندر په ژبه
د هغه مست مستانه ملنګ له خوب سره سم
چې بودا نذر غواړي
د کاپيسا تر ټولو ښکلې نجلۍ
چې د خلقت د ټول ښايست ننبه ده
دا د بودا نذر کړئ
چې د بدرنګو طلسمونو مات شي
ملنګ ويلي وو دا
«چې د بدرنګو تور طلسم په ښکلا ماتېږي»

WWW.samsoor.COM

د کاپیسا تر ټولو ښکلې خو همدا پېغله ده
د کاپیسا څه ،چې په ټول جهان کې دا ښکلې ده
دغه نجلۍ په کاپیسا کې د بودا د ستر معبد نذر کړئ
هغه بوډا راهب ته وسپارئ چې ویې ساتي
بس هره ورځ به د بودا د خوشالۍ لپاره
د هغه مخ ته ناځي
له نن نه وروسته دغه پېغله د بودا ناوې ده
هغه به وناځي بودا ته د بدرنګو به طلسم مات شي
او دا مین زلمی به
تر اباسینه ها خوا
له پنچالیانو سره جنګ ته ولاړ شي
یا به جګړه کې مړ شي
او زما د مرګ کسات به واخیستل شي
یا به د تورو پنچالیانو لښکر تار په تار کړي
که یې راجا ته چېرې ماته ورکړه
بیا نو د لوی کنیشکا خپله خوښه
چې پر زلمي باندې د څه شي لوربینه کوي
ما خپله وینه وربښلې ده ته
هغه مین دی
او مین زما د قتل په ګناه مه وژنئ !
ستر کنیشکا ته دا پېغام یوسئ !

WWW.samsoor.COM

زما وصيت همدا دی
زما وصيت همدا دی...

✵✵✵

د لمر زرينه بګۍ
بيا د اسمان پر لاره وځرخېده
اوکاپيسا د يوې بلې ورځې مخ وليده
دا يوه لويه ورځ ده
نن د لمر لور ښکلې «سوريا» هم کاپيسا ته راتله
سوريا چې خپله الماسي نيزه يې
له ډېره قهره د اسمان څنډې ته وويشتله
نن د سيندونو او باران واکمنې
«اناهيتا» هم ژړل
دا د ښېلتون ورځ وه
د يوې پاکې او سپېڅلې مينې
د دوه مينو د ښېلتون شپېې وې
نن يې ښايسته او شاس ارشاک نه بيلوله خلکو !
په دغه ورځ د دنيا ټولو مينانو ژړل
نن لښکر وکوچېده
نن يې ارشاک هم تر کابله لاس تړلی بوته
چې آسمايي ته ولاړ شي
او د هوسۍ معبد کې

www.samsoor.com

د آريانا پر خپلواکۍ باندې قسم ياد کړي
او له دې لوړې وروسته
شي د لښکرو مشر
بيا به ورځي چې اباسين څخه ورپورې غاړه
له پنچاليانو او راجا سره جګړې ته ووځي
ارشاک ويارمن دی ارشاک دننګه غاړه
ارشاک د سترکنيشکا ښۍ متهه شو
ارشاک د ټول روهستان
د پکتانو لښکرو مشر دی اوس
خو د ارشاک له زړه نه وينې څاڅي
ارشاک د خپلې معشوقې وروستی ديدن ونه کړ
ارشاک د ښکلې اوشاس مخ ونه ليد
د ارشاک سترګې دي له اوښکو ډکې
مګر په زړه کې يوه هيله لري
او خپل مات شوي زړه ته ډاډ ورکوي
ځم د راجا جګړې ته
په آريانا مې قسم
چې به تر مرګه پورې وجنګېږم
يا خو به مړ شم
د اوشاس ديدن به يوسم د سوريا دربار ته
يا به راجا ووژنم

WWW.SAMSOOR.COM

او د هوسۍ همايون تاج به راوړم
له پنچاليانو څخه باج به راوړم
د آريانا غرور به بيا وګټم
چې زما د سوبې خبر
ستر کنيشکا واوري
ځومره خوشاله به شي
او بيا به ماته زما اوشاس راکړي
نو اې زما ښکلې ميني !
د کاپيسا تر ټولو ښکلې اوشاس !
تا ته وعده درکوم
زه به دې بېرته په خپل لاس وګټم
پر پنچاليانو د بري په ستر انعام کې به دې
له کنيشکا وغواړم
او ته به تل زما شې
زما وعده واخله او زما بېرته راتللو ته په تمه اوسه !
پربېږده چې ماته سرنوشت وخاندي
زما برخليکه ! په خپل لاس به دې بدل کړم اخر
له خپل تندي نه د اوشاس د بېلتون کرښه توږم
زما په متو کې لا دومره زور شته
چې تا بدل کړي بدل
زما سرنوشته ! يا به مړ شم يا به تا بدل کړم

WWW.samsoor.COM

زما سرنوشته خانده !
عشق به له تا څخه کسات واخلي
ځم د راجا جګړې ته
او اباسين به د اوبو پر ځای له وينو ډک کړم.
لښکر د هسک آسمايي خواته درومي
ارشاک کابل ته بيايي
او د آسونو د پښو ګرديې بګرام ته پناه کېږي ورو ورو
ارشاک به ولاړ شي او اوشاس به د بودا نذر شي
نن به اوشاس نذر شي
نن يې وروړي په کاپيسا کې د بودا معبد ته
نن کاپيسا کې د لوی نذر ورځ ده
داسې لوی نذر چې بودا پخوا ليدلی نه و
کاپيسا ټوله ده له خلکو ډکه
ټول ماشومان، زاړه، ځوانان دي راوتلي د معبد مخې ته
د زانګو خېل دی په اسمان کې روان
نن کاپيسا ده له ګلونو ډکه
د هيندوکوښ پر سردي واورې پرتې
او د بګرام دښته ده ټوله له غاټولو ډکه
باد د ځنګله ونې ورو ورو خوځوي
خلک راټول دي او بودا ته نذرانه ورکوي
سل آسونې ځوانان ولاړ دي له نېزو سره پر لاره کتار

WWW.SAMSOOR.COM

د راهبانو پلوونه له ګلونو ډک دي
او د بودا په نذرانه يې شپندي
د راهبانو بوډا مشر د اوشاس په هر کلي وتلی
چې يې د سلو زناريانو د تسپو لړۍ په غاړه کې دي
اوشاس د سپين حرير جامې اغوستي
او د ګلابو يو سور ګل يې په وربل کې ايښی
زلفې يې تار تار پر اوږو پرتې دي
او تورې سترګې يې له اوښکو ډکې
نور د اوشاس زړه کې غم نه ځايېږي
وروستی ديدن يې د ارشاک ونه ليد
اوشاس ارشاک پسې سلګۍ وهي
په وينو ژاړي
اوشاس به نن شي د بودا نذرانه
ارشاکه چېرې ولاړې ؟
ارشاکه څه شوې مګر نه يې خبر ؟
چې ستا اوشاس به نن بندي شي بندي
چې ستا اوشاس يې د بودا نذر کړه
اوشاس به نوره د اسمان ننداره ونه شي کړای
اوشاس به نورد کاپيسا له بيابان څخه غاټول، ټول نه کړي
اوشاس به نوره د بګرام د پېغلو ميره نه وي
اوشاس به بيا ارشاک ونه شي ليدای

WWW.SAMSOOR.COM

اوشاس به هېڅکله د پلار او مور دیدن ونه کړي
اوشاس به بیا د هېندوکوښ دغره هوسۍ نه ویني
اوشاس په بیا له ستورو ډک اسمان ته ونه ګوري
اوشاس آزاده نه ده
اوشاس بندي شوه بندي
هغه یوازې او یوازې د بودا د لوی معبد نذر ده
نور به د ژوند خپلواکي ونه ویني
اوشاس سلګۍ وهي
اوشاس ژاړي
خو کاپیسا کې هنګامه توده ده
کاپیسا وال خپله تر ټولو ښکلې پېغله نذارنه ورکوي
کاپیسا والو د سوریا بګۍ په ګلو پوښ کړه
کاپیسا والو «عشقه پېچ» او «نسترن» اوبدلي
کاپیسا والو «کشمالي» او «ریدي ګل» باندې بګۍ پوښلې
کاپیسا والو ډېر «ګلاب» دي پر بګۍ ټومبلي
کاپیسا وال ښکلې اوشاس وړي د سوریا بګۍ کې
دغه بګۍ به په اتو سپینو غوایانو پورې وتړل شي
ددې غوایانو به رشمې وي له ورېښمو جوړې
کاپیسا والو د ګل پوښې بګۍ
په ټوله لاره هم ګلان شیندلي
کاپیسا والو پر بګۍ باندې له ګلونه خیمه جوړه کړ

WWW.SAMSOOR.COM

په دې خيمه کې به د ګلو او ورېښمو پر تخت
ښکلې اوشاس کينوي
کاپيساوالو د ښکلا نذرانه
څومره چې کېږي هومره ښکلې کړله
څو پرې طلسم د راجا او ابليسانو مات کړي
اوشاس بګۍ کې ناسته
سپينو جامو کې د حريرو څومره ښکلې ښکاري
د اوشاس سترګې خدايزده څه ته ځير دي
کومو سوچونو ده په سرا خيستې
يوڅاڅکی اوښکه يې له تورو سترګو ښکته راځي
پر ګلابي سپين اننګي باندې يې لاره باسي
خو د اوشاس سترګې لا ځير دي او په سوچ کې تللې
څو نېنوازو غږوله شپيلۍ
بګۍ ورو ورو روانه
او د معبد په لور تله
اوشاس د ورک سرنوشت لارې څاري
او د بګۍ له هر خوځښت سره ورو ورو خوځېږي
اوشاس په خپل راتلونکي نه پوهېږي
اوشاس بګۍ کې ناسته
بوډا راهب يې دی په مخکې روان
بوډا راهب لاس کې نيولې د معبد ډيوه ده

WWW.samsoor.COM

څو نېنوازو غړوله شپېلۍ
او چې اوشاس معبد ته ورسېده
نینوازانو د «ناګا» سندره پېل کړله
چې د مارانو د پاچا په نوم وه
کاپیساوالو هم ژړا پېل کړه
د بګۍ شاته د اوشاس سپین سرې مور او بوډا پلار روان وو
د معبد مخکې راهبان کتار، کتار ولاړ وو
او پر بګۍ یې د ګلونو ځولۍ وشیندلې
خلکو حیران حیران اوشاس ته کتل
هغه له هرې ورځې لا ښکلې وه
نینوازانو په شپېلۍ کې نیلوفرو ته سرود غږاوه
او له بودا نه یې د خپل نذر مننه غوښته
بوډا راهب راغی اوشاس یې لاس نه ونیوله
او اوشاس کرکه وکړه
د بوډا لاس یې بد شاګوم وګاڼه
اوشاس په ناز ناز له بګۍ ښکته شوه
نېنوازانو د کوترې سرود وغږاوه
نو د اوشاس پلار او مور
د وروستي ځل لپاره خپله لور په مینه ښکل کړه
اوشاس ژړل او پلار و مور یې هم سلګۍ وهلې
آه څه غمجن ساعت و

WWW.samsoor.COM

ځو مره خواشيني شيبې
څه غم لړلې ورځ وه
لکه چې ټولو بګرامو الوژړل
خو چا يې غږ نه اورېد
د کاپيسا د ښتو او غرونو ژړل
کاپيسا ! نوره به دې ښکلې اوشاس ونه وينې
کاپيسا ! نور به دې لمن کې هغه ونه ناڅي
کاپيسا ! وژاړه او زړه دې تش کړه
نن د اوشاس وروستی ديدن وکړه
اوشاس د تل لپاره
ستا د معبد بندي شوه
بوډا راهب د اوشاس لاس ونيوه
کرار کرار يې د معبد په لور روانه کړله
د معبد خوله کې راهبان ټول په سجده پرېوتل
نينوازانو د هوسۍ سرود ته پيل وکړ
د معبد لويه دروازه خلاصه شوه
خو اوشاس ودرېده
خپلې لمدې سترګې يې واړولې
د کاپيسا وروستی ديدن يې وکړ
پاس يې اسمان ته سترګې پورته کړلې
او بيا يې خپل مور او پلار هم وليدل

WWW.SAMSOOR.COM

لرې او ډېر لرې يې
د لمر خاته خواته نظر وګانده
او بېټ په زړه کې يې د مينې کلمه تېره کړه
ارشاکه چېرې يې چې نه ښکارې؟
تانه قربان شمه له مانه مرور خو نه يې؟
ما خوله ټولو ته وداع وکړله
مګر ستاغږ نه اورم
تا راته ونه ويل:
«اوشاس په مخه دې ښه!»
تانه قربان شمه ارشاکه ګرانه!
خدای(ج) خو دې ساته د دښمن له تورو
پام چې ما هېره نه کړې!
د اوشـاس سـترګو څخـه دوه د اوښـکو څـاڅکي ښـکته
ورغړېدل
او بيا يې ګام پورته کړ
چې د معبد د دروازې له ستونې تېره شوله
بېا چا ونه ليدله
او اوشاس ولاړه ټولو سترګو نه پناه شوه پناه
بيا د معبد دننه
د لوی تالار درشل کې ودرېده
د اسې تالار چې له مرمرو او غميو جوړ و

WWW.samsoor.COM

داسې تالار چې هر ستون یې لکه لمر ځلېده
د دیوالونو ترځنګ
راهبان ټول کتار – کتار ، ډیوه پر لاس ولاړ وو
د تالار مخامخ په بر سر کې «بودا» ولاړ و
په خلاصو سترګو یې تالار ته کتل
بودا اوشاس ته کتل
اوشاس بودا ته کتل
بودا جوړ شوی وله توري تېږې
اوشاس د سپین حریر جامې اغوستې
د اوشاس سترګې وې له اوښکو ډکې
د بودا سترګې له ډبرو جوړې
بودا خپل نذر ته په برندو کتل
بوډا راهب د اوشاس شاته ولاړ
اوشاس حیرانه پاتې
چې خدایه څه به کېږي؟
بوډا راهب د بودا مخ ته په سجده پرېوته
او بیا یې داسې وویل:
ښاغلیه! تاته مو ښکلا راوړې
د کاپیسا تر ټولو ښکلې پېغله
ها چې ښکلا یې طلسمونه د ابلیس ماتوي
ها چې دلبره ده د ډبرو زړونو

WWW.SAMSOOR.COM

ها چې سندرې يې له زمکې نه ګلان ټوکوي
ها چې نڅا يې د زړه زنګ مينځي
هغه چې زلفې يې د تورو او ښاپسته سنبلو
د تور آبشار په شان موجونه وهي
هغه چې سپينه د سپوږمۍ په شان ده
هغه چې ښکلې د هوسۍ په شان ده
هغه چې زړه يې له لښکر د کنيشکا نه وړي
هغه چې لويو اتلانو يې قدم کې دي سرونه ايښي
هغه چې مينه يې جنون پاروي
او کاپيسا يې د ښکلا له اوازو ډکه ده
هو ! داسې ښکلې پېغله
تا ته سوغات درکوو
تا ته يې نذر کې خيرات درکوو
چې هر ماښام ستا د معبد ډيوې روښانه کړي په خپلو لاسو
او هر شپه دې مخ کې
لکه لمبه وناځي
او په سندرو کې دې وستايي
ښاغليه ! ويې منه !
ښاغليه ! ويې منه !
دا ښکلې پېغله به دا ستا تر قدمونو لاندې
خپلې مشکينې زلفې وخوروي

WWW.SAMSOOR.COM

دا ښکلې پېغله به دې هره ورځ تول جسم په ورېښمو پاک کړي
دا ښکلې پېغله به وي ستا کنيزه
او ستا خدمت به کوي
دا ښکلې پېغله به دې مخ ته ناځي
دا ښکلې پېغله نذرانه د کاپيسا وګڼه
دا ښکلې پېغله ته سوغات د کنيشکا وګڼه
ښاغليه ! ويې منه !
ښاغليه ! ويې منه !
بوډا راهب دغه خبرې وکړې
او بيا يې ښکلې اوشاس
د بودا مخې ته ورټېل وهله
اوشاس خوره وره په پښو کې د بودا پريوته
د اوشاس زلفې د بودا تر قدمونو لاندې وشيندل شوې
اوشاس سلګۍ پيل کړې
اوشاس معبد په خپلو اوښکو باندې ولمباوه
او په تالار کې يې سلګيو انګازې کولې...

✵✵✵

ورځې او شپې تېرېدې
د کاپيسا سيند د اوشاس اوښکې له ځانه سره وړې د اباسين په لوري

WWW.SAMSOOR.COM

هلته چې وينې لکه سیند بهېدې
چې پکتانه وو له راجا سره جګړې ته وتي
هلته چې ښکلي ارشاک
د پنچالیانو تور سرونه ریبل
چې پکتانو زلمیو
له تور لینګیو نه کسات اخیسته
چې ارشاک غشي پر دښمن ورول
هغه ارشاک چې پر اوشاس مین و
هغه ارشاک چې د هوسۍ پر ننګه ولاړه د راجا جګړې ته
هغه ارشاک چې آریانا ورباندې فخر کاوه
هغه ارشاک چې کنیشکا ورباندې فخر کاوه
هغه ارشاک چې یې د زړه د تخت پاچا وه اوشاس
سترې ارشاک به چې اوبه د اباسین څښلې
نو د اوشاس د اوښکو څاڅکو به یې لا وینې په جوش راوستې
مګر اوشاس لا د معبد بندي وه
ښکلې خبره یې هره ورځ ژبړېده
د حسن ګل یې رژیده رژیده
اوشاس خدمت د تورې تېږې کاوه
او هره شپه به یې د لوی معبد وړه حجره کې
د بېلتانه له غمه
تر سباوونه ژړل

WWW.SAMSOOR.COM

خو يوه شپه چې توپانونو وه پر سر اخيستې
او هيندوکوښ په ګرد له کې پټ و
توپان د ونو زړې څانګې ماتولې په خرپ
باد له کړکيو، دروازو څخه غرېونه ايستل
او د معبد ډيوې د باد له لاسه نه دربدې
څه ويرونکې شپه وه
د کاپيسا خلک له کوره بهر نه شول وتی
او د توپان ليونی اس په شغهار تېرېده
اوشاس ناڅاپه پر خپل ځای کېناسته
او د توپان غرېيې په زړه کې بوړبوکی د ويرې وښنې کړلې
اوشاس هر خواته کتل
له هرې خوا د سهمګين توپان غرېونه راتلل
چې يو ناڅاپه د اوشاس د حجرې ور وګړزېد
اوشاس له ويرې څخه ځان را غونډ کړ
ور چا په زوره خلاص کړ
د اوشاس ستونی وچ شو
چې يو ناڅاپه د بوډا راهب څېره ښکاره شوه
په سپينو سترګو کې يې نښې د لېوه پيدا وې
اوشاس ته وړاندې راغی
اوشاس حيرانه وه چې دا څه وينې؟
په نيمه شپه ولې بوډا راهب راغلی دلته؟

WWW.SAMSOOR.COM

خو راهب راغی د اوشاس تر څنګه ودرېده
اوشاس په ویره ویره وپوښتل چې څه پېښه ده؟
بوډا راهب کړې خپلې سترګې په اوشاس کې خښې
ویې ویل: تا غواړمه!
زه یم د ډېرو مودو وږی تږی
نن دې د غېږې په خوند ځان مړوم
زما دننه د هوس دوزخ لمبې وهي تل
نن دا لمبې ستا په وجود وژنمه
نن مې د ډېرې مودې
د هوسونو اور په تا شیندمه
نن به زما په غېږ کې ولوېږې
راشه او زړه مې سوړ کړه
اوشاس په چیغو سر شوه:
پام ماته لاس رانه وړې
زه خو ستا لور غوندې یم
زه به په چیغو چیغو ځان ووژنم
زه به په چیغو کاپیسا ویښه کړم
زه به دې ټولو ته رسوا کړم رسوا
بوډا راهب په کړس کړس وخندل او ویې ویل:
ووهه څومره چې دې زړه وي هومره چیغې ووهه
هېڅوک ستا چیغې نه اوري

WWW.samsoor.COM

تو پان به ستا چيغې له ځان سره اسمان ته يوسي
ستا غږ هېڅوک نه اوري
که زما غوږونه دې ونه منله
زه به دې وترم په زور به درنه کام واخلم
راهب چې دا وويل
نو پر اوشاس ور پريوت
خو د اوشاس وجود کې هم د هيندوکوښ وينه وه
اوشاس شبدې د آريانا رودلي
اوشاس بګرام څخه غيرت زده کړی
اوشاس د لوېې کاپيسا زمرۍ ده
اوشاس ليوه سره جګړه کوي اوس
او د بوډا راهب په مټو باندې خوله لګوي
راهب د زور لېوه په شان ستړی شو
او اوشاس ځان ترې خلاص کړ
خپلې حجرې څخه بهر ووته
مګر لېوه د معبد ټولې دروازې تړلې
يوه دالان څخه تر بل دالانه منډې وهې
اوشاس سلګۍ وهي معبد کې له لېوه نه تښتي
بوډا ليوه هوسۍ نيولی نه شي
د معبد ټولې لارې بندي دي راهب ډاډه دی
اوشاس به بېرته راځي

WWW.samsoor.COM

اوشاس به خپله راځي
اوشاس چې ستړې شي اخر به راشي
او زما غېږې ته به ځان وسپاري
د معبد ټولې لارې بندې دي اوشاس بندي ده
مګر اوشاس د هيندوکوښ هوسۍ ده
اوشاس د لوړې منارې لاره په ياد ساتلې
د معبد لوړه مناره اسمان ته لاره لري
اوشاس د زمکې لار ونه موندله
اوشاس اسمان ته خيژي
د منارې زينو کې منډې وهي
بوډا ليوه يې په حجره کې لا په تمه ناست دی
چې اوشاس بېرته راځي
اوشاس د تېښتې لاره نه لري ورونه بند دي
مګر بوډا نه مناره هېره ده
د اسمان لاره ترې ښکاره هېره ده
اوشاس د لوړې منارې څوکې ته وختله
دمنارې شا او خوا ټول وود معبد بامونه
خو يوه اړخ ته يې «نيلاب» بهېده
نيلاب د لوړ هيندوکوښ زړه نه راته
نيلاب څپې څپې موجونه وهي
نيلاب په داسې توپاني شيبو کې

د ليوني آس په شان
له خولې ځګونه باسي
نيلاب غړمبا کوي په تېرو پورې غېږې موښي
نيلاب څه مست روان دی
د کاپيسا سيند په غورځنګ روان دی
لکه د ښکلي هيندوکوښ په رګ کې وينه
نيلاب داسې مست دی
او شاس نيلاب ته ګوري
او شاس نيلاب ته د ژوندون وروستۍ خبرې کوي
ښکليه نيلابه واوره !
ستا غورځنګونه د ارشاک د غورځنګونو په شان
ای د ارشاک په شانې مستـه سينده !
نن مې د دين له ساتندويو څخه تا ته ده پناه راوړې
ته د بودا له وارثانو څخه ما وساته !
د عقيدې لېوانو نن له ما عزت اخېستـه
هغوی چې خلک د دوزخ له سرو لمبو ويروي
د هغوی زړونو کې دوزخ دی په لمبو راغلی
هغوی چې خلکو ته ايمان او سپېڅلتيا يادوي
هغوی پخپله د وطن د پېغلو پت لوټوي
هغوی چې دين او ايمان ډېر يادوي
په خپله ځان په ابليسانو پلوري

WWW.samsoor.com

د غو ناوليو راهبانو خپل ايمان پلورلی
دغو ناوليو راهبانو ټول جهان پلورلی
نيلابه تاته مې پناه راوړې
زما سپېڅليه سينده !
زما مهربانه وروره !
خپلې بې وسې خور ته ورکړه پناه !
ستا پاکې غېږې ته مې ځان سپارمه
زه امانت يم د چا
ما اوريدلي دي چې ته تر اباسين پورې ځې
نيلابه زه پوهېږم
چې اباسين خپله مستي ستا له څپو نه اخلي
زه مې ځان تا ته سپارم
ما اباسين ته يو سه
د هغه سيند پر غاړه
چې زما ارشاک جنګېږي
هلته چې ښکلی ارشاک
له پنچاليانو سره تورې وهي
د آريانا عزت زما عزت دی
ته زما عزت خپلو څپو کې پټ کړه !
نيلابه غږ مې اورې ؟ !
نن د نړۍ تر ټولو ښکلې پېغله

WWW.SAMSOOR.COM

هغه چې ډېر يې په ديدن پسې مري
هو دغه پېغله دغه ښکلې اوشاس
نن خپل ځان تاته سپاري
دا د ارشاک امانت
دا د بودا د ستر معبد نذرانه
دغه سپېڅلې پېغله
تر هوسۍ ښکلې پېغله
نن خپل ځان تاته سپاري
ته يې په خپل څادر کې ونغاړه او پټه يې کړه !
چې د دنيا خيرنې سترګې پرې ونه لګېږي
د کاپيسا دا امانت تر ابا سينه يوسه !
نيلابه ! ما در واخله !
نيلابه ! ما در واخله !
اوشاس په سپين حرير کې
د ښايسته سپينې کوترې په شان
دمنارې له سره والوتله
او شيبه وروسته د نيلاب څپو کې
د سپين حرير په جامو پټه اوشاس
د سيند څپو سره شوه غاړه غړۍ...

✵✵✵

WWW.samsoor.COM

نيلاب ځپې وهي نيلاب روان دی
نيلاب له لوړو سردرو تيرېږي
نيلاب ورځي د اباسين په لوري
او د نيلاب پر بستر
د کاپيسا ناوې اوشاس روانه
په سپين حرير کې لکه سپين نيلوفر
چې د اوبو پر مخ تاوېږي را تاوېږي اوځي
لکه سپين قو،
چې د ابو بهير ته ځان وسپاري
لکه په شنه جلګه کې عکس د سپوږمۍ
د سپين سوسن د ښکلې ځانګې په شان
اوشاس اوبو کې ده روانه لکه سپين بادبان
اوشاس ورځي تر اباسينه پورې
هلته چې هره ورځ د وينو سرې ويالې بهېږي
هلته چې تورې يو پر بل لګيږي
اور بادوي
هلته د غشو شغهار ځخه اسمان چې ډک دی
هلته چې مست آسونه يو د بل سينې ماتوي
چې پکتانه زلمي نيزې واروي
چې پنچاليانو نه لنګونه لويږي
دغه جګړه ده يوه لويه جګړه

WWW.samsoor.com

زلمی ارشاک د مست زمري په شان جګړې ته وتی
هره نیزه یې د ښمنو یو کتار ریبي
د هر یو غشي په ګوزار یې څو سینې سورۍ شي
د هرې تورې په ګوزار یې سل سرونه پریوځي
ارشاک پر سپین آس چې «ګوربت» نومیږي
لکه شاهین الوزي
د «ګوربت» آس یې د جنګونو یار دی
او ګوربت آس یې د بېلتون د شپو مونس همدم دی
هغه ګوربت چې پر تندي یې د اوشاس د لاس ځونډي ځړېږي
ګوربت سینه وهي ارشاک جنګیږي
ارشاک د تورې په وهلو کې سترېيانه لري
چې یو ناڅاپه یې د جنګ میدان کې
د پنچالیانو تور سردار ولیده
هغه راجا چې یې کابل لوټ کړی
هغه راجا چې پر خپل سر یې د هوسۍ همایون تاج ایښی دی
هغه راجا چې کنیشکا ورته قسم یاد کړی
هغه راجا چې د ارشاک زړه یې کسات نه ډک و
او چې ارشاک یې پر سر
همایون تاج ولیده
زمکه یې پښو لاندې د اور تبۍ شوه
له تورو سترګو یې د قهر سپرغۍ والوتلې

WWW.samsoor.COM

آس ته يې پونده ورکړه
او په جګړه جګړه يې
خپل ځان ور ورساوه
د دوه لښکرو مشران
يو بل ته مخامخ شول
پهلوانانو يو د بل د متو زور معلوم کړ
راجا په کړس کړس وخندل او ويې ويل:
ځومره بې باکه، بې پروا زلمی يې
جګړه خو لوبې نه دي
لکه چې خپل ژوندون دې نه خوښيږي؟ !
چې دې له ما سره ځان مخامخ کړ؟
مګر ته نه يې خبر؟
چې زه د ټولو پنچاليانو راجا
او د کابل تالانګر
د آسمايي د ستر معبد فاتح يم
مګر ته نه يې خبر؟
چې ستا د وياړ نښه زما پر سر ده؟
زما جګړه د آريانا پر سر ده؟
ای د کابل زلميه!
تا ته همدومره پېغور بس دی چې ما
ستا د حيا او غرور تاج راوړی

WWW.samsoor.COM

د خپلواکۍ د هوسۍ تاج دې اوس زما پر سر دی
مګر ته نه وینې چې ستا کابل شو څومره ذلیل؟
نو اوس په کوم زړه زما جنګ ته راغلې؟
دادی در واخله چې وجود دې د پنچال په توره
داسې ټوټې ټوټې کړم
لکه کابل چې مې ټوټه ټوټه کړ
راجا دا وویل
بیا یې کړس وخندل
خو ارشاک هېڅ ونه ویل
د ارشاک سترګې لا د اروبتۍ شوې
په خپل زلمي لاس کې یې توره کلکه ونیوله
او د عشق نوم یې یاد کړ
د هوسۍ لوخ سر یې په زړه وګرځېد
د اوشاس سترګې یې په خیال کې راغلې
پر آریانا یې خپل قسم را یاد کړ
او د ګوربت په غاړه یې لاس را وکېښ
ګوربت پرې پوه شو چې وروستۍ جګړه ده
او ګوربت پوه شو ،چې له چا سره جګړه کوي اوس
ځکه یې خپل غوږونه څک ونیول
یو ځلې وشیشنېده
پر دوه پښو باندې نېغ ودرېده

WWW.samsoor.COM

او بیا میدان ته وځغاست
تورو یو بل څخه شرنګی پورته کړ
پهلوانانو یو د بل د متو زور ولیده
او جګړه ونښته
راجا د جنګ په چل و ول پوهېږي
راجا ابلیس څخه جګړه زده کړې
مګر ارشاک زلمی دی
له هر ګوزار سره راجا لړزوي
راجا په ښي لاس توره ښه کاروي
نو ارشاک و پوهېد چې
دښمن یوازې په خپل ښي لاس باندې جنګ کوی شي
ځکه ګوربت یې په کیڼ اړخ راتاو کړ
ګوربت پوهیږي چې ارشاک څه غواړي
ګوربت د خپل څښتن په راز خبر دی
نو شېبه وروسته آس په کیڼه خوا را تاو شو وځغاست
ارشاک ناڅاپه توره کیڼ لاس ته کړه
راجا نه لار ورکه شوه
ارشاک د کیڼ لاس په یوه ګوزار اورمېږ ورمات کړ
او د راجا سر تر پښو لاندې راورغړېده
لښکر چې ولید ، هیاهو پورته شو
د پنچالیانو جنډه پریوتله
ارشاک نیزه په سر کې وتومبله

WWW.samsoor.com

او د راجا سر يې را پورته کړ پر خپله نيزه
د راجا هغه سر، چې ډېر يې په غرور ګرځاوه
چې يې لا تاج پرې د هوسۍ ايښی و
خو اوس ارشاک ترې بېل کړ
د پنچاليانو پاتې شوي لښکر
تورې پر زمکه باندې واچولې
سپينې جنډې يې په نيزو پورته کړې
او پکتانو زلميو هم نوره جګړه ونه کړه
د غشو شغ د تورو شرنګ ودرېد
د پکتانو د خوشاليو يو غرېو پورته شو
ارشاک له سر څخه زرين تاج د هوسۍ را واخيست
همايون تاج يې ښکل کړ
او چې اسمان ته ځير شو
نو يو کتار زانې يې وليدلې
چې د کابل خواته ځي
د ارشاک سترګې شوې له اوښکو ډکې
نور ځنډېدل ښه نه دي
هلته کابل کې به تور سرې هوسۍ تمه لري
او په بګرام کې به اوشاس په انتظار ناسته وي
سبا کابل ته کوچ دی
سبا کابل ته کوچ دی...

***

WWW.SAMSOOR.COM

مګر نيلاب روان دی
نيلاب هماغسې غورځنګ لري ځپې ځپې ځي
نيلاب د ښکلې اوشاس ناوې اباسين ته ورروړي
چې ماښام راشي د څپو پر مخ اوشاس ښکارېږي
چې لکه سپينه بته
د لمر خاته خواته ځي
هره شپه سيند چې شي د ستورو بستر
سپينه اوشاس لکه سپوږمۍ ښکاريږي
چې په اميل د سپينو ستوريو کې غمی غمی ځي
اوشاس روانه ده ارشاک ته ورځي
خو ارشاک هم روان دی
ارشاک په شپه او ورځ مزل لنډوي
ارشاک نيزه کې د راجا سرد لښکر له پاسه هسک ساتلی
ارشاک د ښکلې هوسۍ تاج په لاس کې
ځي د نيلاب اوبو ته ځان رسوي
خو په دې نه پوهېږي
چې ستر بري ته يې نيلاب په هر کلي کې لوی سوغات راوړی
نيلاب روان دی
نيلاب ځي له سردرو تېرېږي
چې يو سهار پرې د سيندونو او باران ملکه
«اناهيتا» کوزه شوه

WWW.samsoor.COM

اناهیتا د شرشرې په شان نیلاب ته راغله
او خپل ویاړلي زوي نیلاب ته یې په ښکلې ژبه داسې وویل:
زما محبوبه زما ښکلیه زویه !
له هیندوکوښ څخه راغلیه زما ستړیه زویه !
زما نیلابه ! زما فرمان ته غوږ شه !
دغه د ټولې نړۍ ښکلی حسن
دا د ښکلا نذرانه
ښکلې اوشاس چې روح یې
دعشق جهان ته مېلمنه تللې ده
او سپین بدن یې ستا بستر کې امانت پرېښی دی
پام چې پردۍ یې نه کړې !
اوشاس د ښکلې کاپیسا امانت
اوشاس د ټولې آریانا امانت
اوشاس د ستر فاتح ارشاک امانت
اوشاس د ویاړ د شهنشاه امانت
نوره یې وړاندې مه وړه !
نیلابه ودرېږه !
نیلابه خپل بهیر راوګرځوه !
پام چې اوشاس اټک نه تېره نه کړې !
اوشاس اټک کې مېلمنه وساته
دا د کابل او کاپیسا نازکه پېغله په ګرمۍ مه سیزه !

WWW.samsoor.COM

هغه پنچال ته مه وړه !
د بګرام پېغله د کابل له پولې مه اړوه !
د هغې ښکلی بدن
د بد رنګيو ښار ته مه لېږدوه !
نيلابه ! ته يې د کابل د سپېڅلتيا استازی
نيلابه ! ته يې د کابل د امانت ساتونکی
نيلابه ! تا نن سپېڅلتيا او تقدس راوړی
پام چې په سپين بدن يې سترګې د ناوليو درنه ونه لګي
پام چې د تورو زړونو هېڅ نظر يې ونه ويني
هغه همدلته تم کړه !
اوشاس ده لوی امانت
هغه په خپلو ګردابونو کې راوګرځوه
لکه د ښکلي سوسن سپينه څانګه
لکه د سپين نيلوفر ګل په شانې
هغه د دوو هېوادونو په سرحد کې مېلمنه وساته !
اناهيتا چې دا فرمان ورکړ نيلاب واورېده
نيلاب همداسې وکړل
ښکلې اوشاس يې په اټک کې تم کړه
اوشاس د سپين ګلاب په شان په ګردابونو کې اتڼ پيل کړ
اوشاس ځپو سره لګيا شوه په ماشومو لوبو
نيلاب په خپل وروستي منزل کې ده اوشاس ساتلې
WWW.samsoor.COM

خدایزده نیلاب چاته په تمه دی
او شاس په ګردابو کې ساتي
نیلاب په تمه دی لښکر روان دی
لښکر خوشاله دی، لښکر ده لویه سوبه کړې
لښکر په بېړه د کابل خوا ته ځي
زلمی ارشاک هانومیالی فاتح
پر ګوربت سپور دی ګړندی فاتح
ارشاک په غېږ کې د هوسۍ همایون تاج نیولی
او ورپسې یوه سرتېري ده نیزه نیولې
هغه نیزه
چې یې په څوکه د راجا پرې کړی سر نښتی
لښکر روان دی لښکر بېړه لري
لښکر د لویې فتحې زیری لري
لښکر د فتحې زیری وړي د آریانا په لوري
لښکر د فتحې زیری وړي د کنیشکا په لوري
لښکر اټک کې د سیند څنګ ته روان
لښکر د خپل هېواد سرحد ته راغی
لښکر روان دی او ارشاک تږی دی
ارشاک د مست نیلاب اوبو ته تږی
ارشاک د خپل هېواد دیدن ته تږی
ارشاک بګرام ته تږی

WWW.samsoor.COM

ارشاک او شاس ته تږی
ارشاک روان دی ارشاک بېړه لري
ارشاک د ټول مزله ګامونه شمېري
ارشاک چې څومره وړاندې ځي هغومره لا تږی شي
د ارشاک زړه په هر یو ګام کې سل ټوپونه وهي
او ارشاک بېړه لري تنده لري
خو يو ناڅاپه ګوربت آس ودرېد
ګوربت غوږونه څک کړل
ګوربت څه پېښه ويني
او ناکاره ښکاري
چې ګوربت ودرېد لښکر ودرېد
ټول شول حيران چې دا به څه پېښه وي
ګوربت پښې پر زمکه وګنډلې
ارشاک هر خواته په ځير وکتل حيران شو حيران!
ګوربت يې ونازاوه:
ای ماته ګرانه آسه!
مګر پېښ شوي څه دي؟
چې داسې ودرېدې!
مګر ته نه يې خبر
چې موږ بېړه لرو؟
مګر ته زما د زړه آواز نه اوري؟!

زه مې د مينې په ديدن پسې مرم
نن چې فلک زما په خوښه څرخي
چې ما هر څه ګټلي:
همايون تاج، د آريانا غرور، اوشاس او هر څه
مګر ته ودرېدې؟
ستا ليونتوب ته زه حيران يم حيران
مګر څه پېښه ده چې داسې وارخطا ښکارېږي؟
ګوربته ! څه !
ګوربته وړاندې ولاړ شه !
ګوربته ما کابل ته ورسوه !
ګوربته ! اوس ناځواني نه ده په کار
ګوربته ! ما تر خپلې مينې پورې ورسوه
ګوربته ! څه !
ګوربته: وړاندې ولاړ شه
خو ګوربت نه ځي ګوربت ټينګ ولاړ دی
ګوربت په زمکه پورې پښې مېخ کړي
ارشاک چې هر څومره زارۍ کوي ګوربت يو قدم هم نه اخلي
ګوربت ولاړ دی لښکريان حيران دي
ارشاک غوسه شو په ګوربت باندې يې چيغه وکړه
ګوربت ناڅاپه په پښو ودرېده و شيشنېده
او ګوربت داسې ليونی شو چې ارشاک يې کوزکړ

WWW.samsoor.com

ګوربت شیشنبړي ګوربت پښنې ټکوي
خوارشاک نه پوهېږي
لښکر حیران ولاړ دی
چې یو ناڅاپه ګوربت وغغاسته د سیند په لوري
ګوربت د سیند په غاړه ودرېده و شیشنبده
تا به ویل ځان به اوس په سیند لاهو کړي
خلک حیران دي چې ګوربت په سیند کې څه لیدلي؟
ارشاک لښکر ته وویل:
زه مې خپل آس پېژنم
هغه بې ځایه لیونتوب نه کوي
هرو مرو یې په نیلاب کې دي کوم څه لیدلي
زه به یې وګورم چې څه پېښ شوي
او د سیند غاړې ته ارشاک راغی
لښکریان هم ورپسې
ګوربت شیشنبړي او پښنې ټکوي
هغلته لرې د سیند منځ کې اوبه
په سپین حریر کې یو قامت تاووي
لښکریان ټول حیران دي
او د ارشاک له زړه نه غږ د ماتېدلو راځي
ارشاک حیران دی دا به څه پېښنه وي؟
مګر نیلاب ګوربت ته څه وویل؟!

چې ليوني شول دواړه
دا سپين قامت د چا دی؟
ارشاک لښکر ته غږ کړ:
نيلاب کابل نه کومه پېغله ده راوړې دلته
زمونږ د هېواد کومې بې وسې نجلۍ
نيلاب ته ځان سپارلی
مګر نيلاب د آريانا وينه په رګ کې لري
نيلاب له هسکه هيندوکوښه راځي
د نيلاب نه لوړېږي
چې د کابل پېغله پنچال ته يوسي
اناهيتا به ورته ويلي وي چې ويې ساته
نيلاب همت لري نيلاب مغرور دی
او ګوربت هم نه غواړي
چې د کابل او هيندوکوښ پېغله پنچال ته يوسي
ګوندې د هغې پر سپېڅلي غيرتي بدن يې
د بېګانه سترګو خيرن نظر هېڅ نه لوريږي
ځکه ګوربت او نيلاب
په داسې ښکلي ليونتوب سرشوي
زه به د خپل هېواد سپېڅلی ناموس
هېڅکله پري نه ږدم چې ولاړ شي د بدرنګو ښار ته
د کابلۍ پېغلې سپېڅلې بدن

WWW.SAMSOOR.COM

باید په خپل هېواد کې خښ شي نه پردۍ خاوره کې
ځکه نیلاب هم امانت ساتلی
نیلابه تا ښخه مننه کوم
دادی نیلابه امانت دې اخلم
ارشاک دا غږ وکړ په سیند لاهو شو
ارشاک د مست نیلاب ځپو سره سینه وهله
او شیبه وروسته یې په سپین حریر کې
اوشاس ساحل ته راوړه
ارشاک اوبو کې لا د خپل جانان بدن وپېژاند
ارشاک د یار د غېږې عطرو مست کړ
اسمان کې څو کتاره زانې د کابل خواته تلې
سوریا د مینې د وروستي فصل سندره ویلې
نیلاب د خپل بستر هینداره کې لا لمر ځلاوه
او د کابل له خوا خوږه وږمه راتلله
لرې ځنګلونه لا په خوب ویده وو
اټک د لویې ورځې پیل لمانځه
ارشاک د خپلو لښکریانو مخ ته ودرېده
او لښکریان حیران وو
ښکلې اوشاس د سپین سوسن د تاندې څانګې په شان
د خپل محبوب پر دواړو لاسو غزېدلې وه اوس
ښایسته اوشاس د اوږد مزله ستړې وه

WWW.samsoor.COM

تا به ویل اوس د خپل محبوب په غېږ کې دمه کوي
له تورو زلفو یې اوبه څڅېدې
او د ګلاب په شان ښایسته ښکارېده
ارشاک لا هېڅ نه ویل
په برندو سترګو یې هر خوا ته کتل
یو ځل اسمان ته ځیر شو
د ځړو سترګو په کونجونو کې یې اوښکو
د سروونو په شان موج وواهه
خو یو ناڅاپه یې کړس کړس وخندل
داسې یې وخندل چې غرو کې انګازې خورې شوې
داسې یې وخندل چې غړېږې د خندا ، له اسمانونو څخه هم واوښته
داسې یې وخندل چې ټول ولړزېد
اوشاس یې غېږ کې ټینګه ونیوله
ویې خندل
څه لیونۍ خنداوه
چې د اوشاس بدن یې هم رېږداوه
ښایي لومړی ځل وچې
د ارشاک پښې لړزېدې
څو شېبې بیا غلی شو
او بیا یې خپل لښکر ته داسې وویل:
تاسو یې وینئ چې نیلاب زما بري ته لوی سوغات راوړی

WWW.samsoor.COM

تاسو يې وينئ چې اوشاس په خپله دلته راغله
تاسو يې وينئ
چې هغې د خپل محبوب ليدو ته څومره ډېره بېړه کړې؟
تاسو يې وينئ ؟!
دا اوشاس ده اوشاس !
زما د ژوند تر ټولو لويه هيله
زما د ټول سرنوشت لويه هستي
او ارشاک بيا غلی شو
پاس په اسمان کې لا د زاړو کتارونه د کابل خواته تلل
او د نيلاب په مخ لا لمر ځلېده
لرې ځنګلونه لا په خوب ويده وو
ارشاک اوشاس ته کتل
يو ځل به يې وخندل او بيا به يې د اوښکو څاڅکي وورول
يو ځلې وبونګېده
او بيا يې ورو د يوه راز په شان اوشاس ته وويل:
زما محبوبې !
زما ګرانې اوشاس !
زما تر ټولې نړۍ ښکلې اوشاس !
شونډې دې وخوځوه !
سترګې دې پرانيزه اې ښکلې اوشاس !
ما ستړې ګټلی

WWW.SAMSOOR.COM

زما محبوبې يو ځل بيا وخانده !
زما محبوبې زما ګرانې مينې !
ولې دې بېړه وکړه؟
مګر پر ما دې باور نه درلوده؟
مګر زما وعدې دې نه منلې؟
دادی زه بېرته راغلم
اوشاس ! يو څه ووايه !
اوشاس يو ځل خو راته وګوره بيا !
اوشاس زاری کومه
اوشاس يوازې يو ځل بيا وخانده !
زما محبوبې
زما ګرانې اوشاس
ما ويل چې تا به د برې سوغات کې
ستر کنيشکا څخه د تل لپاره وغواړمه
مګر د عشق شهنشاه بېړه وکړه
او ته يې ماته د نيلاب په لاس راولېږلې
ګرانې وعدې دې څه شوې؟
په خيال کې هغه يارانې دې څه شوې
ګرانې ويل دې: زه به ستا ناوې شم
په روهستان کې به يو کور جوړ کړو
ځان به د عشق په هوسونو موړ کړو

WWW.samsoor.COM

ګرانې هغه خيالونه چېرې ولاړل ؟
هغه د عشق خوبونه چېرې ولاړل ؟
وفا دې څه شوله قسم دې څه شو ؟
هغه د مينې لوی پرتم دې څه شو ؟
زما محبوبې زما ګرانې اوښاس !
زما تر ټولې نرۍ ښکلې اوښاس !
ارشاک سلګۍ وهي ارشاک ژاړي
ارشاک اوښاس په خپلو اوښکو مينځي
ارشاک په سترګو کې نيلاب ځای کړی
ارشاک په غېږه کې اوښاس ټينګوي
پاس په اسمان کې لا د زاڼو کتارونه د کابل خواته ځي
لښکر حيران ولاړ دی
د پکتانو زلميو سترګې دي له اوښکو ډکې
آن د ګوربت له سترګو اوښکې راځي
نن د دنيا د ژړېدلو ورځ ده
اوښکې بهېږي او شېبې تېرېږي
د لمر زرېنه بګۍ ځي د نيم اسمان په لوري
ارشاک د ښکلې اوښاس مړی له لاسونو کوز کړ
لښکر ته مخامخ په پښو ودريد
يو ځل يې بيا په ځير ځير ټول لښکر له سترګو تېر کړ
خپلې ځيرې سترګې يې ټولو ته ورواړولې

WWW.samsoor.com

او بیا یې داسې وویل:
زما خوږو ملګرو !
د پکتپانا او روهستان لښکره !
ستر کنیشکا به تل په تاسو ویاړي
زما مېړنو زلمیو !
نن سرنوشت د خپل کتاب د یوې بلې پاڼې
په اړولو سره موږ ته خاندي
د سرنوشت د بریالۍ خندا کړس کړس زما ترغوږه راځي
ښایي چې دا به سرنوشت وي چې زموږ ژوند بدلوي
او ښایي موږ به سرنوشت هېڅ بدلولای نه شو
د کنیشکا لښکره !
د سرنوشت کتاب زما لپاره نورې پاڼې نه اړوي
نن زما وروستۍ ورځ ده
نن یوه بله نامراده مینه
د خپل دیدن ارمان د عشق بلې دنیا ته وروړي
مګر زما یو څو خبرې واورئ !
ګوربت له ځان سره کابل ته بوځئ !
په هسکه غاړه یې زما پر ځای زرین تاج د هوسۍ کېږدئ !
ستر کنیشکا به په خپل لاس هغه معبد ته یوسي
بیا په کابل کې به لوی جشن جوړ شي
او کنیشکا به یو ځل بیا تاج د هوسۍ پر سر ږدي

WWW.SAMSOOR.COM

ستر کنیشکا ته زما له لوري دا پېغام ورکړئ:
چې زما د فتحې سوغات
د عشق پاچا ماته همدلته راوړ
ولاړ شئ بګرام ته
کنیشکا ته زما سلام یو سئ !
او خپل هېواد مه پلورئ !
ما خپل انعام موندلی
ما خپل مرام موندلی
د آریانا لښکره !
زما وصیت ومنئ !
«اټک» د دوو هېوادونو سرحد
او تر ابده د کابل پوله ده
د اباسین ښي لاس ته ها لوړې غونډۍ ته ځیر شئ !
دا د کابل زمکه ده
او ددې سیند کیڼ اړخ ته بله غونډۍ
د هندوستان زمکه ده
د اباسین په همدې ښي لاس د غونډۍ پر هسکه څوکه باندې
مور ته یو قبر جوړ کړئ !
ما او ښایسته اوشاس یو ځای خښ کړئ !
د اباسین پر هغه بله غاړه
د هغې کیڼې غونډۍ څوکه باندې

WWW.samsoor.com

هغه نیزه ودروئ !
چې د راجا سر يې په څوکه بند دی
د راجا مخ يې د وطن په خوا کړئ !
چې ټپوسان ورڅخه سترګې يوسي
او تر اټکه ها خوا خلک يې د تل لپاره سېل وکړي
زموږ زيارت به د هېواد پوله د تل لپاره وساتي له بدو سترګو
زموږ زيارت به د اټک نښه وي
زموږ زيارت به د کابل نښه وي
زموږ زيارت به د کابل يادګار وي
د کنيشکا لښکرو !
زما دا زيری کنيشکا ته يوسئ !
د ابليسانو طلسمونه مات شول
مګر يوازې د ښکلا نذرونه منل شو
دا نذرانه به نن په عشق پوره شي
عشق نذرانه ورکوي
او د عشق دا نذر به ومنل شي
د عشق دربار ته به نن دوه سپېڅلي زړونه يوسو
عشق به دا زړونه نذرانه کې مني
عشق سرنوشت نه دی چې زړونه مات کړي
کله چې زه د خپلې ښکلې اوشاس
په غېږ کې ساه ورکړمه

WWW.samsoor.COM

نو سرنوشت به را ته څه ووايي ؟
دا چې د خپلې محبوبې تر څنګه ومرمه نن
عشق به کسات له سرنوشته واخلي...
ارشاک د ښکلې اوشاس مړی غېږ کې ټينګ نيولی
وروستۍ سلګۍ وروو، وروو وخوځاوه
ورو يې له ځان سره «اوشاس» وويل
او په خندانه خوله اسمان ته ځير شو
ښايي اسمان کې عشق د نوي سفر لار ورښيي
ښايي چې عشق به د مينو زړونو نذر مني
عشق په اسمان کې د ارشاک او اوشاس لاره څاري
عشق آريانا څخه د خپل ابديت نښې خپل دربار ته غواړي
عشق د محبوبو له موسکا سره د بل جهان سفر پيلوي
عشق سرنوشت څخه کسات اخلي
عشق يوه لويه هنګامه جوړي
عشق

يوه

داسې

افسانه جوړوي

پای

WWW.SAMSOOR.COM

# هوس

# هوسې

لومړۍ برخه

## زموږ کلی زموږ مېنه

د لوړو څوکو هسکو دنګو غرونو
د سردرو د شنو لمنو خوا کې
هلته يو کلی و د مينې کلی
زه ددې کلي شپونکی
لا ډېر زلمی وم چې په مينه پوه شوم
هو !
زه مين شوم او يو چا را سره مينه پيل کړه
يوه د تورو تورو سترګو ميرمن
او د ګودر د نازولو ميره
د کليوالو ښايستونو د جرګې ګلوله
اول زه نه وم خبر
چې د ښايست او مينې دغه جرګه
هر مازيګر زما د شنې شپيلۍ نغمو ته د ګودر په غاړه
په تلوسه او تنده تمه کوي
خو يوه ورځ چې د ځنګلونو ترخوا

WWW.SAMSOOR.COM

پړښو د سیند نغمو ته غوږ ایښی و
او ځړوبي په خپلو سپینو ګوتو
لا ترنګوله د سپرلي سندره
او چېږي لرې کټهار د زرکو
د څو تنزرو د نغمو ځواب ته غاړې ایستې
ما هم شپیلۍ په شونډو کېښودله
موږ سره ټولو کړې په ګډه پیل
د یو زیږي مازیګر
مستو شیبو کې د ځنګله زمزمې
او لا د شنه ځنګله په سترګو کې موخوب زنګاوه
چې زموږ د کلي د ښکلا قافله
ها د ګودر د نازولو جرګه
د شنو خیږیو او زیتونو منځ نه
زما په لوري راغله
پیغلې په مینه او شور
له ما نه تاوې او راتاوې شولې
لکه رنګینې څو ګېډۍ د ګلو
او د ښکلا د قافلې سرکښې
چې وه د تورو تورو سترګو میرمن
داسې په ناز وویل:
ای د رنګینو سردرو شپونکیه!

WWW.samsoor.COM

شپېلۍ دې وغږوه
موږه د کوزې چینې
د یو ګودر همزولې
یو ستا د ښکلو ترانو میلمنې
او ما په ډېره مینه
د شرشرې له ترنم سره مل
بیا پوکې ورته کړلو شنې شپېلۍ ته
او له دې ورځې وروسته
هره ورځ زه وم، شنه شپېلۍ وه
او جرګه د ښکلو
هر مازیګر به مې د تګ په وخت کې
یوه لمن ګلونه وشیندل په ښکلو پېغلو
او هرې پېغلې به پر خپلو ګوتو
هغه وربل کې ټومبل
یوه ورځ داسې هم شوه
کله چې ما خو سارایې ګلونه
د خپلې مینې په وربل کې ټومبل
هغې په ډېر اضطراب
راته په تورو تورو سترګو کې کوم څه وویل
خدای (ج) خبر څه یې غوښتل؟
همزولې ولاړې خو هغه پاتې شوه...

WWW.SAMSOOR.COM

او شیبه وروسته مې چې سر و د هغې پر زنګون
نو راته داسې یې په ناز وویل:
«نوره شپیلۍ مه وهه !»
او ما په ډېره حیرانتیا ورځنې وپوښتل، چې:
مګر جانان ولې؟ !
شپیلۍ خو زما و ستا د عشق ریباره
ما خو ټول عمر کې همدغه رمه
همدغه غرونه او همدا ځنګلونه
او بس همدا یوه شپیلۍ درلوده
خو بیا مې ښکلي جانان
راته په ویره ویره داسې وویل:
بیګاه مې مور راته کیسه کوله
چې د شپیلۍ غږول
ځوانیمرګي راولي
نو ټوله شپه مې له ډېر غمه سترګې پټې نه شوې
زه یوې ویرې په سروا خیستمه
ستا د ځوانۍ او ستا د مینې ویرې
نه چې خدای (ج) مکړه د ځوانیو د مرګ
توره واکمنه پر تا پېښه نه شي
آه ـ ربه ! خوله مې کړې له خاورو ډکه
هغه سات مه کړې خدایه !

WWW.samsoor.COM

هغه سات مه کړې خدايه !
خو ما پوښتنه وکړه:
دا د ځوانيو د مرګ
توره واکمنه څوک ده؟
ولې سندرو څخه کرکه لري؟
او دښمني کوي شپېليو سره؟
- نو نازولې راته داسې وويل:
دا يو لوی راز دی يوه لويه کيسه
زموږ د کلي د ماضي داستان دی
نو ما د تورو تورو سترګو له ميرمنې څخه هيله وکړه
چې راته وکړي کيسه
زموږ د کلي د ماضي داستان کې څه راغلي؟
نو مې اشنا راته کيسه پيل کړه
په مينه مينه يې پوښتنه وکړه :
تا هغه شنې شنې سارايي کوترې
چې يې منښوکې ګلابي رنګ لري
سترګې يې تورې تورې
د سپينو ښو يو اميل يې دی په غاړه کې
ليدلي چيرې؟
نو ما ځواب ورکړلو :
هو هو ليدلې مې دي

WWW.SAMSOOR.COM

دلته يې هر سهار سيلونه راځي
او ددې شنو درو اسمان کې اتڼونه کوي
بيا نجلۍ دا سې وويل:
مور مې هم دا سې ويل:
چې زموږ په کلي کې د دوه مينو زوړ زيارت دی
ددې زيارت په سرو او شنو جنډو کې
د ښاپيريو پاچاهي جوړه ده
او دغه شنې کوترې
د ښاپيريو د پاچا لوڼې دي
د شهزادګيو يوه ډېره ښکلې
او نازولې پيغله
د شنو کوترو د کتار ميره ده
هغه (نازو ) نوميږي
چې له سندرو او شپيليو سره مينه لري
او ټوله ورځ خپلو همزولو سره ګرځي د نغمو په هيله
چيرې چې واوري د شپيلۍ سندرې
هلته راټولې شي غومبر ووهي
په مينه تاوې شي را تاوې شي اتڼ وکړي
کله لا وژاړي
له تورو تورو سترګو څخه اوښکې تويې کړي
يوازې څانګې د خيړيو يې د ساندو مات غږونه اوري

WWW.SAMSOOR.COM

او نازو ځکه له شپیلیو سره مینه لري
چې له هر غږ نه یې نارې د خپلې مور اورې
پر هغې ګرانه مورکۍ
چې یې په ژوند کې هېڅ لیدلې نه ده
یوازې غږ یې د شپیلیو له نغمو سره مل
د هغې غوږ ته ورځي
او ما د تورو تورو سترګو له میرمنې څخه وپوښتل چې:
نو د هغې مور څوک ده؟
او د خپل کوم جرم سزا بهویني؟
چې غږ یې شته خو خپله نه ښکاري
او آن تردې چې خپلې لونې یې هم نه شي لیدی
نو پیغلې خپله کیسه بیا پیل کړه:
مور راته داسې وویل:
چې د بر کلو نه پخوا
کله چې زموږ کلي کې فصل د غنمو شین و
او دلته نه و لا زیارت د دغو دوه مینو
ځکه هغه وخت لا ژوندي وو
یو پر بل مین وو
او هره ورځ به یې همدلته
چې یې اوس زیارت دی
ددې چینې پر غاړه

د خپلې مينې ديدنونه كول
او د چينې پر غاړه
د ديدنونو پردې ښكلې محل
د ښاپيريو پاچاهي جوړه وه
دې پاچاهي كې يوه ښكلې ملكه وه چې «هوسۍ» نوميده
د خپلواكۍ تاج يې وا يښی پر سر
د هسكو څوكو شنو ځنګلو واكداره
لكه يو بت د غرور
چې د ښايست ساری يې نه وچيرې
ښكلې هوسۍ به له همزولو سره ګرځېدله
آن له سهاره تر بيګاه پورې
د شنو درو ، ګڼو ځنګلونو منځ كې
كله به ناسته د چينې پر غاړه
او پرې همزولو به وربل جوړاوه
كله به ولاړه د ګودر لوري ته
د مستو مستو كليوالو پيغلو
د شنو منګيو كتارونو د ليدو لپاره
خو يو ماښام چې د تيارو وزرونه
ورو ورو خوريدل پر ځنګله
او سندر بولې مرغۍ تلې د خپلو ځالو په لور
مستته هوسۍ هم را روانه وه همزولو سره

بې پروا ګرځېده خندل يې، ترانې يې ويلې
خپلې ماڼۍ ته ستنېدله د ځنګله له لوري
چې يو ناڅاپه پرې «لات ديو» را پېښ شو
يو هيبتناکه په رنګ تور او ويرونکی د ديوانو پاچا
چې و راغلی د اوو غرونو، اوو سيندونو له شا
هلته چې لمر پريوځي
د لمر خاته د کليو ښکار يې کاوه
ځان يې نغاړلی د ماښام څادر کې
چې هېڅ چانه شو ليدی
هوسۍ هم ونه ليده
او په دې راز پوه نه شوه
چې د ديوانو پاچا
وربانده يې زړه بايللی
خو د هوسۍ ښايست خپل کار کړی و
لات ديو له ځان سره دا پريکړه وکړه:
ځم د افق لوري ته
هلته چې لمر پريوزي
د ماښامونو ښار ته
د ښکرورو مغربي ديوانو
يو لوی لښکر جوړوم
بيا له پاچا د ښاپيريو سره جنګ ته راځم

WWW.samsoor.com

کلي يې سوزم او ځنګلونو ته يې اور اچوم
د هسکو څوکو دنګو غرو غرور يې
د اور او وسپنو په قهر وژنم
او چې هوسېږ زما شوه
بيا به نو دلته پاچاهي جوړه کړم

## او د ديوانو پاچا جنګ ته راغی

نو يوه ورځ مازيګر
کله چې زموږ کلي کې فصل د غنمو شين و
هغلته لرې د افق په څنډه
چيرې چې لمر پريوځي
يو د ديوانو لوی لښکر ښکاره شو
چې را روان و، زموږ د کلي په لور
ترشا يې کلي او ځنګلونه سوي
توري يې سرې په وينو
داوو سيندونو او اوو غرونو له شا
د ماښامونو له تور ښار نه راتلل
او هلته لرې يې خيمې پلنې کړې
د لمر خاته لورې ته
پر هغې لويې دښتې

WWW.samsoor.COM

چې يې د سرو زور مرغۍ درلودې
له هغه وروسته د ديوانو لښکر
له دغې دښتې څخه
درې ځلې بريد وکړ زموږ پر کلي
خو زموږ د کلي د زلمو لښکرو
د ښاپيريو له پاچا سره وه ملاتړلې
او د هوسې پر ننګه ولاړل د ديوانو جنګ ته
کله چې زمکه اور شوه
او په کې وځغاستل وحشي آسونه
کله چې تورو له يو بل څخه مچکې غلا کړې
او بيا په سرو وينو کې ولمبيدې
څه موده وروسته د لو خړو منځ کې
زموږ شاه زلميو د ديوانو پوځ ته ماته ورکړه
خو چې په دنګو شملو ببرته ستنيدل کلي ته
نو د بريو له نارو سره يې
دوه جنازې د دوه مينو راوړې
دغه چې اوس يې هم زيارت شته
د چينې پرغاړه
او په اتڼ اتڼ يې
هغوی همدلته د هوسۍ په هيله
د ښاپيريو د پاچا ښکلې ماڼۍ کې خښ کړل

WWW.SAMSOOR.COM

او مانېۍ داسې په زيارت واوښته
خو د سرو زرو د مرغيو ډاګ کې
لاتديو يو ازې او زخمي پاتې شو
لاس يې پرې شوی او پښه يې نه وه
د خپل کسات د اخيستلو يې غاښونه چيچل
خو يوه ورځ يې په دې دښته کې ابليس وموند
او چې يې لاس ورښکل کړل
ورته زنګون يې کېښود
چې ورنه کوډې زده کړي...

## او بيا لات ديو راغی زموږ کلي ته

کلونه وروسته چې بيا زموږ کلي کې فصل د غنمو شين و
په يوه توره شپه کې
د لمر خاته له لوري
څوک را روان و د لکړو په زور
نه يې يو لاس و، نه پښه ورپورې
سترګې يې سرې سرې وې د وينو کاسې
ويښتان يې آن په زنګنو لګېدل
دا هيبتناک او ويرونکی کوډګر
مخامخ ولاړه د زيارت لوري ته

WWW.SAMSOOR.COM

کليوال ټول ويده وو
هيڅ څوک پرې نه شول خبر
يوازې يو ځلې د تالندې يو پړک شو د زيارت تر پاسه
خو له سهار سره سم
کلي کې داسې انګازې شوې چې هوسۍ ورکه ده
کلونه وشول او کلونه کيږي
چې هوسۍ ورکه ده او مور مې ويل:
هغه لاټ ديو و، چې راغلی و زموږ کلي ته
دغه کوډګر د خپلو کوډو په زور
په هاغه توره شپه کې
ښايسته هوسۍ خدای (ج) خبر چيرې بوتله
او د هغې له ورکېدو سره سم
د ښاپيريو پاچاهي کې لوی ماتم جوړ شو
کليوال هم خپه وو
ښځو زيارت ته څېرمه
د غړو (١) نذر بار کړ
بيا يې د سرو او شنو جنډو ترپاسه
تورې جنډې هم د ماتم لپاره وتړلې
جومات کې ختم وشو

(١) غړې، يوه ډول ډبله ډوډۍ ده چې له خوږو اوړو او غوړيو څخه پخېږي او کليوالې ميرمنې يې په نذر او خيرات کې ويشي.

WWW.SAMSOOR.COM

او ماشومانو لمر لويدو سره سم
په ويره ويره پرېښودلې لوبې
ټولو به منډه کړه او پټ به شول د ميندو غېږ کې
او له دې وروسته زموږ د کلي هغه مستې
بې پروا پيغلې
نورې زيارت ته نه تلې
ځکه ملکه ښاپيرۍ ورکه وه
ښکلې هوسۍ ورکه وه
يو پرديس د لرو لارو

مګر کلونه وروسته
يوه ورځ ټکنده غرمه کې د بيديا له لورې
يو لاروی ستړی ستومان ښکاره شو
خولې پرې ماتې رنګ يې تور اوښتی
په ول ول څنو کې يې خاورې د مزلونو پرتې
يو ازې اوږد کميس يې ځان کې تبرګی يې په لاس
کچکول يې غاړه کې پروت
او په روښانه برندو سترګو کې يې
يوه بريښنا د کوم پټ راز ځليده
نو چې زموږ کلي ته راورسيده
لږ څه موسکی شو بيا څه وبونګيده

WWW.samsoor.COM

او خپل ستومانه قدمونه يې اوچت کړل د زيارت په لوري
سم چې سبا شو نو د کلي خلک
د مينجور ملنګ په راز خبر شول:
هغه راغلی وله لرې نا آشنا وطنه
له اوو سيندونو نه اوښتی
په اوو غرو ختلی
هغه ليدلي وو په خپلو سترګو
لوی لوی ديوان هم د اروا وو کلي
د ماښامانو محل
او د ښکلا ښارونه
ملنګ له هر څه نه خبرو په هر څه پوهېده
ښايي رازونه د دنيا يې ټول د سترګو په برېښنا کې پټ وو
چا ورنه حال د جادوګرو پوښته
چا ترې کيسې د هغو پيغلو غوښتې
چې د لويديځ د ښارو
د مرمري ماڼيو
د لمر چينو کې لامبي
او په دې منځ کې يو چا حال ترې د هوسۍ وپوښته:
ملنګه!
تا چيرې ونه ليدله؟
زموږ د کلي نازولې هوسۍ؟

د دې زیارت په سرو او شنو جنډو کې
د ښاپیریو یو د پاچا ملکه؟
هغه زموږ د خپلواکۍ ښتنه؟
نو د ملنګ سترګو کې بیا شوه درازو نو بریښنا
یوه شیبه غلی و
او بیا یې داسې وویل:
ما هغه ولیده
چې زنداني وه د لات دیو په فرمان
په یوه لرې ناآشنا وطن کې
د شنو جلګو ترځنګه
د دنګو کړکو(۱) په یو لوی ځنګل کې
او د دې لرې نیستان له سره
یوازې باد تېریده
ځاڅې یې نه درلودې
هیلۍ هم نه وې په کې
یوه زړه دیو بوډۍ
چې یې په تاج کې د دې کلي (کوه نور) ځلیده
وه ملکه د ها وحشي نیستان
او ما ته داسې دیو بوډۍ وویل:
ملنګه واوره کیسه:

---

(۱) کړکې: ناې ها، نلونه

WWW.samsoor.COM

دلته د هسکو هسکو غرونو او د شنو ځنګلونو
د ښاپیریو ملکه بندي ده
نوم یې هوسۍ ده او په کلي کې یې
نارینه زوکړې سره سم د تورې چل زده کوي
هغوی سرو باندې پګړۍ ترې شملې یې هسکې
دیوان ویریږي د هغوی جګړې ته نه شي ورتلای
لات دیو، چې زوی دی زما،
د هغوی جنګ کې شو بې لاس او پښو
ځو یې چې خپل کسات ته
ابلیس نه کوډې زده کړې
او د ابلیس ورته وروستی وصیت همدا و، چې:
دې کلي ته د تګ لپاره

توره تر ملا مه تړه!
لمن کې زر یوسه!
لات دیو د کوډو په زور
هوسې د کړکو د ځنګلو بندي کړه
او ما (ملنګ) سره زاړه شراب وو
چې مې پرې مسته کړه زړه دیو بوډۍ
نو مې ترې راز د دې طلسم وپوښت
چې هغې داسې وویل:
که څوک له دغه نیستان څخه کوم کړکی یوسي

WWW.samsoor.COM

ورنه شپیلۍ جوړه کړي
او بیا یې وغږوي
چې غږ یې لاړ شي آن د هسکو هسکو غرو کلي ته
د ښاپیریو ها ښایسته شهزادګۍ
پیغله نازو یې واوري
هغه چې د ېره په هوسۍ ګرانه وه
نو به نازو د دې شپیلۍ له ستوني
د خپلې ګرانې مورکۍ غږ واوري
کله هوسۍ ،چې نازو پوه کړي په راز
نو به پاچا د ښاپیریو کړي دا کوډې ماتې
یا خوله کړکي څخه ځوک چیرې قلم جوړ کړي
بیا یې د هسکو هسکو غرو د کلي
د ځو زلمیو په سرو وینو کې غوټه کړي
او پرې لیک ولیکي
که دغه لیک نازو ته ورسیږي
بیا هم طلسم د تیارو ماتیږي
نو زه ملنګ، چې په دې راز خبر شوم
پټ په غلا ورغلم ځنګله نه مې یو کړکی مات کړ
هغه مې راوړ د ختیځ تر کلیو
خو یوه ورځ له ورځو
سم چې د لوړو غرونو کلی ته را ورسیدم

WWW.samsoor.COM

شپه مې د لوړو څوکو خواته يوه شنه دره کې
د کوم شپانه په شپېلۍ کې تېره کړله
سهار چې کلي ته راوخوځېدم
کړکۍ مې هېر شو هلته
او چې سبا را ياد شو
په بېړه ورغلم هماغه شپول ته
خو زما برخه دې په اور وسوزي
کړکۍ د ورکو ورک شو
ډېر پسې وګرځېدم
مګر پيدا مې نه کړ
خدای خبر چيرې و پيريانو وړی...؟

## او هغه کړکۍ ما شپونکي پيدا کړ

...او چې کيسه زما د ښکلې مينې
- چې وه ميرمن د تورو تورو سترګو -
دلته راورسيده
نو را په ياد شو ماته
هاغو کلو نه پخوا
د پسرلي يوه ورځ
کله چې زه مې د نيکونو په لاس

WWW.SAMSOOR.COM

هغه جوړ شوي شپول ته بيا ورغلم
چې هلته دمه وکړم
مګر د شپول څنګ ته مې
په حيرانتيا وليدل
څو ناآشنا پلونه
او يو د کړکو ډنډر
يو داسې کړکی چې يو بند يې وله بل څخه په لويشتو لرې
ما هم په خپلو لاسو
ورنه شپيلۍ جوړه کړه
چې اوس پرې هر مازيګر
دادی سندرې بولم
او چې زما دغه کيسه وا وريده ښکلې پيغلې
نويې له ډېرې ويرې
له تورو سترګو څخه اوښکې راغلې
او په ژاړ يې راته داسې وويل:
آه ! خدايه دا څه اورم؟ !
له تانه هيله کوم
نوره شپيلۍ مه وهه !
ځکه چې مور مې ويل:
په هاغه ورځ چې ها زړې ديو بوډۍ
ملنګ ته راز دد ې طلسم وويل

WWW.SAMSOOR.COM

نو چیرته پټ هغه ابلیس واوریده
او پرې خبر یې کړ دیوانو پاچا
لات دیو د کرکې او یا ویرې او غوسې له زوره
د کړکو نیم ځنګل ته اوروته کړ
او داسې هوډ یې وکړ:
له نن نه وروسته لمر خاته لوري ته
په تېره بیا د هسکو غرو کلي کې
چې هر زلمي شپیلۍ ته شونډې وروړې
نو پرې حرام شه ژوندون!
او اې زما لورې!
اې واکمنې په ځوانۍ کې د مرګ!
ولاړه شه! والوځه!
د هسکو هسکو غرو کلي ته
هلته چې لمر راخیژي
او هر زلمي چې غږوله شپیلۍ
نو ځوانیمرګ یې کړه، ژوندون ترې واخله!»
دلته نو بیا زما د ښکلې مینې تورې سترګې
خدای (ج) خبرولې شوې له اوښکو ډکې
نو بیې په ویره ویره
او ساه نیولې ژبه وویل چې:
مګر ته نه یې خبر؟

WWW.SAMSOOR.COM

همدا پرون یې زموږ کوز کلي ته
د یوه زلموټي جنازه راوړه
چې لا هماغسې یې لاس کې وه شپیلۍ نیولې
خلک ونه پوهېدل
چې دا د چا له لاسه؟!
او ستا شپیلۍ خوده هماغه سحرګره شپیلۍ
چې د تیارو پاچا ترې ویره لري
ځکه نو هیله کوم:
نوره شپیلۍ مه وهه
نه چې خدای (ج) مه کړه دا ځوانیو د مرګ
توره واکمنه پر تا پېښه نه شي...
هغه سات مه کړې ربه!
هغه سات مه کړې ربه!

دوهمه برخه

د نازو د ښایسته مانۍ میلمه شوم
څوک چې ریښتیني ژوندون نه پېژني
هغه ویرېږي د مرګي له غږه
آه! د ژوندون غلامۍ
څه ویرونکې یې ته:

WWW.samsoor.COM

او زه هم وویرېدم
نو مې له دې ورځې نه وروسته د شپیلۍ غږول هم پرېښودل
چې مې د تورو تورو سترګو له میرمنې سره
د مینې شور له ترانو نه تش کړ
نو راته څه پاتې شول؟
یوه خولګۍ، یوه موسکا او بیا په مینه کتل
بس هره ورځ زموږ د مینې د کوړګې میلمه وو
خو یوه ورځ له ورځو
چې باد په کریغو کریغو
او قهرجن آواز په زوره نخولې ونې
مامې رمه پنډه کړه
او بیا مې وګنډلې سترګې د شینکي کلي په لارو پورې
ګوندې پرې راشي زما ښکلې مینه
چې یو ناڅاپه مې د سرله پاسه
د سارانیو شنو کوترو سیل راوڅرخیده
او د ځنګله له زړه نه
د یوه آس د ځغاستې غږ راغی
باد لا په کریغو سرو
چې د شنو ونو ترشا
یو څوک په سپین آس را ښکاره شولړې
باد یې د شنه څادر لمنه رپوله شاته

www.samsoor.com

مخ يې نقاب کې پټ و
په خپل کوډګر غږ يې نارې کړې داسې
آهاى !
د هسکو هسکو غرو شپو نيکه واوره
د ښاپيريو د پاچا ريبا ريم
زموږ شهزداګۍ چې دې ژوندۍ وي مدام
يم را لېږلى دلته
او دا پيغام لرمه:
« ته د نازو ميلمه يې !»
نو دغه آس به تا ماڼۍ ته بوځي
زه به دې بېرته تر راتګه پورې
دلته رمه وساتم
او زه حيران شوم حيران
چې خدايه دا به څه وي؟ !
خو شيبه وروسته مې هر څه ومنل
لکه په ما ، چې ښاپيريو وي څه کوډې کړې
نو پر سپين آس باندې مې يون پيل کړ
پر ناآشنا او ناڅرګندو لارو
د شنو ځنګلونو ترمنځ
لکه دنيا چې ټوله ډکه وي له هسکو لويو شنوونو نه
هسې بې سده وم روان خداى خبر کوم لوري ته

WWW.samsoor.COM

په خپله ورک ومه له خپله ځانه
لکه يو څاڅکی اوښکه
د شنه ځنګله له سترګو وڅڅېدم
وبهېدم
او اضطراب مې په هر رګ کې لکه اور ځغلېده
زما په مخ کې يوه شنه دره وه
لکه په پيغله چې شين شال وي هوار
يا په شنو پاڼو باندې اوري آبشار
او شيبه وروسته ګرد له شوه
لړې راغلې
او غبار پريوتو
يوازې لرې نه د مستې شرشرې سندرې
لکه بهير د هستۍ غوږ ته راته
خو لږ چې وړاندې ولاړم
ګرد له والو ته او لمر راوخوت
او خدای (ج) خبر زه وم په کوم جنت کې؟ !
يو پسرلی، يوه ښکلا او يوه مسته وږمه
چې شرشرې نه ورېدل د اوبو سپين غمي په شنې جلګې کې
او د جلګې تر شامې وليده د حورو ماڼۍ
زما په لار کې ښاپيرۍ ولاړې
زلفې يې زما تر هر قدم لاندې فرش

WWW.samsoor.com

او د ماڼۍ په دروازه کې مې نازو ولیده
ها د ښکلا ملکه
خدای(ج) يې جوړه کړې هر اندام په قدرت
کټ مټ زما د ښکلې مینې په شان
سترګې يې تورې تورې
ما ويل هماغه به وي
هره خندا ، هره ادا او هر يو ناز يې هسې
غږ يې هماغه او خوږې خوږې خبرې يې هم
او زه حيران وم حيران
چيرې نازو او چيرې زما د تورو سترګو مینه؟
مګر هغه کټ مټ هماغسې وه
زه لا حيران وم چې نازو له لاسه ونيولم
او په هماغه کوډګر غږ يې راته داسې وويل:
دا ستا قدم پر ليمو
اې زما د مينې پاچا
ستا د شپیلۍ له ستوني
ماته زما د مورکۍ غږ راته
مګر مودې وشوې چې ستا د شپیلۍ ستونی وچ دی
اخر دا ولې وايه
ته خو د مينې او ښکلا ريبارو ې
ته د سندرو پاچا

WWW.samsoor.COM

او ته د تږیو ښاپیریو د مراد چینه وې
وایه درځار شم وایه !
ولې شپیلۍ نه وهې؟
او لکه تېر وختونه
د شنه ځنګله له څنګه
ستا د کوډګرو نغمو غږ نه راځي
چې زه د شنو کوترو سیل کې بیا دروالوځمه
او پټه پټه د ګلونو منځ کې
تا ته نږدې درشمه ډېره نږدې
او ستا د شنې شپیلۍ له ستونې څخه
د خپلې ورکې مورکۍ غږ واورمه
ته پرې خبر یې که نه؟
ستا د شپیلۍ سندرو
د ښاپیریو پاچاهي ویښه کړه
او مورږ په هر څه پوه شو
ما خپله مور وموندله
او اوس زموږ شهزاده
چې «آدم خان» نومېږي
توره تر ملا تړلې
بیا له لات دیو سره جګړې ته وتی
څو چې د کړکو له ځنګله څخه زموږ د خپلواکۍ ملکه

WWW.SAMSOOR.COM

ښایسته هوسۍ خلاصه کړي
او زموږ د کلي غرور بیا وګټي
نو تا نه ځار شم اې د هسکو هسکو غرو شپونکیه
شپېلۍ دې وغږوه
چې د دیوانو طلسمونه مات شي
نو راشه زموږه د ماښۍ مېلمه شه
زه به د خپلو تورو سترګو مینه تا ته درکړم
تا به د غېږې تال کې وزنګوم
تا به د ناز چینه کې ولمبوم
تا ته به درکړم د سرو شونډو څوکې
او تا به مور کړمه د زلفو په خوب
راشه زما مېلمه شه
او ما ته وغږوه خپله شپېلۍ
او زه هم داسې شوم مېلمه د نازو
لکه له ما څخه چې ځان هېر شو
بس د ټول ژوند همدا خوږې ورځې وې
د نازولو د ماښۍ مېلمستیا
د ښایستونو باران
او د شرابو پیالې
د ځلبلونو او ښادیو شیبې
جامې وریښمینې او په زرو کې ډوب

WWW.SAMSOOR.COM

را سره مل به وي ښايسته ښاپيرۍ
د نازو غمزو وه د مينې جنت
هرې خندا يې د زړه زنګ مينځلو
هرې موسکا يې د عشق نور اوراوه
شپه به يې بوتلم
راته تخت به يې کړه خپله سينه
زه لوبيدم لوبيدم
ترڅو به خوب راغى د زلفو ټال کې
نو ما د ښکلو ښاپيريو په دې شنه جنت کې
د ژوند نغمې بللې
او هره ورځ به مې شپيلۍ وهله
خو ياد به ده به مې تل خپله مينه
هغه زما د ژوندون ټوله موخه
هغه د تورو تورو سترګو ميرمن
هغه ښايسته او هغه ټوله مينه
هغه ساده او کليواله پيغله
کله به خوب ته راغله
څه پريشانه او خپه ښکاريده
چې به يې غرونو او ځنګلونو کې نارې وهلې:
«اى زما د ژوند ارمانه!
اې زما د مينې پاچا!

WWW.SAMSOOR.COM

اې پرما ګران شپونکيه !
وايه په کومه ورک شوې؟ !»
- او چې سهار به ويښ شوم
نو د نازو غېږ به لمده وه زما پر سپينو اوښکو
زه د نازو په مکيزو کې ګېروم
زه يې د زلفو په زنځير تړلی
زه يې د مينې په زندان کې بندي
د هغې سترګې هم کوډګرې وې وژل يې کول
کټ مټ زما د ښکلې مينې په شان
تش په همدومره توپېر
چې زما مينه وه د کلي ساده
او دا په خوی ښاپېری
هغه د کلي کوچۍ
دا د ماڼيو حوره
نور يې ښايست هماغه
او تورې سترګې يې هماغسې له مينې ډکې
خو زما خپله مينه نه هېريده
لا يې ياد ونو پر زړه اور لګاوه
بس زه د مينو او يادونو په بستر کې پروت وم
د سوز او ساز پر پوله
د ښاپېريو ميلمه

WWW.samsoor.COM

یاد نازو بندیوان
د خپل هنر قرباني
د خپلې شنې شپیلۍ د سحر اسیر

## آدم جګړې ته راغی

خو یوه ورځ له ورځو
د ښاپیریو په حرم کې یو لوی جشن جوړ شو
د خوشالیو قیامت
او د ښادیو محشر
د نڅاګانو، پایکوبیو او ګډاوو دروبڼ
د مستو مستو خنداګانو څپې
او چې خبر شوم نو آدم و له جګړې راغلی
ورسره لوی لښکر زموږ د کلیوالو ترشا
شمله اوچته، غاړه هسکه، یو سوبمن شهزاده
د هسکو غرونو د ګوربت په شانې
څومره مغرور څومره واکمن شهزاده
چې یې لات دیو یو ځلې بیا و په ګونډو راوستی
لکه فاتح ابدالي
یو بریمن شهزاده
هوسۍ هم وه ورسره

ها زمور د کلي د غرور او خپلواکۍ واکمنه
چې د لویدیځ د تور ځنګله بندي وه
له دې خبر سره حریم د ښاپیریو ته اختر راغی
ماخوګومان کولو
ښایي اسمان د خپلې ټولې خوشالۍ لمنه
نن پر همدوی شیندله
او زمکې ټول د خنداګانو ګلان
د دوی پر سیمه شنه کړل
ددې ښادیو منځ کې
نازو زما څنګ ته راغله
هغه په شنو جامو کې
د ګل په شانې ښایسته ښکارېده
زه یې په مینه مینه ښکل کړم بیا یې وویل راته:
اې زما د مینې او ژوندون سروره !
ته پرې خبر یې، چې دا ټوله خوشالۍ موږه ته تابښلې
د خپلواکۍ واکمنه
زمور هوسۍ همدغه تاګټلې
ستا دا احسان د هیرولو نه دی
ځکه نو زمور شهزاده غواړي خپل تاج تاته درکړي
خو ما نازو له لاسه ونیوه دربار ته ولاړم
د ښاپیریو د حرم دربار و څومره ښکلی

هلته د تخت له پاسه ناست و زموږ غازي آدم خان
چې زه يې وليدم را پاڅېد او راغاړې ووت
بيا يې خپل څنګ ته په تخت کېنولم
راته يې وکتل په مينه مينه
او زما شپېلۍ ته يې لاس ونيولو
سم چې ماورکړه نو يې ښکل کړه
بيا يې پورې کړه په سترګو سترګو
وروسته يې داسې وويل:
د لوړو غرو ،د سردرو اتله !
چې زموږ مات غرور دې وګټلو
غواړم د هسکو سردرو پاچاهي تاته درکړم
او خپله دغه نازولې خور «نازو» هم ستا کنيزه کړمه
ته يې منې او که نه؟
ما په خوله هېڅ ونه ويل
يوازې تاج مې له غلامه واخيست
چې د غازي آدم خان مخ مې ښکل کړ
نو بيا مې تاج ورته پر سر کېښوده:
«د ښا پيريو پاچاهي دې مبارک شه غازي !
ته توريالی يې د هوسۍ ګټونکی
ننګ خو ستا تورې وکړ
زما د شپېلۍ نغمو يوازې تاته لار ښوولې

زما سندرې وې يو ازې د وينېتيا انګازې
اوس چې هوسۍ ستنه شوه
زه به مې هم بېرته خپل شپول ته ولاړ شم
هلته يو څوک لا ماته لارې څارې
او زما يادونو سره مينه کوي
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
زما په تمه ناسته
لا مې په لاره کې پلونه په ليمو ښکلوي
ته پرې پوهېږې غازي؟
هغې به څومره وې سلګۍ وهلې
آه ! چې شيندلې به يې وې څومره اوښکې
زما په ورکو لارو
زه همدا نن ورګرځم
رمه مې پاتې ده او شپول مې رنګ دی
مېږې مې هره ورځ په خوب کې ويني
واړه سيرلي به مې بغارې وهي
او ښکاري آس به مې غوسه وي څومره
تاته دې خپله پاچاهي مبارک
زه درنه ولاړم غازي !
زه درنه ولاړم غازي !
د غازي سترګې شوې له اوښکو ډکې

WWW.SAMSOOR.COM

هک پک حیران چې راته څه وواېي
ښايي غوښتل يې ما په غېږ کې ټينګ کړي
يا مې لاسونه ښکل کړي
يا خو کوم څه وواېي
خو زه په بېړه ترې را پاڅېدم، چې ستون شم بېرته
او چې ماښې نه راوتلم نو مې مخې ته نازو راشنه شوه
هغه حسينه نازو
هغه زړه وړونکې نازو
هغه د مينې چينه
څومره ښايسته وه نازو
خو ما يې ستر ګو ته کتلی نه شول
ما يې ليمو کې د خپل جرم کيسه نه شوه لوستی
د يو نيمګړي عشق د ماتې جرم
د يوې لنډې نيمه خوا مينې د پای او هيرولو جرم
ما ګنهکار د مينې
لا څه ويلي نه وو
چې د سلګيو منځ کې
راته نازو وويل:
زه بې له تا څخه ژوندون نه غواړم
يا مې حلاله کړه په خپلو لاسو
يا خو چې هر چېرته ځې ما هم بو ځه

WWW.SAMSOOR.COM

زه شهزادګۍ د ښاپيريو د کول
زه نازولې د نازونو د کور
زه د ماښيو ډيوه
هو !
زه مغروره ښاپيرۍ به شمه ستا کنيزه
مګر د خداى (ج) لپاره
چې ما يوازې د مرګي غېږې ته مه ورسپاره
نوما د دنګو دنګو غرونو شپونکي
چې د رګ وينې مې د لمر له پلوشو جوړې وې
د هغې اوښکو ته نور نه شو کتى
ځکه مې لاس ورکړ او دواړه را روان شولو د غرو کلي ته

## تلو له زيارت څخه تر کلي پورې

مورې لا روان وو تلو د غرو کلي ته
لار مو وه ټوله په ځنګلو پوښلې
يوازې لرې نه ليدلې مو د غرونو څوکې
چې په لمن کې يې زمونږ د مينې کلى جوړو
چې هلته زما د تورو سترګو ښکلې هم اوسېده
مورې لا ځنګله کې د خيړيو او زيتونو منځ کې لار وهله
چې يو ناڅاپه اسمان وريځو ډک کړ

WWW.samsoor.COM

څه تورې تورې وريځې
لکه شګوم د لاټ ديو
او لکه دود د دوزخ
لکه د تور ښامار له ژامو څخه وتې لړې
راغلې اسمان يې پټ کړ
موږ د باران له ويرې
ديو زاړه او دنګ چنار ډډې ته ننوتو
ښکلې نازو ويرېده
او ټوله پټه وه زما په غيږ کې
زموږ سترګې وې اسمان ته پاتې
خو باران نه وريده
يوازې تالنده و بريښنا کيدله
موږ لا حيران وو
چې ناڅاپه له اسمانه ځنې تندر پريوت
هو !
تندر پريوت او زموږ پرچنار را پريوت
ها دنګ او زوړ چنار چې موږ يې په غيږ کې پټ وو
زموږ تر مخې څانګې څانګې شو او اور پرې بل شو
چنار لمبه لمبه شو
چنار ايرې ايرې شو
اور په ځنګله پورې شو

شنې پاڼې وسوځېدې
نازو له ما زه له نازو نه ورک شوم
هر خوا لوګي هر خوا لمبې تاوېدې
هره خوا څانګې ماتېدې سوزېدې
ما په نازو پسې نارې وهلې
خو هغه چیرې خدایزده زه چیرې وم
یوازې اور را تاوېدلو هر خوا
خو څو شیبې وروسته مې ولید له شنه کوتره
چې د لمبو له منځه ووتله والوتله
نو زما زړه صبر شو ومې ویل:
آه خدایه شکر چې نازو دې بچ کړه
او چې نازو والوته
زه لا د اور د ښامار خولې ته پروت وم
لا رد وتلو له لمبو ورکه وه
ما ویل چې سوزم دادی اور اخلمه
چې یو ناڅاپه مې پر سر د کوم چا سیوری خور شو
خدایزده سیمرغ و که هما وه د ژوند
بس زه یې پورته کړم هوا ته د سره اور له منځه
د کوم جنت په لور یې بو تلمه د شور له منځه
لرې اوږدې لرې د شنو لویو ځنګلونو منځ ته
د چنارونو د خیړیو د زیتونو منځ ته

WWW.SAMSOOR.COM

هلته وه پټه د پيريانو زړې ونې سره
يوه مانۍ ولاړه
د سپينو ستورو له الماسو ، له مرمرو جوړه
فضايې ټوله وه د مينې له سندرو جوړه
د سپينو سپينو شرشرو د ترنم په منځ کې
يوه سرلوړې يوه دنګه مانۍ
هومره ښايسته وه لکه خيال د شاعر
څه ځلېده دغه ګلرنګه مانۍ
او زه يې مخ ته ولاړ
چې خدايه څه به کېږي
زما د ژوند دا سرګردانه پانه
بيا د کوم باد پر لمن پريوتله
زه لا حيران وم حيران
چې چا مې لاس ونيوه
آه ! څومره ښکلی لاس و
څه نازولی،
څومره سپين و
څومره پوست و خدايه !
او چې د لاس ميرمن مې وليدله
يو ځلې بيا له هوښه ووتلم
يوه د حسن پرښته مې وه ولاړه مخ ته

www.samsoor.com

کټ مټ زما د هغې مینې په شان
کتل هماغه، ناز هماغه او ښکلا هماغه
مینه هماغه، شور هماغه او ځلا هماغه
ما ویل چې ومې مونده
ما ویل چې مینه مې ده
ما ویل قربان دې شمه ومې موندې...
مګر افسوس افسوس
چې زما مینه نه وه
زما د ښکلې سترګې تورې تورې
خو ددې ښکلې سترګې بل ډول وې
ویشتل یې هسې وو وژل یې هسې
کتل یې هسې وو ،موسل یې هسې
یوازې رنګ یې زما د مینې نه و
دا سترګې شنې وې د اوبو په شانې
شنې د اسمان شنو ښیښو په شانې
بس زه پرې پوه شوم چې پردۍ ده زما مینه نه ده
خو دې هماغسې کتل راته په مینه مینه
ما ویل چې څه دې اې د حسن او ښایست ملکې !
ته چې تصویر یې زما د ښکلې جانان
یوازې سترګو کې یې رنګ نه لرې
د تورو تورو لیمو جنګ نه لرې
WWW.SAMSOOR.COM

وايه چې څوک يې او له کومه راغلې؟
د کوم طلسم له سدومه راغلې؟
خو ښکلې پېغلې لا ځواب کې راته هېڅ نه ويل
لا يې همداسې زما سترګو ته کتل په مينه ورېي نظر
خو شيبه وروسته را نږدې شوه ماته
بيا يې ښايسته ليچې را پورته کړلې
د مړوندونو هار يې وتاړه زما پر غاړه
او زما پر شونډو يې د شونډو باران ووروا ه
د تودې غېږې د سکروټو کان يې ووروا ه
او زه يوه شيبه کې ډوب شومه ،هم وسوزېدم
د خوند په سيند کې، د هوس په اور کې
نو دغې پېغلې راته داسې وويل:
زه له اوو غرونو اوو سيندونو ها خوا
د ماښامونو د وطن شهزادګۍ
او د لات ديو ها نازولې لور يم
چې په ځوانۍ کې د مرګونو واک په لاس کې لرم
د هغو دنګو شاه زلميو ژېيو مرګ وم چې شپېلۍ غږوي
چې چېرته ناست وي په کېږدۍ کې
او سپوږمۍ نڅوي
ما د هغو له ځوانيمرګو زړونو وينه ويسته
ما يې په ستوني کې وژله د ژوندون سندره

WWW.SAMSOOR.COM

او ورته غوږ کې مې ویله له هستۍ نه د بیلتون سندره
ما زلمي ځکه وژل
څو چې په خپلې شپیلۍ مات نه کړي زموږه ابلیسي طلسم
نو زه د لمر د راختو سیمې ته
او داد هسکو دنګو غرو کلي ته
د دې لپاره وم راغلې ګرانه!
چې د زلمیو د شپیلیو ستوني پرې کړمه ګونګې یې کړمه
خو یوه ورځ له ورځو
ستاسو پر کلي باندې پېښه شومه
ته مې د شنې څېړۍ تر سیوري لاندې ناست ولیدې
چې په کوډګره ساه دې
چا ته شپیلۍ وهله
ته ډېر ښایسته ښکارېدې
لکه ریدۍ لکه غاټول د بیدیا
لکه روڼ ستورۍ د سبا ځلیدې
او ستا کوډګرې شپیلۍ
ستا ښکلې دنګې ځوانۍ
له مانه زړه واخیسته
زه چې د ښمنه د شپیلیو د سندرو ومه
زه چې وژونکې د ځوانیو د لښکرو ومه
ما !

WWW.samsoor.COM

همدا ما هم پر تا زړه بايلوده
او زه پر تا هومره مينه کړم خداى (ج)
چې ليونۍ شوم هر څه هېر شول رانه
ځان رانه ورک شو او جهان مې ورک کړ
د خپل ښايسته غرور کاروان مې ورک کړ
ته مې ونه وژلې، نه مې دې شپېلۍ واخيسته
يوازې څنګ ته به دې کيناستم
او ټوله ورځ مې تاته کتل
روح مې دا ستا د شپېلۍ ټال کې زنګاوه زنګاوه
ژوند مې ستا عشق کې ډوباوه ورکاوه
خو يوه ورځ له ورځو
چا رانه ورک کړې رانه غلا يې کړلې
رانه يې يوړې خدايزده کوم لورې ته
نه دې د ښکلې شپېلۍ غږ راتللو
نه مې دې پل، نه کوم اثر موندلو
زه ليونۍ شوم ليونۍ ليونۍ
لکه بنګساره سارانۍ ليونۍ
خو يوه ورځ مې په دې دښتو کې ابليس وليده
ما ورنه ستا د نوم تپوس وکړلو
او د هغه له خولې خبره شومه:
چې ستا شپېلۍ زموږ طلسم مات کړ

WWW.SAMSOOR.COM

او آدم خان ستا د نغمو په مرسته
د آزادۍ هوسۍ ستنه کړه بېرته
ما ویل چې ښه شوه ګوندې هېر به دې کړم
ګوندې چې مینه دې په کرکه واوړي
ځکه چې تا زموږ غرور وواژه
خو زما دا هیله ترسره نه شوه
ستا مینې لا په زړه کې زور واخیسته
عشق دې له مانه د ژوند پور واخیسته
در پسې وګرځېدم وګرځېدم
ایله مې نن د خپل طلسم په زور
په دې ځنګله کې دا سې وموندلې
اوس هم لا نه پوهېږم خوب دې که ربښتیا دې وینم
نه نه ریښتیا ده ته مې غېږه کې یې
زه ستا د مټو زور په ځان کې وینم
او ستا د مینې شور جهان کې وینم
له نن نه وروسته دا ماڼۍ او یو لښکر د مغربي ښاپیرو
دغه سپرلۍ دغه ښکلا دغه ژوند
یو زه او ته به یو او مینه به وي
ته به زما د زړه او ځان پاچا یې
زه به دې غېږه کې ټول عمر تېر کړم
له تا به تل چارپیرو مه لیچې

WWW.SAMSOOR.COM

په خپلو زلفو به دې پټ ساتمه
سپينه خولګۍ به دې درکوم درکوم
په ښکلي ناز دې نازوم نازوم
ته دې شپيلۍ غږوه
زه به دې ناڅمه سرود ته لکه سپينه ماره
ته دې ځوانۍ ځلوه
زه به دې مخ ته شمه شنه هينداره...

## او زه شوم داسې ددې پېغلې اسير

نو له دې ورځې وروسته
زه د لويديځ د ماښامانو د ښار
د شهزادګۍ اسير شوم
د چا د شنو سترګو په دام کې ګير شوم
د وخت کاروان همداسې تللو تللو
او زه يې هم ځان سره وړلم يوه ورک منزل ته
ورځ په جامونو او سندرو کې ډوب
شپه هم د غېږې په خوندونو کې ډوب
ومه د خداى (ج) د نعمتونو مېلمه
د ښايستونو او رنګونو مېلمه
مګر افسوس چې دا جنت جنت ژوند

WWW.SAMSOOR.COM

ماته دوزخ دوزخ و
زما لیوني زړګي هماغه ورکه مینه غوښتنه
ها کلیواله هغه دنګه نجلۍ
هغه حسینه ها ملنګه نجلۍ
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
ها لومړنۍ ها آخرینه مینه
چې زه یوازې د هغې په یاد او خیال ژوندی وم
د ساه مې تله راتله هغې سره وو
زه له هغې، هغه له مانه ډکه
هره شیبه مې زړه هغې سره و
مګر افسوس چې اوس اسیر وم اسیر
هو کې اسیر له دې فرنګې سره
دغې د شنو سترګو ګلرنګې سره
لکه تړلی په کمخوبې چې یم
نه ترې وتی نه تښتیدلی شومه
زه یې د کوډو په زور بند ساتلم
پر ما یې وکړ ابلیسي طلسم
پر ما راتاوو د وریښمین وریښمین نظر زنځیر
د ورځو، میاشتو ،د کلونو یو کوډګر رنځیر
خو له کلونو یو کال
او یوه ورځ له ورځو

WWW.SAMSOOR.COM

چې په ځنګله باندې را پرېوتل
دو سپنو وحشي آسونه
له رنګه تور په سترګو سره وو څه ياغي آسونه
چې پرې سپاره وو پېريان
په سر يې الوتل د سربو او فولادو كارغان
او دې كارغانو د غضب اور په ځنګله وشينده
نو د شين سترګې ماڼۍ هم تالا شوه
خدايزده پخپله د لويديځ شهزادګۍ څه شوه
او په كومه ولاړه
زه هم آزاد شوم آزاد
مګر حيران ومه او نه پوهېدم
چې لا د وخت په زړه كې څه پاتې دي؟!

دربيمه برخه

پر شينكي كلي مې ورېږي د اورونو باران

چانه پوښتنه وكړم:
زما د ژوند دا ناڅرګنده لاره چېرې رسي؟
آهاى!!!
له چانه وپوښتمه:

WWW.SAMSOOR.COM

چې زه په کومه ولاړ شم؟
دا څه د سرو پيريانو ځغاسته ده
او څومره شور دی؟
زما د ناز په خوب ويده کلي ته کوم لوري نه لار تللې ده؟
وحشي آسونو هر څه پښو لاندې کړل
د هسکو دنګو غرونو کلي، هم ځنګل هم خلک
نو زه به چيرته ولاړ شم؟
خدای (ج) خبر زما پر شپول به څه را پېښ وي
آخ ! ما ته ګرانې رمې
کومو ليوانو به داړلې يې لا داړي به دې
زما اصيله ښکاري آسه ! خدايزده
چې به د کومو وسپنيزو آسو
په تور درو بڼ کې ګير يې؟
آه ! خدايه نه پوهېږم
چې زما ودان کلی به څومره رنګ وي
خدايزده زما د تورو تورو سترګو
هغه بيبا که
هغه مسته ليونۍ مينه به چيرې وي اوس؟
خدايه قربان دې شمه ويې ساتې !
خدايه ! ړندې کړې د پيريانو سترګې
که به بد ګوري ورته

WWW.SAMSOOR.COM

دادی درځمه میني !
زما د تورو تورو سترګو میرې !
او له دې وروسته مې لټون پیل کړ
د خپلې میني لټون
خدایزده چې چیرې به وي
زه مې د کلي په لور مخ ته ځمه
لا د پیریانو لښکر ځغلې هر خوا
کله چې کلي ته را ورسیدم:
آه خدایه دا څه وینم؟
کلی مې څومره بدل شوی په رنګ
هر څه یې سره دي، دیوالونه او کوڅې یې سرې دي
د ځمکو فصل، ګودرونه او ویالې یې سرې دي
زلمي ځادرنه لري
د نجونو سر یې لوڅ دی
ربه زما پر کلي څه راغلي؟
چا یې غلا کړې ده د رنګ شهزادګۍ
چا یې لوټلې ده د خوند شهزادګۍ
زما د ښکلې ماشومتوب تاج محل
زما د مستې ځوانۍ ښکلی حرم
زما په ستورو ښکلې شپې هم چا سرې کړې رانه

ځو مره بد رنګه شپې دي
ښکاري په وينو سرې دي
کليه ! په تا مې دا سې شپې چيرې هم نه لورېږي
زه دې ليدلی دا سې نه شم کليه !
د وينو رنګ کې مې ډوب نه خوښېږي
زه د رنه ځمه کليه
د هغو غرو په لوري
چې مې د مينې راز په زړه کې لري
چې مې د مينې غږ په خوله کې لري
ښايي چې تا به هېر کړم
خو خپله مينه هيرولای نه شم
هغه د تورو تورو سترګو ميرمن
هېڅکله هم له زړه ويستلای نه شم
ځکه هغه ما هيرولای نه شي
زړه نه مې لرې غورځولای نه شي
ورځم د غرونو غېږ ته
ګوندې چې هلته به يې بيا پيدا کړم
هو زه بارو لرم چې وبه يې وينم
ځکه چې خدای (ج) هم د مينو مل دی.

او ما د تورو غرونو لار ونيوه

WWW.SAMSOOR.COM

ځمه د غرونو خواته
او وايم دا سندرې:
«ليونۍ ميني کړم اشنا له بيابانه سره
پربږدئ چې ګرځم ليونی په غرونو
د ليونۍ مينې له لاسه
ناست يم د غم د غره د پاسه
د تصور په تال زنګېږم له خپل ځانه سره
پربږدئ چې ګرځم ليونی په غرونو
د چا د شوخ نظر لپاره
په غرونو ګرځم ناکراره
د مينې شور مې لګېدلی له اسمانه سره
پربږدئ چې ګرځم ليونی په غرونو.»
خو يوه ورځ له ورځو
کله چې ورسېدم
يوې رڼې او ښايسته چينې ته
راته د تېرو وختو خيال پيدا شو
پر زړه مې و وريدل تېر يادونه
هغه د پيغلو ډله
چې به چينې ته راتلې
په خندا ګانو مستې

WWW.SAMSOOR.COM

لکه د ګلو څانګې
په نرۍ ملا ماتيدې
تر شنو منګيو لاندې
او هغه ورځې زما د تاندې ځوانۍ
چې په سندرو مست وم
څومره په سوز به مې شپيلۍ وهله
هغه ښايسته وختونه
ها د جنت عمرونه
لکه يو خوب چې وينم
خو اوس چينه ميراته
ګودر يې ورک دی لاره هم نه لري
ښکاري کلونه کېږي
چا ورنه څاڅکی اوبه نه دي وړي
هېچا يې نه دی په هينداره کې وربل جوړ کړی
چا يې په غاړو کې خندلي نه دي
چا يې تر څنګه د شپيلۍ نغمې وهلې نه دي
ما په ژړا کې ورته داسې وويل:
خو ګوره ښکلې چينې
دادی زه بيا راغلمه
په زړه زخمي په ژړېدلو سترګو

خير دی که ته هم راته ژاړې په بې غږه ستوني
زه به نن بيا درته شپيلۍ ووهم
زه به نن بيا درته زړې خاطرې
په چيغو وژړوم
دا دی چينې درته شپيلۍ وهمه
راځه چې دواړه په سندرو او نغمو وژاړو
راځه چې دواړه د غمونو په شيبو وژاړو
او ما شپيلۍ په شونډو بيا کېښوده
يوه د سوز او ساز لمبه مې بل کړه
ما ويل چې نن د چينې هډ سوزوم
ما ويل چې نن په ځنګله اور لګوم
او له دې ورځې وروسته
چې هره ورځ به غرورغو کې په لټون ستړی شوم
نو مازيګر به د همدې چينې تر غاړې راغلم
او د شپيلۍ له ستړي ستوني به مې سر کړه د غمونو نغمه
زما شپيلۍ، زه او چينه، بس همدا درې ملګري
چې يادول مو د ورک عشق هغه زاړه يادونه
کلونه تلل، کلونه اوښتل او ژوند تېرېده
د عمر سيند ستړی ستومانه لا پر مخ بهېده

خو يوه ورځ مازيګر

WWW.samsoor.COM

کله چې زه د چينې خوا کې ناست وم
او له شپيلۍ سره مې يو ځای ژړل
ناڅا په غبږ د کوم يو آس راغی
چې د ځنګله د شنو زيتونو او څيړيو منځ نه
د چينې خوا ته راته
واه څومره ښکلی آس و
لکه د شنو پاڼو په منځ کې را روانه بيړۍ
او هومره سپين ولکه واوره
لکه لاس زما د ښکلې جانان
او پردې آس وه يوه پيغله سپره
زلفې يې بادونې په اوږو اخيستې
او د ټيکري څنډه يې
باد رپوله داسې
لکه بيرغ د غزا
هومره ښايسته وه پيغله
لکه د قاف له غرو راغلې د ارم ښاپيرۍ
د سترګو رنګ يې و زما د ښکلې مينې په شان
کټ مټ هغې غوندې وه
لږ څه مغروره او عاصي ښکارېده
زما د جانان سترګې له مينو ډکې

WWW.samsoor.COM

خو ددې سترګې وې له وينو ډکې
زما د يار له کتو ناز وربېده
خو دا کاته جګړه د تورو کوي
نو زه پرې پوه شوم چې زما مينه نه ده
راغله او راغله د چينې تر څنګه
هغه مغروره قهرجنه نجلۍ
هغه حسينه کبرجنه نجلۍ
په ما يې داسې غږ کړ:
ولې دې بيا يمه راغوښتې ځوانه؟!
وو ايه څه وايې زه دلته يمه
خو زه د غرونو پرديس
او د ځنګلونو ملنګ
زه د چينې مينجور
او د ښکلا ليونی
د څو شيبو لپاره
ددغې پيغلې په ښايست کې ډوب شوم
زړه کې مې داسې وويل:
«آه خدايه څومره ده هغې ته ورته
ها زما ورکه مينه
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
اوس خدايزده چيرې به وي

WWW.SAMSOOR.COM

ايا دا پيغله به خبره نه وي
چې زما د تورو تورو سترګو ښکلې چيرته اوسي؟
ځکه نو ما ورځخه وپوښتل چې:
زه د دې کلي ليونی شپونکی يم
ټول ژوند مې مينه کړې
يوه سپيځلې مينه
خو اوس د ورکو ورکه
يوه باد وړې مينه
کټ مټ دا ستا په شانې ښکلې مينه
اوس پسې ګرځم ليونی په غرونو
خو راته وايه نجلۍ
چې ته د کوم جنت راغلې ښاپيرۍ يې دلته؟
هغې زما سترګو ته نيغ وکتل
آس نه را کوزه شوه زما څنګ ته راغله
راته يې بيا بيا ښه په ځير وکتل
لږ څه موسکۍ شوه بيا يې داسې وويل:
زه خو پردۍ نه يم شپونکيه کليوال دې يم
ستا کليوال راته «مغروره» وايي
ښايي چې نوم به مې وي
زه هم مينه يم او ټول عمر مې مينه کړې
کلونه وشول ستا په کلي کې زيږيږم او بيا ببرته مرمه

WWW.samsoor.COM

زه ستاد کلي د پیغلوټو داروا وو ملکه یم ځوانه
درې ځلې مړه شوم بېرته وزيږيدم
درې ځلې يې ووژلم
درې تورو ووژلم
مګر پوهېږې چې زه بیا ولې دنیا ته راځم؟
دا هر څه ستا ددې شپیلۍ له لاسه
دغه کوډګره سحرګره شپیلۍ
چې هر پوکي سره د زرو طلسمونو دروازې ماتوي
هره نغمه يې ده د کوډو ځاله
او هر سرود يې کرامات وروي
کله چې ووژل شم
ستا د شپیلۍ په نغمو
بېرته ژوندۍ شم او دنیا ته راشم
او دادی بیا ستا د شپیلیو سرود
ځانته را وبللم
زه د خپل کلي د پیغلوټو اروا
او زه هینداره د پیغلوټو د نیمزالو هیلو
بیا ستا شپیلۍ ژوندۍ کړم
نو راته ووایه چې څه وکړم
په چا باندې ځان بیا ووژنم؟

WWW.SAMSOOR.COM

وو ایه بیا د خپلو وینو جام په چا وشیندم؟
وو ایه بیا چیرته سلګۍ ووهم
او چیرته ومرمه بیا؟
د ښکلې پیغلې دې خبرو ته حیران شوم حیران
کوم وژل؟!
کومې کوډې؟!
کومې وینې؟!
آه خدایه! دا څه اورم
وو ایه ښکلې پیغلې ځوک دې وژني؟
دا ستا د حسن قاتل کوم ظالم دی؟
وو ایه ځار دې شم کیسه دې وکړه
اې نجلۍ!
زه درنه همدومره غواړم
چې د خپل ژوند ټوله کیسه دې وکړې
د ښکلې پیغلې سترګې
لړې
او ډېرې لړې وګنډل شوې
شونډې یې ورپیدې
یو څه په سوچ کې ولاړه

او نجلۍ داسې راته وکړه کیسه:

WWW.SAMSOOR.COM

زه د دې کلي يوه مسته پېغله
هومره مغروره ،چې به خلکو د «مغرورې» په نامه پېژندم.
يو ځوک پر ما مين او زه وم پر هغه مينه
نوڼر کلونه پخوا
يو کال هغه وخت
چې لا زموږ کلي کې فصل د غنمو شين و
هغه مهال چې کليوال وو له لاتديو سره جګړې ته تللي
هغه د وياړ کلونه
هغه د تورو فصل
چې شا زلميان مو د غزا ډول سره
په اتڼو اتڼو جنګ ته ورتلل
زما مين هم چې د کلي يو مغرور زلمی و
توره تر ملا کړه او خپل ښکلی آس يې هم زين کړ
هغه غزا ته تللو
د مخه ښې په وخت يې دا سې وويل:
«غزا ته ځم په وطن جنګ دی
يوه خوله را کړه چې مې زړه د زمري شينه»
او ما هم پورته کړ منګی اوږې ته
او خپل مين ته مې د تلو په وخت کې داسې وويل:
«جانانه جنګ ته ځان تيار کړه
سنګر ته پاس به او به زه د رخېژومه»

WWW.SAMSOOR.COM

زموږ ټول کليوال جنګ ته ولاړل
او له لات ديو سره جګړه پېښه شوه
زموږ جګړه نه وه د «ميوند» دښته کې
څه خونړۍ جګړه وه
څه ليونۍ جګړه وه
چې د لات ديو ها مغربي ديوانو
زموږ د کلي ډېر زلمي ووژل
زموږ بيرغچي يې هم په غشي وويشت
هغه ناري کړې هلۍ لوېږمه
بيرغ اوچت کړئ
او زه د هغه خواته ورغلم او به مې وروړې
خو د هغه په وينو سرو منګولو
نور د بيرغ اوچتولو توان نه درلوده
د غزا لوړه جنډه ورو ورو پرېوتله ورنه
هغه په خاورو لويده
ځکه خو ما منګې پر زمکه کېښود
بيرغ مې خوا پورې ټينګ ونيولو
او مخامخ مې د غازيانو پر سنګر پورته کړ
جنډې له باد سره نڅا پيل کړه
زموږ ستړي غازيان
زموږ تږي غازيان

WWW.samsoor.com

آه خدایه ! څومره یې په وینو سره وو
ما خپل مین په کې لیدلی نه شو
خدای (ج) خبر چیرې به لات دیو ته مخامخ ولاړ و
ما ویل چې هر چېرې وي
خو زما ناره به اوري
ځکه مې غږ پرې وکړ:
«که په میوند کې شهید نه شوې
خدا یږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه
خال به د یار له وینو کېږدم
چې شینکي باغ کې سور ګلاب وشرموینه»
او زما له دې غږ سره
زلمو کې وینه تا وشوه
غازیانو چیغې کړې:
الله اکبر ! !
ټول له مورچو ووتل
میوند د اور تنور شو
وحشي آسونه یو پر بل وختل
سرونه والوتل لاسونه پرې شول
او ما د تورو په بریښنا کې ولید خپل ننګیالی
ها زما مین چې د لات دیو لاس یې په توره پرې کړ
خو خپله هم د مغربي دیوانو تورو وخوړ

هو ! زما مين شهيد شو
زه هم کوم چا په غشي وويشتمه
او ما د مرګ په وخت کې دا وليدل
چې د لات ديو لښکر تالا ترغې شو
ټول مغربي ديوان يې ووژل زموږ شازلمو
او چې د سوبې بيرغ
شو تر آسمانه پورته
زموږ کليوالو زه او زما مين په خپلو اوږو پورته کړلو
او د پاچا په امر
د ښاپيريو په ماڼۍ کې خښ شو
زموږ په زيارت کې ښاپيريو پاچاهي جوړه کړه
هلته زموږ زيارت و
زموږه دوه مينو
چې دواړه ښنګ په ښنګ د مينې په خوب پريو تلو
او د کلونو د ارمان غېږې مو هلته يو په بل تودې کړې
خو ما د خپل مين د غېږې جنت ته پرونه ليد
ځکه چې ستا شپيلۍ د نازله خوبه ويښه کړمه
ستا دې کوډګرې شپيلۍ
يو ځلې بيا د دغه کلي پر لمن راشنه کړم
دا ځلې بيا وم يوه مسته او مينه پېغله
له ښکلا ډکه او مغروره پېغله

WWW.samsoor.COM

هو مره مغروره چې به خلکو د «مغرورې» په نامه پېژندم.

خو دا ځل زموږ کلی بدل و بدل

زه ورته راغلم خو د کلي رنګ بدل ښکارېده
هر څه يې سره وو
لکه وينه
لکه قهر
لکه اور د دوزخ
دا ځل زموږ پر کلي
د شمالي پيريانو سور لښکر يرغل کړی و
د قاف له غرونو هاخوا
د ځنګلونو د ښار
او د سرو ييږو د ځنګلونو پيريان
ددې پيريانو د لښکر مشر «اورديو» نومېده
هغه هم زموږ د کلي
د خپلواکۍ پر ملکې مين و
هغه هم زموږ هوسۍ له ځان سره شمال ته بوتله
د ښاپيريو سلطنت يې رنګ کړ
او زموږ زيارت ته يې هم اور ورته کړ
د آدم خان پر ځای يې راوست يو «بوډا چو پړ ګر»

WWW.SAMSOOR.COM

دا چوپړګرو زمونږ د کلي کوډګر
چې له ابليس څخه يې کوډې زده کړې
او په جادو يې پاچاهي د ښاپيرو ورانه کړه
خدای خبر ستا ها نازولې نازو چيرې ولاړه
او خدايزده نورې ښاپيرۍ يې څه شوې
اور ديو مو کلي ته پيريان راوستل
او لښکريانو يې په خپلو تورو
کلی د سرو وينو باران کې ډوب کړ
له يوه کاله وروسته
اور ديو زمونږ کلي کې
د خپلو بوډاچوپړ په مرسته پاچاهي جوړه کړه
د شمالي پيريانو سره پاچاهي
چې به بوډاچوپړګر
زيندۍ پر غاړه
د پيريانو بنده ګي کوله
او په دې ډول يې زمونږ د کلي
د پيرېو وياړ ته اور ورته کړ
خو زمونږ سپيڅليو کليوالو
له پيريانو سره جنګ ته ملاوې وتړلې
او د زيارت يو مستانه مينجور
هغه سپيڅلي ملنګ

ها بابه قو

ها ليوني قلندر

چې يې د سترګو په برېښنا کې ټول جهان ځايېده

زموږ د زيارت تر ړنګېدلو وروسته

رباب تر ملا کړ سر يې وتاړه په داسې جنډه

چې په کې تورې، سرې او شنې کرښې وې

د کلي څو مست مستان او قلندر زلمي يې

سره را ټول کړل د قيام لپاره

د عشق په نوم يې سره ورکړل خپل زلمي لاسونه

چې هم هوسۍ وګټي

او هم د سرو، سرو شمالي پيريانو

لښکر له کلي نه بهر وشړي

زما مين هم له ملنګ سره ولاړ

زه مې مين سره يوځای تلم د پيريانو جنګ ته

او يوه ورځ له ورځو

چې د پيريانو لښکر

زموږ د کلي د غنمو فصل وسوزاوه

په هغه ورځ ماله همزولو سره

د مستو مستو ليونو لښکر ته

له دې چينې څخه اوبه وروړلې

کله چې اور په کرونده کې بل شو

WWW.samsoor.com

او سره پیریان ورنه چارپیره په نڅا لګیا وو
ما او همزولو مې په چیغو چیغو
هغوی ته وکړې ښېرا
هغوی چې زموږه دا ښېرا واوریدې
څه په غوسه شول چا کټ کټ وخندل
موږ لا ښېرا کولې
چې یو ناڅاپه د بوډا چوپړګر
یوه نااهله بچې
هغه زما کلیوال
چې د پیریانو عبادت یې کاوه
خپل غشي زما پر ټټر و ورول
زه یې بیا ووژلم
مګر دا ځل د مرګ خوند هو مره تریخ و
لکه د زهرو پیاله
ځکه د خپل کلیوال لاس وژلم
خپل لاس وژلم په پردیو تورو
خپلو وژلم او پردو لیدلم
خدایه ! څه سخت ساعت و
خدایه ! قربان دې شمه څومره تریخ و
هو زه یې ووژلم
او خپل مین څخه یې بیله کړمه

WWW.SAMSOOR.COM

خو دا بيلتون مې هومره اوږد هم نه شو
څکه چې ستا شپيلۍ يې مزي لنډ کړل
ستا دې کوډګرې شپيلۍ
يو ځلې بيا د دغه کلي په لمن کې شنه کړم
دا ځلې مسته نه وم
مګر غرور مې درلود
هومره مغروره وم چې خلکو د «مغرورې» په نامه پېژندم
بيا راغلم خپل کلي ته
خو دا ځل هم کلی بدل ښکارېده
کلي د سرو پيريانو تيغ لاندې لا ساه راکښله

مګر لات د يو ژوندی و

سم چې پيريان زموږ پر کلي راغلل
ابليس لات ديو خبر کړ
او دا کيسه يې وکړه
چې اور ديو څنګه زموږ له کلي څخه بوتله هوسۍ
څنګه زاړه چوپړګر وپلورله
هغه د هسکو هسکو غرو د خپلواکۍ ملکه
د کنګلونو د هېواد پر پيري
او په دې ډول د اورديو او لات ديو

WWW.SAMSOOR.COM

هغه زړه او پخواني دښمني بيا ژوندۍ شوه
لات ديو د سروزرو كاروان را بار كړ
او هغې دښتې کې يې واړول چې
په لومړي ځل يې وابليس ليدلی
دا ځل يې بيا هم د ابليس په مرسته
او هم د كوډو او د زرو په زور
زموږ د كلي ښكار ته ملا ټينګه كړه
سم چې د دنګو دنګو غرو د كلي
زلمو پيريانو سره جنګ ته ملاوې وتړلې
نو پر هغوی يې د سرو زرو باران ووراوه
ښايي هغوی باندې يې كوډې وكړې
هغوی يې وويشل په څو لښكرو
او هر لښكر ته يې بيا دا سپ وويل:
ولاړ شئ !
جګړې ته د پيريانو ولاړ شئ !
او د پيريانو دوستان هم ووژنئ
هر څوک چې وي
كه كليوال مو هم وي
ويې وژنئ !
ويې تړئ !
مېنو ته يې اور ورته كړئ !

WWW.samsoor.COM

هر چا چې ډېر وو ژل
زه به د کلي پا چاهي ورکړم هغه لښکر ته
هر چا چې ډېرې وينې وبهولې
هو مره به يې ډکه کړم لمن له زرو
او له دې وروسته شو زموږ کلی د وينو کلی
يو د اورونو او مرګونو کلی
د سيند او به زموږ له کلي څخه
د تېريدو په وخت کې سرې اوښتې
او باد به تل د مړو کوپړيو ايرې ځان سره وړې
دا ښکاره نه وه چې څوک وژني
يوازې کلی و په وينو کې ډوب
يوازې مړي په کوڅو کې سر په سر پراته وو
خو خدای(ج) خبر چې کليوال مو خلاصيدل څنګه نه؟!
جګړه د «ديو» او د «پيري» ترمنځ وه
او ګوزارونه وو د دوی د متو
مګر سرونه به زموږ د کليوالو پرې شول
پښې او لاس به زموږ د کلي د ځوانانو مات شول
پيريان لښکرو څخه نه وېريدل
د هغوی ويره له ملنګ څخه وه
او د هغه له مستو-مستو شاه زلميانو ځنې
ځکه يوازې وو هغوی

WWW.SAMSOOR.COM

زموږ د کلي د دښمنو دښمن
د زيارتونو مستانه مينجور
په اتڼو او په سندرو کې غزا کوله
هغه اور ديو او لات ديو دواړو سره جنګ کولو
او کليوالو ته يې تل د اويل:
پام چې غلط پرې نه شئ
لات ديو زموږ د کلي زړو دښمن دی
راځئ د خپلو کليوالو وژل پرېږدو
له پردو سره جګړې ته وو ځو
هم له ديوانو هم پيريانو سره
د خدای (ج) لپاره زما د کلي خلکو !
اخر په تاسو دا څه چل شوی دی؟
نيم په اور ديو خرڅ شوي
نيم په لات ديو اوښتي
هغوی موسيل کوي
او تاسو يو د بل د وينو تږي
د خدای(ج) لپاره ځان مو وخوځوئ
لږ څه راوېښ شئ او د متو په زور
دواړه له دې کلي بهر وشړئ
دواړه زموږه د اوږو ماران دي
او خوري مو هره ورځ په سر کې ماغزه

WWW.SAMSOOR.COM

موږ نه يې عقل و بصيرت وړی دی
سمه لار نه پېژنو
يو بل نه سرپرې کوو
يو د بل وينې څښو
اخر په کومه ګناه؟
زموږه جرم څه دی؟
دوی دواړه څوک دي؟
چې به موږ ته پاچاهي وکتې
راځئ چې ټول کليوال يو شو سره
راځئ د خدای (ج) په مرسته
راځئ په خپلو متو
لات ديو، اور ديو دواړه د خپل کلي په ونو پورې وځړوو
او بيا په مينه مينه
خپله هوسۍ راولو
بيا ښاپيرۍ راولو
هو !
ملنګ داسې وويل:
او له پردو سره يې جنګ کولو
هغه ديوان وژل، پيريان يې وژل
ها له لويديځ څخه راغلي ديوان
ها له شمال څخه راغلي پيريان

WWW.samsoor.com

او د کوډګرو طلسمونه به يې هم ماتول
زما مين او زه «مغروره» له ملنګ سره وو
ما به هغوی ته له چينې څخه اوبه وروړلې

خو يوه ورځ له ورځو

مست مينجور په نڅېدو راغی
څنې به يې واچولې
بيا به يې درب ور کړپښې ته
او ټولو مستو شاه زلمو ته يې ويل چې: له هغه سره اتڼ وکړي
کله چې ټول په اتڼو ستړي شول
نو د ملنګ بابا تر مخ راټول شول
او له هغه نه يې ددې خوښۍ لامل وپوښته
د ملنګ سترګې يو ځل وځليدې
يو څه په سوچ کې ولاړه
او بيا يې داسې وويل:
دوستانو شکر د خپل رب ادا کړئ
ځکه چې نورو نو د اور ديو د ابليسي طلسم راز ماتېږي
پېريان به ټول زموږ له کلي څخه وشړل شي
تاسو خبر ياست که نه؟
نور د پېريانو هم طلسم مات شو

WWW.samsoor.COM

ځکه زموږ د کلي
هغه ورک شوی شپونکی بیا راغلی
ها د سندرو کوډګر
ها د شپیلیو پاچا
چې له لات دیو سره د جنګ په وخت کې
له کلي خدایزده ښاپیریو وبوولی چیرې؟
خو دا څو ورځې یې په بر ځنګله کې
یو ځلې بیا د نغمو غږ راځي
هغه په خپلې ورکې مینې پسې ګرځي او شپیلۍ غږوي
او دا کوډګره شپیلۍ
بیا ماتوي طلسم
او زموږ ورکه هوسۍ
یو ځلې بیا ویښېږي
هلته شمال ته د کنګلونو ښار کې
او د هغې له ویښېدو سره سم
د کنګلونو هېواد
ورو ورو ویلېږي او ماتېږي پسې
دوستانو زیری مې درباندې
چې د شپونکي شپیلۍ مو بیا د خپلواکۍ ملکه
ښکلې هوسۍ ژغوري
او د اوردیو طلسم هم ماتېږي

WWW.samsoor.COM

د کنګلونو ښار به ویلې او ټوټې ټوټې شي
پیریان به هم په سمندر کې ډوب شي
او د یوې پیرۍ کوډګره بوډۍ
ها - له هر څه منکره -
هغه په زړه کافره
چې سره پیریان زیږوي
چې یوه سترګه لري
هغه به هم په خپل تابوت کې پریوزي
زموږ هوسۍ به ورته خاندي
سره بوډۍ به د تاریخ ډېران کې خښه شي
او خاورې به شي

راځئ دوستانو چې اتڼ وکړو

راځئ ملګرو چې نغمې و وایو ...
ملنګ رښتیا وویل
هغه په هر څه پوه و
د هغه سترګو کې جهان ځاییده
- ګرانه شپونکیه واوره !
ستا دې کوډګرې شپیلۍ
یو ځلې بیا هم هوسۍ وژغورله

WWW.samsoor.COM

او د اور ديو طلسم هم مات شو
سره بوډۍ مړه شوه د اور ديو لاس او پښې هم پرې شول
او د پيريانو لښکر
مات او ګوډ ببرته ولاړ شمال ته د کنګلونو دهېواد په لوري
هغه بوډا چوپړګر هم وتښتېد

مګر افسوس شپونکيه !

چې زموږ په کلي کې د وينو چينې وچې نه شوې
که څه هم مات شو د پيريانو جادو
مګر لات ديو ژوندی و
او لا يې خپلې ابليسي کوډې کولې پر موږ
سم چې بوډا چوپړګر
زموږ له کلي ووت
جګړې ته تللي کليوال ستانه شول
خونه د وروڼو په شان
زلمي يې توره په لاس
او يو د بل وينو ته تږي تږي
د کليوالو جرګه نه جوړېده
ځکه زموږ کلي کې فصل د غنمو نه و
او له جرګې نه د غنمو وږي

WWW.SAMSOOR.COM

ابلیس په غلا وړي وو
ابلیس د هغو کلیوالو ترمنځ
چې له پیریانو سره یې جنګ کولو
لاړې تو کړې
ځکه لښکر، لښکر شول
او هر لښکر یې و د بل یو دښمن
د دې لښکرو هر یو مشر پاچاهي غوښتله
خپلو کې یو د بل د غوښو د هډوکو او د وینو وږي
نو لا څو ورځې تېرې شوې نه وې
چې مو په کلي کې لښکرو تور د روبڼ جوړ کړ
تورې له تیکو نه راووتې
او سترګې سرې شوې
د کلي خړې کوڅې بیا په وینو ورنګېدې
دا ځل بوډا او ځوان چانه پېژندل
هر چاله هر چا څخه سر غوڅاوه
هر چا د هر چا کور ته اور اچاوه
هرڅه تالا او لوټ شول
زموږ د نیکونو شملې
د اناګانو ټیکري
چا ماشومان حلالول زانګو کې
چا له میرمنو نه حیا لوټله

WWW.samsoor.COM

چا به له پيغلو پيغلتوب غلا کړ
چا به زلمي کتار ـ کتار ووژل
چا به د خلکو د غنمو فصل وسوزاوه
چا به د کلي جوماتونه رنګ کړل
چا به د خلکو په هډوکو ژرندې تاوې کړلې
او دغه ژرندې به د وينو په ويالو ګرزېدې
چا به د خوارو کليوالو په سرونو کې مېخونه وهل
د کليوالو د سرونو منارونه مو اوچت شول دومره
چې له هر ځای څخه به هر چا ليدل
زموږ د سويو کلاګانو تور دودونه وو اسمان ته پورته
زموږ د غرونو لوړې څوکې هم په اور سوزېدې
لکه زموږ د کليوالو غرور
چې په مرګو کې ورک شو
داسې مو دنګو غرو له شرمه ځان په اور پټاوه
زموږ د پيغلو لوپټې به هره ورځ تالا شوې
لکه د کلي باد مو هم چې غل وي
د دغه کلي په اوږده ماضي کې
هېڅ کله داسې کيسه نه وتېره
دغسې توره د مرګونو او شرمونو کيسه
داسې د «ويار» په نامه تشه له ويارونو کيسه
داسې د وير او د ماتم کلونه

WWW.samsoor.COM

داسې د درد داسې د غم کلونه
داسې د اوراو د لمبو فصل چې
زموږ د کلي شنه ماضي هم په کې وسوزېده
او ښايسته زريني پاڼې يې پرديو غلا کړې
زموږ ماضي ديوانو ووژله
زموږ ماضي پيريانو وخوړله
لات ديو دا هر څه ليدل
او په کټ کټ يې خندل
هغه زموږ له کليوال نه کسات اخيسته
د خپلې ګوډې پښې
د خپلو ماتو لاسو
د خپل ډوب شوي لښکر
هغه ته دا کوډې ابليس ښودلې

## خو په هوسۍ څه پېښ شول؟

واوره شپونکيه زموږ د کلي د غمونو کيسه:
موږ د ملنګ ملګرو
چې کلی داسې ولید
نو دلته لرې راغلو
او په ځنګلونو کې مو ځانته کړې جونګړې جوړې

WWW.samsoor.COM

په دې جونګړو کې ژړل به مو سهار او بېګاه
په کليوالو او په کلي پسې
خو يوه ورځ مازيګر
زموږ په جونګړو کې غوغا جوړه شوه
ځکه ملنګ بابا د کلي له خوا
يو څوک په غېږ کې راوړ
کله چې موږ ورغلو
نو د ملنګ بابا په سترګو کې مو
په ټول ژوندون کې لومړی او ښکې ليدې
هو کې ملنګ بابا ژړل لکه چې
او يوه ښکلې نازولې ميرمن
په خپلو وينو ډوبه
وه غځېدلې د ملنګ پر لاسو
موږ له ملنګ بابا نه وپوښتل چې دا څوک ده؟
هغه په چيغو چيغو وژړل او ويې ويل:
تاسو يې نه پېژنئ؟!!
دا خو هوسۍ ده هوسۍ
د ښاپيريو د پاچا ملکه
د خپلواکۍ څښتنه
موږ هم په چيغو سر شوو:
زما مين وويل:

www.samsoor.com

اخر ملنګ بابا دا کوم ظالم کړه دا سې ټپي
خدای (ج) دې کړي مات هغه لاس
خدای (ج) دې تباه کړي هغه...
خو په دې وخت کې مورږه ولیدل چې
ټپي هوسۍ لږ څه موسکۍ غوندې شوه
زما د جانان په خوله یې لاس کېښوده
او په ځګیروي یې وویل:
« پام چې ښیرا ونه کړې
زما خو په خپل قاتل «درد» نه دی پیرزو
هغه چې زه په توره ووهلم
هغه زلمی هم کلیوال دی زموږ
خدای(ج) دې د هغه سرته هم خیر کړي
ما ویل د سولې پرښته به شمه
ما ویل د وینو سیند به ودروم
او د ابلیس لارې به وچې کړمه
دښمنو زړونو کې به مینه شمه
خپل کلیوال به سره ورونه کړمه
او نیکمرغي به شمه
د هغه وخت په څبر ، چې زموږ کلي کې فصل دغنمو شین و
خو هغوی زه په تورو ووهلم
او هغه توره،

WWW.samsoor.COM

چې زما ببرته راتګ ته پورته شوې وه
زما په زړه کې خښه شوله
ښايي زما ببرته راتګ به د «انسان» په وينو نه ارزيده
ځکه د خپلو کليوالو په لاس
زما وينې هم تويې شوې
اى خدايه ما وبښې !
اى خدايه ما وبښې !»
او دې خبرې سره
هوسۍ له هوښه ولاړه
پر مخ يې راغلې د دردونو خولې
بابا ملنګ چيغې کړې:
اوبه ! اوبه !
هله «مغرورې» ژر شه !
لږ څه اوبه راوړه !
او ما منګى پورته کړ
په منډو منډو د ځنګلونو منځ کې
دغې چينې ته راتلم
ځکه يوازې دا چينه وه چې اوبه وې په کې
زموږ د کلي په څاه ګانو ، په سيندونو او چينو کې خو –
اوبه نه وې نګه وينې وې
او کليوال مو له اوبو څخه روژه وو روژه

WWW.samsoor.com

تش لښكريانو به روژه خوړله
او د اوبو په ځای يې وينې څښلې
زه د چينې په لور راتلم چې لړ. اوبه يوسم
خو يو ناڅاپه مې په لاره كې يو سيوری ولید
يو ببر سری سيوری
يو داسې سيوری چې د ويری له تيارونه جوړ و
وروسته بيا سيوري ډېر شول
پنځه او شپږ. شول سيوري
او چې د سيورو خاوندانو ته مې پاس وكتل
هغوی مې وپېژندل
زما كليوال وو د «زمرو لښكر» نه
هغوی مې مخې ته كتار شول كتار
ما ويل:
چې لار راكړئ اوبو پسې ځم
خو هغوی وخندل او ويې خندل
كړس كړس خندا يې وكړه
د هغوی ژبه د زمرو ژبه وه
او د زمرو په ژبه يې داسې وويل:
«اول زمونږ. زړونه خړوب كړه بيا اوبو پسې ځه»
آه خدايه دا څه اورم؟!!
زما ها درانه كليوال څومره سپک شول

WWW.samsoor.COM

چې اوس د خپلې کليوالې پر حيا بلوسې
خو دې پينځو زمرو، په ژبه دلېوانو، وويل:
ته زمورږ د ډلې نه يې
او ستا په وچويلې کې نه شته د زمرو نښانې
ځکه زمورږه نه يې
اوس ته يو جام يې او مورږ ترې لېوان
راشه زمورږ غېږې ته
راشه چې ستا پر رانه وچويلې کې
ددې پينځو زمريو نښه کېږدو.»
آه خدايه اوس څه وکړم؟!
له مرګه پرته بله لار نه لرم
خدايه زما د کليوالو مل شې:
ما خپله لار پرېښوده
زمرو تر شا راپسې منډې پيل کړې
خو زه په منډه منډه
د لوى ګړنګ تر خوا را ورسيدم
لا کليوال زمريان تر شا راتلل
خو ما د لوى ګړنګ پرانيستې غېږ ته
خپل ژوندون سوغات ورکړ
بس يوه چيغه او د مرګ دروازه
او زه شوم داسې قتل

WWW.samsoor.COM

د دربیم ځل لپاره
مګر دا ځل د مرګ خوند هومره تریخ و
لکه زقوم د دوزخ
دا ځکه نه یوازې خپل وژلم
بلکې له ما یې د حیا د اخیستلو تمه هم درلوده
خدایه څه سخت ساعت و
خدایه ! قربان دې شمه څومره تریخ و
❋❋❋

شپونکیه ! دا وه زما د تېرو ژوندونونو کیسه
درې ځلې مړه شوم بېرته وزیږېدم
درې تورو ووژلم
خو درې نغمو ستا د شپیلۍ ژوندۍ کړم
اوس چې ما وینې
زه د دریوارو نیمزالو روح یم
یوه «مغروره» یم په درې څېرو کې
تل په دې غرونو او ځنګلونو ګرځم
او کله ځم د خپل مین د ړندو سترګو کور ته
هغه ته خوب غوندې شم
هغه لا اوس هم په ړنده سترګو ما خوب کې وینې
او ته پوهېږې هغه ولې ړوند دی؟

WWW.samsoor.com

راځه له ما سره چې ور دې ولم
پاتې کيسه به درته لار کې وکړم

ځلورمه برخه

زموږ د مينې ديدن
او موږه دوه ليوني
خدای(ج) خبر چيرې به ځو

نجلۍ مې لاس ونيو
او دواړه پر سپين آس سواره شو
هغې مغرورې مستې پيغلې راته داسې وکړه پاتې کيسه:
« اوس هلته لرې د يو غره لمن کې
چې زموږ د سوي کلي باد پرې هره ورځ لګيږي
د يو پراخ او شنه ځنګله په منځ کې
هلته له ستر ګو لرې
د قلندر بابا يو کلی جوړ دی
او له هغه سره ملګري ټول زلمي او پيغلې هلته اوسي
زخمي هوسۍ هم ورسره ده هلته
لا يې زخمونو ښخه وينې راڅي
ټپي هوسۍ ته يې له لوخونه بستر جوړ کړی

WWW.samsoor.COM

دا څو کلونه وشول
چې د هغې د زخمو وينې په بستر بهېږي
ملنګ بابا او د هغه ملګري
په اوښکو مينځي د هوسۍ زخمونه ،
د ملنګ سترګې په ژړا سپينې شوې
هغه په دواړو سترګو ړوند دی او څوک نه شي ليدی
او زما مين هم په ژړا ژړا ړوند شوی دی اوس
ښايي ملګري د ملنګ بابا به ټول ړانده وي
هوسۍ ځګيروی کوي او هېڅ نه وايي
يوازې کله کله ستا نوم د ځګيرويو منځ کې
په نيمه ژبه اخلي
هغه شپونکی يادوي
کله شپېلۍ ياده کړي
کله غنم يادوي
او کله ستا د هغې ښکلې مينې نوم اخلي
هغه چې تورې تورې سترګې لري
هغه چې اوس خدای(ج) خبر چيرې تللې؟ !»

***

زه او مغروره پېغله

WWW.samsoor.COM

ورو ورو روان وو د ځنګلونو منځ کې
هغې کيسه کوله
او زه حيران وم د خپل ګران کلي عجيب داستان ته
تر څو له لرې د ځنګلونو منځ کې
د يوه غره په لمن
د شنو زيتونو او ځېړيو تر خوا
ښکاره شوې څو جونګړې
له وچو څانګو او وښونه جوړې
په عجيبه شانتې چوپتيا کې ډوبې
سم چې ور ورسېدو
هلته مو وليدل خپل څو کليوال
رنګونه ژيړ
بڼې سپېرې
سترګې له اوښکو ډکې
ځينې ځوانان او ځينې پيغلې وو ړانده په ژړا
او د مغرورې پيغلې
ښکلې جانان هم اوس په سترګو ړوند و
مګر بيا هم د خپلې مينې په راتلو وپوهېد
مغرورې پيغلې هغه غېږ کې ټينګ کړ
او په ژړا ژړا يې ښکل کړل سره
زما په سترګو کې هم اوښکې راغلې

WWW.samsoor.com

او ما ملنګ ولیده
نو شیبه وروسته مورِه ټول ولاړو ملنګ بابا ته
هغه چې زمورِه له راتلو خبر شو
خپلې جونګړې نه بهر راووت
یو څه خوشاله او حیران ښکارېده
هغه زمورِه درناوي ته راغی
ما ته یې غېږ پرانیسته
او چې یې سر زما پر ولي کېښود
خدا یزده چې ویې ژړل که ویې خندل
د هغه ول ول څڼې سپینې وې اوس
د شین کمیس پر ځای یې تور کمیس په غاړه کې پروت
کچکول یې مات و ، تبرګي یې لاستی نه درلوده
خو لا یې سترګو کې هماغسې بریښنا ځلیده
په ړندو سترګو کې یې اوس هم لا جهان ښکارېده
هغه له هر څه خبر
او په هر څه پوهېده
خو اوس هغه هم زمورِ د کلي برخلیک ته ژړل
ملنګ چوپتیا نه وروسته داسې وویل:
ښه شو چې راغلې
ای د هسکو هسکو غرو شپونکیه !
زمورِ د کلي د سندرو پاچا

WWW.SAMSOOR.COM

اې د شپېلۍ د نغمو
د کوډو لويه ځوانه !
زموږ غم آباد ته دې قدم مبارک
کېدای شي ستا دغه کوډګره شپېلۍ
زموږ هوسۍ وژغوري
زموږ د کلي نيکمرغي، د خپلواکۍ ملکه
هغه چې اوس ساه باسي
د ژوند او مرګ پر پوله
او له زخمونو نه يې وينې راځي.
ته پرې خبر يې چې د چا له لاسه؟
زموږه خپلو لاسو
زموږ د کلي د زلميو متو
هغه د مرګ تر ستوني راوستله
خو خدايزده چا ته يې خپل ژوند ساتلی
خدايزده وروستۍ سلګۍ يې چا ته پرېښې
ژو کاله وشول ځنکدن يې دی
خو سترګې يې لا لارې څارې
کله په نيمه ژبه تا يادوي
کله شپېلۍ يادوي
کله ستا ورکه مينه
کله غنم يادوي

WWW.SAMSOOR.COM

او کله سپيني اوبه
ښايي چې ستا نغمې يې بيا ژوندۍ کړي
ځکه خو هيله کوم
اې د سندرو پاچا
راشه تر څنګ يې کېنه
شپيلۍ دې وغږوه
تر هغې ورځې پورې
چې هوسۍ بيا ژوندۍ شي
چې زموږ له کلي څخه تللې د خوښيو ورځې
بېرته را وګرځي او بيا راشي
او دا د وينو او غمونو شپې
نورې د تل لپاره کډه وکړي.

آه زموږ د مينې هوسۍ

او ما همداسې وکړل
زه او ملنګ بابا هوسۍ ته راغلو
پيغله او ړوند جانان يې هم راسره
ټول د جونګړو او سيدونکي ترشا
هلته له لوخو جوړه شوې وه يوه کوډله
منځ کې يې پروت و ، يو د لوخو بستر

WWW.samsoor.com

او د بستر له پاسه
يوه زخمي ښاپيرۍ
د درد په خوب ويده وه
هغه مغروره، هغه مسته هوسۍ
هغه د هيلو، نيکمرغيو، خپلواکيو ننبه
چې ټول جهان يې په ديدن پسې هلاک و هلاک
خو اوس د مړي په شان
د ژوند په ولیو بار وه
آه زموږ د مينې هوسۍ !
خدای(ج) خو دې وساته د مرګ له لاسه
زه به دې سر ته کينم
او څو چې ساه لرمه
ستا ښکلي روح ته به شپيلۍ ووهم
درته به جوړه کړم د ژوند سندره
تا به د مينې په نغمو مسته کړم
نو دادی واوره !
اې زموږ د خپلواکۍ او نيکمرغۍ ملکې !

***

زما شپيلۍ زما د ژوند دا سرګردانه بيړۍ
بيا د يو ورک سفر په لارو سرده
خدای(ج) خبر بيا چيرې ځي

WWW.SAMSOOR.COM

دا دی زموږ د خپلواکۍ هوسۍ ته
د ژوند سندرې وايي
لکه چې بیا په کوډو راغله سحرګره شپیلۍ
خدايزه چې بیا کوم طلسمونه وژني
شپیلۍ لګیا ده لا نغمې وروي
او د زخمي هوسۍ په مړاوو اننګیو کې بیا وینه ځغلي
او سپېرې شونډې یې ورو-ورو رپیږي
ښايي تکل د څه ویلو لري
بابا ملنګ مې پر اوږه لاس ایښی
او راته وايي داسې
ښايي چې زموږه خپلواکي بیا راځي
ښايي چې زموږه نېکمرغي بیا راځي
زه په ړندو خوبو کې وینم رڼا
زه د لمر پل پېژنم
تانه قربان شم د نغمو پاچا شپیلۍ ووهه
سندرې وبوله سحر نږدې دی
هوسۍ به وینښه شي او مات به شي د وینو طلسم
ځار شم ،شپیلۍ ووهه
او ما همداسې لا شپیلۍ وهله

سترګې دې پرانیزه ای ښکلې هوسۍ

WWW.SAMSOOR.COM

مورې ټولو خپلې سترګې تاته در کړې
سترګې دې وغړوه
مورې خپل ژوند ټول يوه نغمه کړ ستا تر سر مو ځار کړ
سترګې دې پرانيزه اې ښکلې هوسۍ
زمورې د هيلو او د مينو نازولې هوسۍ
او دې سندرې سره
ښايسته هوسۍ خپلې بيمارې سترګې پرانيستلې
بيا يې زمورې خواته را وکتل
يو يو يې له نظره تېره کړو
لږ څه موسکۍ شوه
لږ څه وځګرويده
او شيبه وروسته يې بيا سترګې زما په لور کږې کړې
هغې په ښکلو سترګو ماته کتل
او بيا يې ورو وويل:
«ماته شپيلۍ ووهه
ماته نغمې جوړې کړه
يوازې ستا شپيلۍ ژوندون راکوي
يوازې ستا نغمې مې مرګ نه ژغوري
شپيلۍ دې وغږوه
او زما د ژوند کيسه تر پايه وکړه

WWW.samsoor.com

ستا د شپیلۍ په ژبه زه پوهېږم
یوازې ماته د نغمو کیسه په زړه پاتې ده
ماته زما د ژوند کیسه ووایه !
تر وروستي فصله،
تر وروستۍ شیبې
تر پایه پورې !»
هوسۍ تردې خبرو وروسته سترګې بیا پټې کړې
یو څه آرامه شوه ښایسته ښاپیرۍ
ما لا وهله شپیلۍ
ماښام نه آن تر سپین سهاره پورې
آن تر هغو چې لمر را وختلو
ځو مره تیاره وه، څه اوږده وه دا شپه
ملنګ بابا هم ویښ و
مغروره پېغله ړوند مین یې ویښ وو
ښایي ددې جونګړو ټول زلمي او پیغلې ویښ وو
سم چې سهار شو او لمر څرک وواهه
هوسۍ بیا خپلې سترګې پرانیستلې
دا ځل یې بیا ماته را وکتل په ښکلو سترګو
خو په لیمو کې یې را ورغړیدې سپینې اوښکې
او له ژړا سره یې دا سې وویل:
« شپونکیه ! ستا شپیلۍ رښتیا وویل

WWW.samsoor.COM

هو په رښتيا زه ګنهکاره يمه
دا ټولې وينې زما له لاسه بهيدلي دلته
دا هر څه ځکه وشول
تر څو چې زه د خپلو اکۍ ملکه
د هسکو هسکو غرونو کلي ته راوګرځمه
د غو زلميو همدا زه ګټلم
ځکه يې ورېيل شول شنه سرونه
دې کلي پرته له ما ژوند نه غوښته
ځکه خو وسوزيد لمبه لمبه شو
ځکه په وينو کې يې ولمبل
تالا شو
لوټ شو
دې غرونو زه غوښتلم
ځکه يې ډکې شوې لمنې د بچو له قبرو
دې پيغلو زه غوښتلم
ځکه يې لوټ شول د حيا پړوني
دې کوچنيانو زما سيوری غوښته
ځکه له لوږې مړه شول
اې کليوالو !
اې د هسکو هسکو غرونو خلکو !
اې پيغلو !

اې زلميو !
اې زړو ، ځوانو ، نارينه وو ، ښځو !
مګر دا «زه» په دومره وينو ارزم؟ !
«زه»
هو !
همدا «زه» همدغه ښکلې هوسۍ
همدغه ستاسو ښايسته ښاپيرۍ
د خپلواکۍ ملکه
د آزادۍ پرښته
د استقلال ښتنه
مګر په دومره ريبل شوو سرو
دومره قبرونو دومره سويو اروا ګانو ارزم؟ !
آيا زه ټوله د «انسان» په يو وينښته ارزمه؟
آيا زه ټوله د «انسان» په يوه درد ارزمه؟ !
په يوه آخ
يوې سلګۍ
او يوې اوښکې ارزم؟ !
نه خلکو نه ارزمه
زه هيڅ ارزښت نه لرم
تاسو يې ومنئ چې ما خو داسې حال نه غوښته
دومره د وينو ترږې هم نه ومه

WWW.samsoor.COM

دومره سرونه خو مې نه غوښتل
د دومره غوښو وربې نه وم
هر څه زما په نوم شول
دا هر څه داغ شول زما پر سپینه لمن
آه خدایه! دا څه وشول
آه خدایه! ما وبښه
اې ربه! ما وبښه...»
ښکلې هوسۍ وژړل
د هغې سترګې شوې د اوښکو چينې
ښايي چا غوږ کې ورته داسې وويل:
هوسۍ!
سلګۍ ووهه،
وژاړه او زړه دې تش کړه!
خپل بر خليک ته ژاړه
چې ستا لپاره يې د څومره «انسانانو» ژوند ته اور ورته کړ
وژاړه ښکلې ښاپيرۍ وژاړه
اې د آزاد ژوندون ښايسته ملکې!
هغومره وژاړه چې تولې وينې
ستا د رڼو اوښکو په سيند لاهو شي
په خپلو اوښکو وينې ومينځه او مينې شنې کړه
هغومره مينې شنې کړه

WWW.samsoor.COM

چې نور د وينو رنګ له خلکو هېر شي
خو له ژړا نه وروسته
هوسۍ ورو ورو خوځيده
او په زخمي ګوتو يې
په خپل ګرېوان کې کوم څه ولټول
بيا يې را وويست د سرو زرو تاويز
او شيبه وروسته يې د پوښ له منځه
د لاس په رغوي کې غنم تويې کړل
او د غنمو درې دانې يې مورې ټولو ته راوښوولې
يوه شيبه يې ماته ښه وکتل
او بيا يې وروسته راته داسې وويل:
اې زمورې د کلي د نغمو شهنشاه
د سرو او تورو طلسمونو ماتوونکيه جادوګره واوره !
- زه مې د خپل ژوند هستي تا ته سپارم
کيدای شي دغه د غنمو درې دانې درسره مرسته وکړي
چې د دې کلي د مرګونو کوډې ماتې کړې پرې
زمورې د کلي د جګړو طلسم
يوازې دغه درې غنم او ستا شپېلۍ ماتوي
دغه غنم دي، ها سپيڅلي غنم
چې ډېر کلونه پخوا
زمورې د کلي کروندو کې شنه وو

WWW.samsoor.COM

چې لا زمونږ کليوال
د خپلو مينو په خوږو کې ډوب وو
چې نه لات ديو و ، نه اور ديو
نه يې زاړه چوپړګر
نه دا لښکرې وې او نه هم د جګړې هياهو
کله چې زمونږ کلي کې فصل د غنمو شين و
دغه غنم مې کړل تاويز د خپل ګريوان لپاره
ما ويل چې ما سره به زما د کلي ننبه وي د تل لپاره
خو اوس چې زمونږ کلي کې فصل د غنمو نشته
او کليوالو مو د ټول عمر روژه نيولې
دا غنم تاته سپارم
ولاړ شه او خپله مينه بيا پيدا کړه
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
ځکه کلونه وشول
چې تاته لارې څارې
هلته د برو غرو په شنه دره کې
ستا پخوانې شپول سره
يوې جونګړې کې يوازې اوسې
ولاړ شه هغې ته دا غنم يوسه
او چې يو ځای شوئ سره
بيا دواړه لرې ولاړ شئ

WWW.SAMSOOR.COM

لرې ډېر لرې

زموږ د کلي يوه داسې ځای ته

چې د «انسان» له قدمونو پاک وي

يو داسې ځای چې هلته وينه تويې شوې نه وي

داسې سپيڅلې ځای ته

چې «انسان» نه وي وژل شوی هلته

يو داسې ځای چې پرې د وينو وږمه نه لګېږي

کله چې داسې ځای ته ورسيدئ

نو هلته دغه غنم وکرئ په مينه مينه

بيا نو اوبه راوړئ له داسې چينې

چې په کې وينه د انسان هېڅ ګډه شوې نه وي

پاکې سپيڅلې اوبه

چې د انسان د ظلم رنګ يې هېڅ ليدلی نه وي

وروسته په خپلو لپو

دغه اوبه ورکړئ همدې دانو ته

او بيا نو تاسو دواړه

چې نه مو څوک وژلي

نه چا وژلي ياستئ

نه مو د وينو تويول ليدلي

نه مو وژل او نه وحشت ليدلی

او ارواګانې مو سپيڅلې دي لا

WWW.samsoor.COM

په خپلو ښکلو نغمو
په راز او نیاز د مینې
په مستو مستو خنداګانو هیلو
او د شپیلۍ په سندریزو کوډو
دا درې غنم وروزئ
کله چې دې غنمو وږي وکړل
بیا یې نو راوړئ ماته
او زه به دا غنم د خپلو کلیوالو په لور وشیندمه
چې کړي پرې ماته د کلونو روژه
له دې روژې سره به ماته شي د وینو تنده
ورسره مات به شي د جنګ طلسم
هم د مرګونو کوډې
وینې به ودرېږي
د دښمنیو سیند به هم وچ شي
او اور به واخلي د قهرونو د توپانو وزرونه
توري به ماتې شي اغزي به ګل شي
او د جګړو دیوان به ټول هلاک شي
زموږ کلیوال به بیا د مینې اتڼونه پیل کړي
او بیا به شین شي د غنمو فصل
ولاړ شه شپونکیه ولاړ شه
ولاړ شه او خپله مینه بیا پیدا کړه

WWW.SAMSOOR.COM

هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
او له هغې سره يو ځای د غه غنم وکره

❋❋❋

نو ما همداسې وکړل
د هوسۍ لاس نه مې غنم واخيستل
د هغې سترګې وې له اوښکو ډکې
په ډېره هيله يې لا ماته کتل
ما له ملنګ بابا نه
له نورو پيغلو او زلميو څخه
هم له مغرورې هم يې ړوند جانان نه
د دعا هيله وکړه
او هغوی ټولو راته وکړه دعا
بابا ملنګ پښې ته درب ورکړ
اتڼ يې پيل کړ
زلمو او پيغلو ټولو پيل کړه نڅا
او زه ددغو اتڼونو اونغمو بهير کې
په لمدو سترګو را روان شوم له جونګړو څخه
پر زړه مې مخامخ د يار خوږه ورېمه لګېده
کيدای شي نن يا سبا
ډېر ډېر کلونه وروسته

WWW.SAMSOOR.COM

د خپلو تورو تورو سترګو مېرمن
د خپل ژوندون يوازينۍ مينه بيا ووينم په خپلو سترګو
اسمانه زيرى راکړه
اى غرونو وناځئ په ملامات شئ !
د شنو زيتونو او خېړيو ونو !
ګلونه وشيندئ سپرلي راولئ !
چې زه به خپله مينه بيا ووينم
هغه د ښکلو تورو سترګو مېرمن
اې ژونده مه تېرېږه !
ودرېږه !
کيداى شي مرګ نږدې شي
او زه مې خپل مينه
دا ځل ونه شم ليداى
هغه سات مه کړې خدايه !
خدايه هغه سات مه کړې !

## زمورږ د مينې ديدن

باد
لا هماغسې د شنو خېړيو ښکلې څانګې
ښکلوي ناز ورکوي

WWW.SAMSOOR.COM

غرلا هماغسې چوپتیا کې ډوب دی
سیند لا هماغسې سندرې وایي
لمر لا هماغسې ځلیږي د اسمان پر لمن
ځنګل د خپل ستړي بدن زخمو ته خوب وړی دی
خو وخت تېرېږي ما ته نه درېږي
او زه د عشق د لارو ورک مساپر
د یار دیدن پسې ځم
مخامخ لوري ښارم
بر غره ته لار لنډوم
هلته د شنې درې په منځ کې
د خپل ورک شپول تر منزل پورې ځم
او د هوسۍ په وینا:
کیدای شي هلته خپله ورکه مینه بیا پیدا کړم
هغه د تورو تورو سترګو مېرمن
هو ! زه هغې ته ورځم
او په سپېرو شونډو سندرې وایم:
« نن د جانان دیدن ته ځمه – تورې نرۍ وروزې
خدایه ته لنډ کړې دا د زمکې تنابونه – مستې نازنینې
چې د وصال د میو ویش و – مستې نازنینې
زه د تقدیر په زولنو تړلی ومه – وسوم اور د مینې
نه دې دیدن شته نه مې صبر – مستې نازنینې

WWW.samsoor.COM

په غم لړلي يارانې ستړي دې کړمه – وسوم او ر د مينې
نن د جانان ديدن ته ځمه – تورې نرۍ وروزې
خدايه ته لنډ کړې دا د زمکې تنابونه – مستې نازنينې»
... او زه سندرې وايم
باد لا هماغسې تاويږي د څېړيو منځ کې
غر لا هماغسې چوپتيا کې ډوب دی
ځنګل د خپل ستړي بدن زخمو ته خوب وړی دی
خو وخت تېريږي ما ته نه دريږي
او زه د برغره شنه دره کې خپل ورک شپول لټوم
د غرو لمنو کې اوس لارې نشته
ټولې له زوځو او اغزو ډکې دي
خو زه د غرو په ژبه ښه پوهېږم
زه د هغوئ د زړونو غږ اورم
غر زما همزولی زه د غره همزولی
زموږ اشنايي ده د کلو اشنايي
زه خپله خاوره او خپل غر په مړينه هم پېژنم
زه د همدغو تورو غرو بچی يم.
ما خو د غرو دابې پېړ رودلي*
او زه د غره زړه ته د تګ په لارو ښه بلد يم
زه د خپل شپول د هوا بوی پېژنم

---

* د اسحق ننګيال يو شعري تعبير

WWW.samsoor.COM

کيدای شي شپول مې رنګ وي
کيدای شي لارې مړې وي
خو زما د غرو هډوکي هېڅوک ماتولای نه شي
زه د هغه په هډ کې خپله زانګو ښه پېژنم
زه خو همدلته زيږېدلی يم لوی شوی يمه
مامې د پلار شپول کې خاپوړې کړي
شپول خو زما کورو
زما د مينې کورو
اوس که وران شوی هم وي
خو زه د خپلې زانګو هډ پېژنم
دادی ددغو پرښو
ددې کمرونو تر شا
د هغې لوړې څوکې کينې خواته
له هغه ځای څخه چې غر راځي
آه خدايه دا څه اورم؟!!
څو مره اشنا آواز دی
آه څو مره خوږ دی څو مره شور نه ډک دی
آه خدايه اور لګوي، ژوند راکوي
څو مره په سوز وايي چې:
«يو ځلې بيا په دې لار راشه
په پخوانو پلونو دې پريوتل ګردونه»

WWW.samsoor.COM

دادی اشنا درغلم

او دادی واوره غږ مې:

«درځمه غېږ کې مې ويده کړه

د بيلتانه شوګېرو ډېر وهلی يمه»

او زما له دې غږ سره

آشنا آواز سندره پرېښوده او غږ غلی شو

هلته زما د شپول تر څنګه ده يوه جونګړه

له وچو کړکو او وښونه جوړه

وه په کې ناسته ببر سرې او ملنګه نجلۍ

سم چې زما غږ يې واوريد

د ليونيو په شان پاڅېده

جونګړې نه بهر ووته

ها خوا او دې خوا يې په ځير وکتل

زلفې يې باد وهلې

يو څو زړې جنډې يې غاړه کې وې

ټيکری يې نه و پر سر

پښې يې لوڅې وې ګريوان يې څېرې

يوه بنګساري ليونۍ نجلۍ وه

په ويره ويره يې هر خوا ته کتل

په تورو سترګو کې يې کرکې او ډار

يو ځای څپې وهلې

ښايي هغه ويرېده
خدايزده له څه شي څخه؟!
زه د څېرې شا ته ولاړ وم او کتل مې ورته
هغې د شپول په کنډوالو و خپل نظر ګنډلی
وروسته يې ځان سره په کرکه وويل:
«د بنيادم غږ راځي؟!!
لکه چې کلي کې څوک پاتې نه دي
لکه چې ټولې وينې خلاصې شوې
سرونه خلاص شول؟
نو دادی اوس بنيادم دلته راغی؟
دلته زما معبد ته؟!
دغه سپېڅلي او له وينو څخه پاک حريم ته
اې بنيادمه څوک يې؟
پام چې رانه شې وړاندې
زما رګونه وچ دي
او غوښه هم نه لرم
يوازې اوښکې لرم
پام چې رانه شې دلته
دا خو زما د شپونکي شپول دی
دا خو زما معبد دی
دا ځای سپېڅلی دی له وينو،

WWW.SAMSOOR.COM

## له مرګونو او له کرکو ډکه

پام چې په دې ځای باندې سيوری نه شې
که مې ژوندون غواړې او وژنې مې نو وايه خوشاله به شم
هلته به لرې درشم
هلته ما ووژنه پروا نه لري
خو پام چې دلته وينې تويې نه کړې
دا خو زما د شپونکي شپول دی
دا خو زما معبد دی
ای بنيادمه څوک يې؟
غږ خو دې راغی خو ليدی دې نه شم
زما خو سترګې دې له اوښکو ډکې
زه خو له اوښکو
له سلګيو
له ژړا جوړه يم
زما خو رګونه وچ دي
او غوښه هم نه لرم
زه ليونۍ يم يوه سوچه سارانۍ ليونۍ
ستا د هوس تنده هم نه شم ماتولای په ځان
هو بنيادمه واوره!
زه همدا اوس، همداد وينو وخت کې
لا هم مينه يم او مينه کوم

زه لیونۍ یم
ځکه مینه کوم
مګر پوهېږي بنیادمه چې جانان نه لرم
زما جانان کلونه وشول ورک دی
هغه شپونکی و زموږ د کلي شپونکی
هغه شپیلۍ وهله
چې ښاپیرۍ یې شوې مینې د شپیلۍ پر آواز
نو پر هغه باندې یې کوډې وکړې
او پر سپین آس یې آن د قاف د غرونو شاته بوته
خو زه لا اوس هم پرې مینه یم
له یاد سره یې مینه کوم
اې بنیادمه غږ مې اورې که نه؟
زه لیونۍ یم چې لا مینه کوم.))

✵✵✵

له دې خبرې وروسته
د لیونۍ پیغلې له تورو تورو سترګو څخه اوښکې راغلې
زه د څېرۍ شاته ولاړه یم، لیونۍ ژاړي
لمر لا هماغسې ځلېږي د اسمان پر لمن
غرونه هماغسې چوپتیا کې ډوب دي
مګر اې غرونو وا ورئ!!!

WWW.samsoor.COM

نوره چوپتیا مو بس ده
زه نوره ستاسو چوپتیا نه شم زغمی
زه مو نور چوپ نه پرېږدم
تاسو به وغږوم، ونڅوم
تاسو به بیا د یوې ورکې مینې
د خوب پالنګ کړمه او مست به مو کړم
اې غږونو وناڅئ،
اتڼ وکړئ چې زه درته شپېلۍ ووهم
او ستاسو د غه لیونۍ لور به هم مسته کړمه
د یوې ورکې مینې اور به یې په زړه کې بل کړم
ما مې شپېلۍ په شونډو بیا کېښوده
او د هغې په کوډګر ستوني کې مې پو کړه نغمه:
شپېلۍ مې واوره لیونۍ ملنګې
او خپلې تورې تورې سترګې دې راواړوه بیا
زه درته مخامخ په تېږه ناست یم
شپېلۍ مې واوره او باور وکړه چې خوب نه وینې
شپېلۍ مې واوره او د مینې دیدن بیا تازه کړه

مبارکي راکړئ عالمه
د کلو ورک جانان مې بیا غېږ ته راځینه

WWW.SAMSOOR.COM

لیونۍ وپېژندم
مالا شپیلۍ وهله
چې رنګه بنګه مې په غبرږه کې را پریوتله
څومره توده وه
څه خوږه وه زما د مینې غېږه
لکه چې یو شو سره
د یو وجود په شانې
زړونو مو خپلو کې خبرې پیل کړې
څومره ګیلې څومره پوښتنې یې وې
زړونو ! ګیلې مه کوئ
چې په ټول ژوند کې دا سې ښکلې شیبه بیا نه راځي
زړونو ګیلې مه کوئ !
یوازې یو بل سره ښکل کړئ سره یو شئ دواړه
زړونو اورونه مړه کړئ ،
غوږ ونیسئ
چې موږه دوه مینان
کله چې شونډو باندې شونډې ږدو
نو څه به وایو ؟
کله چې یو د بل په غبرږه کې کیسه کوو د تېرو کلو
کله چې لاس یو د بل غاړه کې سپیدو څخه پوښتنه کوو
سبا به څه کېږي

یو کال وروسته به څه پېښېږي ؟ !
زړونو درزا مه کوئ غوږ ونيسئ !
مورېه سبا ته ځو د غرو څوکو ته
چې د سپيڅلې چينې خوا کې د غنمو درې دانې وکرو
زړونو !
اورونه مړه کړئ شور مه کوئ
زړونو درزا مه کوئ غوږ ونيسئ

چې لوړو غرونو کې ناري وهي څوک :

د لوړو څوکو هسکو دنګو غرونو
د سردرو د شنو لمنو خوا کې
هلته يو کلی دی د وينو کلی
د سرو اورونو او د تورو کلی
چې سوزېدل يې آن له لرې ښکاري
چې کليوال يې خپل کورونه سوزي

او مورږ ددې کلي يو دوه ليونيان
دوه کليوال او دوه مين ملنګان
يو يې شپونکی ، چې په شپيليو باندې کوډې کوي
بله ملنګه نجلۍ

WWW.samsoor.COM

هغه چې تورې تورې سترګې لري
غاړه په غاړه ځو د غرو څوکو ته
پاکو اوبو سپېڅلې خاورې پسې
غواړو غنم وکرو
او کلیوالو ته مو ژوند وبښو
هغوی چې ټول عمر روژه نیولې
کلونه وشول د اورونو منځ کې
زموږ غنمو ته په تمه ناست دي
موږ له غره څخه خپل کلي وینو
چې ترې لمبې او تور دود ونه خیژي
خو موږ دوه لیونیان
غاړه په غاړه ځو د غرو څوکو ته
پاکو اوبو سپېڅلې خاورې پسې
غواړو
غنم
وکرو.

پای

WWW.SAMSOOR.COM

# لام او اییلنو

WWW.samsoor.com

# لام او ایلینو

## لومړی سرود

هسک کلښوم د نورستان درې درې دي
دوه ایګل تر پاسه واورې لا پرتې دي
د ځنګلونو ونې ناڅي ، باد شغیږي
د چینو اوبه خوږې دي هم رڼې دي
ځوان شاهین وزرونه پرانېستل اوچت شو
د پارون له څوکې ګردا ګرد تاویږي
یا نښتر دي یا خیړۍ دي یا ممانې
یا باران پریوللې تېږې دي یا پانې
سارانۍ کوترې پټې شوې ځنګله کې
څړوبی لا سترې نه دی ، لا بهیږي
دوه ایګل د سیند څپې په تېږو اوړي
شرهاري په دره کې ازانګې کړي
ځوان شاهین پر هسکه څوکه راڅرخیږي
دوه ایګل د څپو غږ ته یې غوږ ایښی

WWW.samsoor.COM

شرهار سره يو ځای د ښتک غرږ دی
د درې په کینه ډډه کې ټکیږي
دا آواز د لام د ځوانو مټو شور دی
توري ښې يې داني داني دي
دخولو ښاښکي يې لار وکړي په غاړه
زرځې سترګې يې د هيلو دوه چينې دي
لام د ټول کلښوم د حسن واستاکار دی
د لاسو ګوتې يې لس بلې ډیوې دي
کله ګل د لرګي مخ باندې انځور کړي
کله تېږې نه ښیره جوړه دچا کا
ټول کتيان يې دي حيران د هنر چار ته
لاس تر زنې يې کمال ته زمانې دي
د زیتونو ښانګې وکیني په تېږه
د "ایندر" ښېره کا جوړه په ډبره
د "موني" خندا ترسيم کړي په لرګي کې
"دیزاني" کړي له بګۍ سره څرګنده
ښکلی لام د نورستان حسن تراش دی
د طبيعت د ښايستونو لوی نقاش دی
پاس ځنګل دی لاندې سيند سندرې وايي
په ننښترو کې د باد دلښکرشور دی
شين اسمان لکه غمی د لاجوردو

WWW.samsoor.COM

داغمی دځوان شاهين د پرواز کور دی
نن هوا ده دومره پاکه لکه مينه
نن فضا د پسرلي ده ګلورينه
لام ځټک پر ميخ وهي سندره وايي
له هر ټک سره ټکونه شي دره کې
بيا د سيند شرهار پورته شي نغمه شي
باد د ځانګو منځ کې تېر په شغهار شي
چې ناڅاپه په دره کې شول غږونه
څو آسونه را روان په نرۍ لار دی
لام ځټک په لاس کې ټينګ کړ ،ښکته ګوري
څو سواره دده په لور راځي راخيژي
لا خو وخت دهيڅ تصوير دور کړې نه دی
ميلمانه به خدای خبر چې دکوم ځای وي
داسې ښکاري ، چې له لرې نه راغلي
څه به وايي څه به غواړي څه به يې کار وي
لام د سوچ په سيند لاهو شو کار يې پرېښود
د سورو ډلګۍ ورو ورو رانږدې کېږي
مخامخ دلام دخونې په خوا راغلل
دمزله منزل يې لام دی اوس ښکاره شوه
د آسونو ششنها راوريدل کېږي
عجيبه ده د سپرو مشره ده پيغله

WWW.samsoor.COM

لوی تېکری يې د بیرغ په څېر رپېږي
باد يې ښکلی کمیس کلک پر بدن ایښی
د ښکلا دهرا ندام ادا يې ښکاري
لکه سرو په آس چا سوره لیدلې
دا ببباکه ښکلې پېغله به لا څوک وي
چې پر آس لکه سپوږمۍ د غره پر سر وي
څو سواره يې دي ساتونکي غلامان دي
دا سې ښکاري ، چې له لوی کوره راغلې
دلام زړه کې غلبلې دي حېرانتیا ده
چې سواره يې د درشل تر مخ ولاړ دي
يو غلام په ډېر ادب رکاب راونیو
بل يې دواړه لاسه ونیول پښې ته
چې مغروره ښکلې پېغله شوه راکوزه
لام يې لاهم دی ښکلا ته فکر وړی
دا د حسن ملکه راغله له کومه
ښکلې پېغله اسماني جامې پر غاړه
سپینه غاړه يې د سپینې بتې خیال دی
لکه موج راشي خروش وکړي اوولاړ شي
هره لیکه د کمیس يې پر بدن ځي
ددې پېغلې سترګې نه دي يو جهان دی
درازونو او رمزونو پرې باران دی

WWW.samsoor.COM

د هغې خوږه موسکا کې کوم څه پټ دي
يا خواږه دي يا شراب غوندې ترخه دي
لام يې ګوري د حسينو سترګو شورته
شي حيران يې د مرموزې موسکا اورته
يا به درد وي يا به مينه يا به بل څه
چې پټ شوي د دې ښکلې موسکا شاته
يا به راز وي يا به زړ پټې خبرې
چې څپې وهي د ښکلو سترګو ډنډ کې
لام د بوت په څېر ولاړ دی ورته ګوري
ښکلې پيغله يې هم زانګي و ديدار ته
حيرانېږم د لام ښکلي ميړنتوب ته
ها چې زه يې د هنر له رازه پوه وم
خو خبره يې له داسې ښکلا نه وم
د کتيانو انځورګره واستاکاره
زه خو ستا له دومره شوره آګاه نه وم
دواړه يو د بل په سترګو کې ډوب شوي
دې څلورو سترګو وکړې زړ خبرې
زړ خبرې زړ کېسې شوې زړ کتابه
خو شيبه کې دواړه پاڅېدل له خوابه
د نجلۍ شونډو مرموزه موسکا وکړه
پاس اسمان کې شاهين وخوړ يو بل دور

لاندې سيند په زورورو څپو مست شو
باد يو شغ وکړ ځنګله باندې راتېر شو
د يمرا "له لوی درباره يوراغلي
ها چې واک يې له کلښومه تر سوات دی
زمانوم دی "ايلينو" د يمرا لوريم
شهزادګۍ د دې درو اوددې غرويم
سيند زما په فرمان ځي دځکمو لور ته
باد زما په حکم ځي دځنګله کور ته
ټول کتيان او بريان زما فرمانبردار دي
غلامان راته ولاړ کتار کتار دي
د کلښوم د ښايستونو انځورګره
د "يمرا" حکم مې تا ته دی راوړی
چې په کار کې د پاچا شې ته وياړلی
حکم دادی ، چې ښېره جوړه د پلار کړه
چې يمرا له سيندو اوړي ځي کشمير ته
د کور ګل خلک په تمه د پاچا دي
د ښېرې په يوه پلنه لويه دړه
د يمرا ښېره سوغات وروړي کشمير ته
چې يادګار يې د پراخه حکومت وي
چې زموږه ورونه و خويندې ورته ګوري
په کشمير کې يې هم زړونه پرې هوسا وي

WWW.samsoor.COM

"ديزاني " چې په بګۍ کې لمر راوخلي
دکلښوم له کېنه اړخه يې راتېر کړي
چې زيتون په دانه راشي رنګ يې واوړي
دنذرونو لويه مياشت چې شي رابره
نو سردار د سرداارنو به روان شي
لوی کشمير به يې په حسن چراغان شي
ترهغو به ته خبره جوړه کړې ښکلې
چې کشمير او هند دې ګوتو ته حيران شي
په بدل کې به يې درکړو لس آسونه
يوه پنډه رمه . مېږې او پسونه
موږ تصوير دی د يمرا درته راوړې
چې پر اس باندې دی سپور دغه ښاغلی
ته به جوړه دلرګي ورنه خبره کړې
چې کشمېر ورباندې ټول وي په ښادۍ کې
ترهغو ، چې ديزاني بګۍ راکاږي
ترهغو چې سردار ملاتړي سفر ته
ترهغو ، چې سيند دا تور کمرونه پټ کړي
ترهغو ، چې زيتون رنګ اخلي پخېږي
ترهغو ، چې ته خبره د سردار تراشي
هره ورځ مازيګری به زه راځمه
ستا دکار هره شيبه به زه شمارمه

WWW.samsoor.COM

ایلینو په مینه وکړې دا خبرې
لا یې سترګو کې وې پټې څه سندرې
خدایزده درد و خدایزده مینه وه که بل څه
لا یې هم موسکا په شونډو کې وه پټه
لکه ګل کې چې وربمه وي خو، نه ښکاري
عجیبه وه لام حیران و دې انداز ته
ما خوږې برې څېرې کښلي دي په ګوتو
د بر ښایست مې دې هست کړی له نیستۍ نه
ما د بره کې دي سترګې غړولې
په لرګي کې مې څېرې دي غړولې
ما ګلونه په مرمرو کې تورلي
بوراګان له شنو باغچو ورته راغلي
ما اسونه دي د ختو شیشنولي
ما د ګچو پیغلې مستې ګډولې
خو په دې سترګو کې بل ډول ښکلا ده
په دې شونډو کې د درد په څېر خندا ده
لام ولاړ لاس په نامه دی ایلینو ته
وې: سبا چې لمر راوخیژي وایګل ته
له ځنګله نه په څېرې کړمه راغوڅه
د یمرا د څېرې پیل به ترې نه وکړم
د پاچا تصویر به جوړ کړم د اسې ښکلی

چې کورګل کې لوی مزدک شي پرې سپیڅلی
و سردار د سردارانو ته سلام دی
بري لام یې په دربار کې یو غلام دی
ایلینو دې خدای ژوندی لري تر ډېرې
د ښکلا په نوم راوړې یې پیغام دی
ایلینو په رکاب وختـه سوره شوه
د لام مخې ته یې آس څه شیبه تم کړ
د کلښوم د ښایستونو واستاکاره
د شاهین په څېر مغروره هنرمنده
زما وعده ده سبا بیا دلته راځمه
ستا د کار هره شیبه به زه څارمه
اوس په خدای سپارمه تا او وایګل دواړه
شیبه وروسته آس روان شو پیغله ولاړه
هغه شپه دوایګل هسک و څومره ښکلی
ټول اسمان په رڼو ستورو و پوښلی
لام کتل سپینې سپوږمۍ ته لا بېدار و
د دې شپې ښکلا او حسن ته په څار و
ایلینو یې د زړه خونه وه نیولې
څه خبرې یې په زړه کې ګرځیدلې
هغه سترګې هغه شونډې یې کړې یادې
خو حیران و هلته څه ورځخه ورک وو

WWW.SAMSOOR.COM

چې هر څه يې مجسمې کړلې خيال ته
هغه پټ رمز و ادا يې نه موندله
خوب يې تللی وو له زړځو ځېړو ستر ګو
نن د ستورو څه عجيبه تماشا وه
کله هار به شول په غاړه د دلبرې
کله څاڅکي د اوبو به شول په زلفو
سيند لا هغسې په مست انداز روان و
باد لا هسې نغمه ګر و په ځنګله کې
چېرې لرې يو آواز راته له کونګه
د درې ښکلې هوا وه نوره ګونګه
د لام سترګې وې ستومانه خو خوب نه و
ستورې ولاړ ل له اسمانه خو خوب نه و

WWW.SAMSOOR.COM

# دويم سرود

د خېړې په ښاخ کې دوه جوړې مرغان دي
دوه شاهينه په لمن کې د اسمان دي
دلته هلته د ډبرو منځ کې ځري
په رمو پسې د ځوانو شپنو غږ دی
د پېغلوټو کتار راشي له ځنګله نه
ډک له شاتو منګوټي يې پر اوږو وي
پر کمره چغيږي بيا توره بلبله
لکه راچې شي هيندوه له کورګله
تر خېړې لاندې د لام د ختک غږ دی
دلرګي يو آس يې مخ ته درولی
پر آس سپور دی يو مغروره شان ښاغلی
د هنر د واستاکار د ګوتو ځلي
لام يو ټک وکړي او بيا اسمان ته ګوري

WWW.samsoor.com

خدايه کله به رابر پرې مازيګر شي
د خېړې سيورى به کله ترکمرو شي
چې پرې زيرى د راتګ دا يلينو شي
اوس نو لام دى هره ورځ او انتظار دى
ديمرا خيره ترا شل يې سترى کار دى
ټوله ورځ تر مازيګره شيبې شماري
چې به بيا د آس د پوندو ټکهار شي
ها سپره سروه به بيا درې ته راشي
سپين ټيکرى يې د بيرغ په څير رپيږي
شين کميس يې پر اندام اندام مستيږي
بيا به وګنډي د لام ستر ګو کې ستر ګې
هغه غټې جادوګرى زرځى ستر ګې
ها د درد په څېر مرموزې موسکې شونډې
د مستۍ په څېر نشه کې پټې شونډې
دې څېره کې به بيا ولټوم ورکې
زر کيسې به په کې لولم پټې پټې
خو به لا هم ډېر څه پټ وي په کې پاتې
هيڅ به نه شي د عمرونو تندې ماتې
مازيګر چې زيږى لمر په سيند کې ښکاري

دوا يګل او به د زړو آينه شي

WWW.SAMSOOR.COM

د خیرې سیورې چې ورسی کمرو ته
د سپین آس د پوندو غږشي په دره کې
د لام رګ رګ کې د وینې توپان راشي
د زړګي په ښار یې ګړه زلزله شي
خامخا به نن تر ډېرو ورته ګورم
که پیدا یې درمزونو خزانه کړم
ایلینو له آسه کوزه شي او کیني
د دلبر د ځوانو متو ننداره کړي
لام د بریتو په کنجک زړه ورنه وړی
لام د تورو زلفو مار په زړه خوړلی
مازیګر چې لمر پریوځي ځنګل مست شي
د چنچڼو ګڼ خیلونه ورته راشي
دوه مین تر ښېرې لاندې په دیدن وي
ځوبی ورته شریږي په اتڼ وي
نن د لام په زړه بلا غوښتنې ګرځي
ایلینوته یې نن وایم چې څه غواړم
دژوندون تر ټولو ستر انځور به کاږم
د پارون له سپین مرمر نه به یې تراشم
د ښکلا تر ابدیته به یې باسم
ایلینو ! ته راته کینه چې دې ګورم
ستا قامت به له ډبرې څخه جوړ کړم

WWW.SAMSOOR.COM

ستا ښایست به سپین مرمر کې بندیوان کړم
هک حیران به ورته نسل د انسان کړم
مورږ به نه یو ستا قامت به لاژوندی وي
ستا ښایست به عاشقانو ته معبد شي
ستا ښکلا به هر نقاش ته یو الهام وي
ستا تصویر به زما د مینې لوی پیغام وي
ایلینو ته راته کینه ، چې دې ګورم
خپلې لس ګوتې به لس بلې ډیوې کړم
ستا بدن به د زمان په کور کې بل کړم
څو انسان وي ستا ښایست به یې په یاد وي
څو چې لمر وي څو ځنګل وي څو چې باد وي
ایلینو ته راته کینه چې دې ګورم
ایلینو ته راته کینه چې دې ګورم

# د ریښم سرود

هره ورځ چې دیزاني بګۍ کړي هسکه
چې د سیند هینداره تشه شي له ستورو
او د لمر زریني وړانګې راخورې شي
د ځنګله ونې وربمو ته په نڅا شي
لام ښتک په لاس کې ټینګ کړي میخ راواخلي
په مرمر کې جوړوي انځور د مینې
بیګاه څو مره ښایسته وه څه حسینه
دا اندام یې جوړوم په خپلو ګوتو
ما یې عکس د حسن زړه کې دی ساتلی
ورنه اخلم خپل هنر ته الهامونه
مازیګر چې راشي بیا به ورته ګورم
د نازک جسم هر غړی به یې څارم
چې قلم چېرته بېځایه ټک ونه کړي
چې ښتک چېرته بېدریغه ګوزار نه شي
دا انځور به داسې ورو ورو جوړومه
لکه دا چې مرمر نه، د زړه ټوټه وي
خدای دې راکړي د هنر برکتونه
چې یې ساز کړمه دا ښکلي اندامونه
مازیګر چې د سپین آس د پښو غږ شي

چې سیسۍ والوزي ولاړې شي ځنګله ته
د لام زړه کې نوی شور په مستۍ راشي
سیند ډېرو سره ووهي ډغرې
ایلینو راځي د ښکلي یار لیدو ته
دوه جوړې بلبلې راشي ښاخ کې کینې
دوه زرین کبان جوړه شي په چینه کې
ایلینو اولام یو بل ته مخامخ دي
یو دبل سترګو کې ډوب شي په خلوت کې
یو له بل سره جوړه شي مین زړونه
لام ته ورکړي ایلینو ګوتې په لاس کې
د جونګړې خواته لاړ شي په خبرو
دیمرا خبره ده ټوله جوړه شوې
په آس ناست دی دا سردار د سردارانو
ایلینو دلام هنر ته فکر وړې
په لرګي کې یې د پلار خبره غربږي
آفرین دې وي په داسې هنر باندې
خو لام زانګي د خیالونو په دنیا کې
فکر وړی دی دلوی نقاش انځورته
خدای په څه هنر تراشلې ایلینو ته
چې راغلې نن د لام د زړه ګې کور ته
زه به هم تقلید د لوی نقاش د کار کړم
په مرمرو کې به جوړ تصویر د یار کړم

WWW.SAMSOOR.COM

ایلینو ته یې ډېره ورښکاره کړه
ژر به جوړه دلته بله ایلینو شي
چې ته ځي نو دا به زما دزړه څراغ وي
دهنر په لوی جهان کې به وي پاتې
زما د ګوتو یو یادګار پردغې زمکې
ستا د ښکلي قامت سروه به ځلیږي
څو چې دا زمکه وآسمان وي دا مکان وی
چې په خپل ژوندون کې جوړ دا ستا تصویر کړم
هیڅ ارمان به مې دژوند راپاتې نه وي
چې حیران ورته هډه ، ویهار ،کشمیر کړم
ایلینو دخپل تصویر په ننداره شوه
ویل یې ګرانه زه خو ستا یمه ستا خپله
دا بدن به دې په ګوتو کې کړم خاورې
ګرانه لامه زه دې مخ ته یمه ناسته
زما دجسم په دیدن باندې ځان موړ کړه
چې یمرا روان کشمیر ته په سفر شي
زه به هره ورځ سهار راځم دیدن ته
ستا ومخ ته به ولاړه تېوله ورځ یم
چې مې جوړه په مرمرو کې څېره کړې
ارمانونه د ژوندون به دې پوره کړې
دنذرونو میاشت رابره پر کلښوم شوه
دیزانی دلمر بګۍ په کینه راوره

WWW.samsoor.COM

د زيتونو داني وشوې رنګ يې راوړ
په غرمه کې مرغۍ سيورو ته پناه شوې
ستر وايګل زيړو ګلونو لاندې پټ شو
د زنبق ګلونو زمکه ياسمين کړه
غرنيو کبر ګلو اوښکې راوړې
ستريمرا روان په لورې د کشمير شو
لوی لښکر ورسره واوښته په غرونو
په تور آس باندې څېره د يمرا بار شوه
ها چې لام په خپل هنر وه جوړه کړې
لس مريان يې دواړو خواوو ته روان وو
د تور آس په تندې زوړنده کېږه وه
درويښمو شال يې خپور په هسکه ملا و
د يمرا لرګين تصوير يې و پټ کړی
په څلور رنګه وريښمو پوښو باندې
څو سرتېرو يې تر مخې ناټ کولو
د تېرو تورو يې څه ښکلي شرنګا وه
د کشمير خلک په تمه د سردار وو
د کورګل مزدک پوښلي و پر ګلو
راهبان ورته ولاړ کتار کتار و
چې تمثال به د يمرا راځي محل ته
کشمير يانو لار څارله خپل اتل ته

WWW.samsoor.COM

# شلورم سرود

ديمرا په امرلس آسونه زين شول
يوه لويه رمه مېږې او پسونه
د سروزرو دوه بوخڅۍ هم ورسره وې
ايلينو له غلامانو سره راوړل
دا سوغات و د سردار يمرا ولام ته
لام حيران و د پاچا دغه انعام ته
ايلينو د ښکلو سترګو په جادو کې
د مرموزو شونډو پټه موسکا وکړه
ويل يې هره ورځ سهار دلته راځمه
ستا ومخ ته به کينم چې ته راته ګورې
زما خبره کړه له مرمرو ښخه جوړه
چې ښايست مې شي تلپاتې په جهان کې

WWW.SAMSOOR.COM

چې دا خلک تر قيامته راته ګوري
آفرين کوي دا ستا پر لسو ګوتو
لا م ته دا تر ټولو لوی سوغات ښکاره شو
د جهان له ستر خالقه و خوشاله
ډيمرا انعام به څه وي څو آسونه
يو څو ميږې يا څه زر يا څو پسونه
لوی نعمت د خدای راتلل دا يلينو دي
چې د عشق ټول ملنګان يې په سجدو دي
لويه خدايه ! اې د حسن ستر نقاشه
احسان منديم ستا له دومره لوی پاداشه

WWW.SAMSOOR.COM

## پېنځم سرود

لا يو څو ستوري به پاتې وو آسمان کې
د شپنو دهای وهوی ناري به راغلې
د رمو د غاړو زنګ به په کړنګا شو
بوی د شنه سونګوري ډکه به فضا کړه
لام به واخېسته قلم او ښتک لاس کې
سپين مرمر ته به يې وکتل له ورایه
ایلینو به يې تصویر کړه سر تر پایه
د مرمرو سپينې تېږې بختورې
د دنیا تر ټولو ښکلې به انځور کړې
ته قامت به شی د حسن او د مینې
عاشقان به درته واړه په سلام وي
څو دنیا وي څو يې خلک څو يې مینه

WWW.samsoor.COM

آفرين به په هنر د برى لام وي
لام د خپلي ايلينو په صفت سر و
تراني يې د الفت ورته ويلې
له مرمرو يې پترې پترې تراشلې
له سهاره به د لام د ښتک غږ و
داوبو ښپو له تېږو سره جنګ کړ
ځړوبي لا شرهار کاوه په زوره
د وايګل ښکلې دره په ګلو پوښ وه
د ځنګله د ميوه دارو ونو منځ کې
پيغلې ډلې ډلې سر وې په سندرو
ښايسته فضا د ښکلي نورستان وه
که جنت و ، نو دا سيمه په جهان وه
هره ورځ ورته ولاړه ايلينو ده
لام يې ښکلى بدن تراشي له مرمره
ستوري پريوځي ، لمر راوخيژي ، بيا شپه شي
د مرمر ډبره ورو ورو ښکلې کېږي
اوس يو ښکلى اندام ښکاري په ډبره
ول ول زلفي يې پرتې پر نرۍ ملا دي
دنګه غاړه يې د سپينې بتې خيال دى
پر ټټر يې د مرمرو انارونه
دنري کميس ښپې په کې انځوردي

راشه ګوره د ململ شاته ستونه
د هنر په جادو مخ او پوزه جوړه
له تندي يې دى ختلى لمر د حسن
له ډبرې نه لام جوړ کړ لمر د حسن
خو عجيبه ده چې کار يې پوره نه شو
هنرمند لام دى حيران خو وس يې نه شته
چې په څه هنر يې جوړې کا دوه سترګې
لام ولاړ دى ګوتې مروړي خپل هنر ته
چې په څه کمال يې خوله کاندي راجوړه
هغه راز او هغه رمز چې لري شونډې
هامرموزه موسکا سل بابه خبرې
په خندا کې هغه پټ خاموش غمونه
هغه درد چې په لبانو کې دى نغښتى
هغه خوله چې خاموشۍ کې کړي خبرې
ها د غم په ساز چې تل وايي سندرې
لام د داسې خولې انځور ايستلى نه شي
هيڅ پيغام يې د موسکا لوستلى نه شي
لام د سترګو و انځور ته هم حيران دى
په دې سترګو کې د کوم جادو اثر دى
دغه سترګې په هزار ژبه ګويا دي
دا خاموشه تيږه راز نه شي ويلى

WWW.samsoor.COM

په کتو کې هغه درد او هغه مينه
خدايه څنګه يې انځور کا په ډېره
په دې سترګو کې هم غم شته هم خوښي شته
هم د مينې تلوسې دي په څپو کې
هم دټولې دنيا پوهه په کې پټه
هم ماشوم غوندې ساده ساده خبرې
بس چې وګورې د سترګو هر نظر ته
په هزار ځله دې غواړي خپلې غېږ ته
کړي ستونه په هوس او په مستۍ کې
لکه ډکې د شرابو دوه پيالې دي
په کې قهر د زمري ، د هوسۍ ويره
په کې وهم د عقاب، ښکلا د زرکې
بس د سترګو او د شونډو پټ انداز دی
توپان راولي پر زړه د مين د واړه
څه مسلات يې سره کړی دی عاشق ته
د شاعر قلم حيران يې دی تعريف ته
انځورګر يې په رنګونو کې راګير دی
لام به څنګه کړي ډېره ورته جوړه
دا قاتل حسن به څنګه زنداني شي
ايلينو په خپل ښايست وه جادوګره
طلسمونه يې په سترګو کې پټ کړي

ډېرې کوډې يې په شونډو کې وېدې وې
لام به هر څه د هنر په قلم جوړ کړي
خو په تېره کې جادو ساتلای نه شي
څنګه را ولي هوس او مينه دواړه
په ډبره کې پراته غاړه په غاړه
لام په ورځو شپو ولاړ تصوير ته ګوري
او څېره د ايلينو يې مخ ته ايښې
نوره جوړه په قامت ده لوړه ښکلې
نرۍ ملا يې زور په زړونو کې اوبه کا
پر سينه يې د نظر سراب ماتېږي
دوه ښتو هره حلقه يې زړه خراب کړي
د ښکلا صنم ولاړ د غره لمن کې
نه يې سترګې نه يې خوله شته دي په مخ کې
څڅک ريږدي د لام لاس کې له غوسې نه
خدای په څرنګه ناکام يم اخته کړی
هغه زه چې د تمام جهان استاد وم
زر څېرې مې غږولي دي په سنګ کې
دلرګيو انځورونه مې مست کړي
د مرمرو سپين آسونه شيشنيد لي
نن حيران ولاړ د حسن پيکرې ته
د جادو او عشق عجيبې منظرې ته

WWW.samsoor.COM

بس دا ځل چې ایلینو راشي دیدن ته
ترې به و پوښتمه راز د دې طلسم
ستا په شونډو او په سترګو کې څه راز دی
چې زما هنر یې مات شو تصور ته
وایه څه دې دي پټ کړي په څېره کې
چې یې زه انځورولای په لاس نه شم
خدای په څه انداز پیدا کړلې ستا سترګې
او په څه خوږه موسکا یې شونډې وا کړې
ګرانې وایه راز چې دلته یې انځور کړم
په ډبره کې دې حسن جاویدان کړم
دا جادو چې ستا څېره کې بندیوان دی
دابد لپاره تېره راژوندی کړي
دا اثر چې ستا څېره کې په خپو دی
غر او سیند به دې صنم ته په سجده شي
ګرانې وایه چې ښایست دې څنګه جوړ کړم
د ډبرې روح د استا په ښکلا موړ کړم

WWW.SAMSOOR.COM

## شپږم سرود

بل سهار چې دره ورو ورو وينښيدله
شپه دلوړو څوکو شاته پټيدله
لام د ښکلې ايلينو تر مخې ناست و
د جانان د ښکلي مخ په ننداره کې
ورک له ځان او له جهانه زلمی لام و
بس د شونډو او د سترګو په جادو کې
د تصوير په تصور کې يې ناکام و
ايلينو !داستا په سترګو کې څه پټ دي
وايه شونډې دې په کومه موسکا خاندي
لږ د خپل ښايست جادو راسره مل کړه
د خپل عشق په کراماتو مې کامل کړه
دا طلسم دا جادو په خپله وا کړه
نور مې خلاص له دومره لويې معما کړه

WWW.SAMSOOR.COM

وایه څنګه دې موسکا کړمه انځوره
لړیو ځل خو په ساده نظر راګوره
ستا قامت مې ټول جوړ کړی له مرمرو
بس د شونډو او د سترګو تصویر نه شته
دا نیمګړی صورت ژوند را څخه اخلي
نور مې فن او هنر دواړه دي خلاص شوې
نور په لاس کې نه قلم نه څټک ګرځي
نور له رنګ او له بې رنګه بیګانه یم
نور مې ګوتې له مرمرنه پردۍ شوي
تر هغو چې دا تصویر ستا پوره نه کړم
زه به ژوند په څه امید په څه پلمه کړم
ایلینو چې خپل پیکر ته وه حیرانه
خپل اندام اندام یې ولید په مرمر کې
دلام ستر هنر یې راغی په نظر کې
آفرین شه د جانان په ګوتو باندې
چې په څه هنر یې جوړه کړم له تېږې
خو بس دا دلام د ډېرې مینې زور دی
چې زما په شونډو سترګو کې څه وینې
کوم جهان دی کوم یې راز او کوم یې شور دی
ګرانه لامه !زما په شونډو او نظر کې
ستا د عشق او مینې تنده پټه شوې

WWW.SAMSOOR.COM

بس له تا سره کيسې دي او خبرې
زړه مې غواړي درته ټولې دا بيان کړم
ستا د عشق له شوره ډک دغه جهان کړم
چې دا ستا پر متهو سر کېږدم ويده شم
بېرته ستا سترګو ته ګورم شم راويښه
چې دا ستا پرزنګانه زلفې خورې کړم
تا ته وايمه د مينې زر داستانه
عشق له اوو غوټو نه تېر د ژوند مانا ده
هره غوټه به په زر کاله پرانيزو
زه او ته چې سره يو په راز او نياز شو
ستا ددې تصوير طلسم به پرې مات کړو
که په سترګو کې مې ډوب شې بيا به پوه شې
چې يې ښکلې په مرمرو کې تصوير کړې
که په شونډو مې خوله کېږدې خوندترې واخلې
بيا به دغه اور په تېږه کې ترسيم کړې
بس زما او ستا د عشق مراد به دا وي
چې زه ستا شم بنديوانه ته قيدي شې
تا د زلفو په زنځير د ځان بندي کړم
له دې دومره لوی جهان ښځه دې پټ کړم
له پاچا او له ګدا ښځه دې ورک کړم
ښو رياضت زما د وصل درسره شي

WWW.samsoor.COM

چې افکار دې په يوه تنور پاخه شې
څو د دوه شونډو کتاب ولولې پوخ شې
څو د سترګو په رازونو دانشمند شې
څو زما حسن کې ورک شې ځان پيدا کړې
چې د خپلې هستۍ راز درته معلوم شي
چې دا لويه معما درته مانا کړې
بس په هغه ورځ به بيا ښتک راواخلې
بس هغه شېبه به ستا قلم په کار شي
بيا پوره به ستا نيمګړې داشهکار شي
يوه بله ايلينو به ته پيدا کړې
چې جهان کې ابدي د عشق يادګار وي

WWW.SAMSOOR.COM

# اووم سرود

له پارونه د ساړه باد لښکر راغی
ځنګل پټ شو په سرو ژيړو پاڼو باندې
سيند ښېره په باد راوړيو پاڼو پوښ کړه
ما زيګر د زيړې لمر زرينې وړانګې
لکه پريو ځې زيړ ښراغ پر زرو باندې
دوه شاهينه د اسمان پر لمن راغلل
د درې پر سر له وريځو لږ راکوز شول
بېګانه ګامونه اورې په دره کې
ځوان شاهين بله دوره وکړه او لوړ شو
د مرغيو سيل ځنګله کې بيا پناه شو
ايلينو لام نه رخصت واخېست او ولاړه
ځوان عاشق يې لا د آس ګامونه اورې
لا يې شته په خوله کې خوند د يار د شونډو

WWW.samsoor.COM

لايې مست نظر د سترګو تصوير ساتي
لايې عطر د بدن هوا کې پاتې
مازيګر دى او سړه هوا چليږي
لمر ته څو شيبې مزل تر غره دى پاتې
چې ناڅاپه له کوم لوري ششنهار شو سس
د کوم مست او ياغي آس د پښو غږ دى
يو آس نه دى ، دوه که درې ورسره نور دى
له پښو لاندې يې رغړې کاڼي ښکته
داسې ښکاري چې کوم لرې ځاى نه راغلل
مسا پر به وي کلښوم ته څوک راغلي
دلام سترګو کې يې خيال د دلبر مات شو
څو سواره د غره له کينې خوا نه راغلل
د سپرو مشر پر تور آس را ښکاره شو
لويه توره يې په ملا پورې تړلې
پولادين خول يې پر سر اينبى له پاسه
درې آسونه او سواره پسې روان وو
ښکاريدل چې د دې مشر پاسبانان وو
رانږدې شول دلام کور ته يو څو ګامه
لږ څه تم شول چې د کور خاوند پيدا کړي
لام چې وکتل د جنګ سردار راغلى
ها د تورو او د ننګ سردار راغلى

"ګېښن " چې لوی سردار د جنګ او د جګړې و
مخامخ ولاړ لمن کې د درې و
لام سلام وکړ راغلیو میلمنو ته
اې د دې وطن نو مورو اتلانو
خدای مو راوله د دې فقېر د رشل ته
چېرته د رومئ او په کوم لور مو سفر دی
په خبرو کې مو د اوږد مزله اثر دی
ګیبڼ د آس وندنی کلک کړ رانږدې شو
بنه په ځېر د لام د کور په ننداري شو :
ځوانه څوک یې د لته لرې دغره خواته
د کلښوم له ښاره لرې دلته اوسې ؟
برې لام یم واستاکار د تصویرونو
دنقشونو هم د پاڼو او ګلونو
ګېښن چې ځېر شو نو راکوز شوله خپل آسه
پاسبانان یې هم راکېوتل له پاسه
ویل یې :ته یې هغه ستر نقاش د سیمې
نورستان دې چې هنر ته په سلام دی
ستا دنوم آوازه ما هم اوریدلې
ستا د ګوتو انځورونه مې لیدلي
خبر شوی یم چې تا یمرا جوړ کړی
په آس سپور دې تر کشمېره دې لیږلی

WWW.SAMSOOR.COM

په کشمېر کې خلک ستا هنر ته ګوري
ديمرا پاچا حضور ته په ګونډو دي
هغه ته يې چې له تېږې ښېره ساز کړې
له لرګيو نه پيکر جوړ په اعجاز کړې
دا خوښه شوه ، چې مې وليدلې دلته
زه يم ګيښ سردار د جنګ اود وژنو
چې په توره مې خړوب دي ډېر سيندونه
چې زما د لښکر غږ شي غرونه رېږدي
چې زما د سپرو شور شي زمکه ښوري
زما سرتېري چې راپاڅي دنيا سوزي
زما له وهمه د ديوانو اروا سوزي
اوس روان يم ديمرا پاچا ماڼۍ ته
خبر شوی يم يمرا دی تيرو تلی
راجه ګانو په جادو دی ګمراه کړی
ماله هند سره جګړه وه پيل کړی
ډېر وګړي شول د پيل تر پښو لاندې
ډېر سرونه مې په تورو آواره کړل
ډېرې زمکې مې راخپلې کړې يمرا ته
مګر اوس يمرا د سولې غږ ايستلی
راجه ګانو ته يې امن دی ورکړی
يمرا خپله ښېره وړې ده کشمير ته

WWW.SaMSOOR.COM

ده غرور دنورستان دی نن مات کړی
زما د توري تنده نه ده ماته شوې
ځم دربار ته دیمرا چې پیام ورکړم
زه به جنګ په هندوستان کې بیا میلمه کړم
زه به راوړمه دزرو انبارونه
دالماسو دیاقوتو امیلونه
دیمرا دربار به ډک له خزانو کړم
نورستان به موړ دلعلو په دانو کړم
بري لامه دامې یون دامې سفر دی
یوبل جنګ ته مې جوړ کړی لوی لښکر دی
ګېښس په ډېر غرور دجنګ داستان بیان کړ
لام یې خپل قوت او زور ته هک حیران کړ
باد راوالوته له ستره هیندوکوښه
دځنګله دونو څانګې یې کږې کړې
شنه پرده یې له مرمرو کړه راغونډه
دګېښس سترګې په ډبره کې شوې ښخې
دحیرت ګوته یې غاښو لاندې کېښوده
دلام ستر هنر یې هوش له سره یوړ
ویل یې واه !دنورستان دهنر پلاره
دادې څه قیامت جوړ کړی په مرمر کې
وایه څوک دداسې حسن ده خاونده

WWW.SAMSOOR.COM

دا د چا ښېره دې کښلې په ډبره
د دې جسم مېرمن دومره ښايسته ده ؟
که د استا هنر ده دومره ښکلې کړې
وايه څوک دې په زړګي درننوتې
چې دې خيال دی دومره ستر هنر کارېلی
زما زړه یې په ډبره کې بندي کړ
ستا هنر ښاغليه څومره دی پياوړی
لام پرده پر مرمر ببرته راخوره کړه
ويل يې نه ښاغليه دا زما هنر نه دی
د دې جسم ملکه ده ډېره ښکلې
هومره ښکلې چې زما له ټوله خياله
له هنره اوله روح نه هم ده ستره
هومره حسن چې لري د دې خاونده
زه عاجز يم د هغې له تصوره
زه ناکام شوم چې يې جوړ کړمه بل مثل
ايلينو د ستر يمرا لورده آغلې
چې د سترو ښايستونو خزانه ده
په اعجاز ده جوړه کړې د خدای ګوتو
زما هنر يې وتمثيل ته بهانه ده
دا تمثال به لا نيمګړی وي څو پايي
زما قاصر هنر يې نه دی د تراشلو

WWW.samsoor.COM

د هغې شونډې او سترګې تفسير غواړي
زما خيال او فکر يې نه دي دويلو
زمانه به را پيدا کړي دا سې ګوتې
چې پوره کا زما هنر ددې په مينه
تر هغو به دا ولاړه وي همدلته
نا پيدا لکه زموږ د هستۍ وينه
د ګېښ خيال دا ايلينو حسن کې ورک شو
د هغې د تش تمثال ننداري يو وړ
نور جهان ورته راتنګ لکه ګوتمۍ شو
ديمرا کورته روان په ناکامۍ شو

WWW.samsoor.COM

## اتم سرود

دا څوورځې شوې ، چې لمر رڼا يې نه کا
دا څوشپې دي ستوري نه کړي سترګکونه
څو سهاره باد ځنګله کې چېرې پټ دی
د مست سیند څپې هم نه کړي غورځنګونه
ها ،آشنا ګوربتان نه شته په اسمان کې
زرکې نه کړي کاکړې او خرامونه
دنیا ګۍ، دلام د خیال ده تکه توره
رڼا ورځ ورباندې غم د جانان اوري
دا څو ورځې ایلینو نه ده راغلې
په دره کې یې داس ششنهار نه شته
د دلبرې په دیدن پسې هلاک دی
زمکه کلکه اسمان لرې دی یا خدایه
دادې څه د هجر اور ته ورګوزار کړم

WWW.samsoor.com

په ما څه کانې د عشق له لوري کېږي
يا د يار د وصال هو مره شريني وه
په ديدار يې چې د ټول جهان پاچا وم
اوس د هجر په لمبو کې دا سې سوزم
په دې لو يه دنيا زه تک وتنها يم
لام لا سر و په زنګون د غمو ايښی
چې ناڅاپه په دره کې د آس غږ شو
هلته لرې مرغۍ والوتې له کاڼو
لام په سترګو باندې لاس کېښود او څېر شو
زړه يې والوته له ډيرې خوشالۍ نه
د ځېږې څېرې په کونج يې موسکا راغله
هله زيرى چې ښايسته محبوبا راغله
لام د خپلې معشوقې مخ ته کړه منډه
الينو په تونده منډه راروانه
هلته لېرې له خپل آسه شوه راکوزه
څه په زغرده سره غاړه اوغړۍ شول
يو له بله يې تو دې مچکې غلا کړې
د وصال په اور تاوده شول بدنونه
الينو وړو سلګيو ده اخېستې
پر سينه د لام يې سر ايښی او ژاړي
لام په خوا پورې نيولې خپله مينه

WWW.samsoor.com

هک حیران چې څه پېښ شوي په دربار کې
زما ښکلې شهزادګۍ وو ایه څه دي
دا څوورځې ولې نه راتلې دیدن ته
زما زړه لکه دمني پاڼه ریږدي
وایه څه دي چې دې ښکلې سترګې ژاړي
راځه ولاړ شو د هغې پرښې ترغاړې
د هغې ګورې څېړۍ سیورې ته کینو
راځه هلته به لږ دمه وکړو دواړه
څه چې وچې دې کړم تورې ښکلې سترګې
خدای به هر څه کړي آسانه ته مه ژاړه

# نهم سرود

دهاګورې څېرې سیوری د یار غېږه
پاس اسمان کې دهیلیو یو څو خیله
سیند څپې وهي پرکاڼو سینه موښي
غره د دوه مینو خوالې ته غوږ ایښی
ایلینو لام ته کښه کوي په بیړه :
ګیښ راغلی و دربار ته په ډېر قهر
ویل یې ماده ملا تړلې هندوستان ته
ځم راوړمه د سرو سپینو انبارونه
ستر یمرا ولې د سولې غږ ایستلی
په ریښتیا چې زموږ پاچا دی تېروتلی
ګرانه لامه ! په دربار کې ګونګوسې دي
مال اراچې د یمرا ناسکه ورور دی
اوس له ګیښ سره یو ځای دی په دی جنګ کې

WWW.samsoor.com

وايي زه دې يم ملاتړ د هند په جنګ کې
که ته راکړې پاچاهي د يمرا ماته
ګيبش په پټه ماليرا سره لاس يو کړ
ويل يې ته به يې پاچا زه به سالاريم
خو زه غواړمه يو بل څه له درباره
ايلينو چې شهزادګۍ د نورستان ده
زه يې لاس غواړم چې شي زما مېرمنه
ماليرا !خپله وريره وماته راکړه
زه به تاج د يمرا تا ته درپه سر کړم
لښکر ټول زما د نوم فرمانبردار دی
د يمرا پاچاهي تا سره ښه زيب کا
زه او ته د هندوستان خزانې واړه
له سروزرو به ماڼۍ کړم درته هسکې
زوړ يمرا به په سياه چال کې بنديوان کړو
نورستان به ټول دا ستا په حواله وي
له الماسو به دې ډکه خزانه وي
بس ته ښکلې الينو وماته راکړه
پاچاهي او خزانې له مانه غواړه
ماته وکړې دا خبرې ګرانه لامه
زما کنيزی چې محرمه د درباره ده
د هغې زلمی مين چې دی ساتونکی

ماليرا سره هميش تر ښنګ ولاړ وي
دا خبرې يې وې کړې محبوبې ته
او هغې راته په پټه داسې وويل :
ګېښن او تره دې دا سودا کړې په پټه
تابه ورکړې د جنګونو دې سردار ته
پاچاهي به مال اراته شي ورپاتې
ستر يمرا به په سياه چال کې بنديوان شي
ګرانه لامه داسې ستر فساد روان دی
الينو به په سرو زرو درنه يوسي
نه به لام وي نه به ژوند دعشق په غېږ کې
پلار به لاړ شي په تيارو کې به بندي شي
د دښمن په کور به ناسته يم پريشانه
له داهسې ژونده مرګ ماته بهتر دی
ځکه ما دخپل مرګي تړون دی کړی
مګراې زما دژوند ستره واکداره
زما دزړه او زما دعشق ځوانه سلطانه
زما وجود کې ستا دعشق يو خوږ ياد ګار دی
زموږ دميني شهزاده دی زما په نس کې
دا يادګار ماته له خپله ځانه ګران دی
زما ټول جهان په ده باندې ودان دی
زما ژوند اوس ستا دعشق په لاس ګرو دی

WWW.samsoor.com

ګرانه لامه دژوندون او مرګ تر منځ یم
پلار به بېرته را روان وي له کشمېره
بې خبره له دې دومره شور ماشوره
مال ارا او ګېښ پټ دا سې ترون کړی
چې به لاره ورته ونیسي چترال کې
دلته خلک دیمرا پاچا په خوا دي
دلته ګېښ نه خلک کرکه او نفرت کړي
زموږ خلک نور له وینو ستړي شوي
هم له تورو له تورزنو ستړي شوي
مال ارا او ګېښ ورځي دیمرا مخ ته
غواړي رايې ولې دلته لاس تړلی
دلښکر په زور پاچا به مال اراشي
نورستان ته به څه توره تیاره راشی
ګرانه لامه له درباره او له کوره
نن سهار توره تیاره ووتم پټه
غلامان او کنیزانی بې خبره
له یو آس سره راغلې یمه دلته
ستا فرزند مې په خپل بطن کې ساتلی
ستا دعشق جسد مې دلته دی راوړی
یا په خپلو لاسو ووژنه موږ دواړه
یا دخپلو متو منځ کې پناه راکړه

WWW.samsoor.COM

لام له دوا ړو مټوونيوه محبوبه
ويل يې زرځلې که مړ شم او ژوندی شم
مرګ به ستا يوه وېښته ته لاس درنه وړي
زه به جنګ ته د شيطان توره تر ملا کړم
آواره به يې لښکر او سرداران کړم
تردې مخکې چې لښکر د ګيښ تيار شي
زه به لاړ شم د يمرا پاچا کاروان ته
لوی سردار د سردارانو به خبر کړم
په دې ټولو به يې پوه په ډېر هنر کړم
زما محبوبې همدا اوس به دې مخ ښکل کړم
د چترال په لوري اوس زما سفر دی
په کلښوم کې زما خپل غيرتي دوست دی
ترهغو چې زه راګرځم له سفره
ته به هلته پټه اوسې له شيطانه
ګرانې !ته زما مغروره زړوره
لکه مسته زمرۍ ويره له چامه کړه
بس تر څو چې لام ژوندې وي تا سره دی
څوک دې سيوري ته هم نه شي درکتلای
بري لام لکه سپاهي درته ولاړ دی
ايلينو تر خپل جانانه متې تاو کړې
ويل يې نه زما پاچا زما محبوبه

WWW.SAMSOOR.COM

تا يو ازې پرېښودی نه شم سفرته
ستا محبوبه به رکاب کې درسره وي
زه ځم چې دخپل پلار مخې ته ورشم
تهٔ له لاره به دې زړه په مينه ساتم
څو مره لرې چې زه تښتم له شيطانه
څومره ډېره چې له تا سره يو ځای شم
هومره ژوند به راته ژوند وي په جنت کې
تا يو ازې پرېښودی نه شم محنت کې
تهٔ له لار به دې خوراک وي زما شونډې
تهٔ ول مزل به اوبه څښېې زما د حسن
هره شپه به دې توده غېږه کې ساتم
هر سهار به دې په زلفو وېښومه
ګرانه لا مه ستا نفس سره به پايم
څو چې ته يې زه به ستا په تماشا يم

# لسم سرود

لوړو څوکو کې لومړۍ واوره ښکاره شوه
هیندوکوښ د مني باد ته سینه سپر کړه
سیند په توند اتڼ لا اچولې څنې
مهاجرې هیلۍ خیل خیل تیریدلې
په وزرو یې پستې وریځې څیرولې
دوه آسونه لکه باد په منډه سر وو
پر سپین آس نیلي جامو کې ایلینو وه
تورې زلفې یې د باد په څپو مستې
پر سمند باندې ځوان لام لکه باد ځغلي
د محبوبې پر وصال یې زړه خوشال دی
د راسا د سیند په لوري یې مزل دی
هسکو غرونو کې یې جوړ د عشق بورجل دی
نه یې خوب نه یې آرام او نه یې دمه
بس په منډه شپې او ورځې دې تیریږي
حاسدان پرې خبر مه کړې لویه خدایه
تریخ یې داخوږ سفر مه کړې لویه خدایه

WWW.samsoor.COM

## يوولسم سرود

د راسا له سينده مسته ورېمه راغله
د څپو توپاني غرېږي غرو کې پيچي
لکه بحر څوک په تنګه دره سيخ کړي
له هيبته يې هسک غرونه هم لړزيږي
دراسا د بستر غاړه شنه ورشو کې
دوه آسونه جوړه څري سپين سهارده
دوه مينه يو دبل پر غېږ تاوده دي
ټوله شپه يې په مزله وهلې لار ده
ټوله ورځ يې اوږد مزل دی لا په مخ کې
تر چترا له دي لاغرونه ګړنګونه
دلام سترګې دي ستومانه لالهانده
پټ په سر کې يې تيريږي زر فکرونه

WWW.samsoor.COM

که ګېنېس مخکې لا لېږلي وي سرتيرى
که يمرا پاچا يې لاس ته وي لويدلى
که لښکر د د ښمنانو مخ ته راشي
مال اراکه د هند جنګ ته لښکر جوړ کړي
آواره به څومره خلک شي له کوره
څومره ميندې به شي بورې په زامنو
څومره خويندې به شي ورارې په زلميو
څومره ښکلي ماشومان به يتيمان شي
څومره چتې به اسيرې شي د تورو
څه ماڼۍ او څه جونګړې به تالا شي
څه ښارونه به د جنګ په اور کې سوځي
زما د ستر بلورستان نوم به هم تور شي
کلښو ميان به شي بدنامه په دنيا کې
د يمرا د خير لاس به هم رالنډ شي
نور به څوک د پاچا نوم اخېستى نه شي
له خيرو به يې خالي شي مزدکونه
دلام ستر هنر به هيڅ چاته نه ښکاري
په لرګينو خيرو بل به شي اورونه
زما ښکلې ايلينو به خدايزده څه شي
زما له مرګه به يې څومره زړګى مات شي
زما د ميني ښښه ، زما عزيز فرزند به

WWW.SAMSOOR.COM

خدايزده کومو ناکسانو ته احتياج وي
په نازکې ايلينو به د دښمنو
ګډه د قهر او د ظلم تورتاراج وي
خدايه مه راولې هسې ورځ هيڅکله
چې پر سوله باندې بر د جګړې ديو شی
دلام ژوند دې هزار ځله قرباني وي
بري لام به خپلې وينې نذرانه کړي
چې د ښکلې ايلينو غرور خوندي وي

WWW.samsoor.COM

## د ولسم سرود

د چترال هوا د ژمي خبر راوړ
خلکو بيا کړې پوستينچو نه جامې سازې
د ليمڅيو خولۍ ښې پر سر راکش شوې
بيا شوې پټې د سيند لونې نظربازې
ميخانو کې بيا زاړه شراب ګرځيږي
په کړنګا سر د پسونو زنګولې شوې
له ورشو څخه راکوزې شوې خزان کې
د چترال د پاچا شل زره رمې شوې
شپه په ستورو ډک اسمان ، زمکه رڼا ده
د چترال د پاچا کور کې ميلمستيا ده
ستر يمرا ته يې پيېلې دي پسونه
درباريان ورڅخه لاس تبرک غواړي
پاچاهم لاس په نامه ورته ولاړ دی

WWW.samsoor.COM

وايي زما ستره سرداره عرض مې واوره
د چترال د خلکو هيله درته وايم
وايي څو ورځې نور هم زموږ ميلمه شه
چې موږ ټول درته راټولې نذرانې کړو
ستا قلنګ پر موږه پاتې له کلونو
ستا د ښکلې ايلينو ګانې پر موږ دي
چترالي ګڼ کميسونه ورته اوبو
زموږ شل زره رمې تا نه کوربان شه
د رسره به کړو زر مېږې او پسونه
منګوټې مودي ډک کړي ، دغره شات دي
پوستينچې هم د وريښمو يې پوښونه
ملکې ته زموږ له لوري دا سوغات دي
ستا د عدل برکت دې زموږ سرداره
چې چترال له نعمتونو څخه ډک دی
زموږ شل زره رمې تا نه کوربان شه
يو څو ورځې زموږ د سيمې ميلمانه شئ
د راسا د سيند اوبه چې شوې لږ کمې
بيا به هله خپل کلښوم ته ورستانه شئ
خو يمرا هغه سردار د سردارانو
په مننه شاه چترال ته موسکا وکړه
ويل يې :ستاسو دې آباد وي خپل کورونه

ټولې شل زره رمې مو شه سل زره
خپل نغري مو شه تاوده په خپلو خسو
پاچاهي دې د چترال تل برقرار وي
په وريښمو او سئ پټ خواږه په شاتو
يم روان لرمه بيړه خپل کاله ته
دا څو شپې وينمه بد کرکجن خوبونه
خدای دې ساتي زما خلک بد نظر نه
بس سبا سهر به يون وي له چتراله
دراسا سيند نه تيريږمه باژګل کې
هلته خلکو د خېرېو پول تړلی
تردې مخکې چې اوله واوره پريوځي
له درو څخه به تير زما کاروان شي
ځم چې ګرانه ايلينو به انتظار وي
زما خلک زما کور به ناکرار وي

WWW.SAMSOOR.COM

# دیارلسم سرود

د یو خړ ماښام فضا ده په دره کې
لومړنی ستوري سترګک وهي آسمان کې
د درې له دواړه لوریو شنو ځنګلونه
د چنچڼو غږ لا اوس هم پورته کېږي
چېرې بوم غږ را بهر کړي له ځنګله نه
د اسې ښکاري شپه په بیړه را روانه
یو کاروان راځي په لاره له چتراله
دوه سپاره یې مخامخ شول په دره کې
یو سپین آس پرې اسماني ټیکری رپېږي
په سمند باندې یو دنګ زلمی ښکارېږي
په چوپتیا کې سپاره مل دلوی کاروان شول
په ځنګله کې چې خاموش جوړه مارغان شول
په دره باندې رڼا د سپوږمۍ را غله
سیند د ستورو شنه هینداره شوه ځلیږي
یوې ښکلې سر د پلار پر ټټر ایښي
په رکاب کې یې د ځوان توره ځلیږي

# ثوار لسم سرود

د راسا په چپه غاړه شين چمن دی
سپيدې وچاودلې يو يو ستوری کوچي
د سهار عطر له باد سره خوريږي
د غره هسک کې د خيړيو ګڼ ځنګل ته
ثو چټک توره پر لاس سواره پناه شول
دا سرتيري ديمرا پاچا استازي
وکلښوم ته دي روان په پټو لارو
چې بندي هغه سرکښ د پاچا ورور کړي
هم د ټول نورستان خلک پرې خبر کړي
چې ګښښ لار د بغاوت ده خپله کړي
سالاران د لښکر ټول سره يو ځای شي
د دربار او د مزدک ساتنه وکړي
د پاچا لښکر تيار راسا ته راشي

WWW.samsoor.com

چې د ګېبش د سپرو لاره کړي وربنده
د يمرا کاروان روان په بله لار شو
دراسا پر غاړه ځي لوی ننګرهار ته
چې پر لار د لمپاکا راشي کلښوم ته
د يمرا کاروان روان په اوږد مزل شو
له اسماره بيا کامې بيا درونټې ته
لمپاکا نه به راتاو په الينګار شي
د ښايسته بلورستان لارې دي ډېرې
ننګرهار هوا په ژمي کې جنت ده
لمپاکا کې به لوی جشن دواده کړو
لام او ښکلې ايلينو به ديوبل شي
چې بيا باد د پسرلي عطرونه راوړل
له ګلونو سره مل به کور ته ولاړ شو
اوږد مزل دی لوی کاروان ځي ننګرهار ته
ها وطن چې تل بهار په کې ميلمه وي
د بلبلو چغهار په کې ميلمه وي
لمپاکا لکه په شنه کميس کې پېغله
اوړی ژمی سبزه زار په کې ميلمه وي
لمپاکا کې د يمرا د کاروان مخ ته
نر او ښځې له کورونو راوتلي
د ډولونو مست آواز راځي له ليرې

WWW.SAMSOOR.COM

ځنبور په اتښونو راوتلي
لمپاکا کې دي جشنونه نڅاګانې
نن خبرونه له کلښو مه دي راغلي
درباریانو مال ارازنداني کړی
ګبښ له خپلو څو یارانو سره ورک دی
خلک وایي چې د یوښ دربار ته تللی
ها بد جنسه د بدیو دیو په غره کې
چې شیطان غوندې تیارو کې پاچاهي کړي
ګبښ قسم دا انتقام وکړ او ورک شو
یوښ په لرې غرو کې پټ دی له یمرانه
ګبښ به هم ورسره هلته وي پټ شوی
قاصدانو دا خبر ورته راوړی
څو یمرا د خپلې فتحې جشن لمانځي
لمپاکا یې څراغانه په ډیوو کړ
څو کنیزې غلامان یې مقرر کړل
چې شیره کې د سوما لونګ خیشته کړي
د ګلابو پاڼې هم ورسره مل کړي
ایلینو او لام به ځان ووینځي دواړه
پکتانه او کتیان ګډ شول په ناټونو
له داریا سره سندرې دي د پیغلو
د پاچا په حکم لوی اعزاز دلام شو

WWW.samsoor.COM

ایلینو ددې وطن تر ټولو ښکلې
د ښایسته سترګو بانه په اداء نیغ کا
اووه کنیزې یې سینګار ته ګردې ناستې
څوک پتنیک ورته په غوږ کا څوک په غاړه
څوک کېږې ورته په ښکلې کمیس ټومبي
څوک یې تورې اوږدې زلفې عنبر بیز کا
څوک یې لاس باندې ترې خیشته نکروزي
څوک کتره په کمربند کې د لام ټومبي
څوک یې جوړې د موزو چپه پرې کا
څوک یې سمه پر سر ښکلې ښېټو په کړي
څوک د بتې بنې ږدي د کترې خواته
ټات روان دی ، څه شرنګا د تورو خیژي
ډول په مست آواز زلمو کې وینه تاو کړي
دوه مین به خپل مراد مومي خوښي ده
لمپاکا کې جوړه شوې نن ښادي ده
نن دلام او ایلینو دواده شپه ده
لمپاکا کې جوړه شوې غلغله ده

WWW.SAMSOOR.COM

# پېنځلسم سرود

سږ کال ښکلی پسرلی پر کلښوم راغی
سږ کال ډېر دغره ګلونه زرغونه دي
سږ کال ډېرې توتکۍ او ډېرې زانې
سږ کال ډېر شنيلي راشنه شول په ويالو کې
ډېر کبلي په دامانو کې په ټوپکو
څو غرڅې دلوړو څوکو په ناوو کې
سږ کال ډېرې هوسۍ مستې خرامانې
سږ کال ډېر دغره چرګان په ټپ ټپو دي
ډېر خيلونه د سيسيو د چنچڼو
ډېرې زرکې په کټ کټ دي سردرو کې
د سپرلي دهوا بوی مړه را ژوندي کا
د درو فضا د عطرو خزانه ده
سږ کال ډېرې دي رمې ډېرې شپنې دي

WWW.SAMSOOR.COM

مستې نجونې په سوما پسې راوتې
په شاتوتو يې رنګ کړې شونډې سرې دي
سږکال هر سهار دلام دښتک غږ دی
په دره کې يې تراشلي څو ښرې دي
د لام کور اوس هاد غره جونګړه نه ده
د ښېريو له لرګي يې جوړ کورګی دی
شاته لويه کټاره تاو له پسونو
دوه آسونه هم ولاړ دونو ځنګ ته
څو وزې له شيدو ډکې شوخې شوخې
څو ورغومي په ترپکو هاخوا ديخوا
ايلينو دشيدو جام راوړي خپل لام ته
دواړه وخاندي او ډوب شي په يو بل کې
ته وا نه يې دي ليدلي څوکلونه
ته وا څومره دي يو ځای هومره دي وږي
يو دبل ليدو ته لا شي پسې تږي
لام ښتک پر زمکه کيږدي يار ته راشي
ځيږې ګوتې يې له متو کړي چارپيرې
څه شيبه د ايلينو سترګو کې ډوب شي
بيا يې شونډو ته په ځير نظر وګوري
خدا يزده ولې دغه شونډې دغه سترګې
لاهم ډکې دي له سل زره رازونو

خدايزده ولې لام ته لويې معما وې
خدايزده ولې په کې پټې فلسفې دي
لام بيا وګوري هغه مرمري پڼه
چې ولاړه د غره څنګ ته ده لا دنګه
عظمت د لام د ستر هنر يې ننبه
خو لا هم سترګې او شونډې په کې نه شته
لام محبوبې ته نږدې شي بيا يې ښکل کړي
ورته وايي :ايلينو !ښکلې کوډګرې
ستا په سترګو ستا په شونډو کې داخه دي
چې لا اوس هم ما تفسير او مانا نه کړې
لامې هم په خپل هنر کې خوندي نه کړې
لا مې هم ستا څېره نه ده پوره کړې
لا خو هم د سپين مرمر په ښکلي مخ کې
ښکلې شونډې او مرموزې سترګې نشته
تا خو ويل چې ته زما شې او زه ستا شم
چې د وصل په خوږو دواړه ماړه شوو
چې دا ستا پرمتو سرکږدم ويده شم
بېرته ستا سترګو ته ګورم شم راويښه
چې دا ستا پرزنګانه زلفې خورې کړم
تا ته وايمه د مينې زر داستانه
عشق له اوو غوټو نه تېر دژوند مانا ده

WWW.samsoor.COM

هره غوټه به په زر کاله پرانيزو
زه او ته چې سره يو په راز او نياز شو
ستا ددې تصوير طلسم به پرې مات شي
بس په هغه ورځ به بيا ښتک راواخلې
بس هغه شيبه به ستا قلم په کار شي
بيا پوره به ستا نيمګړې داشهکار شي
يوه بله ايلينو به ته پيدا کړې
چې جهان کې ابدي دعشق ياد ګار شي
نو !زما ښکلې کوډګرې راته وايه !
زه او ته خو اوس دعشق په تار تړلي
اوس خو دواړه يو دبل يو سره يو يو
لا طلسم ستا دشونډو ستا دسترګو
لاجادو ستا دښکلا مات شوی نه دی
راته وايه چې به کله ښتک واخلم
ستا دا ښکلې انځور څه وخت پوره کېږي
زه دې وړی يم دسترګو په څپو کې
زه دې ډوب يمه دخولې دشاتو خم کې
خو لانه دي ما لوستلي دا رازونه
ستا په سترګو کې دکوډو طلسمونه
لادې سترګې په کتو کې اثرناکې
لادې شونډې په ترخه موسکا بې باکې

WWW.SAMSOOR.COM

دا عجيب کاته او دا رنګه موسکا دې
لا زما د تخييل له هسکه لوړ دي
لا زما د خيال لمن کې نه ځاييږي
ستا کاته او ستا د شونډو داستانونه
ايلينو يوه موسکا جانان ته وکړه
بيا يې سر پر سينه کېښوده په مينه
ويل يې :زما د ټولې مينې په راز پوهه
زما د حسن په څپو کې لا مبوزنه !
ليونتوب ته دې لوګی شمه جانانه
لا خو زر کلونه نه دي اوښتلي
لا خو موږه يو ، يو بل ته ترږي وږي
لا د عشق له سمندره يو څو څاڅکي
لا د مينې له اسمانه يوه دوه ستوري
لا تر اوسه خو د عشق له تاوه سوځو
لا خو زما ستر ګې غمجنې غمازانې
لا مې شونډو کيسې نه دي درته کړي
لا دښمن چيرې ژوندي دي زموږ د مينې
لا خو ډېر دي حاسدان په دې جهان کې
لا طلسم ديو ښ مات نه دی په غرو کې
جادو ګريو ښ لمسوي د ګيښ لښکرې
لا خو لرې کلي لوټ کړي رمې يو سي

WWW.SAMSOOR.COM

لا په غیشو باندې ولې بزې پسونه
لا چړو باندې شپانه څوانان ټپې کا
لا خو لارې بندوي د کاروانونو
لا وطن آرامه نه دی ګرانه لامه
لا د سولې مرغۍ نه دي را الوتې
چې لا یو ماشوم په دې وطن کې ژاړي
چې لا یو زخم وهي څړیکې بدن کې
چې لا ځي د میندو سترګو څخه اوښکې
تر هغو به زما په سترګو کې غم پټ وي
تر هغو به مې ترخه موسکا په خوله وي
ستا هنر به لا نیمګړی وي تر هغو
چې لا غړ د ظلم ورک نه شي وطن کې

WWW.SAMSOOR.COM

# شپاړسم سرود

دوه مینو لا د مېنې کیسې کړلې
خدایزده څومره یو د بل سترګو کې ډوب وو
چې څپرې نه یو غږ د ژړا راغی
»سونارا «له خوبه ویښ شو په زانګو کې
په آبي سترګو یې موتي واره ایښي
تنکۍ شونډې یې مرۍ مرۍ کولې
ایلینو دخپل محبوب منګولې پرېښوې
ورو یې منډه کړه چې خپل ماشوم راواخلي
په آسمان کې دوه بازانو څرخ راوخوړ
څو هوسۍ په لوړه څوکه شوې راهسکې
طلایي ماهیان د سیند غاړې ته راغلل
په چینه کې نجلۍ ډک ختېن منګی کړ
له یو د نګ نښتر نه والوتې بلبلې
لا م څڅګ واخیست او غلې غلې موسک شو
سونارا یې د زړګي غمونه هېر کړل
آس یې وشیشنېد پښې ته یې ټک ورکړ
لا م مرمر باندې د تراش رمبې راوکېښ

# اولسم سرود

هلته بر دلوړو غرو په یوه څوکه
تور ګړنګ دی هیبتناکه خوله یې چاکه
یوه توره مغاره ده لویه غره کې
پرې را زوړند د کوپړیو ، یو لوی هار دی
تل یې خوله کې د اورونو لمبې بلې
په دالان کې یې خپرې دي ډېرینې
دا خپرې دي د ښامار ناست په زمریو
تیرې داړې یې راوتې دي له خولې نه
دا دربار د شیطانانو د سردار دی
یو ښ جوړ کړی پټ په غره کې د کښتون دی
سور له اوره شیطان ناست دی پاچاهي کړي
غلامان یې دي راوستي په زرګونو
کنیزانې یې هم ډېرې تر سلګونو

WWW.SAMSOOR.COM

بس د ظلم پاچاهي يې ده روانه
له كلونو له پيړيو له پخوانه
اوس رټلى ګيښن ددې دربار ميلمه دى
لكه مار غوندې زخمي دى په غوسه دى
وايي سږ كال به كسات له يمرا اخلم
ايلينو پسې ورځمه او لام وژنم
پاچاهي به د كلښوم لوټ او تاراج كړم
ديمرا سر به رابيل له تخت و تاج كړم
مګر يوښ هغه سردار د شيطانانو
ورته وايي چې دا كار اسانه نه دى
آسمانونو كې تړون ديمرا شوى
د كلښوم پاچاهي ده ته وركړل شوې
قدرت ده ته يو طلسم دى تړلى
يمرا ځكه نازولى شو اسمان ته
چې د لام او ايلينو وصلت يې وكړ
دې لپاره اسمانونو تړون وكړ
څو چې دا طلسم وي د اسمانونو
تر هغو به وي يمرا سلطان د زړونو
تر هغو به مزدكونه په ده ډك وي
تر هغو به پرې كلښوم ښيراز ودان وي
خو كتاب د شيطانانو د اور وايې

WWW.samsoor.COM

چې که څوک هاغه تصویر د مرمر مات کړي
هاځېره دا یلینو چې لام تراشلې
ها چې لا یې سترګې نه دي کیندل شوي
ها په مخ یې چې لا خوله او شونډې نه شته
بس که ماته دا ځېره شي په ډبرو
بیا به مات شي دا طلسم دا سمان هم
هغه وخت به ته یمرا کړې رانسکوره
هغه وخت به یې تاراج کړې دربارونه
هم به ماتې کړې ځېرې او مزدکونه
ګېښه !څو چې مرمري ځېره وي جوړه
تر هغو به ستا تړلې وي لاسونه
ګېښ سجده وکړه د یوښ پښو ته پریوت
ویل یې اې د اور او شپو لویه سرداره
ته خو هره شپه له دې درې کوزیږې
پټ تیارو کې په ناولیو باندې ګرځې
تا ځادر د تورو شپو کې ځان نغاړلی
په وژونکو اروا ګانو باندې پرځې
هره شپه دې دواړه سترګې تکې سرې شي
لکه دوه داور سکروټې او لمبې شي
څوک یمرا نه کړې بې لارې څوک مزدک نه
څوک له مینې او له سولې نه بیزار کړې

WWW.samsoor.com

ته چې هرشپه پر کليو باندې ګرځې
نو بيا ولې دا طلسم ماتوې نه
ولې سپين مرمر په خاورو پرځوې نه
چې هم مات شي دا سمان دغه طلسم
هم يمرا نه پاچاهي په زور کړو خپله
هم ويجاړه کړو دنيا دلام دمينې
زه خونه شم کوزيدلای شنو درو ته
ديمرا په حکم ټول زما دښمن دي
زه خو نه شمه ورتلای چې جادو مات کړم
نو دشپو او دلمبو ستره سرداره
وايه څه ته لا په تمه تمه ناست يې
چې طلسم دا سمان به کله مات شي
يونښ نږدې شو خپل ملګري ګېښ سردار ته
ورو يې ووېل :زماخبره واوره
زه قدرت نه لرم دا چې ورنږدې شم
دمرمرو هغې ښکلې ايلينو ته
دا سې شوی دی طلسم چې شيطان به
سل قدمه نږدې ورنشی هيڅکله
دا څبره اوس د اروا حو لښکر ساتي
دوی نېزې د تندرونو دي نيولې
زما لښکر د شيطانانو ترې ويرېږي

WWW.samsoor.COM

ثلور خواوې سل سل ګامه ترې راتاودي
مهترلام پخپله هم له دې خبر دی
د مرمرو دا ښېره اروا وې ساتي
موږ به چېرې هم هغې ته نږدې نه شو
د اروا وو له لښکر سره مو نه شی
زموږ له تندر او برېښنا سره جنګ نه شي
ګېښه !دا جادو اسانه نه ماتېږي
د برېښنا لښکرې نه دي دوهلو
د مرمرو دا ښېره ده ډېره کلکه
شيطانان يې قادر نه په ماتولو
او که نه ما به پخوا وای پرځولې
دا ښېره به مې په خاوروای موښلې
ګېښ له قهره سور او شين شو تاو راتاو شو
يو څه چوپ شو خو ناڅاپه راولاړ شو
په شنو سترګو کې يې رنګ دامید راغی
شيطاني فکر يې سر کې راپيدا شو
له اوږو يې يوښ راونيوه لاسو کې
ويل يې اې د شيطاني طاقت سرداره
ما ليدلې ده ښېره د مرمر سپينه
چې ولاړه ده د غره او سيند تر منځه
پاس د غره يو لوی کمر دی لويه پرښه

WWW.SAMSOOR.COM

بس رابيل به کړو کمر له لويې پرښې
چې راورغړي تر زمکې د سيند خواته
چې کمر راشي او سپين مرمر کړي لاندې
نه به پاتې شي ښېره نه د لام مېنه
د مرمرو ايلينو به ريز مريز شی
او له خاورو سره خاورې به شي دواړه
هم طلسم د اسمان به په کې مات شي
هم لښکر به د اروا حو تار په تار شي
د يونې قصر کې بل اور په غړغړو شو
د شيطان تکو سرو سترګو لمبې وکړې
د غار خولې کې يو بوم برندې کړلې سترګې
د شپې تور ښاپيرکان په پرپرو شول
يو تور مار د سويې سپين بچی راونيو
سپوږمۍ ولاړه شوه د غرونو شاته پټه
د سيند غږ له لرې لرې نه راتللو
باد په پرښو کې راتاو په شغهار شو
يو ښ د يار خبرې د ېرو حېران کړی
لږ خوشاله و، لږ ويرې و اخېستی
خوله ګېښ سره يې ومنله دا چې
لوی کمر پر مرمر ينې خيرې ببل کړي
ايلينو د سپين مرمر خاورې ايرې کړي

# اتلسم سرود

نیمه شپه ده ستورو ټول آسمان نیولی
د چوپتیا لښکرو ټول جهان نیولی
باد ځنګله کې غلی غلی ځانګې شماري
سیند له شوره پریوتلی ورو روان دی
لام آسمان ته دي لا دوه سترګې نیولې
خدایزده ولې یو پټ غم پر زړه داغلی
نن شپه خوب ورڅخه تللی مرور دی
ننوتی یې په زړه د غم لښکر دی
یو ځل ځیر شي خپلې ښکلې محبوبې ته
ایلینو په درانه خوب ویده پالنګ کې
هلته لرې سونارا په ناز ویده دی
خورې زلفې د ښایسته محبوبې نرمې
د لام لاس ورباندې ایښی په وریښمو

WWW.SAMSOOR.COM

دښو سيورى يې ښکاري و سپوږمۍ ته
دښايسته اننګو ځل يې زړګي غلا کړي
خدايه لام څه بختور دى ستا جهان کې
چې د ټولې دنيا ښکلې يې تر خوا ده
مګر خدايزده نن شپه ولې شپه اوږده شوه
خوب يې ځوانو زرځو سترګو څخه تللى
لام له لرې دغره پرښې څخه اوري
ورک غږونه بيګانه ، د ګونګوسيو
يا راغلې به هوسۍ وي يا به پړانګ وي
مګر ولې دلام زړه کې اند يښنه ده ؟
ټولې مېږې او پسونه هم خوندي دي
هم آسونه دي دننه په آغيل کې
مګر نن يې ولې زړه کې خرخشه ده ؟
ژر يې سترګو ته څېره دمرمر راغله
آه !داڅنګه راپه زړه شوه مرمرينه
ښايي مخ د ايلينو به کوم څه غواړي ؟
ته لږ وار وکړه چې ورشم ويې وګورم
لږ دزړه غم يې پښو ته نذرانه کړم
ها چې ورکې يې دي شونډې او هم سترګې
لږ به ډکه ترې د خيال شنه پيمانه کړم
لام راووت نيمه شپه کې چوترې نه

WWW.SAMSOOR.COM

د زيږه بلورستان هو ايې کش کړه
د سيند غږيې په غوږونو کې راتاو شو
ورو ورو ولاړه د مرمرو ښېرې خواته
ايلينو وه لکه تکه سپينه بته
چې د تورو ښپو منځ کې په نڅاوي
لکه سپين سوسن ټومبلی وي په زلفو
لکه ستوری د سهيل وی راختلی
لکه سپين لاس د دلبر وي راوتلی
د تک تور بخمل له ځوړنده لستوڼې
آه چې ښومره د مرمرو ښېره ښکلې
د دې شپې په تاريکۍ کې ورته ښکاري
لام يې مخ ته په يوه ګونډه راکيناست
ورويې سر تر پايه ټوله وڅارله
ځوان نقاش د خپل هنر په ننداره شو
د سپوږمۍ رڼايې مخ باندې پريوتې
د ښکلا صنم يې لا دی ښکلی کړی
لام يې ځير دی د بې سترګو مخ رڼا ته
چې نه شونډې او نه خوله پرې انځورشوې
لام ته زړه کې نا اشنا غږونه وايې
يوه ورځ به مې هم سترګې وي هم شونډې
يوه ورځ به دا هنر وي پوره شوی

WWW.SAMSOOR.COM

يوه ورځ به مينه دومره شي پياوړې
چې د سترګو او د خولې رازونه وا شي
په ډبره کې به راشي ګويا سترګې
په مرمر کې به مې شونډې په خندا شي
که پوره شو دا هنر په دې ځېره کې
نو به اور واخلي دربار د شيطانانو
که مرمر کې د هنر اروا پوره شوه
ديوښ کوډې به د سرو لمبو خوراک شي
په دره کې به دربار داور نسکور شي
هغه شوم بوم به ايرې ايرې راپريوځي
د ښامار او زمري تور ديوان به مات شي
دمار سترګې به ړندې شی غربه پريوځي
بس د ښکلې محبوبې د سترګو راز که
په ډبره کې انځور په ډېر هنر شي
او موسکا يې په مرمر کې زرغونه شي
بيا به ټول بلورستان له غمه خلاص شي
هندوستان به له جګړو نه په امان شي
لام لامخ د ايلينو ته ځير ځير ګوري
لا په زړه کې د محبوب د مخ ثنا کا
لا د خپل خيال پلوشي اوبې را اوبې
چې په څه کمال پوره د غه ځېره کا

WWW.SAMSOOR.COM

لا يې زړه د اضطراب منګول کې ګير دی
لا يې پټې اند ښنې په سر کې ښورې
چې ناڅاپه په هيبتناکه غړ په خود کړ
پاس له غره نه لوی کمر په غړغړو شو
لکه تندر چې را پرېوځي له اسمانه
لکه اوښ ، چې ليونی شي غرغنډې کا
لام دلوی کمر لويدل په سترګو وينې
چې په منډه را روان دی مخ په ځوړې
مخامخ د سپين مرمر په لوري راغی
لکه غر چې د الماس په غمې راشي
لکه توري وريځې پټ د سپوږمۍ مخ کا
لکه لړې چې پر سپينه چينه راشي
لوی کمر په غړغړو دی راغورځيږي
په شتاب د غره لمن ته را روان دی
بس مرمر د ايلينو به شي ترې لاندې
اوس به ماته شي څېره د اسمانيانو
لام نه وار او پار خطا شو ،چې دا څه دي
خدايه دا دې څه په نوي غم اخته کړم
تو لعنت دې شي په کار د شيطانانو
زه يې بيا لوی امتحان ته انتخاب کړم
خدايه !راکړې د اروااو قووتونه

WWW.SAMSOOR.COM

ستا له پاکه ذاته غواړم همتونه
ته د زرو پهلوانو قوت راکړې
چې داغر د بدرنګیو را ایسار کړم
زه به ټول ذرې ذرې شم تیږو لاندې
خو ځېره دا یلینو به ماته نه شي
زه به غېږ ورکړم دغره دغه کمر ته
خو خوندي به د هنر دغه شهکار کړم
لام دخدای نوم یاد په ژبه کړ او پاځید
دکمره مخې ته ورغی په منډه
یک تنها دغره په وړاندې درېدلی
لکه دنګ قامت د ستر پامیر پیاوړی
لکه توره شپه کې لوی چنار دکلي
لکه دنګه خیږې کلکه دباد مخ ته
لام اړم کړې لیوني کمرته متې
لو یه تیږه یې په متو را ایسار کړه
دومره پوه شو ، چې ډېره درېدلې
نور ببسده تر کمره لاندې را پریوت
دوه نرۍ لیکې دوینو بهیدلې
د سپوږمۍ رڼا ته لوېې تیږې لاندې
زلمی لام بیخوده پروت وینې بهیږي
چوترې نه ایلینو په منډه منډه

WWW.samsoor.COM

پریشانه راوتلې د غره اړخ ته
بادېږي زلفي په څپو څپو اخيستې
یوه کړیکه يې له خولې نه ووتله
خدايه !اې داسمانونو لويه ربه
زړه مې رېږدي زما لام چېرې وتلی
دا آواز له غره د تندر غوندې څه دی
لامه چېرې يې چې نه ښکارې خاونده
ايلينو پر زمکه غورځي بيارا پاڅي
سپينې پښې يې په ډبرو کې زخمي دي
دماشوم سونارا غږ دژړا ناوري
په خپل لام پسې نارې وهي په چيغو
ته وا هيڅ دځان په درد خبره نه ده
په پريشانه سترګو لام هره خوا ګوري
لوی کمر ته يېلې پښې په منډه راغله
کمر لږ له مرمرينې ښېرې لرې
لکه غر هسې ولاړ دی هيبتناکه
دلام دواړه متې غبرګې دي ورلاندې
دسرو وينو ډنډ يې ښکاري وسپوږمۍ ته
لام بې هوښه لکه مړی داسې پروت دی
ايلينو وه لکه بوت هلته ولاړه
ګران جانان دوينو منځ کې لمبيدلی

WWW.SAMSOOR.COM

د خپل عشق بېسده جسم ته حیرانه
نه یو څاڅکی او ښکه شته چې شي را تویې
نه هم یو نفس چې ووځي له خولې نه
ایلینو لکه ډبره ده بېسده
د جانان د وینو ځل سپوږمۍ ته ښکاري
چې ناڅاپه یې په زوره وکړه کړیکه
دا سې چیغه چې له غره نه بېرته راغله
په دره کې یې بید ریغه انګازې شوې
ویدې زړکې یې را ویښې کړې په خوړ کې
سیند له چیغې سره مست شو په څپو شو
د ځنګله ونې کږې شوې له حیرته
آس په زوره زوره وشیشنید له ویرې
میږو هم غوږونه بوخ کړل په آغیل کې
سونارا له ډېرې ویرې ژړا بس کړه
هلته لرې لرې کلیو کې غوغا شوه
په تیارو خونو کې بل شول څراغونه
خلکو واورید له چیغه هیبتناکه
خدایزده څه پېښه په لام او ایلینو ده
څوک څراغ سره له کوره را بهر شول
چا له تیکې څخه وویستلې تورې
را روان شول یو څو کسه پاس درې ته

WWW.SAMSOOR.COM

سپوږمۍ لار دغره لمن کې ورښودله
هیبتناکه توره شپه نیمایي تللې
یوه ښځه لیونۍ دره کې ځغلي
تورې زلفې یې دباد څپو اخیستي
له پښو څخه یې وینې فوارې کا
ژبه نه لري ګونګي غږونه باسي
په دره کې بې مقصده وهي منډې
بس یوازې یې په ژبه دلام نوم دی
کله ژاړي کله کړیکه له زړه باسي
سپوږمۍ ورو ورو پناه کیږي دغره شاته
دره توره تروږمۍ په غېږ کې نیسي
ویرې هره خوا وزرونه غوړولي
باد ویده دی پاڼې هم له ویرې ریږدي
سیند آرام دی نن شپه شور دڅپو نه شته
په دره د ساړه وهم سیوری خور دی
لیونۍ ښځه په تیږو کې غورځیږي
بیا راپاڅیږي او نوم دجانان یاد کړي
له پښو څخه یې وینې دي رواني
له زخمي ستوني یې ګونګ غږونه خیژي
تورې زلفې یې دباد څپو ته ناڅي
په دره کې خدایزده کوم لوري ته ځغلي

شپه له نيمه ده اوښتې شومه دم دی
د ګړنګ له تورې خولې بوړبوکۍ پاڅي
د سپوږمۍ پلوشې نه شته هر څه تور دي
په دره کې د پستو ګامونو غږ دی
ليونۍ ښځه ورو ورو په کې ورکېږي
په تياره کې پناه کېږي او غيبيږي
د درې په تور څادر کې نغاړل کېږي
خدايزده چېرې او کوم ځای ته به رسيږي
نورېې غږ د ليونيو ګامو نه شته
نه يې چيغې دلام لام اوريدل کېږي
تش په تيږو يې لا رنګ دوينو پاتې
شپه آخر ته نږدې کېږي لا تياره ده
نور د سترې ايلينو کوم اثر نه شته
د درې په توره غېږه کې ورکېږي

WWW.SAMSOOR.COM

# نولسم سرود

سړه کال ژمی د برې واورې د بر يخونه
نورستان تر سپينو ښو لاندې پټ دی
د ځنګله څېرې تر واورو لاندې سپينې
سيند لاشور نه کوي غلی غلی درومي
دلته هلته د پړانګ پل په وينو سور دی
د کبليو اجل يخ ژمي راوستی
سر درونه د ليوانو کوکې خيژي
شپه زړې بګوې خوري د هوسۍ غوښې
تورکارغان په ماتو څانګو باندې ناست دي
له سويانو څخه ورکې خپلې خونې
د چنچڼو ځالې واورو ورانې کړي
هيندو کوښ بيا د سړو بادونو کور دی
له درو څخه د يخ باد شپيلۍ راشي
واوره وشيندي په مخ د آدميانو
د درو لارې دي بندې و کلبنوم ته
له آسمان څخه دلمر لاره ده هېره
ته وا ټولې زمکې سپين کميس اغوستی
ځالې ټولې پټې شوې د بازانو

هلته لرې د غره اړخ کې لام ولاړ دی
د زړې ورانې کوډلې خوا ته ګوري
اوږدې څڼې او ببره اوږده ږيره
لکه هسې شوريده ملنګ ولاړ دی
اوږد کميس يې ساړه باد سره رپيږي
دوه لستوڼي يې خالي دي متې نه شته
په اوږو پورې د لام لاسونه نه شته
لام ژوندی دی خو دزړه وطن يې مړ دی
د هنر او د کمال بدن يې مړ دی
ها لاسونه چې جهان ورته حيران و
هغه ګوتې هغه لس واړه څراغه
ها چې تيږې او لرګي به يې انځور کړل
چې ژوندۍ به يې ډبره په هنر کړه
ها لاسونه هغه ګوتې اوس پرې شوي
هغه لس ډيوې اوس ټولې دي مړې شوې
لام ولاړ دی له سړو واورو خبر نه
ديخ باد له تيرو غشيو بې خبره
مړې مړې اوښکې يې کنګل په ږيره راشی
په زيږو سترګو ځير شوی سپين مرمر ته
ها ځيره د ايلينو دواورو منځ کې
لکه سپينه بته وي داوبو منځ کې

لا تر اوسه د مرمرو ښېره ګونګه

لاتر اوسه يې په مخ کې سترګې نه شته

لا تر اوسه ها مرموزې شونډې نه شته

خو ښکلا يې د زخمي لام تسلي ده

لامين ورته په مينه مينه ګوري

لا يې ورک دی په عجيب غوندې ښايست کې

لا د خپلې ايلينو يادونو وړی

هاغه ښکلې چې کلونه پخوا تللې

خدايزده چېرې ورکه شوې ده له لامه

خدايزده مړه ده که ژوندۍ پايې دنيا کې

خدای خبر چې به په کومو درو سر وي

خدايزده حسن به يې کوم ځای کې رژېږي

خدای خبر چې کوم خيرن نظر به ګوري

د هغې معصوم ښايست ته په دوه سترګو

يا به خاورې وي ها ښکلي اندامونه

څو کلونه شول چې لام ترې خبر نه دی

هيڅ راغلي مساپر يې حال رانه وړ

هيڅ وطن کې چاليدلې هغه نه ده

بس له کوزو درو يو نيم مساپر به

کله کله عجيبه کېسې کولې

چې د لوی بلورستان په سردرو کې

WWW.SAMSOOR.COM

پس له نيمو شپو چې ټول عالم ويده وي
کله کله په دره کې يو ورک سيوری
را پيدا شي ناشناخته غوندې يو سيوری
اوږدې زلفې يې د باد څپو ته ناڅي
په تيارو درو کې ګرځي پريشانحاله
څه ګونګې شانې غږونه يې په خوله وي
کله کله د لام نوم په ژبه واخلي
خو هيڅ چا دورځې نه ده ليدلې
څوک يې هيڅ له نوم او راز نه خبر نه شول
څوک په دې هم خبر نه دي ، چې دا سيوری
په رښتيا ژوندی انسان ده که اروا ده
که رښتيا يوازې سيوری دانسان ده
خدای خبر هغه به څوک وي دکوم ځای وي
بس په نيمو شپو تيارو کې دا سې ګرځي
چوپانان چې نيمه شپه په شپول کې اوسي
په درو کې لرې سيوری ددې ويني
له هيبته څوک نږدې ورتللی نه شي
څوک يې لار دتلو راتلو موندلی نه شي
کله کله چې سهار شي ، سپېدې وچوي
په ډبرو يو څو څاڅکي وينه ښکاري
بله نښه ددې سيوري پاتې نه وي

WWW.samsoor.COM

لام د کوزو درو دغو آوازو ته
هک حيران دی چې دا څه دي لويه خدايه !
ډېر کلونه شول چې يار له ما جدا دی
برخليک په موږ راوستی څه محشر دی
زه بې لاسه ، زه بې ګوتو دلته پاتې
سپين مرمر لاسترګې نه لري په مخ کې
هغه خوله يې هم په مخ کې ښکاره نه شي
چې په شونډو يې مرموزه موسکا نقش وه
ايلينو !وايه په کومه رانه ولاړې
چيرې ګرځې په تيارو په نيمو شپو کې
ستا دلام متې پرې شوې لاس يې نه شته
چې دې ښکلې څېره جوړه کړې له تيږې
لام ولاړ دی او لستونې يې ځړيږي
مړې مړې اوښکې يې کنګل په ږيره راشي
مړاوو سترګو کې يې ګل د موسکا وا شي
زلمکی سونارا غږ کړي له جونګړې
پلاره راشه بهر يخ دی باد لګيږي
دلته اور د ښېرې بل دی تناره کې
زما وستا کيسه لا پاتې ده تياره کې

# شلم سرود

دېزاني د لمر زرينه سکه راوړه
د غره بوټو شير چايي ګلونه وکړل
پسرلی له ناوو ډېرې اوبه راغلې
آبشارونو شرهار مستانه وکړ
مساپرې زانې راغلې ډلې ډلې
توتکيو په سرو اخېستل کورونه
شپنو وويستې رمې برو درو ته
د پنيرو کجاوې سمې ته راغلې
مساپرې مچۍ ببرته راستنې شوې
د ګبينو کجاوې سمې ته راغلې
د هوسيو کبلې بيا شول په ترپکو
د چنچڼو سيل ځنګله ځخه راووت
شين اسمان لکه لوی ډنډ د لاجوردو
لمر د ژمي له کاله ځخه راووت
د درې په کينه ډډه کې بيا غږ دی
دلام مېنه کې نن بيا ښتک ټکيږي
د زلمي سونارا متې دي ځوا کمنې
د خپل پلار ښتک يې کلک کړ په منګولو

په لرګي کې دګلونو انځورکارې
لکه پلار هسې ، په ځوانو ګوتو نقش کا
د هنر میراث یې وړې په کمال دی
د رنځور ابا همدرد زلمی بچی دی
ایلینو څخه ورپاتې یو غمی دی
کله نقش په لرګي باسي ، تیږې تراشي
کله پلار سره خبرې کا په مینه
دلام سترګې دي رڼې په زلمي باندې
سونارا د مور پوښتنه پلار نه وکا
پلاره چېرې زما مور ده مسا پره
هغه مور چې یې انځور په مرمر کښلی
ولې سترګې ولې خوله په مخ یې نشته
دا څه راز دی چې ستا ګوتې شوې عاجزې
ګرانه مور دې ولې پرېښې نیمه خوا ده
هره شپه مې زه مورکۍ په خوب کې وینم
راشي راشي زما خوا ته غلې کیني
نه څه وايي نه څه ویني ګونګه پاڅي
زه ناري پسې وهم خو دا یې ناورې
هره شپه یې خوب کې وینم مهربانه
لکه سپین مرمر ،همدا سې دنګه ښکلې
لوی ټیکری یې وي پر سر، لمنه لو یه

WWW.SAMSOOR.COM

راشي ما په غېږ کې ونيسي په مينه
کله کله يې زنګون باندې سر کېږدم
دهغې دخوږې غېږې عطر راشي
خو مامخ دخپلې مور نه دی ليدلی
نه پوهېږم چې په سترګو کې يې څه دي
نه پوهېږم چې په شونډو به څه وايي
زه مې مور ړنده اوګونګه په خوب وينم
نه پوهېږم چې دمور سترګې څه راز دي
زه يې ټوله مينه وينم په لاسو کې
خدايزده څه ډول به غږ دهغې خوږ وي
پلاره ډېر کلونه کېږي ډېرې شپې شوې
چې مې مور په خوب کې وينم پريشانه
وايه څه دی ددې راز ددې طلسم ؟
چې مورکۍ په خوب کې وينم مهربانه
مګر چو په خوله اوپټې سترګې راشي
بس همداسې چو په ولاړه شي پناه شي
پلاره زه ورته نه وژاړم په خوب کې
مور مې نه شي ما ليدلی په دوه سترګو
د زړه راز راته په خوله ويلی نه شي
پلاره زړه مې ډېر تنګ شوی ګرانې مورته
چې يو ځل يې ننداره دسترګووکړم

WWW.SAMSOOR.COM

یا یې وا ورمه د خولې خوږې خبرې
ما ټول عمر سپین مرمر ته دي کتلي
د مورکۍ مینه مې تېرې نه اخېستي
پلاره ولې دې څېره نه کړه تمامه
ولې پاتې شوې د **هغې** ښکلې سترګې
ولې شونډې درنه پاتې شوې مرمرکې
ستا هنر ولې نیمګړی شو را پاتې ؟
د زخمي لام سترګې ډکې شوې له اوښکو
ګران بچی یې په زلمي مخ باندې ښکل کړ
بیا یې ورو په موسکا وکتل هغه ته :
ګرانه زویه دا آسانه انځور نه و
دوه ښایسته سترګې دښکلې ایلینو وې
دوه چیني دژوند د سل زره اسرارو
ستا د مور د ښکلو شونډو موسکا زویه
ساده نه وه چې په تیږه کې انځور شي
یو پټ درد یې په څېره کې په څپو و
دغه درد ما په مرمر کې راوړی نه شو
زه ناتوانه وم چې دومره ښایست راوړم
د سرې سپینې ډبرې په څېره کې
زماګوتو کې لا دومره هنر نه و
چې دهومره ښایستونو تصویر جوړ کړم

WWW.SAMSOOR.COM

زما قلم او تخیل کې دا زور نه و
چې مرمر یې له دردمنې موسکا موړ کړم
سونارا !سړکال چې بیا دوبی رابرشي
چې زیتون په دانه راشي رنګ یې واوړي
دنذرونو لویه میاشت چې شي رابره
نو ورځمه دیمرا پاچا دربار ته
ستا نیکه ، ها دکلښوم پاچا نه غواړم
که تصویر دا ایلینو یې وي په کور کې
که پیدا یي کوم انځور کړمه په مېنه
نو ، راوړم یې چې دمور ښېره وګورې
ته به خپله ایلینو ته هک حیران شې
چې ښېره کې یې ښایست او مینې دواړو
پوه پټه ښکلا خنګه پنځولې
ته به وګورې چې څنګه یې دسترګو
ځیر کا ته سړی یو بل جهان ته بیایي
نقش په شونډو ددردمنې موسکا راز یې
تا دښکلې معنویت آسمان ته بیایي
ګرانه زویه !خدای نه غواړم چې دربار کې
دښایسته ایلینو نقش دمخ پیدا کړم
دا وعده ده ،چې دمور تمثال دې راوړم
ستا دزړه قرار دې ښکلي خیال ته راوړم

WWW.SAMSOOR.COM

# يو ويشتم سرود

په ښايسته نورستان اوړی ، چې رابرشو
ديزاني دلمر بګی په کينه راوړه
دزيتونو دانې وشوې رنګ يې راوړ
په غرمه کې مرغۍ سيورو ته پناه شوې
ستر وايګل ښکلو ګلونو لاندې پټ شو
دزنبق ګلونو زمکه ياسمين کړه
دنذرونو مياشت رابره پر کلښوم شوه
دغره اړخ نه دجونګړې له انګړه
يو بې مټو او بې لاسه سپور روان شو
اوږدې څڼې يې د باد څپو وهلې
لام روان شو د کلښوم دپاچا کور ته
چې تازه دايلينو دکور ديدن کړي
ګوندې ومومي تصوير د تللې مينې
دلاسا پرې خسته زړه د ځوان فرزند کړي
سپور په څو شيبو کې تاو شو له درې نه
سونارا تر ډېره پلار پسې کتلې
ځوان زړګي يې ورکې هيلې لوبولې

WWW.SAMSOOR.COM

## دوه ويشتم سرود

يو سهار چې لا وروستي ستوري وو پاتې
لا ختيز افق شيري رنګ و راوړی
لا چنچنې له ځنګله نه وې وتلې
لا د سپاندې بوټو توند عطر پاشلو
سونارا ښټک په لاس له خونې ووت
په ژوره ساېې ټوله هوا کش کړه
د زيړه نورستان عطرو ليونی کړ
يو ځل بيا يې بيګاه خوب فکرته راغی
مخامخ و مرمري خيرې ته راغی
ښه په ځير يې د مورکۍ مخ ته نظر کړ
خدا يزده څه يې پټ ترشونډو لاندې وويل
ورو يې لاس د خپلې مور په څيره وکېښ
د مرمرو د څېرې لاسونه يې ښکل کړل

WWW.SAMSOOR.COM

بيا يې ورو قلم راواخېسته په لاس کې
په بل لاس يې ځټک ټينګ کړ په منګول کې
اول ټک سره پټرى له مرمر بېل شو
د زلمي سونارا زړه هم په درزا شو
هاخوا لرې له کلښوم ځخه لام ووت
نا اميده ديمرا له دربار ستون شو
هلته هم دده د مينې انځور نه و
د ښايسته ايلينو ښبه نه وه پاتې
يو ستومانه مساپر ورو ورو روان شو
زه به څه ځواب د ځوان سونارا وايم
څه د ښکلې ايلينو د سترګو راز و
هغه غواړي چې انځور د مورکۍ جوړ کړي
مګر هيڅ ښبه يې نشته په دنيا کې
خدايه څنګه دې ناکام له هرې خوا کړم
دلمدو سترګو هينداره يې اسمان شو
يو ستومانه مساپر ورو ورو روان شو

# درویشتم سرود

سپور د خو ورځو سفر نه سترړی راغی
یو سهار ورو ورنږدې شو د کور خواته
اضطراب یې ډیریده ورو ورو په زړه کې
چې د زوی وعده به څنګه ورپوره کړي
لمر د دوبي توده ورځ پرې لورو له
مرغۍ تللې ډلې ډلې شنه ځنګله ته
مساپر د سیند په غاړه تږی راغی
لاس یې نه وو ، چې پرې غوړپ داوبو وکړي
زړه یې سپینو اوبو وړی ، ژبه وچه
خدایه څنګه برخلیک دی ماته راکړ
ژوند د سپینو اوبو غوړپ دی خوزه تږی
لاس مې نشته چې په څاڅکي خوله لمده کړم
ایلینو د ژوند چینه خوله ما لري

WWW.samsoor.com

لاس مې نه شته چې ښکلا يې لږ انځور کړم
سرنوشت لکه د تيږې کتيبه ده
دا خو زړه د غوښې نه لري چې خوږ شي
زما خيال زما زړګی زما نظر يې
ټول دي ډک د حسن هرې نظارې نه
مګر څه وکړم چې لاس او ګوتې نشته
سونارا چې يو ديدار ته د مور سوځي
د مورکۍ خبره يې نه شته په نظر کې
د هغه زلمي لاسو نه ايستی نه شي
ها انځور چې زه يې سوځم و ديدار ته
سيند نږدې ، او به رواني خو زه تږی
قسمت دا سې لوبه کړې په ژوندون ده
زه د ژوند دلارې ستړی مسافر يم
تش لاس نه ، بلکې بې لاسه راستون شوی
ها چې نه يې په اوږو پورې بازو شته
نه يې سترګو کې د اوښکو څاڅکی پاتې
ها به څنګه او په څه ژبه لمده کا
ها به څنګه د ژوندون پاڼه تازه کا

WWW.SAMSOOR.COM

## څلېریشتم سرود

لمر لا څو نېزې له غره و پورته شوی
سیند په ډکه غېږه ته کوزو درو ته
په ځنګله کې څانګې باد راویښولې
چې ستومانه مساپر کور ته نږدې شو
سترېو سترګو یې د زوی څېره څارله
ګوندې راشي او له آسه یې راکوز کا
مګر نه و سونارا چې پلار ته راشي
مساپر په ډېر زحمت له آسه کوز شو
اول راغی چې دیدن د جانان وکړي
سپین مرمر ته نذرانه د نظر راوړي
ډېر په خپلې ایلینو پسې خپه دی
په ستومانه ګامو راغی سپین مرمر ته
چې نږدې شو خوله یې خلاصه له حیرت شوه

WWW.samsoor.com

دفلک څرخ پرې راوګرځيد په زوره
زمکه ولاړه له پښو لاندې يې تښتي
لام له ډېره اضطرابه ټول رېږدېږي
خدايه دا څه دي د سپين مرمر ځېره کې
خوله او سترګې انځور شوې د جانان دي
کټ مټ هغه ښکلې سترګې هاغه شونډې
چې له راز او له موسکا يې لام حيران و
په مرمر کې سترګې هاغسې رڼې دي
لکه وي دا ايلينو په ښکلي مخ کې
په ډېره کې يې شونډې هسې موسکې
چې د درد او د موسکا خبرې کاندي
دواړه سترګې يې له زړو کيسو ډکې
د موسکا ځنډې يې هسې دي مرموزې
ايلينو ده ژوندۍ شوې په مرمر کې
همغه ځېره همهاغسې ده ښکلې
کټ مټ هغه ايلينو چې ورکه شوې
په همهاغه سحرګر نظر راګورې
چې د لام زړه يې ترلی و په مينه
د ده مخ ته په همهاغه انداز خاندي
ته وا مخامخ ولاړه ده پخپله
د مرموزو سترګو کوډې ماتې شوې

WWW.SAMSOOR.COM

دموسکا د راز طلسم دی ړنګ شوی
هلته لرې سونارا په ژړانا ست دی
د زلمو لاسونو رغوي يې تنهاکې
دنوکانو له سرو يې وينې تللې
لا نيولی يې ښتېک زخمي لاسو کې
دزخمي پلار له راتلو نه خبر نه دی
په ښی، متېه يې سر ايښی دی او ژاړي
خدايزده ولې مضطرب او پريشان دی
چې ناڅاپه چيغه وخته له لامه
سونارا له زنګانه سر را اوچت کړ
پلار د تيږې پر اوږه دې خپل سر ايښی
مړې مړې اوښکې يې مرمر باندې څڅيږې
زلمی پاڅيده او پلار يې غيږ کې ټينګ کړ
دواړو ډک زړونه ژړا څخه راتش کړل
لام دخپل زوی پر لاسو باندې ورکوز شو
دهغه زخمي منګولې يې ورښکل کړې
سونارا له اوږو ونيوه ،چې پاڅې
لام ويل :څنګه دې دا راز دښکلا وموند
وايه څنګه دې انځور دومره ښايست کړ
داسې سترګې دې په څه جادو دې ښکلې
داسې شونډې دې په څه خيال خندولې

WWW.samsoor.COM

دا هستي چې له ما وركه وه كلونه
دا دې څنګه راستنه كړه په څو شپو كې
مګر خداى د خپل هنر پرچينه پريولې ؟
وايه څه كوډې دې كړې پر منګولو
چې دې دا نيمګړى كار دا سې پوره كړ ؟
مګر مينې خپل قوت تول دربښلى
چې د ټول بلورستان راز دې څرګند كړ
د شيطان دربار دې وسيځه په اور كې
يوښ او ګيښ دې له دې سيمې آواره كړل
دا دې څه جادو له هغې دنيا راوړه
چې دې دا سې د هنر جهان حيران كړ
زويه !اې زما له خپلو وينو جوړه
زما رخه ستا په دومره ډېر هنر شي
چې ما نه كړ ، هغه كار تا نن پوره كړ
ته استاد شوې د هنر په ټول جهان كې
قلمرو د ښايستونو دې كړ فتح
آفرين دې ستا پر ګوتو وي فرزنده !
د كلښوم دو استا كار د زړه دلبره !
سونارا له خوشالۍ سلګيو واخيست
ويل يې پلاره زه هم نه يم پوهيدلى
بس په هغه شپه يو ستورى واسمان كې

WWW.samsoor.COM

تر دانورو ډېر څلنده ډېر روښانه
ما کتل چې ورو ورو راغی له اسمانه
زه له ستوري څخه لرې يو څو ګامه
يوه سپينه رڼا راغله له افقه
يو ناڅاپه په آبي جامو کې مور شوه
را روانه په قدم قدم زما خواته
باد يې زلفې وې اخيستې په څپو کې
ښکلې سترګې يې زما مخ ته وې نيولې
پوهيدم چې دامې مور ده مهربانه
دا لومړی ځل و ، چې سترګې مې ليدلې
دهغې په نيازبين مخ باندې روښانه
مور په ډېره مينه ماته راکتلې
راغله وړاندې ورويې ماته وخندلې
سونارا !سونارا !غږ راغی له لرې
ما ليدې چې دمور شونډې خوځيدلې
راغله زه يې کلک په خوا پورې نيولم
اننګو باندې يې ښکل کړمه په مينه
ويل يې زويه !ستابلا واخلمه ګرانه
دخپل پلار دميړنتوب ښکليه ننبانه
ډېر مې زړه درپسې تنګ دی ډېر مې ياد شې
مور راوکتل او مور راته موسکۍ شوه

WWW.SAMSOOR.COM

په ښېره کې يې عجيب رازونه پټ وو
خدايزده ولې يې ښېره کې غلي غم و
ما يې ډېرې کېسې ولوستې د سترګو
ما يې ډېر رازونه وليدل کتو کې
د هغې ښېره مې داسې پر زړه نقش شوه
د هغې غږ مې غوږو کې دی لا پاتې
د هغې سترګې مې اوس هم دې په زړه کې
د هغې موسکانه ډک دي زما خيالونه
لا يو روڼ ستوري ځلاکړه په اسمان کې
تر دانورو ډېر **ځلنده** ډېر روښانه
لاسپيدو د سپين ښادر پيټکه نغاړله
چې مې سترګې رڼو ستورو ته شوې خلاصې
لاچنچڼې له ځنګله نه وې وتلې
لا د سپاندې بوټو توند عطر پاشلو
لاخوږه وه زما خوله دمور له مهره
لا فضا وه څه خوشبو د مور له عطرو
لا غوږو کې مې نغمه د مور د غږ وه
لا مې خيال ډک و د مور له تصويرونو
بس ښټک قلم مې ټينګ کړل په منګولو
د هغې نقش مې په تېږه کې تکميل کړ
پلاره نه يمه خبر چې څومره وخت شو

WWW.SAMSOOR.COM

شپه او ورځ څنګه را برشول یو تر بله
بس د مور سترګې مو سکا مې وه نظر کې
شوه پوره یې نن خبره په سپین سهر کې
لام د ځوی تندی ورښکل کړ په ژړا کې
ویل یې زویه !اراده د خدای همدا وه
چې زما نیمګړی کار به ته پوره کړې
دا طلسم اسمان ستا پر ګوتو پرانېست
بر خلیک همدا لیکلي وو ازل کې
زویه دا د عشق تاثیر د مینې زور دی
هغه مینه چې د مور په زړه کې اوسي
د هغې عاطفې وکړې د غه کوډې
دا سې ښکاري چې تر ټولو نورو مینو
بس د مور مینه ژوره وي شعور کې
عاطفه د مور تر ټولو وي سپیڅلې
خو بې پیوند د مور تر هر چاوي پیاوړی
روحاني پیوند د مور تاته قوت شو
لاشعور کې دې توپان د مینې پا څید
ته له مور سره د زړه پیوند راوینښ کړې
د هنر ښا پیری وکړې نوې کوډې
ستا د مور مینې خټک او قلم در کړ
چې زما نیمګړی کار دې نن تر سر کړ

WWW.SaMSOOR.COM

زما ټول ژوندون د دې شیبې په تمه
زما ټوله هستي دې ته هسته شوې
د زاړه بلورستان تقدیر همدا دی
د کلښوم د عظمت روح دی په دې کې
مګر دا خو د تقدیر د لوبې پیل دی
ستا زخمي پلار ته مزلونه دي په مخ کې
دیو لوی حقیقت ور دی پرانیستلی
لام یې داسې امتحان ته ور بللی
اسمانونو زما تقدیر داسې لیکلی
د ارواحو سرداران زما لپاره
یو له بل سره په شور باندې اخته دی
دا بشر د عاطفې د چینې تږی
دا له جنګه ستړی شوی انسان ګوره
له ازله تر دې دمه سرګردانه
دې نړۍ ته ابدي سوله رابولي
خو ناکام دی ، نا امیده لالهانده
زما د ژوند لوی امانت د غه پیغام دی
د انسان مرګ په انسان باندې حرام دی
تقدیر لوی امانت ما ته راسپارلی
زما ژوند شو جاویدان د ږنځ لپاره
ایلینو له لرې لرې را ناري کا

WWW.SAMSOOR.COM

ما وربولي هاغه ښکلي بل جهان ته
زه يې وينم چې يې زلفې باد ته ناخي
زه يې وينم د موسکا شاته غمونه
ما ته وايي چې مرمر له ځايه يوسم
دغه پيتي د نړۍ تر پايه يوسم
سونارا !نن د تقدير فيصله واوره
ستا د مور دغه انځور به زه وروړمه
داسې ځای ته چې له وينو څخه پاک وي
داسې ځای چې انسان قتل نه وي کړی
داسې خاوره چې د ظلم سيوری نه وي
داسې ځای چې لوی وحشت د انسان نه وي
داسې ځای چې د بدرنګو آواز نه وي
داسې ځای چې هيڅ څوک قتل پيژني نه
چا ته درد او چا ته مرګ وررسوي نه
د انسان په لاسو مرګ د انسان نه شته
داسې ځای چې په کې جنګ ته مانا نه شته
هيڅ چانوم د جګړې نه وي اوريدلی
د مرمرو ايلينو به هلته تم شي
هلته جوړ به وي يو کور د عشق لپاره
ملکه به وي ستا مور د عشق لپاره

WWW.SAMSOOR.COM

## پينځه ويشتم سرود

لام افق ته و ځير شوی لرې لرې
سونارا ته يې بر خليک د ځان ښوولو
زويه مور دې ما وربولي خپل جهان ته
زه ورځم زويه زما ده ډېره بيړه
دا وروستۍ هيله مې ته پوره کړه ګرانه
د تقدير ستړې سفر ته مې زړه ښه کړه
د غه ښکلې مرمرينه خيره واخله
له ورينښمو جوړه شوې رسۍ راوړه
زما په شاپورې يې وتړه محکمه
رسۍ تاو کړه زما بې لاسه دوه اوږونه
زما په ملا پورې خيره د مور کړه ټينګه
چې تقدير د عاطفې او انسانيت ته
په خندا دا لوی سوغات پر ډډه يوسم

WWW.SAMSOOR.COM

خپلې ګرانې محبوبې سره يو ځاى شم
عرش ته نذر د هنر په ګډه يو سم
لمر لا نه ورسيدلى و غرمې ته
لا يو دوه بازان اسمان کې په اتڼ وو
لا د ځالو توتکى نه وې راغلې
لا د سپاندې بوى راته د درې منځ نه
لا شرنګا د رمو نه وه لرې شوې
هاى وهوى لا د شپنو راته له ورايه
سونارا چې دوربښمو رسى کش کړه
دبې لاسه پلار او ورو پورې يې ټينګ کړ
لوى قامت دايلينو جوړ په مرمر کې
دلام ملا لا د همت راماته نه وه
لا هماغسې ولاړ لکه نښتر و
لا يې زر ځې سترګې خښې بر افق ته
لا يې توند نظر ګنډلى و اسمان ته
ته وا وينې خپله مينه ښه له ورايه
چې وربولې يې په مينه خپل جهان ته
ها درنده لويه ډبره يې په شاوه
مګر نه ولا قامت د لام خم شوى
دبرخليک نوې کښسه وه پيل شوې
لام روان شو چې پيدا کړي خپله مينه

WWW.samsoor.COM

لام يو داسې ځاى ته ځي چې خبر نه دى
چيرې شته او كه جهان كې بيخي نه شته
داسې خاوره چې پرې وينه تويې نه وي
انسانيت ښكلى نه وي د وحشت خوند
چا په لاس د انسان مرګ نه وي ليدلى
داسې ځاى چې په كې مينه وي الفت وي
داسې ځاى چې په همدې دنيا جنت وي
لام د ښكلې ايلينو خيره په شا كړه
لو مړى ګام يې د ختيځ خواته اوچت كړ
لكه ځي چې د **نګه** رڼا هېواد ته
سو نارا پسې حيران ښېسد ولاړ دى
نه پو هيږي چې دا هر څه ولې كيږي
پلار به چېرته كړي پيدا سپيځلې زمكه
چې پرې وينه د انسان نه وي پاشلې
خدايزده چېرې به وي مور ورته په تمه
خداى خبر چيرې به ځاى د دې ښېرې وي
زخمي پلار به يې تر كومه ځايه وړى لا
په اوږو به د غه بار پورته كوي لا
د تقدير لا څه عجيبه تماشه ده
بې لاسونو لام ته پښښه تلوسه ده
لاخو **پيل** د سفر دى مزل اوږد دى

د سپيڅلي زمکې لوری لودن نه شته
خو قامت د لام نښتر غونډې راست درومي
د مرمرو غر تړلی ور په شا دی
په اوږو پورې يې متې اولاس نه شته
خو روان دی خدايزده کومې خواته درومي
خپل تقدير يې دی په ملا پورې تړلی
خدايزده چيرې به يې کوز کړي په جهان کې
لا ځنګل چوپ دی لا سيند آرامه درومي
لا يو دوه بازان تاويږي په اسمان کې
لام ورو ورو له سونارا ښخه پناه شو
د زلمي زوی زړګی ډک دی له سلګيو
يو ناڅاپه پوه په غم د تنهايي شو
د فکرونو په سفرباندې رهي شو
چې يې وکتل دلرې درې پای ته
پلار پناه و نور يې نه ليده له ورايه
په اسمان کې دوه بازان و ستړي شوي
باد په شغ باندې راتير شو په دره کې
ونې واوښتې راواوښتې ځنګله کې
مساپر دلرو لارو ولاړ پناه شو
په دره کې پټ ځګير وی د سونارا شو

WWW.SAMSOOR.COM

## شپږ ويشتم سرود

ډېر کلونه دي او ښتي پيړۍ ولاړې
شپې او ورځې لکه شګې د خوړ ولاړې
نور هغه کلونه پاتې نه دي زړو کې
څوک د خيال او خوب جهان کې نه راګرځي
نورستان د غرونو زړه کې پټ ساتلي
د سلګونو کلو ورک يادونه غلي
افسانې دي پاتې شوې هاغه وخت نه
د ځپو په ژبه يې سيند ځنګله ته وايي
لمر لا هسې طلايي بګۍ کې راشي
غر لا هغسې ولاړ دی هيبتناکه
سيند هماغسې په تيږو سينه موښي
ځنګل هغسې د باد د کوڼ ګر کور دی
شنې کوترې له څاه ګانو څخه راشي

WWW.SAMSOOR.COM

په ځنګله کې د شنو ځانګو میلمنې شي
بادته پاڼې په نازواوړي او راواوړي
رمې وشرنګوي زنګ په خپلو غاړو
لاهم ژوند په نورستان کې په ځپو دی
لا بزګر ځوانان سینه پر سیند سره کا
لا هم پېغلې غتې ګړګې له غره راوړي
لا شپانه په های وهوی نارې سورې کا
مګر خلک د اسې وایي پټ یو بل ته
چې درو کې شپه تیاره وي سهمناکه
پس له نیمو شپو چې خلک ټول ویده شي
یو ناڅاپه په دره کې یو ورک سیوری
راپیدا شي ناشناخته غوندې یو سیوری
اوږدې زلفې یې د باد ځپو ته ناځي
په تیارو درو کې ګرځي پریشانحاله
هرې سا سره د لام نوم په خوله اخلي
څوک یې هیڅ له نوم او رازه خبر نه دي
دا چې ولاړه شي تیاره شپه کې پناه شي
باد یې ورو بې قدم قدم له زمکې
وروسته شپه چې وي لا څو پاره اوښتې
سباوون چې رانږدې شي سپیدې واوړي
چې لا ټول عالم ویده په درانه خوب وي

WWW.SAMSOOR.COM

په همدې لاره درانه ګامونه تير شي
يو ملنګ غوندې ببر سيوری راواوړي
کړوپ روان وي يو دروند بار يې پر اوږو وي
تور لستوڼي يې لا باد ته تش رپيږي
لو يه تيږه يې په ملا پورې تړلې
لا روان وي نا مالوم غوندې لټون کړي
ځينې ځينې شپانه وينې دغه سيوري
ځينې پاک ماشومان وينی دوی په خوب کې
هيڅ څوک نه شي نږدې تللی چې وګوري
دغه سيوري په ريښتيا دي ژوندي خلک
او که سيوري دي ، اروا دي ، چې پټ ګرځي
هره شپه په سردرو د نورستان کې
خدای خبر دی څوکلونه پيړۍ اوړي
ژمي اوړي را شي منی شی سپرلی شي
ونې وخنډي ګلونه پاڼې شنی کا
بيا لغړې شي له ژېړو پاڼو څانګې
پاغوندې د واورو سپينې په نڅا شي
سيند را ډک شي له کنګل کنګل اوبو نه
کله خړ سيلاو راکوز له سر دروشي
کله خنډې د ځنګله په تبرو لو شي
کله شنه پټي په خړ سيلاو لاهو شي

WWW.samsoor.COM

مګر ستوري لا هم ډېر وي په اسمان کې
لا د ژوند بوډا ژوندی دی په جهان کې
دغه دوه ستړی ستومانه سیوري ګرځي
په درو په سردرو دلوی وطن کې
چې پیدا کړي پاکه خاوره پاکه زمکه
هلته دمه شي ډک جام د تقدیر وڅښي
چې له وینو څخه پاکه خاوره ښکل کړي
پرې د عشق او محبت کلی آباد کا
له ازله غمجن زړونه په کې ښاد کا
هره شپه دوه مسافر پر لاره تېر شي
دیوې زلفې د باد څپو ته ناڅي
بل په شا د تقدیر غروړي کړوپ روان وي
تش لستوني یې لا زانګي لاس یې نشته
ډېر کلونه شول چې نیمه شپه تیرېږي
په تیارو درو کې ورو ورو پناه کېږي
دوی د زمکې هره لویشت ده لټولې
پاکه زمکه یې لا هم نه ده موندلې...

پای

WWW.SAMSOOR.COM

# دا منظومه

زه د خپلو درې سره منظومو لپاره د يوه ستر انسان منندوی يم. لوی خدای(ج) دې پرې ورحميږي ارواښاد استا د رشاد يادوم. "هوسۍ" يې چې واوريده نو د ښوې عالمانه سريزې تر ليکلو ورها خوا يې خورا وهڅولم، چې منظومه ليکنه وغځوم. کله، چې "ارشاک او اوشاس" خپره شوه هومره خوشاله و لکه زه چې ورته خوښ وم. په دې دوهمه کې د ډېرو تاريخي او لرغونو څرګندونو غوټې خدای ښښلي استاد را پرانېستې وې.

په ۱۳۸۲ لمريز کال چې د استاد په خدمت کې وم د نورستان (همدغې بلورستان) د منظومې د خاکې (طرحې) په اړه مې يادونه ورته وکړه، استا د په څوکۍ کې لږ راهسک شو، يوه خوږه خندا يې وکړه او بيا يې راته وويل: "لوی خدای دې مرسته درسره وکړي، چې دا کار وکړې" استاد د منظومې اډانه خوښه کړه - هيره دې نه وي، چې ستاسو په لاس کې منظومه تر هغې طرحې يو څه بدلون لري- استاد د زاړه نورستان په اړه څرګندونې وکړې او خدای شته د تل په څير يې د حافظې ځواک او علمي صلاحيت ته ګوته پر غاښ شوم. له استاده مې يادښتونه راواخيستل او راووتم. وروسته تر هغې ورځې مې استاد دوه ځله نور وليده او هر ځلې يې په ټينګار حکم راته کاوه، چې منظومه بشپړه کړم او ما هرځلې خپله وعده نه ماتيدونکې ګڼله، خو د قسمت ليکنه بيله وه ژر مساپر شوم او د سمندرونو شاته، تورې درې ته کيناستم چې ګوندې کوم څه زده کړم، په امريکې کې دزده

WWW.samsoor.COM

کړي پر مهال تل راسره د منظومې د بشپړولو تلوسه وه.

یوه ورځ استاد ولاړ او ډېر یې ترېي پریښول او دا چې ما یې دغه امر نه و پر ځای کړی ډېر شرمنده وم ، همدا چې د وطن خاوره مې ښکل کړه ،پر منظومې راولګیدم او ایله چې پوره شوه.

ماته د منظومې د لیکلو پر مهال ډېرو فرهنګي ملګرو او مشرانو زړه راکړی ،چې له ټولو مننه کوم خو یو څو یې دلته یادوم :دنورستان پیژندنې یوه مطرح څېره ښاغلی سمیع الله تازه د دغې ښکلې سیمې په اړه ګڼ معلومات راکړل ،درنو پوهاند دودیال او حاجي صاحب حسام تل هڅولم او زما ځوان ملګري حمید الله محمد شاه د دې منظومې پر کمپوز برسېره تل راسره ملګرتیا کړې ، او زه یو ځل بیا له ټولو څخه مننه کوم.

اوس راځم دمنظومې د ځینو نومونو او اصطلاحاتو شرحې ته:

په منظومه کې دزاړه نورستان له لرغونو اساطیرو څخه ځینې کرکټرونه او ځینې څېرې شته ،چې دلته د پخوانیو نورستانیانو له انګېرنو سره سم معرفي کیږي ، دغه اسطوره یي څېرې د پخواني یونان له اساطیرو سره ورته والی لري ،چې اوس خلک دهغوی پر موجودیت باور نه لري .له دوی څخه یو شمېر - د الفبا په ترتیب- دادي:

اشخاص:

4 ایندر: په پخوانیو نورستاني اساطیرو کې د شرابو رب النوع و او په واما کې یې د یمرا حیثیت درلوده .په افسانو کې راغلي، چې ده یو ښکلی باغ جوړ کړی و ، ځینې نورستان پیژندونکي فکر کوي، چې د هغه باغ پاتې شونې اوس هم شته.

5 ایلینو (الینو، الینا ) یمرا اوه لوڼې درلودې، ایلینو دا سې یو نوم دی، چې ریښه یې په الینایانو (د نورستانیانو مترادف) الینګار او نورو نومونو کې هم شته.

6 بري د غلام په مانا ده.

7 پکتانه: پښتانه، دلغمان لرغوني خلک.

8 دیزانـي (دیزنـی ، دیځني ): د حاصـل خېـزۍ او لـه ښـځو څخـه د حمایت رب النوع.

9 کتي: د نورستان د خلکو د یوې پښې (نژاد ) نوم دی.

10 ګېبش: د جګړو رب النوع و.

11 مال ارا: د شتمنۍ او ثروت خاوند.

12 لام: لام کـه څـه هـم پـه نورسـتان کـې کلـي تـه وایـي؛ خـو د شـخص نـوم هـم دی، چـې مهتـرلام یـې بېلګـه ده. لام د دغـې منظـومې د لیکـوال لپاره د یوه ځانګړي کرکټر مفهوم لري.

13 یمـرا: د پخـواني نورسـتان تـر ټولـو مشـهور رب النـوع و، چـې په زړو اساطیرو کې یې خورا مهم ځای درلوده.

14 یـوښ: شـیطان یـا د اوسـتایي دورې اهـریمن تـه ورتـه څېـره ده. پخوانیو نورستانیانو د شر او بدۍ رب النوع ګاڼه.

سیمې:

بلورسـتان: د زاړه نورسـتان نـوم، بلـور د سـپینو جـامو د اغوستونکي توکم لپاره هم کارول کېده؟

پـارون: اوس د نورسـتان ولایـت مرکـز او د لرغـوني نورسـتان یـوه برخه ده.

راسا: د کونړ سیند لرغونی نوم.

کښـتون: پـه کلښـوم کـې تـر ټولـو لـوړه څوکـه ده، چـې ۳۷۶۰ متـره د سمندر له سطحې څخه لوړ دی.

کلښـوم: لـه جغرافیـایي پلـوه د نورسـتان منځنـۍ درې تـه کلښـوم وایي.

کورګـل: د کشـمیر یـوه مشـهوره سـیمه ده، اوس یـې کارګیـل بـولي په دې نامـه پـه نورسـتان کـې هـم یـوه سـیمه شـته. پـه منظومـه کـې کورګـل هماغه د کشمیر اوسنی کارګیل دی.

WWW.samsoor.com

لمپاکا: او سنی لغمان.
هډه او ويهار: د زاړه ننګرهار نامتو سيمې.
هيندوکوښ: اوسنی هندوکش.
وايګل: دغه سيمه اوس هم په همدې نامه يادېږي.

ګاڼې او توکي:

1 پتنيک: غوږوالۍ.
2 ښېټوپه: ننني پکول، ټوپه خولۍ ته وايي.
3 کتره: چاړه، چې په ملا کې به په ملاوستني پورې ټومبل کېده.
4 کيږه: د اتلولۍ نښه، يا لويه تمغه، چې يوازې به زړورو او اتلو کسانو او د هغوی د کورنيو د غړيو په جامو پورې ټومبل کېده.
5 ناټ: اتڼ.

او وروستۍ يادونه:

دا مشهوره ده، چې نورستانيانو به په لرګيو کې څېرې انځورولې د نورستان دغه لرغونی صنعت او هنر خورا مشهور دی.
د لرګينو پژو ډېرې نښې اوس هم په کابل موزيم کې خوندي دي.
دا چې لام ولې د خپلې مينې (ايلينو) څېره په سپين مرمر کې انځور کړې وه يوه استثنا ده ، لام له ډېرې مينې څخه په دې منظومه کې دغه بې دودي کړې ده.

پای

WWW.SAMSOOR.COM

# سفر

# سفر

يو ملنګ پيران پير په لاس لکړه
پر اوږو يې ولـ‌ول څڼې را پرتې وې
په خبره کې يې مرموز اسرار پټ کړي
دواړو سترګو کې يې زر پټې کيسې وې

❋❋❋

يو مريد و ورته ناست ترونې لاندې
قصيده يې پخوله له مرشده
ويل يې حق ته رسېدل اسم اعظم دی
د هستۍ د راز مانا هم پته نه ده

❋❋❋

ويل يې ځار دې شم زما پير پيرانه
ټول ذکرونه مې پوره کړل له کتابه
د ښاما رله جنګه اوس راغلمه خود ته
قصيده کې شومه تېر له لوی دريابه

❋❋❋

WWW.samsoor.COM

ته خو پاک په کرامت يې زما پيره
قصيده کې چې يو ځل له هوشه ولاړم
سور له اوره يو شيطان مخې ته راغی
بد خبر يې ما ته راکړ چې اوس ژاړم

***

ويل يې ستا تقدير له اصله دوزخي دی
خلاص به نه شې په اويا ځله ژوندونه
د سقر لمبې و تا ته انتظار دي
يې عاجز د خپل تقدير له اوښتونه

***

هغه اور چې ازلي ستا په قسمت دی
بل بنده يې لايق نه دی زما ياره
ځه د خپل تقدير کاتب نه تپوس وکړه
چې يې ولې درته کښلې دغه لاره

***

نو کوربان شم زما پيره دستګيره
د شيطان له وسوسې نه خلاصون غواړم
د قسمت او د تقدير په راز مې پوی کړه
له دې بلې مرحلې اوښتون غواړم

***

WWW.SAMSOOR.COM

پیر و ډوب په تفکر کې چیرې تللی
بر افق کې یې ګنډلې خپل نظر و
یو ناڅاپه یې مرید ته وکتلې
دې کتو کې څه عجیبه شان اثر و

✵✵✵

ویل یې لاس راکړه چې لرې چیرې ولاړ شو
د مجاز له دې دنیا نه ځان پناه کړو
حقیقت د اوو سیندونو شا ته پټ دی
په اخر سر د دنیا کې یې پیدا کړو

✵✵✵

پیر را پاڅېد ، څرخ یې وخوړ او را تاو شو
یوې پښې ته یې درب ورکړ مستانه شو
مرید هم ورپسې ګام واخیست چټک شو
نامعلوم لوري ته دواړه روانه شوو

✵✵✵

اوږد سفر و ، شپې او ورځې به روان وو
له ځنګلونو وچو دښتو نه پناه شول
مودې وشوې چې له خلکو څخه هېر شول
تېر د خیال او د خوبونو له دنیا شول

✵✵✵

WWW.SAMSOOR.COM

يـــوه ورځ چـــې دواړه ورېي وو نهـــار وو
مريـد واخيسـت اجـازت چـې څـه پيـدا کړي
يـو کبلـی يـې د غرڅـې پـه دام کـې ونيـو
چـــې مـــړه وربانـــدې ګېـــډه بېنـــوا کـــړي

❋❋❋

لـه کبلي سره خپـل پيـر تـه چې راستون شو
ويـل يـې ځـار شم غرڅـه ګـۍ مـې ده نيـولې
تـې پـه خپـل پـاک مبـارک لاس کـړه حلالـه
چـې اروا يـې پـه جنـت کـې شـي آغلـې

❋❋❋

پيـر ويـل، زه بـه يـې حلالـه کړمـه وروسـته
خـو پـه دې دښته کې چيـرې هم اور نـه شـته
وايـه څنګـه او پـه څـه بـه يـې پخـه کـړو
دلته سکور او نغری نـه شته دی کـور نـه شـته

❋❋❋

چې پـرې اور پـه وچـو خسـو بانـدې بـل کـړو
ځـه پيدا چې څـه لمبـه يا څـه سپرغۍ کړو
چـې پخلـي تـه يـې نغـری د اور تيـار شـو
بيـا حلالـه بـه نازکـه غرڅـه ګـۍ کـړو

❋❋❋

WWW.SAMSOOR.COM

مرید وکتل تش لاس حیران ولاړ و
دلته اور دلته سپرغۍ به شي له کومه
په دا هسې لوی بیابان کې خو څوک نشته
دومره لرې ډبوه ګۍ به شي له کومه

***

ویل کوربان شم زما پیره دستګیره
وایه اور له کومه ځایه را پیدا کړم
کرامات دې راڅرګند کړه په بیابان کې
څه نوا چې د دې ګېډې بېنوا کړم

***

پیر ویل هاغه لرې خړه غونډۍ ګورې
د هغې شا ته کلا ده برجوره
د دنیا آخر، هماغلته دوزخ دی
هلته ورشه اور وغواړه بختوره

***

د دوزخ د کلا ور دې چې ټک ټک کړ
پاسبان د جهنم به را بهر شي
هیبتناک او غوسه ناک مګر سخي دی
څوک چې ورشي نو حاجت یې مقرر شي

***

WWW.SAMSOOR.COM

هلته ډېرې دي لمبې ډېر ډېر اورونه
وايه لږ څه لمبه راکړه چې اور بل کړم
غرڅه ګۍ چې پرې پخه زه او ملنګ کړو
نو دوزخ به پرې د ګيدې ال او مل کړو

***

مريد موسک شو، د غونډۍ پلو روان شو
په کمزوري ځان يې پورته کړل ګامونه
لږ څه لرې د غونډۍ شا چې ښکاره شوه
ويې ليدل دنګ د بوالونه اوبرجونه

***

هيبتناکه سره بخن يې د بوالونه
د لمبو له تاو يې جوړ واړه برجونه
د دنيا اخر منزل و مريد، ستړی
په لړزا لړزا يې اخيستل ګامونه

***

شېبه وروسته د کلا مخ ته ولاړ و
له هيبته يې بدن ټول ناکرار و
يوه توره د پولادو دروازه وه
زنځيرونه يې د سرپو صد هزار وو

***

WWW.samsoor.COM

په ډار ـ ډار يې ګوتې پورته کړې زنځير ته
يو دروند غږ د شرنګهار د دروازې شو
مريد ويرې نه پر ځای لکه ډبره
يو ناڅاپه غرهار د دروازې شو

❋❋❋

په درانه غږ پولادي دروازه وا شوه
تپ او دود ورنه راووته بهر ته
چيرې لرې د ځګرويو چغو ږغ و
مريد هک حيران ولاړ و دې محشر ته

❋❋❋

دروازې نه بدهيبته سپاهي ووت
دواړه سترګې يې سرې ـ سرې لکه انګار وې
مخامخ شوې د مريد په څېره خښې
وې حيرانې دغه سترګې هم په قار وې

❋❋❋

ويل يې څه دې مساپره ته څه غواړې
اجل کوم ځای نه راوستی يې بدبخته
يم حيران څنګه ژوندی دلته ولاړ يې
دې کلا ته د راتلو لاره ده سخته

❋❋❋

WWW.SAMSOOR.COM

د خپل نفس اووه دوزخونه به دې پالې
د ګناه سل بیابانونه به وهې ته
خدای در کړې عاطفه به زړه کې وژنې
په دې سختو لوارو لارو چې راځې ته

***

مګر ته خو لاژوندی دلته ولاړ یې
وایه څه ته دې زما دروازه وا کړه
دلته څه غواړې بې سره لېونیه
وایه څه له دې همه دنیا ته شا کړه

***

مرید وویل زما در ته سلام دی
لاروی، د حقیقت په لارو سر یم
د خپل پیر په توکل باندې روان یم
له دنیا او له عقبا نه ناخبر یم

***

زه او پیر په بیابان پاتې نهر یو
یوه ځوانه غرڅه ګۍ مو ده ښکار کړې
اوس په اور پسې راغلی یمه دلته
که ته راکړې د لمبو یو څو بڅرې

***

بس د اور يوه شعله راکه ښاغليه
چې پخه کړو پرې خوږه د غرڅې غوښه
بس چې لږ شومه پيدا کړو په بدن کې
بيا به پيل کړو مزل په خپله مخه

***

پاسبان د دوزخ سترګې کړې پرې بندې
ويل يې ته يې تبرو تلې مساپره
دلته هره کوچنۍ سپرغۍ حساب ده
دلته هر څوک په خپل اور دی شعله وره

***

دلته هيڅ اضافه اور دوزخ کې نه شته
دلته هر دوزخي خپل اور دی راوړي
د هر چا خپله ګناه دلته بليږي
دلته هر عاصي دی خپل تقدير جوړ کړي

***

دلته څومره ګناهونه هومره اور دی
دلته څومره چې ظلمونه هومره شور دی
په دنيا کې هر قاتل په خپلو لاسو
له لمبو نه آباد کړی دلته کور دی

***

زما د هيچا د ګناه په اور کار نه شته
زما په لاس کې يوه تشه شعله نه شته
تا ته تش لوګی هم نه شم درکولی
زما د نورو له اختياره چاره نه شته

WWW.samsoor.COM

دلته هیچا ته موړ او ربل کړی نه دی
دلته هیڅ دوزخي مور نه پیدا نه دی
هر سړی يې په خپل لاس بلوي ځانته
دلته سکور هم د بل چا په سودا نه دی

***

دلته هر څوک له خپل اوره ګریزان دی
یو ساده لېونی ته يې چې اور غواړې
په خپل ځان کې دې لمبې د عصیان بلې
د ګناه اور دې بس نه دی چې نور غواړې

***

څه ورځه دلته دوزخ دی خو اور نه شته
که راځې نو خپل عمل لکه اور راوړه
دلته هیڅ یو سپین تقدیر راتللی نه شي
د اختیار په سکور دی ځانته څه تور راوړه

***

دلته رحم د خدای، بل اورونه مړه کا
بنده ګان يې د اختیار په خسو بل کا
چې هرڅوک د سوزېدو لپاره راشي
په ناچارۍ يې خپل عمل ورسره مل کا

۷_تله_۱۳۸۲

WWW.SAMSOOR.COM

# ځنګل

WWW.samsoor.COM

# ځنګل

نري لاره ناڅرګنده
خدايزده چيرته به رسيږي
د يو شنه ځنګله تر څنګه
د جونګړې ورټکيږي

باد په خپلو لمدو ګوتو
خوځوي پردې په زوره
پنجرې کې د جونګړې
او باران په شړک وريږي

نيمه شپه تپه تياره ده
تورې لړې راخورې دي
غر د وريځو غيږ کې ډوب دی
چيرې تالاندې غوريږي

WWW.samsoor.com

په يوه ساه، باد چغيږي
شيبه وروسته چيرې لرې
راځي غږ له شنه ځنګله نه
په ملا څانګې را ماتيږي

په جونګړه کې دننه
يوه تته شان رڼا ده
د باران او بام له غږه
ډيوه ويرې نه رپيږي

نرۍ لاره ناڅرګنده
خدايزده چيرته به رسيږي
د يو شنه ځنګله تر څنګه
د جونګړې ورته کيږي

مسافر د لرو لارو
ايښي ورباندې لاسونه
له جامو يې اوبه څاځي
زړه کې ډېر لري غمونه

WWW.samsoor.COM

شیبې وشوې چې ولاړ دی
لټوي یو ځای د امن
غریبې سترې نظر سترې
ډېر یې کړي دي مزلونه

د کلونو مسا پر دی
بې منزله بې مقصوده
ښایي لار یې ورکه کړې
چانه وکړي تپوسونه

میاشتې وشوې سرګردان دی
ددې ښه ځنګله په منځ کې
ورنه ورک ختیځ لویدیځ دی
نه شته لارې ګودرونه

ایله نن یې له ډېر لرې
شوه رڼا تر سترګو سترګو
لږ موسکی شو څه یې وویل
بیا چټک یې کړل ګامونه

WWW.SAMSOOR.COM

مسا پر د لرو لارو
ایښي وربانديٍ لاسونه
له جامو يېٍ اوبه څاڅي
زړه کېٍ ډېر لري غمونه

له جهانه ناخبره
ګرېوان څيريٍ سربېر دی
لټوي د ژوندون ښېٍ
يو ملنګ غوندي شاعر دی

په ښکلاوو پسيٍ ګرځي
څو عاشق شي مينه وکړي
لږ په راز د مينيٍ پوه شي
په ناپايه لارو سر دی

اووه سيندونه هم اوه غرونه
لريٍ دښتيٍ او ځنګلونه
ډېريٍ لاريٍ يېٍ ليدلي
ورک مقصد پسيٍ او تر دی

WWW.samsoor.COM

ډېر بادونه بارانونه
ژمي اوړي پرې اوښتي
نن بيا ګير دی په توپان کې
هم ستومانه هم نهر دی

تکوي ورد جونګړې
ګوندې وکړي لږ څه دمه
يا څوک لار ورته وښايي
دی خوشاله پرې اختر دی

له جهانه ناخبره
ګريوان خيرې سرببر دی
لټوي د ژوندون نښې
يو ملنګ غوندې شاعر دی

د ډېوې تر خنګه ناسته
يوه پيغله انځور ګره
د ښايسته سترګو ميرمن ده
او د زړونو تالانګره

WWW.samsoor.COM

لاهو شوې خپل جهان کې
یو انځور یې مخ ته ایښی
له پنجرې نه بهر ګوري
د رنګونو افسونګره

د توپان او ونو جنګ دی
لا باران اوري په زوره
له پنجرې نه هر څه ویني
د ښکلا د فن کوډګره

هر څه ویني خو ګونګۍ ده
شور یې نه شي اوریدلی
نه د تالاندې غږ اوري
نه خبر له مساپره

هر څه سترګو باندې اوري
هر څه سترګو باندې وایي
سترګې نه دي لوی کتاب دی
ډک د عشق له شور او شره

WWW.SAMSOOR.COM

د ډيــوې تــر خنګــه ناســته
يــوه پيغلــه انځــور ګــره
د ښايســته ســترګو ميــرمن ده
او د زړونـــــو تـــــالانګره

ليــــونى توپـــان الــــوتى
ږلــــۍ اوري بـــاران اوري
پرديس ټول پـه اوبو لوند دى
يو پټ شور يې زړه کې ښوري

ټکــوي پــه غبرګــو لاســو
د زړې جـــــــــونګړې ورلا
خــو نقاشــه بــې خبــره
د پنجــرې لــوري تــه ګــوري

نور نو زغم د پرديس نه شته
مـــاتوي ور د جـــونګړې
څـه سـره سـيلۍ را دړومـي
پـرې جـونګړه ټولـه ښـوري

WWW.SAMSOOR.COM

باد ډیوه وژني او پیغله
لمسوي د تیارو غیږه
بې له ویرې را پاڅیږي
او ورځې د وره په لوري

څوک ولاړ دی دروازه کې
یو آشنا شانتې قامت دی
دا قامت کلونه وشول
چې د پیغلې په خیال اوري

لیوني توپان الوتی
ږلۍ اوري باران اوري
پردیس ټول په اوبو لوند دی
یو پټ شور یې زړه کې ښوري

جوړ د شنو څانګو ځګیروی دی
په ځنګله کې څه غوغا ده
باد هماغسې لګیږي
په افق کې شنه برېښنا ده

WWW.samsoor.COM

لکه وي چاته په تمه
له کلو کلو راهيسې
د نقاشې زړه دربيږي
د پرديس په تماشا ده

د شاعر د زړه هرغږ ته
هرکلی په لېمو وايي
آئينه د شپو د حسن
مصوره د ښکلا ده

په جونګړه کې تياره ده
مسا پر شاعر حيران دی
چې څنګله کې دغه مېنه
جوړه کړې دلته چا ده

د دنيا په دې آرامه
نا آشنا لرې ګوښه کې
دا به څوک وي چې يې ځانته
بيله کړې دا دنيا ده

WWW.samsoor.COM

جوړ د شنو ځانګو ځګيروی دی
په ځنګله کې څه غوغا ده
بـــاد هماغســـې لګېـــږي
په افق کې شنه برېښنا ده

په جـونګړه کـې تـاوېږي
څه سره شانتې سيلۍ ده
ملکې د شپو ځنګلـه کـې
درولـــــې لا کېـــــږدۍ ده

"آهای ! دلته څوک اوسېږي؟
آيـا دلتـه د يـو سـتړي
او لامـــده پـــرديس لپـــاره
پيـدا کېـږي ځـای د دمـې؟ "

داسې غـږ کـړ مسـا پر خـو
څوک يې غږ اوريدی نه شي
څوک ليدی په سترګو نه شي
هـرې خواتـه تروږمـۍ ده

لږ شيبه وروسته رڼا شوه
پېغلې بله کړه ډيوه بيا
په ليدو يې لاحيران شو
مسا پر د لرو لارو

وايه څوک يې دلته پاتې؟
د کوم حسن قافلې نه؟
ورکوي ځواب په سترګو
شاعر پوه شو چې ګونګۍ ده

په جونګړه کې تاوېږي
څه سره شانتې سيلۍ ده
ملکې د شپو ځنګله کې
درولې لا کېږدۍ ده

د شاعر نظر چې پرېوت
په هر لوري د جونګړې
وې ليدلې هرې خواته
سترګې، سترګې، سترګې، سترګې

WWW.SAMSOOR.COM

انځور ګره وه د سترګو
تصويرونه وو د سترګو
هرې سترګې درلودلې
ډېرې ژبې او خبرې

شاعر پوه شو چې منزل يې
د کلو کلو مزلونو
پرديسيو او خواريو
دا جونګړه ده د مينې

د ژوندون مقصد يې دادی
همدا پيغله يې ده مينه
ابدي دمه همدا ده
ددې سترګو په محل کې

"زه شاعر مقصد مې ژوند دی
غواړم مينه باندې پوه شم
د کلونو مساپر يم
په تا پيښ شوم ښکلې پيغلې ! "

WWW.samsoor.COM

د شاعر نظر چې پریوت
په هر لوري د جونګړې
وې لیدلې هرې خواته
ستوري، ستوري، ستوري، ستوري

"زما ستوري لوی کتاب دي
ډک د عشق له شورا و شره
راته ګوره چې څه وایم
لېونیه مسا پره ! "

او شاعر ستورګو لاهو کړ
ورنه هر څه ستورګو یو وړل
بس یو دی وو او دوه ستوري
شو دنیا نه ناخبره

ستوري تربې وې د مینې
ته به وایې چې کول یې
د تو دې غیرې ستونه
انځور ګره وه کوډګره

څه راکښل وو د خمارو
څه پيالې د هوسونو
ډکې ډکې وې له نازه
زړه يې وړلو له شاعره

خدای(ج) خبر چې سترګو څه ويل
خو شاعر يې خيال کې ډوب کړ
چې: "اوس وا وره درته وايم
يو پټ راز يوه خبره

"زما سترګې لوی کتاب دی
ډک د عشق له شورا و شره
راته ګوره چې څه وايم
ليونيه مساپره ! "

سترګو پيل کړلې کوډې
څه کيسې وې څه رازونه
د شاعر زړه په درزا شو
اضطراب وهل موجونه:

WWW.samsoor.COM

"ای د وخت د لارو ستړیه !
تــه خبــر يــې لــه (ژوندونــه) ؟
او چې (مينــه) څــه تــه وايــي؟
تــش انســان تــه دوه نومونــه

يــو پايښــت د ځــان لپــاره
بلــه بــل نــوم د هــوس دی
يــو يــې تــش د ساه ايستــل دي
بــل دوکـــې او فريبونـــه

مـــا ليـــدلي چيـــرې نـــه دي
چـــې (انســـان) د بـــل لپـــاره
چيـرې ومـري يـا ژونـدی شـي
يـا عـاشق د بـل پـه عشـق شـي

څـوک مـين شـي لـه دې پـاره
چـې معشـوق پـرده مـين دی
د هـــر چـــا ده خپلـــه لاره
د هـــر چـــا دي خپـــل مزلونـــه

WWW.samsoor.COM

ستـــرګو پيـــل کړلـــې کـــوډې
څـــه کيســـې وې څـــه رازونـــه
د شـــاعر زړه پـــه درزا شـــو
اضـــطراب وهـــل موجونـــه:

تـــه اوزه د (ژونـــد) او (مينـــې)
دوه مثالونـــه يـــو دوه نښـــې
زه پـــه تـــا بانـــدې مينـــه
تـــه پـــه ځـــان باندې مـــين يـــې

زه ريښـــتينی ژونـــدون غـــواړم
ځکـــه تښـــتم لـــه انســـانه
يـــم کلونـــه دلتـــه ناســـته
د يـــو چـــا مينـــې تـــه تـــږې

هـــو ! زه تښـــتم لـــه انســـانه
خـــو مينـــه پـــه انســـان يـــم
ځکـــــه تـــــل انځورومـــــه
په خپل ژوند کې کې راز د مينې

WWW.SAMSOOR.COM

آيـــا تــــه ددې لپــــاره؟
مســا پر شــوې دلتــه راغلــې؟
چــې يــو څــوک دې د ليـدلو
د خيـــــالونو ده نقاشـــــه

نــه ! پــوهيږم داســې نــه ده
تــه ملنګ د خپـل خيـرات يـې
لټـــوې جلـــوه د حســــن
د خپـــل عمـــر آئينـــه کـــې

تــه اوزه د (ژونـد ) او (مينـې )
دوه مثالونـــه يـــو دوه نښـــې
زه پـــه تـــا بانـــدې مينــــه
تــه پــه ځـان باندې مـين يـې

ځــې د ورک مقصـد پــه لــوري
خـــو ويريـــږې لـــه توپانـــه
لـــه وطنـــه مســـا پر يـــې
لا وتـــی نـــه شـــي لـــه ځانـــه

WWW.samsoor.COM

دلته نه يې راوستلی
د سپيڅلې مينې لارو
ته ښکلا وو پسې ګرځې
څه خبر يې له (ښکلا) نه

يو پرديس د تورو شپو يې
خو تيارو نه لرې کرکه
شوې را پيښ زما په جونګړه
چې پناه شي له بارانه

ته وړنه يې زما د مينې
زه وړنه يم ستا د مينې
ته باران او باد نه تښتې
او زه تښتم له جهانه

ته د (عقل) لاروی يې
زه د (مينې) مسافره
ته وهې د ښتې ځنګلونه
زه خپل زړه کې سرګردانه

WWW.samsoor.COM

ځې د ورک مقصد په لوري
خو ويريږي له توپانه
له وطنه مساپر يې
لاوتی نه شي له ځانه

باد هما غسې غوسه دی
لا باران په شړک وريږي
د ځنګله او وريځو جنګ دی
توري لړې راخورې دي

کله شنې څانګې شي ماتې
کله اور په وريځو بل شي
په جونګړه کې لا سترګې
د شاعر په زړه خښيږي

نور توان د پرديس نه شته
نه ځواب لري د سترګو
پرې کوډګرو کوډې وکړې
ليونی شو را پاڅيږي

نور ليدی سترګو ته نه شي
اړوي مخ بلې خوا ته
له جونګړې نه راوځي
بيا ځنګله ته روانيږي

تور کچکول يې ورنه پاتې
پښې لوڅې ګريوان څيرې
ليونتوب او اضطراب کې
وهي منډې او ورکيږي

باد هما غسې غوسه دی
لا باران په شړک وريږي
د ځنګله او وريځو جنګ دی
تورې لړې راخورې دي

ناڅرګند لوري ته لاړو
تش د څو شپېو مېلمه و
پسې وو ته نقاشه
ژاړي، لوېږي او پاڅيږي

او چې پرېوځي بيا پر لاره
ښکلوي په پښتو شونډو
د لمدو کبلو منځ کې
تش پلونه ورنه پاتې

WWW.samsoor.COM

په لېمو کې دا سې وايي:
"په ټول ژوند د انتظار کې
ای د لنډو شپو بخته !
د نېکمرغه شپو عمره !
ولې بېرته را نه لاړې؟»

پرد پس لاړ خو خبر نه شو
په دې راز چې انځور کړي
په جونګړه کې د ننه
د ښايسته سترګو په ژبه
نور څه نه وو هېڅ ويلي
بې له دې ښکلې سندرې

چې:
«په لويو غرو باندې را تاوشول توپانونه
ږلۍ وربږي
مه ځه دلته شپه وکړه
پاتې شه باران دی»

زمري/ ۱۳۷۲

WWW.SAMSOOR.COM